قَالَ اَبُو بَكر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنهُ

اِعْرَابُ الْقُرْاٰنِ اَحَبُّ اِلَیْنَا مِنْ تَعَلُّمِ حُرُوْفِهٖ

اَلنَّحْوُ فِی الْکَلَامِ کَالْمِلْحِ فِی الطَّعَامِ

په وروسته صفحه کی تنبیه ضرور ووایاست

پردوه سوه شپږ ويشت (۲۲۶) سوالونو مشتمله پښتو

توضیع الشمة

فی

اغراض عبارۃ ونکات شمة

تالیف

العبد الاحقر مفتی ولی الله اقبال ابن
شیخ الحدیث والتفسیر والطریقة الحاج
حضرت مولانا
محمد علی صاحب

ناشر
مکتبه عمریه
اباسین روڈ
خوشحال هسپتال
چمن

قَالَ اَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا
اِعْرَابُ الْقُرْاٰنِ اَحَبُّ اِلَيْنَا مِنْ تَعَلُّمِ حُرُوْفِهٖ

النحو في الكلام كالملح في الطعام

په وروسته صفحه کې تنبیه
ضرور ووایاست

پر دوه سوه شپږویشت (۲۲۶) سوالونو مشتمله پښتو





اعراب جامع ومشکلات همه

تالیف

العبدالاحقر مفتي ولی الله اقبال ابن شیخ الحدیث والتفسیر والطریقة الحاج
حضرت مولانا محمد علی صاحب

ناشر

مکتبه عمریه اباسین روډ نزد خوشحال هسپتال چمن

پیژندپانه

د کتاب نوم .... توضیح الشمة
في اغراض عبارة ونكاة شمة

د مؤلف نوم .... مفتي ولي الله اقبال

د کمپوزر نوم .... پخپله مؤلف

د چاپ کال .... ۱۴۴۱هـ ۲۰۱۹ ش

چاپ وار .... دویم ځل

خپرندوی اداره .... مکتبه عمریه اباسین رود چمن

اعتذار

شاغلو لوستونکو مو ترخپله وسه دکتاب دسمون هڅه کړیده خوکه بیا هم غلطي موترسترګوسوه نودشونتیا تربریده دنوموړي خپرندویې اداري په توسط راسره اړیکه ونیسی چې دبیا چاپ لپاره یې اصلاح کړو . مننه

ډالۍ

زه دډې کتاب ټولې نېکګنې دخپلوواليدېنو ، نيکه حضرت مولانا محمد عثمان صاحب مرحوم ، او ورنيکه حضرت مولانامحمدعمرصاحب مرحوم اوګران استاذالشيخ الحديث والتفسيروالطريقة الحاج حضرت مولانامحمدعلي صاحب رحمه الله اروا ګانو ته ډالۍ کوم دا ددوی ددعاوو اومحنتونوبرکت ووچې زه عالم اوبيادمؤلفينوپه قطارکی شمار سوم .

عدة اسطر أبى فى حق هذا الكتاب

الحمد لاهله والصلوٰة على اهلها

وبعد

فاقول فى حق ابنى الموسوم بمولوى ولى الله وحق كتابه اَللهم اعط له علمًا نافعًا وعملاً صالحًا وصحتًا كاملاً واجعل كتابه هذا المسمى بتوضيح الشمعة نافعًا ومقبولاً بين المتعلمين بل بين المعلمين آمين

وجنه الله خيراً

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیروالفلسفة جامع المعقول والمنقول فخرالعلماء الفلاسفة فصیح اللسان حضرت مولانانورالدین الصائب ادام اللہ فیوضاته وبرکاته علینا وعلی جمیع طلبة

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمدللہ وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی

امابعد فیقول العبد المسکین الفقیر نور الدین القندهاری البادیزوي انی طالعتُ بعض مواضع الشرح المسمی بتوضیح الشمة لاخیناالمحترم مولاناولي اللہ اقبال بن العلامة الفهامة شیخ الحدیث والتفسیر مولانا محمدعلی الصائب فوجدته صحیحاجیداً فهوالیق واحری بان یطبع ویتداول بین ایدی المتعلمین بل بین المعلمین وقتَ ما ما طالعتُ علی ما طالعت جزی اللہ تعالی وتبارک مؤلفه وطابعه وناظره امین یارب العلمین

وانا العبد المسکین الفقیرنور الدین عفی عنه

امین ثم امین ۱۲/ ۹ت۴

تقریظ

العلامة الفهامة ذکي الفهم جامع المعقول والمنقول حضرت مولاناعبدالرازق احساس الحق الافغاني القندهاري

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمدللہ الذی زین السماء بالکواکب – وجعل العلماء سرجا یستضاءبهم فی النوائب – والصلوة والسلام – علی سیدنا محمد خیر الانام الممیزبین الحلال والحرام – وعلی اله واصحابه بدور التمام ومصابیح الظلام – اما بعد فیقول العبد الضعیف الدني – عبدالرازق احساس الحق الافغاني – اني طالعت بعض المواضع من توضیح الشمة في اغراض عبارة وںکاة الشمة – فوجدتهاکافیة لمغلقاتها – وشافیة لمشکلاتها – وهادیة لرموزاتها وقت ماطالعت علی ماطالعت – فجزی اللہ تعالی مؤلفه الجزاء الجمیل – ولبقاء البقاء الطویل – ووفقه وایاه لی مایحبه ویرضاه – بجاه خیر نبي ۰۰

ميل خبري او سبب دتاليف

الحمدلله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى

اما بعد: څرنګه چې ددنيا له پيله (له شروع) دجوړ(خدمت لړۍ سلسله) راروانه ده لا به هم روانه وي لويه خدمت سره انسان ته دخيرلقب ورکول کيږي لکه حبيب عليه السلام چې فرمائي (خَيْرُ النَّاسِ مَنْ يَّنْفَعُ النَّاسَ) نوله ډيره وخته مي په زړه کې وه چې يو ديني خدمت خپلي علمي تولنې ته وړاندې کړم چې بالاخره ددې کتاب په ليکلو وه توانيدم لوباعث ددې کتاب ديوستر عالم حضرت مولانا قاضي حميدالله جان صاحب رحمة الله عليه يو وصية وو چې کله چې ته په دوره راغلې وو لويه تقرير کښې ني دلوصية وکړچې زه خوانو فارغ شده علما وو ته دلوصية کوم چې لږ تر لږه يوه کوچنې رساله دې ددين لومسلمانانو دخدمت لو فايدې لپاره وليکې نوما ته پرهغه ځای په زړه کښې راغله چې زمادغه کم استعداد لوکتاب ليکل دادېره سره ليرې ده خو دالله جل جلاله په توفيق لودمور وو پلار لوخوالخوږو قربانو ددعاء په برکت سره الله جل جلاله زه دمؤلفينو په قطار کې حساب کړم الله لره دې بې شمېره حمدونه وي لو زه هم طالب علمانو ته دقاضي صاحب رحمة الله عليه وصية کوم چې دنبي عليه السلام دپورتني حديث مصداق وګرځي:

والله الموفق

العبد الاحقر ولي الله اقبال حسن

تنبيه

بناغلولوستونكودشمي دوې نسخې دي يوه نسخه هغه ده چې پرهغې باندې دالحاج علامه عبيدالله رحمه الله حاشيې اونكې سته دوهمه نسخه هغه ده چې پر هغې باندې دنوموړي علامه حاشيې لونكې نسته نوهمدغه توضيح الشمه چې ليكل سوې ده هغه دهمدغې نسخې مطابق ليكل سوي ده ځكه په همدغه نسخه كې غلطې ډيرې لږدي لوېه لوله نسخه كې املائي (لفظي)غلطۍ ډيرې دي نوتاسو كوشش كوئ چې همدغه دوهمه نسخه پيداكړئ بل دا چې په اوله نسخه كې ډيرې نكتې دسره نسته نوتاسويه غلط فهمې كې وه نه لوېږئ . منه

څلوريزه

كړلوونـــه هـــدف يـــون كـــې دي ډيرتغبـــتي
ســـــمندركې جواهرلعلونــــــه تغبــــتي
بريــــــــاكرڅې پرمحوردرضــــــــاتل
داقبــــال پـــه زره كـــې دي دردونـــه تغبـــتي

بسم الله الرحمن الرحيم

زده کړه داخبره چې شروع په هر علم کې پر درې قسمه ده

①مطلق شروع ②شروع على وجه البصيرة ③شروع على وجه البصيرة الكاملة

مطلق شروع تر ② شيانو موقوفه ده ① تصور ددغه علم (بِوَجْهٍ مَّا) يعني ددغه علم پيژندل په يو وجه دوجهو سره ② تصديق (بِفَائِدَتِهَا) يعني پر يوفائده باندې ددې علم تصديق راوستل نو کله چې تصور او تصديق حاصل سي مطلق شروع هم حاصليږي او که دواړه منتفي سي نو مطلق شروع هم نه سي راتلای.

او شروع على وجه البصيرة موقوفه ده تر ③ شيانو پوري ①تعريف ددغه علم ②موضوع ددغه علم ③غرض ددغه علم.

اوشروع على وجه البصيرة الكاملة موقوفه ده تر ⑦ شيانو پوري ①تعريف ددغه علم ②موضوع ددغه علم ③غرض ددغه علم ④واضع ددغه علم ⑤مقام ددغه علم ⑥ وجه دتسميې ددغه علم او كتاب ⑦ نوم دمصنف ددغه كتاب.

دتعريف پيژندنه ځکه ضروري ده (دمبتدي طالب لپاره په داسې وايي چې) يا طلب دمجهول مطلق لازميږي (يعني دداسې شي طلب كول چې په هيڅ بول نه وي ورته معلوم)ددې مثال داسې دی لکه يو صحرائي ناخبره سړی ته چې ووايي چې ورسره دخوني څخه صلوة هدايه راوړه باسه هغه به حيران سي چې صلوة هدايه بيا څه شی ده.

خودغوکتابو طالبانو لپاره به داسي وايي لکه په حاشيه کي چي ذکر ده[1]

اود **غوض** پيژندنه ځکه ضروري ده (دمبتدي طالب لپاره به داسي وايي چي) که غرض ونه پيژندل سي سعيه او کوشش دطالب به عبث ولا رسي ځکه طالب غواړي چي اودس لمونځ او احکام يي زده کړي نوشمه تول ووايي نو خپل مقصد ته نه ورسيدی کوشش يي عبث سو .

خو دغوکتابو طالبانولپاره به داسي وايي لکه به حاشيه کي چي ذکر ده[2]

اود **موضوع** پيژندنه ځکه ضروري ده (دمبتدي طالب لپاره به داسي وايي چي) که موضوع نه وپيژندل سي نو دغه علم چي طالب شروع وربادي کړي ده او دبل علم ترمنځ به فرق او جدا والي نه سي کولای ځکه ددو علمونو تر منځ فرق دموضوع په جداوالي سره راځي.

خودغوکتابو طالبانو لپاره به داسي وايي لکه په حاشيه کي چي ذکرده[3]

---

(1) دتعريف پيژندنه ځکه ضروري ده چي که پيژندنه دعلم په تعريف سره نه سي حاصله نو شروع هم نه سي وربادي کېدلای ځکه چي په وخت دعدم معرفة دعلم کي داعلم مجهول مطلق دی او شروع وربادي کول يي طلب دی نو چي معرفة دعلم وه نه سي او شروع وربادي وه سي لازم به سي طلب دمجهول مطلق او داباطل دی ځکه بيا توجه دنفس راځي وه طرف ته دمجهول مطلق داباطله ده .

(2) دغرض پيژندنه ځکه ضروري ده چي شروع په علم کي هلته ممکنه ده چي ددي علم پر يو فائده دفوائدو باندي تصديق راسي ځکه چي شروع په علم کي يو ممکن دی دممکناتوڅخه اودممکن وجود او عدم دواړه مساوي دي نو يوه اړخ ته چي ترجيح ورکول کيږي مرجح غواړي ځکه که مرجح نه وي بيا ترجيح بلامرجح راځي داباطله ده نو دشروع دوجود لپاره هم يو مرجح پکار دی هغه مرجح تصديق دی پر يو فائده باندي دفوائدو دعلم او داتصديق پر يو فائده باندي موقوفه دی تر معرفة پوري دغرض نو معلومه سوه چي شروع په علم کي موقوفه ده تر معرفة پوري دغرض .

(3) دموضوع پيژندنه ځکه ضروري ده چي شروع په يو علم کي هلته ممکنه ده چي شارع ته امتياز (جلاوالي) وسي دعلم مشروع فيه دبل علم څخه او امتياز چي راځي دا په معرفة سره دموضوع

پېژندنه **دوجه دتسميې** دكتاب او دعلم ځکه ضروري ده چې دا به معلومه سي چې دامذكور كتاب او دانوموړي علم لپاره دانوم ولې منتخب سو.

اود **مصنف** دنامه پېژندنه ضروري ده دوو وجهو څخه اوله وجه داچې دده دعلميت دمرتبې څخه به دكتاب اهميت معلوم سي چې ددې كتاب مصنف دڅومره لوړې مرتبې خاوند دى نو دده كتاب به هم دڅومره لوړې درجې كتاب وي دوهمه وجه داچې دغه كتاب مجهول المصنف نه سي.

اود **مقام** پېژندنه ځکه ضروري ده چې طالب ته به په ويلو كې ددې علم زيات شوق پيداسي.

اود **واضع** دعلم پېژندنه ځکه ضروري ده چې ددې علم دواضع مرتبه به دطالب په زړه كې قرار ونيسي او په محنت كولو كې به ورته زيات شوق پيداسي.

همدارنګه دعلم نحو دپېژندلو مخكې ددې او(٧)شيانو پېژندل ضروري دى.

① تعريف دى نو تعريف په لغة(١)كې دبته وايي (مَايُعْرَفُ بِهِ الشَيْئُ) اوپه اصطلاح كې دبته وايي (مَايُمَيَّزُبِهِ الشَيْئُ عَنْ جَمِيْعِ مَاعَدَاهُ) نحوه په لغت كې په څومعنى ګانوسره راځي چې وروسته به راسي خوېوه معنى يې ده (قصد) اوتعريف اصطلاحي دعلم نحو دادى(عِلْمٌ

راځي نوچې امتياز دموضوع ګانو وسو نو دعلومو په منځ كې هم امتياز وسو نو ځکه معرفة دعلم موقوفه سو تر معرفة پورې دموضوع.

(١) لفظ دلغة په لغة كې وايي (نطق) او (تعبير) ته لكه فلان لغي بالكلام يعني(نَطَقَ بِهِ) اولغة په اصطلاح كې دې ته وايي (مَايُعَبِّرُ بِهِ كُلُّ قَوْمٍ عَنْ أَغْرَاضِهِمْ) يعني لغة په اصطلاح كې هغه الفاظوته وايي چې خلك ورباندې تلفظ كوي دخپلو مقاصدولپاره او اصطلاح په لغة كې (جمع كولو) ته وايي لكه عرب وايي(إِصْطَلَحَ النَاسُ فِي الْحَوْضِ اي اجتمع) او اصطلاح په اصطلاح كې دېته وايي(اتفاق قوم على امر مخصوص).

بِأُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ أَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلَاثِ مِنْ حَيْثُ الْإِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةُ تَرْكِيبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ)

اوس پر دې تعريف باندې اعتراض واريدېږي

سوال نمبر (۱): په تعريف کې خو راغلي دي چې (يُعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ أَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلَاثِ) نو ډير ځله داسې پيښه سي چې قواعدنحو ورته يادي وي خو بيا هم په اعراب کې غلطيږي؟

ځواب: دلته مضاف مقدر دی چې (يُعْرَفُ بِاسْتِحْضَارِهَا) يعني ددې قواعدو حاضرول ځان ته طالب ساتي دخطاء څخه.

②غرض په لغت کې مقصداومطلب ته وايي او په اصطلاح کې دې ته وايي چې (مَا يَكُوْنُ بَاعِثًا لِلْفِعْلِ) اوغرض دعلم نحو دادی (صِيَانَةُ ذِهْنِ الْمُتَكَلِّمِ عَنِ الْخَطَاءِ فِي اللَّفْظِ).

③ موضوع په لغة کې (نهاده شده) (يعني ږوشی ايښودل سوی) ته وايي اوپه اصطلاح کې دېته وايي (مَا يُبْحَثُ فِي الْعِلْمِ عَنْ عَوَارِضِهِ الذَّاتِيَّةِ) نو موضوع دعلم نحو کلمه او کلام دی.

سوال نمبر (۲): چې موضوع دعلم نحو کلمه او کلام سوه داخو موضوع متعدده سوه او تعدد دموضوع مستلزم دی تعدد لره دعلم نو چې علم نحو هم متعدد علم سي بيا ولي يو علم ورته وايي؟

ځواب: چې تعدد پر دوه قسمه دی①تعددلفظي②تعدد معنوي تعددلفظي دېته وايي چې دوه لفظونه وي معنی يې يوه وي لکه قاعداو جالس (ناست) او تعدد معنوي دې ته وايي چې

دوه لفظونه وي معناګانې يې هم دوې وي لکه قاعد او قائم(ولاړ) نو تعدد چې راځي دا په معنوي کې راځي او په لفظي کې نه راځي نو په کلمه او کلام کې لفظي تعدد مراد دی ځکه چې دواړو په مابين کې جهت مشترک که سته هغه دا چې دواړو مفهوم يو دی چې(لفظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مُفْرَدٍ).

اومقام دعلم نحو دادی (قَالَ اَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ رضي الله عنهما تَعَلُّمُ اِعْرَابِ الْقُرْاٰنِ اَحَبُّ اِلَيْنَا مِنْ تَعَلُّمِ حُرُوْفِهٖ)اوبل دا چې (اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ).

اووجه دتسميې دکتاب داده چې شمه په کسره دشين سره عبارة ده دلږ څه خوشبوئي څخه نو ږ داکتاب باندې يې دانوم ځکه کښې نبودی چې په داکتاب کې هم مبتدي ته څه ناڅه ابتدائي قاعدې دعلم نحو ښودل کيږي.

اووجه دتسميې ددې علم په نحو سره داده چې نحوه په لغت کې صيانة ته وايې نو په علم نحو سره هم ذهن دطالب دخطاء څخه ساتل کيږي.

اوبه **واضع** کې دعلم نحو اختلاف دی څوک وايې حضرت عمر ﷺ دی او څوک وايې چې حضرت علي كرم الله وجهه دی او څوک وايې چې ابو الاسوددوئلي دی.

اونوم دشمې دمصنف حضرت مولاناعبدالغفوريوسف زائي دی.

قوله اَلْحَمْدُلِلّٰهِ له دی ځايه تر اما بعد پورې دشارح څلور غرضه دي

①به دخپل رب ستاینه او صفت وکړي ②به دخپل رب ددوو ستر و نعمتو یادونه وکړي چي یویې پر نبیانو او عامو مسلمانانو یې کړي دي .③به شکر دحبیب علیه السلام ووایي .

حاصل داول غرض دادی چي ټوله صفتونه اوښیګڼي دهره حامده شخه چي وي که انسان وي که پیری وي که حیوان وي که جماد وي اوپه هره زمانه کي چي وي داټول یوه ألله جَلَّ جَلَالُهُ لره ثابت دي اوس معترض اعتراض کوي

سوال نمبر③: چي ډیر داسي صفتونه سته چي ألله جَلَّ جَلَالُهُ لره نه وي ثابت لکه یو سړی ښه طبیب دی دانسانانو بنه ورسره کیږي نو دلته دانسان صفت وسو داألله جَلَّ جَلَالُهُ صفت نه وسو دارنګه نور کارونه دکمال چي انسان یې وکړي نو صفت دانسان کیږي نو ته څنګه وایې چي تول صفتونه ألله جَلَّ جَلَالُهُ لره دي؟

څواب : چي داستاخبره خو صحیح ده خو موږ بیا وایوچي اوس هم داألله جَلَّ جَلَالُهُ صفت سوی دی څکه بنده خو کاسب دی دبنده کسب صفت یې کیږي نو دبنده صفت داعین داألله جَلَّ جَلَالُهُ صفت دی څکه دغه بنده ألله جَلَّ جَلَالُهُ پیداکړي دی ألله جَلَّ جَلَالُهُ عقل او فکر ورکړی دی ألله جَلَّ جَلَالُهُ دغه کمال په ده کي ایښی دی نو دهر شي صفت چي وي په حقیقة کي داألله جَلَّ جَلَالُهُ صفت دی .

حاصل ددویم غرض دادی چي ألله جَلَّ جَلَالُهُ پر عامو مؤمنانو باندي یو انعام کړي دی اوخاص بیا پر رسولانو باندي انعام کړي دی بو اول انعام داألله جَلَّ جَلَالُهُ دجانبه پر رسولانو دادی چي

دوی پیش امام یې محمدرسول الله ﷺ کرځولی دی لکه چې وایي (زَيَّنَ النَّبِيِّينَ بِحَبِيبِهِ الْمُصْطَفٰى).

اودویم انعام یې پر عامو مؤمنانو باندې داکړی دی چې دوی یې په امت کې درسول الله ﷺ شمارلي دي لکه چې وایي (مَنَّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ بِنَبِيِّهِ الْمُجْتَبٰى)نووجود دحبیب علیه الصلوٰة والسلام دایوانعام دی پر رسولانو اوعامو مؤمنانو باندې څکه اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهُ فرمائي (لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْأَفْلَاكَ)داحدیث که څه هم په اعتباردالفاظو سره موضوعي دی خوبه اعتباردمعنی سره صحیح دی څکه نورورحدیثو څخه همدامضمون ثابت دی .

حاصل ددریم : غرض دا چې رسول الله ﷺ یو واسطه ده دمؤمنانو او اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهُ تر منځ او درسول علیه الصلوٰة والسلام اوعامو مؤمنانو ترمنځ بیا واسطه آل او اصحاب درسول علیه الصلوٰة والسلام دي نو که څوک ذو الواسطه راضي کول غواړي نو واسطه دې راضي کړي او دواسطې دراضي کولو طریقه داده چې دعاء دخیر او دسلامتیا به ورته غواړي دااَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهُ څخه او که واسطه راضي کول غواړي نو واسطة الواسطه به راضي کوي نو د اغرض یې په داعبارة کې اداکړي چې (وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرِ الْوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهِ الْمُتَأَدِّبِيْنَ بِالتَّقْوٰى).

اوس دلته شپږبحثونه دي

①اول بحث په بیان کې دوجه دراوړولوبسم الله او حمددی په سردکتاب کې داول بحث تشریح دسوال اوځواب په صورة کې ده

سوال نمبر④: څې مقصود دمصنف خو حل دبیتونودی کوم څې داکتاب ددې دتوضیح لپاره تصنیف سوی دی نو مناسبه وه څې شروع یې کړې وای په شرحه سره نه په بسم الله او حمد سره؟

ځواب: محشي ددې سوال ځخه په اوله حاشیه کې دبسم الله لپاره شپږ وجهي ذکر کړې دي او دحمد لپاره یې په دوهمه حاشیه کې دري وجهي ذکر کړې دي نو دبسم الله اوحمد متفقه دري عمده وجهي به موږذکر کړو څې دابتدائي طالبانو لپاره به اساني سې نو حاصل دځواب دادی څې دامنو څې مقصود دمصنف حل دابیاتو دی خو مصنف څې بسم الله او حمدراوړل داله درو ③وجهو ځخه

①وجه دا څې موافقة راسي دقرآن کریم سره ځکه موږ امر سوي یو څې خپل دزندګی افعال او اقوال دقرآن مطابق جوړ کړونو دقرآن مجید په اول کې بسم الله وروسته حمد ذکر وو نو شارح هم داتصدیق وکړې.

②وجه داچې شارح ځکه په اول دکتاب کې بسم الله اوحمدراوړل څې عمل راسي په حدیث شریف سره هغه دا (كُلُّ أَمْرٍ ذِيْ بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ فِيْهِ بِبِسْمِ اللهِ(وفی روایة) بِحَمْدِ اللهِ(وفی روایة) بِذِكْرِ اللهِ فَهُوَ أَبْتَرُ)

سوال نمبر(۵): څې لفظ دبال خولدله نه صحیح کیږي ځکه بال په معنی سره دزړه راځي نو بیا یې معنی غلطه سوه؟

ځواب : محشي په اوله حاشيه کي ځواب ورکړي دی چي لکه څنګه چي بال په معنی دزړه سره راځي همدارنګه په معنی دحال سره راځي لکه عرب وايي (مَابَالُكَ) ستا څه حال دی .

سوال نمبر(۶): حال خو مطلق دی حال غير شريفه ته هم شامليږي لکه حرام او سره لدي چي بسم الله ويل پر حرام شي باندي حرام دی بلکه دفقه په کتابو ليکل سوي دي چي دبسم الله ويل پر حرام شي باندي کفر دی؟

(۱)ځواب : محشي ځواب ورکړي دی چي مراد له حال څخه هغه حال دی چي اهتمام کړي وي په هغه سره شريعت .

(۲)ځواب : داچي مصنف بسم الله اوحمد څکه راوړل چي جريان يې وکړي پر طريقه دسلفو صالحينو باندي څکه چي هغوی دخپلو کتابو په سر کي بسم الله او حمد ليکلي وه نو مصنف هم بسم الله او حمد په خپل کتاب کي راوړل .

غلط مشهور

محترمو لوستونکو داخبره له ډېره وخته اوپه ډيرو کتابوکي مشهوره وه اوده چي (كُلُّ أَمْرٍذِيْبَالٍ الخ) دادوه حديثونه دي يو دبسم الله په باره کي دی بل دحمد په باره کي دی اوبيا دتعارض ددفع کولو لپاره ابتداء پردري قسمه کول حقيقي ، اضافي اوعرفي خوداغلطه خبره ده څکه که دحديثو کتابونه اوشروح دحديثومطالعه کړل سي په هغه کي به دادوه حديثونه نه سي پيدا بلکه دابو حديث دی خورروايتونه يې مختلف راغلي دي په يوه کي بببسم الله ، په بل کي بحمد الله اوپه بل کي بذکر الله اوداسي نور راغلي دي علامه محمديوسف بنوري رحمه الله په

خپل كتاب معارف السنن ج۱/ص/۶۳/۶۴ كي ليكلي دي چي داوه حديثونه نه دي بلكه يوحديث دی خوروايتونه يې مختلف دي اوعلامه شاه انورشاه الكشميري ليكي كه څوك داوايي چي داوه حديثونه دي هغه يې ځايه په فن كي دحديثومداخله كوي

نو كه څوك يوازي په بسم الله سره شروع وكړي كه څوك حمداوبسم الله دواړه راوړي هم په حديث عمل وسو خودغه دوو روايتو په منځ كي چي تطبيق راځي هغه په دي ډول چي مراد دحديث څخه ذكر داللّٰه جَلَّ جَلَالُهُ دی نوذكر داللّٰه جَلَّ جَلَالُهُ كه په صورة دبسم الله كي وي كه په صورت دالحمدلله كي وي هيڅ مشكل نسته.

سوال نمبر(۷): چي دابسم الله خو هم امر ذيبال دی نو چي كله پدي سره شروع كيږي بايد ددي مخكي بله بسم الله ووايي هغه بيا امر ذيبال دی دهغه مخكي به بله بسم الله وايي نو داخو تسلسل سو او داباطل دی همدارنګه تسلسل په حمد كي هم راځي؟([1])

ځواب: داچي مرادامر ذيبال څخه مرادغير دبسم الله او حمد څخه دی يعني بل دخير كار.

⑦بحث په بيان دمعنی لغوي اواصطلاحي دحمدكي دی نوحمدپه لغت كي (ستودن) صفت كولو ته وايي اولغوي تفصيلي معنی يې داده(هُوَ الثَّنَاءُ بِاللِّسَانِ عَلَى الْجَمِيلِ الإِخْتِيَارِيِّ)

سوال نمبر(۸): چي دلفظ ذكر دلسان وروسته تر ثناء په تعريف لغوي كي دحمد مستدرك (بې فائدې) دی ځكه چي ثناء ذكر الخير باللسان ته وايي؟

([1]) دتسلسل مثال داسي دی لكه يو ملګری چي بل ته ووايي چي راځه يو ځای ولاړسو نو يې په موټر كي سپور كي روان روان الخ يو بناررا سي بل راسي بل راسي دی ورته وايي چي .ې ځو ملګری ورته وايي ته كېښنه نو ټول ملګ وشواري خو مقصد ته نه ورسيږي نه مقصد لري ناحقه ستړی سي.

ځواب: دلته ذکر دلسان مستدرک نه دی ځکه دلته تصريح بما علم ضمنا ده او حمدبه اصطلاح کې عبارةدی لدې څخه چې (فِعْلٌ يُنْبِئُ عَنْ تَعْظِيْمِ الْمُنْعِمِ لِكَوْنِهِ مُنْعِمًا)

اوشکرلغوي عين حمداصطلاحي دی خوبه شرط دوصول دنعمة اوشکر به اصطلاح کې عبارة دی لدې څخه چې (صَرْفُ الْعَبْدِ جَمِيْعَ مَا أَنْعَمَهُ اللهُ إِلَى مَا خُلِقَ لِأَجْلِهِ)

فائده

زده کړه داخبره چې مورد دحمد خاص دی هغه ژبه ده او متعلَق يې عام دی که په مقابل دنعمة کې وي که نه وي او مورد دشکر عام دی که په ژبه سره وي که په ارکانو سره وي او متعلق دشکر خاص دی هغه دا چې په مقابل دنعمة کې به وي.

دريم بحث

اقسام دحمد

حمد پر څلورقسمه دی ① حمدقديم دی قديم لره([1]) داقسم حمددبته وايي چې حامد (حمدويونکي)هم قديم وي محمود(چې صفت يې سوی وي)داهم قديم وی لکه حمد دالله جَلَّ جَلَالُهُ لپاره دخپل ځان لکه الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم.

② حمد دقديم دی حادث لره([1])په دی شان چې حامد به قديم وي محمود به حادث وي لکه داقول دالله جَلَّ جَلَالُهُ په باره دايوب عليه السلام کي (نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ)

[1] قديم دېته وايي چې نه ابتدا، نه انتها، لري لکه دالله جل جلاله وجود چې نه ابتدا، نه انتها، لري.

③حمد دحادث دى قديم لره لكه زموږ حمد وه الله تعالى لره.

④حمد دحادث دى حادث لره پداشان چي حامد هم حادث وي محمود هم حادث وي لكه حمد زموږ بعض نورو لره.

سوال نمبر (۹): تعريف دحمد جامع نه سو خپلو افرادو لره[2] دوه افراد دحمد ځني خارج سوه ①حمد دقديم قديم لره ②حمد دقديم حادث لره ځكه اَللّٰهُ ﷻ لره خو زبه نسته؟

①**ځواب**: دا چي داتعريف دمطلق[3] حمد نه دى بلكه داتعريف ديو خاص ([4]) قسم حمد لپاره دى چي هغه حمد دحادث دى حادث لره او حمد دحادث دى قديم لره نو كه دلته قسمونه ووزي څه پروانه لري.

②**ځواب**: دا چي مراددزبي څخه كلام دى نو اَللّٰهُ ﷻ لره كلام سته.

---

(۱) حادث دېته وايي چي هم ابتداء هم انتهاء لري لكه دانسان وجودچي ابتداء او انتهاء دواړه لري.

(۲) جامع خپلو افرادولره دامعنى چي خپل ټول افراديې سره راجمع او يو ځاى وي بعض افرادنه وي ځني وتلي لوياهي سوي اوبل بيامانع دى داغيارو څخه دامعنى چي دده په افرادو باندي اغيارګډ سوي وي په كور اوكاركي يې لاس وهنه كوي دلداسي مثال لري لكه په كور كي يو څو ورونه وي ټول په يوه مشوره او يوه خوله وي نو دامشر جامع دى خپلو افرادولره مانع دى داغيارو څخه اوبل بيا داسي كور دى چي ټول ورونه په يوه مشوره نه وي بلكه ځني ورونه ياغيان وي خپل كور اوبا كوټى ته پر دي خلك راولي هغه غلطي مشورې وركوي او دمشر خبره نه مني نو دابيا مانع نه دى داغيارو څخه.

(۳) مطلق داسي مثال لري لكه يو عام بازارچي دهري خوالاري ورته راغلي وي او هر څوک ورته راتلاى سي.

(۴) خاص بيا داسي مثال دى لكه دكلي يوه معلومه كوڅه چي اجنبي (پردى) انسان پر دغه كوڅه باندي نه پرېږدي

سوال نمبر(۱۰): چي تعريف دحمد جامع نه سو خپلو افرادو لره ځکه چي حمد دحادث و قديم لره ځني خارج سو ځکه داحمد دالله ﷻ پر صفاتو اختياريه وو نه دی ځکه دالله ﷻ صفات غير اختياري دي په اختيار دالله ﷻ کښې نه دي ځکه هر مسبوق بالاختيار حادث (1) وي؟

①**ځواب**: دا چي صفات دالله ﷻ که حقيقتاً اختياري نه دي خو حکماً اختياري دي يدې شان چي کوم اثار چي پر داصفاتو باندې مرتب دي هغه دالله ﷻ په اختيار کي دي .

②**ځواب**: دا چي مراددصفاتو اختياريه وو څخه دادی چي په اختيار دغير کښې به نه وي اوپه ثبوت دصفاتو کي به محمود غير ته نه وي محتاجه اوس نو که په اختيار دمحمود کي وي که نه وي اوالله ﷻ هم په خپلو صفاتو کي مستقل دی محتاج نه دی غير ته .

څلورم بحث ارکان دحمد

دحمد ارکان پنځه دي ①حامد②محمود③محمودعليه④محموده به⑤نفس حمد

حامدبعني دکوم چا څخه چي حمد صادريږي چي هغه شارح دی محمودبعني دکوم چاحمد چي ويل کيږي چي الله ﷻ دی محمود عليه يعني هغه سبب چي باعث دحمد ويلو وي چي هغه سبب دلته شرح داپياتو يعني داکتاب دی او داسبب په حق دالله ﷻ کي نسته ځکه

(1) مطلب دا چي په دنيا کي چي چاته اختيار ورکړل سوی وي دهغه ابتداء او انتهاء معلومه وي لکه انسان په دنيا کي اختيار مند دی نه کوي که بد کوي ابتداء هم لري انتهاء هم لري ليکن دالله جل جلاله صفات دالله جل جلاله په اختيار کي نه دي دخپل ځان څخه خپل صفتونه نه سي ورک کولای .

چي حمد دالله جل جلاله محض فضل پر بنده باندي دى محمود به يعني مدلول دصيغي دحمد نفس صيغه دحمد يعني هغه لفظ چي دلالت كوي پر حمد او ثناء باندي .

پنځم بحث په تعريف او اقسامو دالف لام كي دى

نوالف لام په لغت كي لفظ د(أل)يعني الف لام چي سره ګډ سي دغه شكل ته وايي يا وه تحسين(ښائسته)ته وايي او په اصطلاح كي دى ته وايي چي (كَلِمَةٌ تُحَلِّيْ بِهَا كَلِمَةٌ أُخْرَى) يعني هغه كلمه ده چي بله كلمه وړباندي ښائسته كيږي

اقسام دالف لام

الف لام پر دوه قسمه دى ① اسمي ② حرفي

اسمي هغه الف لام دى چي پر اسم فاعل او اسم مفعول باندي بناء پر اتفاق او پر صفة مشبه باندي داخليږي بناء پر اختلاف په معنى دالذي په مذكر كي(1) او په معنى دالتي لكه التي ضاربة په معنى دالتي يضرب دى او التي مضروب په معنى دالتي يضرب دى راځي په مؤنث كي او الف لام حرفي هغه ته وايي چي پر غير داسم الفاعل او اسم المفعول داخليږي لكه الرجل وغيره .

دالف لام حرفي اقسام

الف لام حرفي بيا پر دوه قسمه دى ① زائده ② غير زائده

(1) لكه الضارب په معنى دالذي يَضرِبُ دى المضروب په معنى دالذي يُضرَبُ دى .

زائده هغه ته وايي چي که حذف سي دکلمې معنى ته نقصان نه رسيږي اوکه پاته سي لفظ نه په معرفه([1]) کيږي لکه دامثال(لَقَدْ أَمُرُّ عَلَى اللَّئِيمِ يَسُبُّنِي)نو الف لام په اللئيم کي زائده دى ځکه ددي صفت يسبنى دى اوداجمله ده او جمله من حيث هي هي نکره ده نو که الف لام زائده نه سي ياصفتية ديسبنى ورته نه صحيح کيږي

دالف لام حرفي زائده اقسام

الف لام حرفي زائده بيا پر څلور قسمه دى

① الف لام حرفي زائده لازم عوضي دى لکه لفظ د(اَللّٰهُ) دلته الف لام حرفي دى ځکه پر اسم فاعل او يا اسم مفعول نه دى داخل زائده دى ځکه مفيد لپاره دتعريف نه دى ځکه الله پخپله علم(نوم)دى تعريف ته ضرورت نه لري لازم دى ځکه لفظ دالله علَم (نوم) دى اوپه اعلامو کي حتى الامکان تغير نه کيږي چي الف لام ځني حذف سي اوعوضي دى ځکه عوض راغلى دى دهمزي څخه ځکه اصل دلفظ دالله (اِلٰهٌ) وو نو همزه داله حذف سوه په عوض کي يي الف لام راغلى الله سو.

اودويم قسم الف لام حرفي زائده لازم غير عوضي دى لکه(اَلنَّجْمُ)دلته الف لام حرفي دى وجه يي بيان سوه زائده دى داهم بيان سوه دلازم وجه هم بيان سوه غير عوضي دى ځکه دهيڅ شي څخه عوض نه دى راغلى.

([1]) ابتدائي طالب به په سپينه پښتو پوه کوي هغه دا چي معرفه هغه نوم ياشي ته وايي چي معلوم وي لکه زيد .مکه او افغانستان اونکره بيا هغه نامه ياشي ته وايي چي نامعلوم وي لکه سړى . ملک اوښار نودانه ده معلومه چي کوم سړى . ملک اوښار مراد دى .

اودريم قسم الف لام حرفي زائده غير لازم عوضي دى لكه(يَآأَيُّهَاالنَّاسُ) دلته الف لام حرفي دى وجه يې بيان سوه زائده دى ځكه تعريف په حرف نداء سره حاصل سوى دى غير لازم دى ځكه الناس علم نه دى الف لام حذف كيداى سي عوضي دى ځكه عوض راغلى دى دهمزې خخه اصل يې (أُنَاسُ)وو همزه حذف سوه په عوض كي يې الف لام راغلى دى .

اوڅلرم قسم الف لام حرفي زائده غير لازم غير عوضي دى لكه(يَاالْغُلَامَانِ)دلته الف لام حرفي دى وجه يې بيان سوه زائده دى ځكه تعريف په حرف نداء سره حاصل دى الف لام حذف كيداى سي غير لازم ځكه دى چي الغلامان علم نه دى غير عوضي دى ځكه دچاڅخه عوض نه دى داخل سوه دالفِ لام حرفي زائده اقسام او الف لام حرفي غير زائده هم پر څلور قسمه دى .

① جنسي ② استغراقي ③ عهدخارجي ④ عهدذهني

الف لام جنسي : هغه ته وايي چي په ده سره اشاره كيږي ماهيت اوذات ته دپوښي بيله لحاظ دافرادو لكه(الرَّجُلُ خَيْرٌمِنَ الْمَرْأَةِ)دلته اشاره په الف لام سره سوې ده ذات درجل ته مطلب دا چي نر تر ښځي بهتر دى افرادو ته نه ګورو چي عبدالله ،نورالله اونور تر ټولوښځوبهتره دي دانه ده صحيح ځكه ډيري ښځي سته چي هغه تر نر انوبهتره دي .

الف لام استغراقي : هغه ته وايي چي په ده سره اشاره كيږي ماهيت ته دښي سره دلحاظ دافرادو لكه (إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ)نويه الانسان كي الف لام استغراقي دى ځكه په ده سره

اشاره سوي ده ماهيت اوذات ته دانسان په ضمن كي په يي دافرادو لحاظ هم وي مطلب دا چي دانسان هر هر فرد لكه عبدالله ،نورالله اونورتاواني دي دآخرت په لحاظ .

الف لام عهدخارجي : هغه ته وايي چي په ده سره اشاره كيږي حقيقة دشي ته سره دلحاظ ديو معلوم فرد چي هغه فرد دمتكلم(خبري كونكي) او مخاطب(خبري اوربدونكي) ترمنځ معلوم وي لكه (فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ)نوپه الرسول كي الف لام عهدخارجي دى ځكه په ده اشاره وسوه هغه فرد ته چي دمتكلم او مخاطب تر منځ معلوم دى مطلب دا چي په الرسول كي هغه رسول ته اشاره وسوه چي هغه دمتكلم چي الله جل جلاله دى اودمخاطب چي زموږ نبي عليه الصلاة والسلام دى ترمنځ معلوم دى چي هغه موسي عليه الصلاة والسلام دى ځكه فرعون دموسي عليه الصلاة والسلام خبره نافرماني وكړه .

الف لام عهدذهني : هغه ته وايي چي په ده سره اشاره كيږي حقيقة دشي ته سره دلحاظ ديو فرد چي هغه معلوم وي په ذهن كي متكلم ته نه په خارج كي نو لدغه وجه نحاتو پر دغه فرد معين باندي حكم دنكرې كړي دى اووايي دغه الف لام په قوة كي دنكرې دى لكه (إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ) دلته په الذئب كي الف لام عهدذهنى دى چي معلوم وو په ذهن كي ديعقوب عليه الصلاة والسلام مطلب دا چي هغه فردچي په الف لام بسره ورته اشاره وسوه هغه لېوه يوازي متكلم ته چي يعقوب عليه الصلاة والسلام دى په ذهن كي معلوم دى په خارج كي بل چاته نه وو معلوم چي هغه فلانى لېوه دى .

اوس راغلو خپل مطلب لره چې په الحمد كي الف لام كوم يو دى؟ دهغه ځواب دا دى چې دالف لام دغه اول دري قسمونه صحيح دي هم لفظا هم معنًا جنسي ځكه صحيح دى لفظًا چې الحمد مبتداء ده ابتدائيت يې هلته صحيح كيږي چې الحمد مبتداء اوالف لام يې جنسي سي نو بيا تعريف فائده كوي او مبتداء هم معرفه وي او معنًا ځكه صحيح دى چې پدغه وخت كي يې معنى داسي كيږي چې ماهيت او جنس دحمد وه اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ لره ثابت دى او همدا معنى مفيده دحمد او مدحې لپاره ده.

اودويم احتمال چې الف لام استغراقي سي ځكه لفظًاصحيح دى چې په الف لام استغراقي سره شى معرفه كيږي نو چې معرفه سوه مبتداوالى يې صحيحسو او معنًاځكه صحيح دى چې په همدا وخت كي يې معنى داسې كيږي چې ټوله افراد دحمد ثابت دى اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ لره او دامعنى مفيده ده لپاره دحمد.

او دادريم احتمال چې عهد خارجي ځكه لفظا صحيح دى چې داقسم الف لام هم تعريف فائده كوي نو ابتدائيت دالحمد صحيح سو او معنًاځكه صحيح دى چې بناء پر همدې احتمال باندي يې معنى داكيږي چې فرد معين دحمد چې هغه د اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ حمدَ دى خپل ځان لره ثابت دى او دامعنى مفيده ده دحمد او مقصود هم په دې مقام كي پدا جمله كي دالحمد افاده دحمد ده.

اوڅلرم احتمال: چې الف لام عهد ذهني سي ځكه غير صحيح دى هم لفظاً هم معنًا چې داقسم الف لام تعريف نه فائده كوي او اصل به مبتداء كي تعريف دى او معنًاځكه غير صحيح دى چې

بناء پر دي احتمال بې معنی داکیږي چي فردغیر معین دحمد ثابت دی اَللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ لره نو دامعنی مفیده نه ده حمد لره .

شپږم بحث

شپږم بحث په بیان دتعمیماتوثلاثه وو او تخصیص کي دی

①تعمیم دحمد دی چي هر فرد دافرادو دحمد ②تعمیم دزماني دی چي داحماد دازله څخه تر ابده پوري ③تعمیم دحامد دی چي داحماد دهر حامد څخه چي انسان وي که پيري وي او که جماد وي اوتخصیص دادی چي دټولو حمد ثابت دی یوازي اویوازي یوه اَللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ لره .

سوال نمبر(۱۱): داڅنګه کېدای سي چي دیوي کلمي څخه چي الحمد لله ده دري تعمیمات او یو تخصیص راووزي؟

جواب چي تعمیم دحمد راوزي دالف لام څخه ځکه چي الف لام په الحمد کي جنسي یااستغراقي دی دادواړه قسمونه تعمیم فائده کوي او تعمیم دحامد راوزي دنه ذکر څخه دفاعل چي دانسان حمداللّٰه ثابت دی که دېري که دملائکي اوتعمیم دزماني دجملي اسمیي څخه راوزي ځکه جمله اسمیه دلالت کوي پر دوام او استمرار باندي او تخصیص راوزي دلام جاره څخه په للّٰه کي ځکه لام لپاره داختصاص راځي .

سوال نمبر(۱۲):بنه خوداوه چي لفظ داللّٰه بې مقدم کړي وای پر لفظ الحمد ځکه لفظ دالحمد دلالت کوي پر وصف او لفظ داللّٰه دلالت کوي پر ذات باندي بدي کي شک نسته چي

وصف محتاجه وي ذات ته نو ذات مقدم وي پر وصف باندې بالطبع نو مناسبه وه چې په ذکر کې هم مقدم سوی وای چې موافقة دوضع دطبع سره راسي؟

①**ځواب**: دا چې داتقديم دلفظ دالله پر لفظ دالحمد که مناسب دی په نظر سره ذات ته خو په نظر سره مقام ته بيا تقديم دوصف پر ذات باندې مناسب دی ځکه دامقام مقام دحمد دی نو دمقام دتقاضا دوجه يې الحمد لله ووايي نه لله الحمد.

②**ځواب**: داچې لفظ دالحمد مبتداء ده او لفظ دلله په اعتبار دمتعلق سره خبر دی نو حق دمبتدأ تقديم دی پر خبر باندې نو ځکه يې الحمد مقدم کړي پر لله باندې.

③**ځواب**: دا چې داوصف که خاص وو په دغه ذات پوري بيا تقديم دوصف روا دی پر ذات باندې او دلته هم وصف خاص دی په ذات پوري.

④**ځواب**: دا چې که څيرې لله الحمد وويل سيبيا مخالفة راځي دکتاب الله څخه.

سوال نمبر(۱۳): چې الحمد لله مووايو ولې يې الشکر لله نه وايي دلته مناسب خو دشکر راوړل دي ځکه داتصنيف خو نعمت دی او شکر په مقابل کې دنعمة واجب دی؟

①**ځواب**: دا چې حمددلته په مقابل دنعمت کې دی هغه نعمت مصنف په دادوو جملو کې بيان کړي دی (۱)وَلَقَنَ النَّبِيِّيْنَ تَعْلِيْمَهُ (۲)مَنَّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ بِبَيْتِهِ) او حمدچې په مقابل دنعمت کې راسي داهم شکر دی.

②**جواب**: داچي شکريوازي په مقابل دنعمت کي راځي او حمدعام دی که په مقابل دنعمت کي وي که نه وي نو حمد چي يې ذکر کړي شکر يې نه کړي ذکر اشاره يې وکړه دې ته چي اَلْلّٰهُ جَلَّ جَلَالُہٗ مستحق دحمددی که نعمت وي که نه وي که يې شکرويلی وای نو داتوهم به کېدی چي اَلْلّٰهُ جَلَّ جَلَالُہٗ مستحق دحمد دی په مقابل دنعمت کي که نعمت نه وويا نه دی مستحق داباطله ده.

(الله)

الله په لغت کي معبود بر حق ته وايي او په اصطلاح کي عبارة دی له دي ځخه چي (اِسْمٌ لِلذَّاتِ وَاجِبِ الْوُجُوْدِ الْمُسْتَجْمِعِ لِجَمِيْعِ صِفَاتِ الْكَمَالِ الْمُنَزَّهِ عَنْ جَمِيْعِ صِفَاتِ النُّقْصَانِ).

اوس په لفظ دالله کي دوه مذهبه دي ①مذهب دسيبويه دی②مذهب دنورو نحاتو دی سيبويه وايي لفظ دالله (اِسْمٌ مَوْضُوْعٌ بِرَأْسِهِ)دی هيڅ تغير نه دی پکښي راغلی ځکه دااسم دی دواجب الوجود الخ نو لکه په ذات کي دالله ﷻ چي تغير نه راځي همدارنګه په اسم کي هم نه راځي نور نحات وايي دالفظ عربي دی اوپه عربي لفظ کي تغير راتلای سي په قواعدو نحويه او صرفيه وو سره نو اصل دالله (اِلٰهٌ)ووإلٰهٌ فعالٌ وزن دی په معنی دمفعول دی يعني مألوه الله مشتق دی دَأَلِهَ يَأْلَهُ تَأَلُّهًا په معنی سره دتعبد راځي نو الٰه چي په معنی دمألوه سو نو معنی يې ده معبود نو داله ځخه همزه خلاف القياس حذف سوه دپاره دتخفيف ځکه داکثير الاستعمال دی لاهٗ پاته سو بيا الف لام ور باندي داخل سو لپاره داشاره کولو ذات معهود معبوده ته او تنوين په الف لام سره ساقط سو باره (اَلْلَاهُ)سو بيا دوه حرفه ديوه جنسه راغلل اول ساکن ثاني متحرک لام داخل يې په اصلي لام کي مدغم کړي اَللّٰهُ سو.

او يا اصل داﷲ (اَلْإِلٰهُ) وو دوهمه همزه حذف سوه حرکت يې ولام ته ورکړي باره (اَلِلاَهُ) سو بيا دوه حرف ديوه جنسه راغله دواړه متحرک دي حرکت داول لام ساقط سو باره اول ساکن ثاني متحرک اول په دويم کې مدغم سو الله سو.

اَلَّذِیْ زَیَّنَ النَّبِیِّیْنَ بِحَبِیْبِهٖ : الذي موصول زين النبيين بحبيبه جمله فعليه په زين کې ضمير مستتر دی چې راجع دی الذی ته دا جمله صله دموصول سوه موصول سره دخپلي صلې داصفت سو لپاره دلفظ داﷲ.

فائده : دموصول اوصلي مثال په پښتو کې دادی لکه يو څوک ووايي چې تاته چې پرون کتاب درکړي هغه طالب راغلی دی داسې نورمثالونه نودلته هغه طالب موصول سو راغلی دی صله سوه.

سوال نمبر (۱۴) : چې صفتية دالذی نه صحيح کيږي لپاره داﷲ ﷻ ځکه دالفظ دالذی خو راځي لپاره دمذکر غائب نو په اﷲ ﷻ کې دادواړه صوررتونه محال دي مذکر ځکه نه دی چې تذکير او تانيث صفات دمخلوق دي غائب ځکه نه دی چې اﷲ ﷻ حاضر او ناظر دی؟

جواب : چې دامذکر لفظ راوړل چې الذي دی په اعتبار دتذکير دلفظ داﷲ ﷻ دی ځکه دالفظ مذکر دی که څه هم مسمی ددې لفظ منزه دی دتذکير او تانيث څخه او دغائب لفظ راوړل چې الذی دی ددوو وجهو څخه (۱) دا چې اﷲ ﷻ غائب دی زموږ دسترګو څخه (۲) دا چې اﷲ ﷻ لفظ اسم ظاهر دی او اسماء ظاهره ټول دقبيلې دغائب څخه دي او س النبيين جمع دنبي دی نو دنبي په لغتي معنی کې دوه احتماله دي (۱) دا چې نبي مشتق دی دنبوة څخه نبوة وايي رفعة

ته نو نبي ﷺ هم رفیع دی تر ټولو مخلوقاتو(۲)دا چي نبي مشتق دی دانباء څخه انباء په معنی داخبار سره دی نو شک نسته چي نبي ﷺ هم مخبِر دی دالله ﷻ دجانب څخه بندګانو ته او نبي په اصطلاح کي عبارة دی ددې څخه چي (هُوَاِنْسَانٌ بَعَثَهُ اللهُ اِلَی الْخَلْقِ لِتَبْلِیْغِ أَحْکَامِهٖ الْمُعْتَبَرَة عِنْدَهُ مَعَهُ کِتَابٌ مُتَجَدِّدٌ اَمْ لَا).

سوال نمبر (۱۵): چي په تزئین(ښائست) کي څو ځلور شیان موجود وي (۱)مُزَیِّنْ (ښائسته کونکي) چي الله ﷻ دی (۲)مُزَیَّنْ (څوک چي ښائسته سوی وي) چي نبیان دي (۳)مُزَیَّنٌ لَهُ (په چاسره چي ښائست راغلی وي)چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دی نو دلته دري اول موجود دي څو څلرم چي مُزَیَّنٌ بِهٖ(په کوم شي سره چي ښائست راغلی وي) دفه نسته؟

ځواب : محشي یې ځواب وکړي چي بالمراتب العالیة آه حاصل دادی چي مزین به هغه لوړي مرتبي اولوړانعامونه دي ځکه الله ﷻ فرمائي(لَوْلَاكَ لَمَاخَلَقْتُ الْأَفْلَاكَ)داحدیث که څه هم په اعتبار دلفظ سره موضوعي دی خوپه اعتباردمعنی سره صحیح دی.

قوله بِحَبِیْبِهِ الْمُصْطَفٰی :اوس حبیب فعیل وزن دی او فعیل وزن کله په معنی دفاعل کله په معنی دمفعول سره راځي نو دلته دواړه احتماله صحیح کیږي که په معنی دمُحِبّ سي نو معنی داکیږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دالله ﷻ سره محبت کوي او که په معنی دمحبوب سي نو معنی یې داکیږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله ﷻ په نیز محبوب دی.

سوال نمبر (۱۶): چي حبيب موصوف دی المصطفى يې صفت دی[1] او مطابقة شرط دی دصفت او موصوف په منځ کي په تعريف ا وتنکير کي اودلته مطابقة نشته ځکه حبيب صفت مشبه ده اضافة[2] يې لفظي ده تعريف او تخصيص نه فائده کوي او مصطفى معرفه دی په الف لام سره ؟

ځواب : دامنو چي دااضافة لفظي ده خو شرط په اضافة لفظي کي دادی چي مضاف به په معنی دحال يا استقبال وي او دلته په معنی ددوام اواستمرار دی نو چي شرط نبستي سو مشروط به هم نبستي کيږي نو اضافه معنوي سوه .

سوال نمبر (۱۷): چي په ضمن داستمرار کي خو حال او استقبال هم موجود يږي نو شرط پيا موجود سو ؟

ځواب چي په مضاف کي به داشرط موجودوي استقلالاً نه ضمناً دلته خو ضمناً موجود دی .

توضيح النكتة

نکته په لغة کي (تراشيدن زمين) ته وايي اوپه اصطلاح کي دي ته وايي (دِقَّةُ الْحَقِّ تَسْتَنْبِطُ بِدِقَّةِ النَّظَرِ)

قوله المصطفى : دلته لاندي نکته ده (برگزيده شده) دلته دنکات غرض دفع داعتراض ده

---

(۱) دصفت اوموصوف علامه داده چي په پښتو کي يې معنی وکړي په معنی کي يې داسي لفظ راځي لکه ته وو ايي چي داسي کتاب چي هغه بنالسته دی .

(۲) داضافة علامه داده چي په پښتو کي يې معنی وکړي په معنی کي يې (دده)(زما)(ستا)(زموږ)(ستاسي) داسي نور الفاظ راځي لکه کتابک اول لفظ ته مضاف دويم ته مضاف اليه وايي نو حبيب مضاف دی او (ه) يې مضاف اليه دی

سوال نمبر(۱۸): چې مصطفی به يا داسم فاعل يا ظرف او يا دمصدر ميمي صيغه وي دلته يوه هم نه صحيح کيږي اسم فاعل ځکه نه صحيح کيږي چې محمد ﷺ د الله جَلَّ جَلَالُهُ دجانبه مختاره سوی دی بل چاګل لره نه دی مختاره کونکي او ظرف صيغه هم نه صحيح کيږي ځکه ظرف پر دوه قسمه دی ظرف زمان ظرف مکان او مصطفی نه زمان دی نه مکان او دمصدر ميمي صيغه هم نه صحيح کيږي ځکه بيا يې معنی غلطيږي ځکه بيا يې دامعنی کيږي چې داسې نبي چې اختيار ول دی؟

ځواب: ناکت ځواب ورکړي (برګزيده شده) حاصل يې دادی چې مصطفی اسم مفعول صيغه ده په معنی دبرګزيده شده سره.

لوره هم نکته ده (پاکي از عيب)دانکته دلته غلطه ده صحيح داده چې به دوهمه ليکه کې پير والسلام لوره وليکل سي غرض دناکت بيان کول دي دمعنی لغوي دالسلام.

قوله وَمَنَّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ بِنَبِيِّهِ الْمُجْتَبٰى : مَنّ په تشديددنون سره دفعل ماضي صيغه ده مشتق ده دمَنًّا څخه او مَنْ وايي احسان ته.

سوال نمبر(۱۹): چې احسان مُبطل داعمالودی ځکه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمائي (لاتُبْطِلُوْا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالاَذٰى) اودغه راتلل دنبي يو عمل دی داعمالو څخه؟

ځواب : دادی چي اسحاٰن مذموم دی خوبهٔ ځلورځایه کي نه دی مذموم (۱)دجانبه دالله جَلَّ جَلَالُهٗ پر بندګانو باندي (۲)د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ خخه پر امت باندي (۳)دشیخ دجانبه پر شاګر دانو باندي (۴)دپلار دجانبه پر اولاد باندي .

نو دلته اول قسم مرادی او نبي یا مشتق دی دنبوة ځخه په معنی درفعة سره او یا مشتق دی دنباء ځخه په معنی داخبار سره یا په معنی دطریق سره دی نو لکه طریق چي انسان خپل مقصد ته رسوي همدارنګه رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ هم وسیله دی دوصول دحق تعالیٰ ته او مجتبی او مصطفی مترادفین دي په معنی دمختار سره دی او ترادف په لغة کي (رکوب احد الشیئین خلف الاخر) ته وایي او په اصطلاح کي دیته وایي (اِیْرَادُ اللَّفْظَیْنِ الْمُتَغَایِرَیْنِ عَلٰی مَعْنًی وَاحِدٍ).

سوال نمبر (۲۰): چي کله مصطفی او مجتبی مترادفین سره نو دیوه ذکر غنا راولي دذکر ځخه داخر ددوارو لفظو ذکر ته ضرورت نسته ؟

ځواب چي ذکر کول دالفاظو مترادفه وو په خطبه کي جائز دی بلکه حُسن هم پیدا کوي .

قوله وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

سوال نمبر (۲۱) : څه وجه ده چي مصنف صلوة پخپل کتاب کي ذکر کړي څکه مقصود خو توضیح دیباتو ده ؟

ځواب : محشي ځواب ورکړي چي وجه یې داحدیث دی چي رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فرمائي (مَنْ صَلّٰی عَلَيَّ فِيْ كِتَابٍ لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَسْتَغْفِرُ مَادَامَ اسْمِيْ فِيْ ذٰلِكَ الْكِتَابِ)

نو دوجه دحصول ددغه فضيلة يې داصلوة راوړى نو صلوة اوسلام پر رسول الله ﷺ
باندي ثابت دى په څلورو دلائلو سره (۱) قرآن (۲) حديث (۳) اجماع (۴) قياس

اول دليل داآيت كريمه دى (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا)

دويم دليل داحديث دى چي رسول الله ﷺ فرمائي (حُظُوظٌ يكْرَامًا بِي مِنْهَا إِذَا ذُكِرَتْ مَعَهُ) نو دكر اماتو څخه مراد شعار دى نو شعار د رسول الله ﷺ دادى چي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ).

سوال نمبر (۲۲): چي ډير داسي څايونه سته چي هلته دالله ﷻ دنامه ذكر وي او د رسول الله ﷺ ذكر نه وي لكه په تسميه كي او تسبيح كي؟

څواب داقول دعليه السلام چي اذاذكر ذكرتُ معه داقضيه مهمله ده[1] اودابه قُوة كي دجزئيه ده عموم نه فائده كوي كه څه بعض ځايو كي دالله دنامه سره د رسول الله ﷺ ذكر نه وى څه تاوان نه كوي.

او دريم دليل اجماع دى په دي دول چي امة د رسول الله ﷺ قديماً او حديثاً متفق دى پر راوړولو دصلوة او سلام پر رسول الله ﷺ باندي.

(۱) قضيه مهمله داده چي حكم سوى وي په اهمال سره دثبوت دمحمول موضوع ته داهمال معنى دا چي نه يې كلية معلوم وي نه يې جزئية معلوم وي يعني نه يې لږ والى نه يې ډير والى معلوم وي لكه جَاءَ القومُ نو دانه دى معلوم چي كل كه بعض او قضيه جزئيه داده چي بعضية يې معلوم وي.

خلرم دليل قياس دى هغه دادى چې بندګان محتاج دي الله ﷻ ته په فيضان کي نو الله ﷻ په اعلى مرتبه کي دتقدس او بندګان په ادنى مرتبه دتندس کي دي نو بندګان بالذات د الله ﷻ څخه فيضان نه سي حاصلولاى نو لابدي سوه دواسطې حسني څخه چې ذات الجهتين وي هغه واسطه پيغمبر ﷺ دى ځکه پيغمبر ﷺ په دي اعتبارسره چې خوراک او چيښاک کوي مناسبة يې دبندګانو سره راغلى او داخلاقو په اعتبار سره ديپغمبر ﷺ مناسبة دملائکو سره راغلى او ملائکه د الله ﷻ سره په تجرد کي مناسبة لري نو ديپغمبر ﷺ علاقه دالله ﷻ سره راغله ځکه مناسب دمناسب دشي مناسب دهغه شي دى نو پيغمبر ﷺ واسطه حسنه سوه په فيضان حاصلولو کي دالله ﷻ څخه نو شکر يې لازم سو او شکر ديپغمبر ﷺ په صلوة سره ادا کيږي.

سوال نمبر (٢٣): چې داخبره چې بنده دالله تعالى څخه بعيد دى مخالفة يې ددې آيات سره راغلى چې الله ﷻ فرمائي: (نَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ) نو داآيات صريح دى پدي کي چې الله ﷻ نژدې دى بنده ته تر نيارګو؟

ځواب: دلته دوه جهته دي يو جهت داعمالو دبنده دى په دا جهت سره بنده دالله ﷻ څخه ليري دى دويم جهت دالله ﷻ دعلم دى په دغه جهت سره الله ﷻ نيژدې دى بنده ته نو تناقض نه راغلى.

اوس صلوة په لغت کي په خلورو معناګانو سره راځي (١)دعاء (٢)رحمت (٣)استغفار(۴) تسبيح اوتهليل اوپه اصطلاح کي دې ته وايي (أَرْكَانٌ مَخْصُوصَةٌ فِي أَوْقَاتٍ مَخْصُوصَةٍ).

سوال نمبر (۲۴) : چي دصلوة لپاره خو دوې معناګاني سوي (۱)لغوي (۲) اصطلاحي نو دلته به يا لغوي معنى مرادوي او يا اصطلاحي که اصطلاحي مراد سي باطله ده ځکه بيا بې معنى داسي کيږي چي لمونځ دي وي پر نبي ﷺ باندي که لغوي معنى مراد سي نو يا به تولي لغوي معنى ګاني مراد وي دا هم باطله ده ځکه بيا جمع دحقيقة او دمجاز راځي ځکه په نيزد سيدشريف صلوة حقيقة دى په دعاء کي مجاز دى په باقي معناګانوکي اوپه نيزدصاحب دکشاف حقيقة دى په تحريک الصلوين کي او که يوه معنى دلغوي مراد سي هغه قرينه غواړي اودلته قرينه نسته نو دواړه شقه باطل دي؟

ځواب : چي دلغوي معنى ټول اقسام مراد دي که ته وايي داخو جمع دحقيقة او دمجاز راغله؟ ځواب چي پر طريقه دعموم مجاز داټولي مراد دي پدا شان چي مراد افاضه دخير ده .

سوال نمبر(۲۵): چي صلوة که حقيقة سي په دعاء کي يا حقيقة سي په تحريک الصلوين کي نو بيا دځه مناسبة ارکان مخصوصه ځني مراديږي؟

ځواب :چي داعي (دعاء کونکي)مشابه دى دمصلي (لمونځ کوني) سره په خشوع (عاجزى) کي لکه په دعاء کي چي خشوع سته همدارنګه په صلوة کي هم خشوع سته اوبل تحريک الصلوين هم په لمانځه کي سته .

سوال نمبر(۲۶) : چي کله صلوة په لغة کي دعاء ته وويل سوه نو ددعاء صله(ددعاء وروسته متصل حرف جر) چي على راسي هلته دعاء دشر ځني مراديږي اودعاء دشر وه نبي ﷺ ته کول نه دى جائز ؟

(۱) ځواب : دادي چي ددعاء صله چي على راسي هلته دعاء دشر ځني مراديږي چي ددعاء لفظ صراحتاًذکر وي اودلته ددعاء لفظ صراحتا نه دی ذکر .

(۲) ځواب : دويم ځواب دا چي دلته مراد دصلوة څخه دعاء نه ده مراد بلکه مراد ځني عموم مجاز دی چي افاضه دخير ده .

توضيح النكتتين

قوله وَالصَّلٰوةُ لاندي نكته ده(صلوة دعاء ورحمة وامرزش خواستن)په دغه نكته كي دناكت دري غرضه دي (۱)اشاره كوي معنى لغوي ته اوپه ضمن كي به اشاره وكي نسبتو ته (۲)غرض يي تعين دمعنى اصطلاحي دى (۳)اشاره كوي صيغي ته دصلوة

حاصل داول غرض دا چي صلوة په لغة كي په معنى درحمة دى دلهلته كه يي نسبت اللّٰه جَلَّ جَلَالُهُ ته وسي اودويم په معنى سره ددعاء راځي داهلته كه يي نسبت وسي بنده ته دريم په معنى داستغفار راځي لكه ناكت چي وايي امرزش خواستن يعني استغفار داهلته كه دصلوة نسبت وسي ملائكو ته او كه يي وحوشو اوطيورو ته نسبة وسي بيا په معنى دتسبيح او تهليل سره راځي نو داناكت نه دى ذكر كړي .

حاصل ددويم غرض دا چي صلوة په اصطلاح كي په معنى سره داركانو مخصوصه ووته وايي په اوقاتو مخصوصه كي لكه ناكت چي وايي نماز .

حاصل ددريم غرض دادی چي صلوة دمفرد صيغه ده جمع يې صلوات راځي په دغه نکته کي يو څه غلطي سته ځکه داسي ليکل سوي ده صلوة دعاوحمت وامرزش خواستن نماز صحيح داسي ده صلوة دعاء ورحمت وامرزش خواستن ونماز .

دشمي په ځينو نسخو کي تر والسلام لاندي نکته ده (هُوَبَرَائَةٌ عَنِ النَّقَائِصِ) پدغه نکته کي غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۲۷): چي سلام خوپه معنی سره دترخي درختي راځي اوبل سلام نوم دالله جَلَّ جَلَالُهُ دی نو دلته دا معنی نه صحيح کيږي؟

ناکت ځواب ورکړي چي هوبرائة الخ حاصل دځواب دا چي سلام لکه څنګه چي په معنی سره دترخي درختي راځي همدارنګه په معنی سره دبرائة عن النقائص سره راځي (يعني پاکي دنقصاناتو څخه) نودلته همدغه معنی مراده .

سوال نمبر (۲۸) : چي برائة عن النقائص خو مخکي وجود غواړي نو داخو دامعنی سوه چي نقصائص په نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کي موجود وه داخبره باطله ده ځکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معصوم وو دهر عيب اونقصان څخه؟

(۱) ځواب : اول ځواب دا چي دلته نقائص په معنی سره د(ضرائر الجن والانس) دی نو معنی بې داسوه چي والسلام يعني سلامتيادي وي ديراناتو اوانساناتو دشر څخه .

(۲)جواب : دا چې نقائص په حق كې د رسول الله ﷺ په اعتبار سره دامت دى لكه استغفار په حق كې دده په اعتبار دلمت دى په دې ايت كې چې (وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ) اى لِذَنْبِ أُمَّتِكَ .

اوسلام په درو معناګانو سره راځي (۱)ديوې ترخې درختې نوم دى (۲)داالله جَلَّ جَلَالُهُ نوم دى (۳)په معنى دسلامتيا دى .

قوله عَلٰى رَسُوْلِهِ : رسول فعول وزن دى په معنى سره دمفعول دى يعني مُرْسَل'اورسول په لغت كې(مـرسـتاده شـده) ته وايي اوپه اصطلاح كې دې ته وايي (هُوَ اِنْسَانٌ بَعَثَهُ اللهُ اِلَى الْخَلْقِ لِتَبْلِيْغِ اَحْكَامِ الشَّرِيْعَةِ مَعَهُ كِتَابٌ مُتَجَدِّدٌ اَمْ لَا) نورسول په نيز دجمهورو علماوو خاص دى تر نبي او نبي عام دى له دوو (۲)وجهو (۱)چې په رسول كې داشرط دى چې دده سره به كتاب متجدد وى په خلاف دنبي (۲)چې په رسول كې داشرط دى چې دده سره به شريعة متجدده وي په خلاف دنبي .

سوال نمبر (۲۹) : اوس پراولاه وجه اعتراض كيږي چې كتابونه خويو سل او څلور (۱۰۴)دي او عدد درسولانو درې سوه دياراس (۳۱۳)دي نو بيا څنګه داشرط صحيح كيږي په رسول كې چې كتاب متجدد به ورسره وي؟

جواب ممكنه ده دا چې نزول دې پر طريقه دتكرار وي چې يو كتاب دې پر څورسولانو باندې نازل سوى وي .

سوال نمبر (۳۰) : چې نزول پر طريقه دتكرار نه منو ځكه كه چيري همدارنكه سي نو بيا خو تخصيص دبعض كتابو په بعض رسولانو پوري نه صحيح كيږي لكه قرآن پر رسول الله ﷺ باندي داسي نور ؟

ځواب : چې تخصيص په دې معنی نه دی مرادچې نزول دكتاب دې پر يوه رسول سوی وي نه پر بل رسول بلكه دامراد دی چې داكتاب چې خاص دی په يوه رسول پوري دامعنی چې اول به پر ده نازل سوی وي ثانيا به پر بل رسول باندي.

سوال نمبر (۳۱) : پر دوهمه وجه باندي اعتراض كيږي چې شريعة متجدده نه دی شرط په رسول كي ځكه اسماعيل عليه السلام رسول وولكه الله جل جلاله چې فرمائي :(وَكَانَ رَسُوْلاً نَّبِيًّا) اوده سره شريعة متجدده نه وو ورسره بلكه دی پر شريعة دخپل پلار ابراهيم عليه السلام باندي وو ؟

ځواب : چې مرادپه دغه آيات كي معنی لغوی مراده چې (فرستاده شده)دی نه اصطلاحي معنی.

سوال نمبر (۳۲) : څه وجه ده چې رسول يې ذكر كړي نبي يې نه كړي ذكر ؟

ځواب : محشي ځواب وركړي چې وجه يې داده چې اشاره يې وكړه دې خبري ته چې رسول الله ﷺ مرسل دی او رسالة فوق النبوة دی لكه جمهور علماء چې وايي رسول خاص دی تر نبي.

قوله ﷺ خَيْرِالْوَرٰى محمدپه لغت کې (ستوره شده) ته وایي او په اصطلاح کې (هُوَعَلَمٌ لِرَسُوْلِ اللهِ بْنِ عَبْدِاللهِ بْنِ عَبْدِالمُطَّلِب) ته وایي اوصلوة يې مكرر كړې ځکه چې د رسول الله ﷺ نوم چې هر كله ذكر شي نو صلوة وربانديې ويل مستحب دي.

توضيح النكتة

قوله خير الورى دلته لوړه نکته ده (ورى بمعنى الخلق) يدغه نکته كې دناكت غرض دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۳۳): چې ورى په يوناني ژبه كې په معنى سره دوړَدَ(کل گلاب) راځي اودلته دامعنى نه صحيح كيږي؟

ناکت ځواب وركړي بمعنى الخلق حاصل دځواب دادئ چې دلته مراد عربي لغة دى نه يوناني لغت.

قوله وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ: دلته خلور بحثونه دي

اول بحث

په بيان كې دصلوة راوړولو دى پر آل او اصحاب باندي

سوال نمبر (۳۴): چې صلوة بغير دپيغمبر عليه السلام پر بل چاباندې بدعت او ناروا دى؟

(۱) ځواب : دا چې صلوة جائز دی پر آل باندي دليل داقول د النبي ﷺ دی چې رسول الله ﷺ فرمائي (مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ فَقَدْ جَفَانِي) نو ددې حديث څخه معلومه سوه چي بالتبع صلوة پر غير دعليه السلام هم جائز دی.

(۲) ځواب : دا چي نه منو داخبره چي پر غير دنبي ﷺ صلوة نه دی جائز بلکه جائز دی ځکه دليل وربانديي تعليم دنبي ﷺ دی وه صحابه کرامو ته په داشان چي صحابه وو د النبي ﷺ څخه پوښتنه وکړل چي موږ څه رنګه صلوة پر تاباندي وواو نو النبي ﷺ ورته وويل چي (قُولُوا اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ) بل حديث دادی چي عليه السلام فرمائي (اِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَيَّ فَعَمِّمُوْا) مطلب دا چي تاسي صلوة پر ماوايابست نو عام يې واياست چي آل او اصحاب پکي راسي.

دويم بحث

دويم بحث په ذکر دکلمې دعلی کي دی مخکي تر آل فائده يې داده چي رد راسي پر روافضو باندي ځکه روافض دعلی کلمه دنبی او آل په منځ کي نه ذکر کوي ځکه روافض داوايي چي رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چي (مَنْ فَصَلَ بَيْنِي وَبَيْنَ آلِي بِعَلٰى لَمْ يَنَلْ شَفَاعَتِي) يعني که چازما اوزما دآل په منځ کي جدا والی په کلمه دعلی سره وکړي نوزماشفاعت به نه ورته ورسيږي نوددی دوه (۲) ځوابونه دي (۱) ځواب پر طريقه دمنع دی (۲) پر طريقه دتسليم دی.

حاصل داول ځواب دادی چي دانه منو چي داصحيح حديث دی بلکه موضوعي (درواغ) دی استدلال وربانديې نه صحيح کيږي

حاصل دوېم ځواب دادی چي که اومنو چي داحديث صحيح دی نو بيا داوايو چي پدغه حديث باندي استدلال هغه وخت صحيح کيږي چي که دعلي څخه مراد حرف جر وي خوداعلي په تشديدياء سره دی چي مراد ځني حضرت علي کرم الله وجهه دی نو بيا دروافضو لپاره دليل نه پاته کيږي.

دريم بحث

دريم بحث په آل کي دی نو په آل کي دوې خبري دي (۱) په اصل کي دآل دی چي دآل اصل څه دی (۲) خبره دادہ چي په څومعناګانو سره راځي اولدلته کومه معنی دآل مراد ده نو اوس په اصل کي دآل دوه مذهبه دي

(۱) دادی چي اصل دآل (اَهْلٌ) دی نو هاء خلاف القياس بدله سوه په همزه سره نو (أأْلٌ) سو بيا دوهمه همزه د(يَأْمَنُ) دقانون مطابق په الف سره بدله سوه آل سوه دامذهب دسيبويه دی
(۲) مذهب دادی چي آل په اصل کي (أَوْلٌ) وو بيا واو متحرک ما قبل يې مفتوح واو په الف سره بدل سو نو آل سو دامذهب دکسائي دی او دآل داستعمال لپاره دري شرطونه دی

(۱) چي دآل نسبة ذوی العقولو ته کيږي نه غير ذوی العقولو ته په خلاف داهل څکه داهل نسبة لکه څنګه چي ذوي العقولو ته کيږي همدارنګه غير ذوي العقولوته هم کيږي داسي نه ويل کيږي چي (آل العلم آل المصر او آل الحق) بلکه اهل العلم وغيره ويل کيږي.

(۲)شرط دادی چي دآل اضافة اشرافو ته کیږی نه ارذالو ته په خلاف داهل نو آل الحجام نه ویل کیږي اهل الحجام ویل کیږي همداشرطونه وجه دفرق ده په مابین دآل او داهل کي دوهمه خبره داده چي آل په خلورو معناگانو سره راځي (۱)ازواج مطهرات دنبي عليه السلام (۲)عيال دنبی عليه السلام (۳)فقهاء او مجتهدين (۴)مطلق مؤمنان چي اتباع درسول الله صلى الله عليه وسلم هم ورته وايي نو دلته دهٔ يوه معنی مرادېدلای سي.

سوال نمبر(۳۵) :چي آل که په معنی دمطلق مؤمنانو سره مراد سي نو داصحاب ذکر وروسته تر آل مستدرک دی ځکه اصحاب هم په مطلق مؤمنانو کي داخل دي؟

ځواب ذکر داصحاب وروسته تر آل داتخصيص بعد التعميم دی لپاره داهتمام په شان(۱)سره داصحاب.

خلورم بحث

خلرم بحث په بیان کي دمعنی داصحاب دی نو اصحاب جمع دصاحب ده او صاحب په لغة کي مطلق ملګري ته وايي او په اصطلاح کي داهل شريعت صاحب هغه څوک دی چي نبي عليه السلام يې ليدلي وي او ايمان يې پر راوړی وی پر دغه ايمان مړ وي اوس په صاحب کي خلور مذهب دي

---

(۱)اهتمام په شان سره دداسي مثال لري لکه يو څوک چي يو ځای ورسي نو د هرخلک وي دټولو سره زباني روغبر وکړي او ديوه سره بيا دلچسپي روغبر وکړي ځکه دغه شخص ورته ډېر ګران اوعزتمند دی نو دغه ته اهتمام بالشان وايي نو دلته هم دټولومؤمنانو دمنځ څخه يې داصحابو ذکر وکړي.

(۱)چې په صاحب کې داشرط دی چې نبي ﷺ سره يې اوږده ملګرتيا کړي وي چې ترشپږ و میاشتو به کمه نه وي.

(۲)مذهب دادی چې په صاحب کې داشرط دی چې دنبي ﷺ څخه يې روايت دحديث کړي وي اوس نو که يو حديث وي که ډير.

(۳)مذهب دادی چې په صاحب کې داشرط دی چې نبي ﷺ سره به يې شرکت کړي وي په جهاد کې.

(۴)مذهب دادی چې ددوی مذهبو هیڅ شرط نه وي يکښي هغه دا چې صاحب دی ته وايي چې نبي ﷺ يې ليدلی وي ايمان يې پر راوړی وي پر هغه ايمان مړ وي.

داصحاب او صحابه ترمنځ فرق

زده کړه داخبره چې داصحاب اودصحابه ترمنځ دوه فرقه دي

(۱) چې اصحاب جمع دصاحب ده او صحابه په اصل کې صيغه دمصدر وه لو مفرد دی يامصدري معنی څخه نقل سو مستعمل سويه ملګرو درسول الله ﷺ کې.

(۲)فرق يې دادی چې داصحابو اطلاق عام دی هم ملګرو درسول الله ﷺ ته وايي هم ملګرو دعامو انسانونو ته ويل کيږی اوصحابه خاص درسول الله ﷺ ملګرو ته ويل کيږی.

توضيح النكتتين

قوله: على لاندي نكته ده **عليه وسلم** دانكته غلطه ده .

قوله: آله دلته لاندي نكته ده **اى اهل بيت رسول** ﷺ دلته غرض دناكت دفع ددوو (٢)اعتراضينو ده

سوال نمبر(٣٦): چي ذكر داصحاب وروسته تر آل مستدرك دى ځكه رسول الله صلى الله فرمائي (كُلُّ تَقِيٍّ وَنَقِيٍّ فَهُوَ آلِي)نو ددغه حديث له رويه اصحاب داخل سوه په آل كي نو بيا يې ذكر كول وروسته تر آل مستدرك دى؟

سوال نمبر(٣٧): چي شارح مخالفة وكړي دحديث پاك څخه ځكه رسول الله ﷺ فرمائي (مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلوةً وَلَمْ يُصَلِّ عَلَى أَهْلِ بَيْتِي لَمْ يُقْبَلْ) نو په حديث كي اهل بيت ذكر سوي دي شارح آل ذكر كړي؟

ناكت دواړوځواب وكړي چي **اى اهل بيت** الخ حاصل دځواب يې دادى چي ذكر داصحاب وروسته تر ال مستدرك نه دى ځكه چي آل پر دوه قسمه دى (١)نسبي(٢)حسبي نسبي هغه څوك دى چي درسول الله ﷺ سره په نسب كي شريك وي اوفرض زكوة ورته حرام وي او نسبي هغه څوك دى چي درسول الله ﷺ دغه قول ورباندي صادقيږي چي كل تقى ونقى فهو الى نو دلته دآل څخه نسبي آل مراددى چي اهل بيت درسول الله ﷺ دي او داصحاب څخه مراد حسبي آل مراددى دويم اعتراض څخه هم

ځواب وسو چې مخالفة دحديث څخه نه دی راغلی ځکه چې ذكر آل دی مراد ځني اهل بيت دي نو په حديث کې هم اهل بيت ذکر دی وو .

قوله أَصْحَابِهِ دلته لوړه نکته ده (که همنشینان اوبوند) دلته دناكت دوه غرضه دي (۱) اشاره کوي اختلاف ته په اصحاب کې (۲)تعيين دمذهب مختاره کوي حاصل داول غرض دادی چې په اصحاب کې دوه مذهبه دي (۱)مذهب دامام بخاري او نورو محدثينواوديو جماعة دفقهاوو کرامو دی ددوی په نيز صحابي هر هغه مسلمان ته وايي چې رسول الله ﷺ يې ليدلی وي که څه هم مجالسه يې نه وي ورسره کړي او نه يې مخالفة ځني کړي وي دويم مذهب داکثرو اصوليينو دی ددوی په نيز مجالست ور لره شرط دی نويا صحابي ور ته وايي .

حاصل ددويم غرض دادی چې دلته مراد مذهب داکثرواصوليينو دی چې هغه مجالست ور لره شرط بولي نو ځکه يې وويل چې همنشينان اوبوند .

قوله الْمُتَأَدِّبِيْنَ بِالتَّقْوٰى :اوتأدب مشتق دی دادب څخه دی ادب په لغت کې (خوی نیک يانګاشتن حد هر چيزي) ته وايي او په اصطلاح کې (وَضْعُ كُلِّ شَيْءٍ فِيْ مَرْتَبَتِهٖ)ته وايي .

سوال نمبر (۳۸) : چې آل او اصحاب خو دصلوة مستحق دي اوس نو که موصوف په صفت سره دتقوی وي او که وي نو بيا المتأدبين بالتقوی ته څه ضرورت پاتې نه سو ؟

ځواب : چې په داجمله کې مصنف اشاره وکړه براعة استهلال ته ځکه براعة استهلال دي ته وايي چې مصنف دکتاب په اول کې داسي لفظ ووايي چې هغه دلالت کوي پر وروسته مقصود

باندي اولدله مقصود دادی چي کتاب تصنيف سوی په علم نحو کي دی او علم نحو هم يو قسم دعلم ادب څخه دی.

توضيح النكتتين

قوله اَلْمُتَأَدِّبِيْنَ دلته لوړه نکته ده **الموصوفين بالتقوى** په دغه نکته کي غرض دناکت دفع داعتراض ده.

سوال نمبر (۳۹): چي تأدب خوپه معنی دقبول دادب راځي نو چي حصول دادب راغلی نو بيا دمتأدبين وذکر ته ضرورت نسته ؟يا معترض اعتراض کوي چي ادب خو په معنی دنگهداشتن حد هر چيزسره راځي يعني دهر شي اندازه پيژندل نو داخو صفة دالله تعالی دی په دغه مقام کي بي ذکر مناسب نه دی؟

ناکت ځواب وکړي چي **الموصوفين بالتقوى** حاصل بي دادی چي ادب لکه څنگه چي پدغه معنی سره راځي همدارنگه په معنی دموصوف بالتقوی سره هم راځي اودلته همدغه معنی مراده.

قوله بِالتَّقْوٰى دلته لاندي نکته ده **وهو الاجتناب عن الشرک والکبائر** دلته دناکت غرض بيان دمعنی اصطلاحي کوي دتقوی دپاره ددفع داعتراض

سوال نمبر (۴۰): چي تقوی په اصطلاح کي پر دري قسمه ده (۱) تقوی دعوامو (۲) تقوی دخواصو (۳) تقوی داخص الخواصونو تقوی دعوامو اتقاء الکفر بالايمان يعني په ايمان سره ذکر دتارکيدو څخه ځان ساتل او تقوی دخواصو امتثال داوامرو او اجتناب دنواهيو ده او تقوی

داخص الخواصو دیته وايي (اِتِّقَاءُ مَا يَشْغَلُ عَنِ اللّٰهِ تَعَالٰى) یعني هغه څه نه کول چي دالله ﷻ
دیاده څخه انسان مشغوله کوي نو معترض وايي چي دلته کومه تقوی مراده؟

ناکت ځواب ورکړي چي **اجتناب عن الشرک والکبائر** حاصل دا چي دلته دوه اول
قسمونه مراددي نه دریم .

قوله اَمَّابَعْدُفَقَدْاِلْتَمَسَ آه اوس غرض دشارح دامابعد څخه تر بتوفیق الرحیم پوري
ځواب ددوو اعتراضو کوي.

سوال نمبر (۴۱): چي علوم او فنون خو نور هم ډېر وه نو څه وجه وه چي شارح په علم
نحو کي تصنيف وکړي په بل فن کي يي نه وکړي.

سوال نمبر (۴۲): چي په علم نحو کي خوهم ډېر نور کتابونه وه ولي دي پربل متن او کتاب
باندی شرحه نه وکړه چي پر نظم العوامل باندي دي شرح وکړه؟

شارح ځواب وکړي چي **فقد التمس** الخ حاصل يې دادی چي ځينو طالبانوغوښتنه راڅخه
وکړه ددي شرح پر نظم العوامل باندي که څه هم نور فنونه اوپه علم نحو کي نور کتابونه وه خو
دطالبانو غوښتنه پدغه فن کي ددغه کتاب دشرح وه.

دلته خلور بحثونه دي

اول بحث په لفظ داما کي دی نو په اما کي څلور مذهبه دي

(۱)مذهب دخليل دی چې وايي اصل د أمّا(مَهمَا) دی نو هاء بدله سوه په همزه سره (مأمّا)سو يا قلب مكاني(۱) وسو دهمزې او ميم په مابين كې باره (أمّا)سو پر دامذهب اعتراض كيږي

سوال نمبر(۴۳): چې اما حرف شرط دی او مهما اسم شرط دی اسم شر ط مستقل دی او اما حرف شرط دی غير مستقل دی نو چې اما قائم مقام دمهما سو داخو اقامت دغير مستقل پر ځای دمستقل راغلی او خروج دشي دخپل اصل څخه راغلی داباطل ده؟

ځواب: چې همدااقامت په كلام عربي كې وجودلري لكه يا حرف دی قائم مقام دادعو په يا زيد كې او خروج دشي دخپل اصل څخه كېدای سي لكه عرب وايي (صَارَالطِّيْنُ خَذَفًا)يعني خټې په كودرو سره واوښتې.

(۲)مذهب دسيبويه دی هغه وايي چې اما كلمه موضوع بر أسهاده هيڅ اصل نه لري ځكه دا حرف دی اصل په حرف كې عدم تصرف دی همدامذهب اولی دی.

(۳)مذهب دادی چې اصل داما اِن وو بيا وروسته ما ورزيات سو لكه څه رنګه چې تر نورو ادواتو دشرط وروسته ما زياتيږي باره اِن مَا سو بيا دقرب مخرج په وجه نون په ميم كې مدغم سو باره اِمّا سو بيا كسره دهمزې په فتحه سره بدله سوه ځكه چې التباس يې داماتر ديديه(شكيه) سره رانه سي بيا أمّا سو.

---

(۱)قلب مكاني دېته وايي چې اول حرف ځای ته ددويم حرف يوړل سي او دويم حرف ځای ته داول حرف يوړل سي نو په مأما كې همزه دمهم او ميم دهمزې ځای ته يوړل سو

(۴)مذهب دادی چې اصل داما مأماوو نو توالي ددوو میمانو بده وه کنل سوه نو الف په همزه سره بدل سو بیا قلب مکاني وسو په مابین کې دهمزې او دمیم نو اماسونو تقدیر دعبارت داسې کیږی اما یکن بعدالبسملة والحمدوالصلوة فقد التمس .

دویم بحث

دویم بحث په بیان کې دبعد دی نو کلمه دبعد دظروفو زمانیه مقطوعة الاضافة څخه ده او دبعد لپاره درې حالته دي

(۱)حالت چې مضاف الیه ورسره په لفظ کې ذکر وي لکه (لِلهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَمِن بَعْدِكُلِّ شَيْءٍ).

(۲)چې مضاف الیه یې دلفظ څخه حذف سوی وي اوبه نیت کې مراد وي لکه په دغه قول دشارح کې چې امابعدالجملة الثلاثة .

(۳)چې مضاف الیه یې نسیأمنسیأحذف سوی وي یعني چې نه وو نسته لکه رُبَّ قبلٍ تَعَزَّزمِن بَعْدٍ نو په اول حالت اودریم حالت کې معرب دي ځکه دبناء لپاره علت نسته چې مشابهة دی دمبنی سره اوپه دویم حالت کې به مبني وي ځکه دلته علت دبناء موجود دی هغه مشابهة دی دحرف سره ځکه لکه حرف چې محتاجه دی ضم دکلمې ته اوبعد محتاجه دی دمضاف الیه ته چې په نیت کې مراددی او مبني پر حرکت دی ځکه چې داحرکت به دلالت وکړي پر مضاف الیه محذوف باندې سره لدې چې اصل په بناء کې سکون دی ځکه سکون عدم محض دی نو

جبيره نه سي كيداى او هغه حركت به ضمه وي حُكه چي قوي نقصان سوى دى نو قوي جبيره غواړي هغه جبيره ضمه ده .

دريم بحث

دريم بحث په اقسامو كي دفاء دى نو فاء پر خلور قسمه ده (١)فاء تفصيليه (٢)فاء تعليليه (٣) فاء تفريعيه (۴)فاء جزائيه

فاء تفصيليه هغه فاء ده چي مخكي تر فاء اجمال وي او مابعدېي تفصيل وي لكه جَاۤئَنِيْ الْقَوْمُ فَأَمَّازَيْدٌفَأَكْرَمْتُهُ وَأَمَّاعَمْرٌوفَأَهَنْتُهُ.

فاء تعليليه هغه فاء ده چي مابعد يې علة وي ماقبل يې معلول وى لكه (أَبْشِرْفَقَدْأَتَاكَ الْغَوْثُ)نودلته دغوث راتګ علت دى دزيري كولو لپاره يا يې ماقبل علت او مدخول يې معلول وي لكه أَكْلَتُ فَأَشْبَعْتُ.

فاء تفريعيه هغه فاء ده چي دفاء مخكي به يو قانون كلي ذكر وي وروسته به يوه مسئله جزئيه ذكر وي هغه به وربانذي تفريع وي لكه (كُلُّ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٌ فَزَيْدٌفِيْ جَاۤئَنِيْ زَيْدٌمَرْفُوْعٌ)نودلته كل فاعل مرفوع قاعده كليه ده فزيدٌفي جائني زيد وبانذي تفريع سوه .

فاء جزائيه هغه فاء ده چي مخكي يې حرف شرط او فعل شرط ذكر وي اووروسته يې جزاء ذكر وى لكه إِنْكَانَ زَيْدٌعَالِمًافَأَكْرِمْتُهُ.

سوال نمبر (۴۴): چې دافاء د تقدبه دداخلورو قسمو څخه يو قسم وي خو دايو شق هم نه صحيح کيږي اول شق چې فاء تفصيليه سي ځکه باطل دی چې دفاء تفصيلي څخه مخکې اجمال وي ورروسته تفصيل دلته نه مخکې اجمال نه ورروسته تفصيل سته او دويم شق چې تعليليه سي ځکه باطل دی چې فاء تعليليه ددې تقاضاکوي چې ماقبل دفاء به علت وي مابعد به يې معلول وي او يا عکس وي نو دلته نه ماقبل دفاء علت دی چې مابعد يې معلول سي نه عکس دريم شق چې فاء تفريعيه سي ځکه باطل دی چې فاء تفريعيه داتقاضاکوي چې مخکې به يو قانون کلي اوورروسته به يوه مسئله جزئيه ذکر وي اوورباندي تفريع به وي داهم دلته نسته او څلرم شق چې فاء جزائيه سي هم نه صحيح کيږي ځکه چې فاء جزائيه مخکې شرط ورروسته جزاء غواړي دلته داهم نسته؟

ځواب : چې دافاء جزائيه ده اګرچې شرط حقيقتا نسته خو قائم مقام دشرط يې سته هغه اما دی نو لکه دشرط ورروسته چې جزاء راځي همدارنګه تر قائم مقام دشرط ورروسته هم جزاء راځي.

سوال نمبر (۴۵) : چې مصنف ولې امابعدو وايې وبعدیې نه ووايې؟

ځواب : چې اما بعد موافق دی دهغه حديث سره چې بخاري او مسلم نقل کړي دی چې رسول الله ﷺ خطبه ويل نو امابعد يې وويې.

سوال نمبر (۴۶) : چې په ځينو کتابو کې لفظ دوبّعدُراغلی دی او همدارنګه دشمّي په ځينو نسخو کې وبعد راغلی دی نو بيا دهغه لپاره څه وجه ده؟

ځواب چې وجه دهغو لپاره داده چې مقصود دهغو دوبعد شخه فصل دی په مابين کي ددوو کلامو اوفصل په کلمه دبعد سره راځي په دې کي شک نشته چې په کلمه دوبعد کي اختصار دی او په کلمه داما بعد کي که مقصود حاصليږي خو دتطويل سره نو حصول دمقصود سره له اختصار ه اولی دی تر حصول سره دتطويله .

ځلورم بحث

ځلرم بحث په بيان دمعنی دالتماس کي دی زده کړه داخبره چې يو امر دی بل دعاء ده بل التماس دی نو دادري سره متحد دي بالذات او مختلف دي بالاعتبار ځکه دري سره په معنی دطلب راځي اختلاف يي اعتباري دی په داډول چې امر هغه طلب ته وايي چې مقارن وي داستعلاء سره يعني آمر به ځان عالی بولي تر مأموراوس نو که په نفس الامر کي عالي وي که نه وي اودعاء هغه طلب ته وايي چې مقارن وي دخضوع او عاجزي سره يعني داعي به ځان عاجز ګني تر مدعو او التماس هغه طلب ته وايي چې مقارن وي دمساوات سره يعني سائل به ځان مساوي ګني تر مسئول عنه .

توضيح النکتتين

قوله أمّابَعْدُ دلته پر بعد لوړه نکته ده بعد الجمل الثلاثة الخ يدغه نکته کي غرض دناکت دفع داعتراض ده .

سوال نمبر (۴۷) : چې بعد ظروف زمانيه وو لازمه الاضافة شخه دی نو ده لره لابدوي ده دمضاف اليه شخه دلته مضاف اليه نشته ؟

ناکت ځواب ورکړي چې **بعد الجمل الثلثة الخ** یعني مضاف الیه که لفظاً نسته لکن ورسره مقدر دی .

یادونه :دشمي په یوه نسخه کي دغه نکته داسیلیکلي ده **ای مابعد الحمد الثلاثة** داغلطه ده ځکه دلته الجمل لفظ صحیح دی نه الحمد لفظ .

قوله اِلْتَمَسَ دلته لوړه نکته ده التماس درخواست دلته دناکت دري غرضه دي (۱)تعیین دمبدأ کوي (۲)تعیین دمعنی لغوي کوي (۳)دفع داعتراض کوي حاصل داول غرض دادی چې التمس دفعل ماضي صیغه ده مشتق دی دالتماس څخه التماس یې مبدأ داشتقاق دی حاصل ددویم غرض دادی

سوال نمبر(۴۸) :چې لفظ چې کله په کلام کي ذکر سي نو ده لره لابدي ده دتعیین لو معلومولو سه دمعنی ځکه چې معنی یې نه وي معلومه نوکلام مفید نه ګرځي لپاره دمخاطب؟

ناکت ځواب : ورکړي چې التماس په معنی سره ددرخواستن راځي یعني غوښتنه اوپه اصطلاح کي التماس وایي طلب ته دمانسوی دمساوي څخه حاصل ددریم غرض دادی

سوال نمبر(۴۹) :چې التماس خوپه اصطلاح کي عبارة دی دطلب دمساوي دمساوی څخه نو که په دامعنی سره سي نو بیا داعبارة چې فقد التمس بعض الاخواني عني نه صحیح کیږي ځکه بیا خو مساواة راځي دعالم او متعلم طالب او استاذ تر منځ؟

ناکت ځواب : ورکړي چې دلته التماس په معنی اصطلاحي سره نه دی مراد بلکه په معنی لغوي سره مراد دی په لغة کي التماس والي درخواستن ته يعني غوښتنته اوس نو که غوښتنته دمساوي دمساوي سره وي که غوښتنته دادانی داعلی څخه وي .

قوله يَبْعَثُ الْاَخَوَانِ عَلَى اَنْ اَكْتُبَ اوس اخوان جمع داخ ده نوداخ جمع کله اخوة راځي په کسره دهمزې سره نو اخوان غالبا په اصدقاء کي مستعمليږي او اخوة غالباپه نسبي ورونو کي استعماليږي .

سوال نمبر (٥٠) : داخبره چې اخوه په نسبي ورونو کي استعماليږي مخالفه ده دايات سره ځکه په ايات کي راغلي دي چې (اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ)نو ټول مؤمنان خو نسبي ورونه نه دي ؟

ځواب : چې اخوان او اخوه لفظين متضادين دي يو دبل په معنی سره مستعمليږي نو په ايات کي اخوه په معنی داصدقاء دي .

توضيح النكتة

قوله اَنْ اَكْتُبَ دلته لوړه نکته ده **مفعول التمس بتاويل المصدر** په دغه نکته کي دناکت دوه غرضه دي (١)اول به تعيين داعراب ددغه جملې وکړي (٢)دويم به اشاره وکړي يوي قاعدې کلي ته لپاره ددفع داعتراض حاصل داول غرض دادی چې جمله چې په کلام عربي کي راسي نو دي لره لابدي ده داعراب محلي څخه نو دلته اعراب محلي ددغه جملي نصب دی بناء پر دي چې مفعول دی دالتمس لپاره حاصل ددويم غرض دا چې معترض اعتراض کوي .

سوال نمبر (۵۱) : چې مفعول خو اسم دی او اسم قسم دکلمې دی او اصل په مفهوم کې دکلمې افراد دی حُکه دکلمې تعریف دادی چې الکلمة لفظ وضع لمعنی مفرد او دلته خو داکَمله جمله ده؟

ناکت ځواب وکړي چې **بتاویل المصدر** حاصل یې دادی چې داجمله مفعول دی او مفعول مفرد وي نو مفرد عام دی حقیقتا وي لکه زید که تاویلا وي لکه دغه جمله ځکه داقاعده ده چې کله ان مصدریه پر مضارع داخل سي مضارع په تاویل دمصدر سره اړه وي نو اوس حاصل دکلام داسو چې فقد التمس عني بعض الاخوان عنی کتابة نظم العوامل الخ .

قوله عَلٰی نَظْمِ الْعَوَامِلِ عُدَّةَ اَسْطُرٍ اوس نظم مصدر دی لکه تر اواضافة دنظم العوامل ته اضافة دصفت دی موصوف ته اصل یې داسیٔدی العوامل المنظومة .

سوال نمبر (۵۲) : چې دنظم اضافة العوامل ته نه صحیح کیږي ځکه نظم خو ییلوته وایي اوییل خو په هغه شیانو کې کیږي چې په لاس نیول کیږي او عوامل خو دارنګه نه دی ؟

ځواب دا چې دلته اضافة دنظم عوامل ته مبالغتًاسوبده دوجه دکمال تعلق دپیلو دنظم العوامل سره لکه داني چې یوه په بله ورپسي وي همدارنګه عوامل هم دي په پیتو کې .

توضیح النکتتین

قوله عدة اسطر دلته لوړه نکته ده **العدة مصدر بمعنی المعدودة** الخ په دغه نکته کې دناکت غرض دفع داعتراض اضینو ده حاصل داول اعتراض دادی .

سوال نمبر (۵۳): چي عدة مفعول دأکتُبُ دی او مفعول ذات وي اودلته عدة صرف وصف دی؟

ناکت ځواب وکړي چي العدة مصدر بمعنی المعدود حاصل يي دادی چي دعدة مفعولية صحيح دی ځکه عدة مصدر دی او مصدر کله په معنی دمفعول سره وي کله په معنی دفاعل سره وي نو دلته عدة مصدر دی په معنی دمفعول دی یعني معدود نو مفعول بیرته ذات مع الوصف سو مفعولية يي صحيح سو حاصل دوېم اعتراض دادی.

سوال نمبر (۵۴): چي اضافة دعدة وه اسطر ته نه صحيح کيږي ځکه اضافة به يا په تقدير سره دلام وي نو داقسم اضافة په مابين کي دمالک او مملوک راځي لکه (غُلَامُ زَيْدٍ) دلته غلام مملوک دی او زيد مالک دی تقدير يي داسي کيږي غلام لزيد او يا به په تقدير سره دمن راځي نو داقسم اضافة په مابين کي دجنس اوفرد راځي لکه (خَاتَمُ فِضَّةٍ) دلته فضه جنس دی او خاتم فرد دی تقدير يي داسي دی خاتم من فضة او يا به په تقدير دفي راځي او داقسم اضافة په مابين کي دظرف اومظروف راځي لکه (ضَرْبُ الْيَوْمِ) دلته مضاف اليه ظرف دی لپاره دمضاف تقدير يي داسي دی ضربٌ في اليومِ نوپدغه مقام کي دايو قسم اضافة هم نه صحيح کيږي؟

ناکت ځواب ورکړي چي والاضافة من اضافة الصفة الی الموصوف تقديره اسطر معدودة حاصل دا چي داقسم اضافة دادرو اقسامو څخه يو قسم هم نه دی بلکه دااضافة دصفة دی موصوف ته.

قوله فَكَرِّعْتُ دلته لاندي نكته ده **اى في تحصيل مقصدهم** دلته غرض دناكت دفع دسوال ده

سوال نمبر(۵۵) : چي ذكر دمرام وروسته تر اسعاف نه صحيح كيږي ځكه اسعاف په لغة كي حاجت پوره كولو ته وايي نو معنى دمرام په اسعاف كي راغله بيايي ذكر ته ضرورت نسته؟

ناكت ځواب وركړي **اى في تحصيل** الخ حاصل دځواب يي دادى چي داخبره منم چي اسعاف په معنى سره دحاجت رواكرون سره راځي خو دلته مونږ تجريد كوو په اسعاف كي (تجريد وايي خلوه دلفظ اول ده دبعض معناګانو سره لپاره دصحة دلفظ ثاني) نودلته مونږ اسعاف يوازي په معنى سره درواكرون كوو چي معنى درواكرون تحصيل دى او دامعنى چي حاجت رواكرون نه مراد وو لپاره ددي چي ذكر دمرام وروسته صحيح سي.

قوله حَرَّرْتُهَا كَأَرَتَّبْتُ او س يو تحرير دى وجه دفرق يي داده چي تحرير هغه څه ته وايي چي تصور يي په زړه كي كيږي او اظهار يي په قلم سره كيږي او تقرير هغه څه ته وايي چي تصور يي په زړه كي كيږي او اظهار يي په ژبه سره كيږي.

توضيح النكات

قوله حَرَّرْتُهَا دلته لاندي نكته ده **اى كتبتها** دلته دناكت غرض دفعه دسوال ده

سوال نمبر(۵۶) : چي حررت مشتق دى دتحرير څخه او تحرير وايي آزادولو ته دمريي نو دامعنى دلته نه صحيح كيږي؟

ناکت ځواب وکړي چې تحرير لکه څنګه چې په معنى سره دا تعلق راځي هم دارنګه په معنى سره دکتابت راځي.

قوله ماارتئيتُ اه الخ دلته لوړه نکته د **کلمة ماموصولة الخ** دلته غرض دناکت دفعه دتوهم ده.
واهم به داوهم کوي چې ماموصول سو رئيت صله سوه نوبه صله کې لابدي ده ضمير څخه چې راجع به وي موصول ته دلته عائد څه شى دى؟

ناکت ځواب: وکړي چې **کلمة ما موصولة ورئيت صلتها بحذف العائدای رئيته** نو حاصل داسو چې عائد دلته که لفظا نسته بلکه محذوف دى تقدير يې داسيکيږي رئيته.

قوله لاومن دلته لاندي تر لفظ دلانکته ده **اى لم اكتب الاسطر المعدودة من آ** غرض دناکت دفع دسوال ده

سوال نمبر (۵۷): چې لانافيه خو داخليږي پر فعل مضارع باندي اودلته داخل سوى دى پر من حرف جر باندي نو دادخول نه صحيح کيږي او بل دلته کتابت نفي سوى دى نو هغه فعل چې نفي سوى دى هغه څه شى دى؟

ناکت ځواب: وکړي چې **لم اکتب** حاصل يې دادى چې لادلته پر من نه دى داخل سوى بلکه پر فعل داخل سوى دى هغه حذف سوى دى چې هغه اکتب دى او داهغه فعل منفي هم دى او لا يې په لم سره واړه وي ځکه چې دانفي په زمانه ماضي کې سوي دي نو لا يې په لم سره بدل کې لپاره ددي چې دمضارع څخه ماضي منفي جوړه کړي.

قوله اَلْقَاصِرِ دلته لاندي نکته ده **ای کوتاه** دلته دناکت دوه غرضه دي (۱)تعیین دمعنی دقاصر کوي حاصل يې دا چي قاصر په معنی دکوتاه سره دی (۲)دفع دتوهم کوي چي قاصر خو په معنی سره دباني البیت (یعني دخوني جوړونکي)سره راځي نو بیا يې دلته راوړل مناسب نه وه؟

ناکت ځواب وکړي لکه څنګه چي په معنی سره دباني البیت راځي دارنګه په معنی سره دکوتاه او ناقص هم راځي اودلته همدغه معنی مراده.

قوله ذِهْنِ الْقَاصِرِ اوس ذهن په لغة کي فهم ته وايي اوپه اصطلاح کي عبارة دی له دي څخه چي (**قُوَّةٌ مَوْجُوْدَةٌ فِيْ جِنَانِ الْاِنْسَانِ تُنْتَقَشُ فِيْهَا الْمَعَانِيْ**)یعني ذهن په اصطلاح کي هغه قوة ته وايي چي دانسان په زړه کي وي او معناګاني پکښي نقش کيږي.

توضيح النكتة

قوله اَلْقَاصِرِ لاندي نکته ده سست دلته غرض دناکت تعیین دمعنی مرادی کوي چي قاتر په خو معناګانو سره راځي (۱)سست (۲)ذلیله (۳)آب نیم ګرم خو دلته اوله معنی مراده.

قوله بِتَوْفِيْقِ الرَّحِيْمِ توفیق په لغة کي (دست دادن کسیرا درکاری) ته وايي اوپه اصطلاح کي وايي (**جَعْلُ اَسْبَابِ الْعَبْدِ مُوَافِقًا لِمَا هُوَ خَيْرٌ فِيْ عِلْمِهٖ تَعَالٰی**) یعني هغه اسباب چي دانسان په حق کي دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نیز خیر وي مثلا لکه علم کول او که دبنده په نیز خیر وو هغه کله دبنده لپاره شر وي لکه غلا کول.

سوال نمبر(۵۸) : چي شارح په مخکي عبارة کي حررت او شرعت وويل او دهمدي صيغو څخه عجب او تکبر لازميږي؟

شارح يې ځواب و کړي چي **بتوفيق الرحيم** يعني دا چي ماوليکل په توفيق درحيم او قادر مطلق ذات سره..

توضيح النکتتين

قوله بِتَوْفِيْقِ لاندي نکته ده **متعلق بشرعت او حررت** غرض دناکت تعيين کول دي دمتعلق دبتوفيق لپاره ددفع داعتراض

سوال نمبر(۵۹) : چي بتوفيق جار اومجرور ظرف لغو متعلق دى تر حررت پوري او داتعلق نه صحيح کيږي ځکه چي فساد دمعنى راځي په داډول چي بيا يې معنى داسوه چي شارح وايي ما دا شرحه وليکل دالله ﷻ په توفيق سره نو توفيق دالله ﷻ په شروع کولو کي دشرحي نه وو راسره ملګري بيا وروسته راسره ملګرى سو ؟

ناکت ځواب وکړي متعلق بشرعت او حررت حاصل يې داډى چي بتوفيق يوازي په حررت پوري نه دى متعلق بلکه په شرعت پوري يې هم تعلق صحيح کيږي نو معنى باره صحيح سوه چي ماداکتاب شروع کي دالله په توفيق سره اووه مي ليکي دالله په توفيق سره.

قوله قَالَ دلته لاندي نکته ده **الناظم لماة عامل** په دغه نکته کي غرض دناکت تعين دقائل دقال کوي

سوال نمبر(۶۰): چي په قال کي ضمير دوهو راجع دی ناظم ته او ناظم مخکي نه دی ذکر او ضمير سابق مرجع غواړي دلته نسته؟

ځواب: چي دشارح مقصد شرحه کول دي دقول دناظم نو لکه ناظم چي مخکي ذکر وي په زړه کي دشارح يا ناظم رافهميږي دنظم څخه څکه صنع ببله صانع محاله ده لکه دبول چي جوړيږي خامخا جوړونکي غواړي.

قوله بعد تحميد زده کړه داخبره چي په سر ددې نظم کي دوې نسخې دي په يوه نسخه کي لفظ دتحميد ذکر دي په بله نسخه کي لفظ دتوحيد ذکر دی تو حيد وايي اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ واحد او لاشريک بلل او تحميدوايي اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ لره حمد او ثناء ويل او دلته نسخه دتحميد اولی ده تر نسخې دتوحيد څکه چي توحيد ذکر کيږي په مقام کي دردّ دشرک او اظهار داعتقاد خپل (يعني يوځوک داَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ وجود نَهٔ مني يا داَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ سره شريک نيسي هلته به توحيدصحيح وي).

او بعض وايي چي دادواړي نسخې سره برابري دي يوه پر بله اولويت نه لري څکه چي کوم غرض دتحميد څخه حاصليږي هغه غرض دتوحيد څخه هم حاصليږي څکه چي غرض دتحميد څخه عُلوه دمحمود ده دا په توحيد سره هم حاصليږي څکه اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهٗ دچا سره برابر نه دی نو داعلوه دمحمودٓ سوه.

سوال نمبر(۶۱): چي ددې قول څخه دناظم چي بعد تحميد دامعلوميږي چي مخکي ناظم حمد ويلي دی او وس نو اخبار څني کوي ليکن ناظم مخکي حمد نه دی ويلي؟

ځواب : ابتداء عامه ده كه په ژبه سره وي كه په زړه يا په قلم سره وي نو ناظم كه په قلم سره نه ده ويلي نو په ژبه يا په زړه به يې ويلي وي ځكه رسول ﷺ فرمائي (ظَنُّ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهِ)

سوال نمبر (۶۲) : چې ناظم ولي مصدر دمزيد مختاره كړي تر مصدرد مجرد چې الحمد دى ځكه مجرد اصل دى تر مزيد او بل موافق دى دقرآن او حديث سره؟

ځواب : چې مزيد يې مختاره كړي لپاره دمبالغې ځكه په مزيدكې زيادت دحروفو دى اودازيادت دلالت كوي پر زيادت دمعنى باندې اودامناسب دمقام سره دحمد دى.

قوله نعت آل پاك اوس نعت مضاف دى آل ته او آل مضاف دى پيغمبر ته او پاك صفت دى لپاره دآل.

سوال نمبر (۶۳) : چې دپاك لفظ صفت جوړول لپاره دآل نه دى صحيح ځكه چې بيا خو فصل (جداوالى) راځي په مابين دمضاف او مضاف اليه كې او دانه دى روا؟

ځواب : چې فصل راوړل په مابين دمضاف او مضاف اليه كې چې نه دى روا هغه په كلام عربي كې دى او داخو كلام فارسي دى دلته روا دى چې فصل راسي لكه فارسيان وايي چې (پدر بزرگوار من) پدر مضاف دى من ته اوفصل يې په مابين كې راغلى دى.

توضيح النكات

قوله خُدَاوَنْد دلته نكته ده (اى خداى تمام عالم) دلته غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۶۴) : چې دخداوندلاطلاق خو پر غير دالله جل جلاله كيږي سره داضافتـه نو ناظم له مناسبه داوه چې خداى يې ويلى واى ځكه دهغه اطلاق نه كيږى پر غير دالله جل جلاله نه په اضافت سره نه بيله اضافته ؟

ناكت ځواب وركړي چې دلته ذكر خداوند دى او مراد ځني خداى دى يعني مالك دټول عالم نو دخداى اطلاق پر غير دالله جل جلاله نه كيږي نه په اضافة سره نه بيله اضافته .

قوله درود مصطفى دلته نكته ده لقب د ﷺ غرض دناكت دفع دتوهم ده چې مصطفى اسم يعني نوم دى او نوم تقريبا پر پنځه قسمه دى (۱)اسم محضه[1] (۲)اسم كنيه[2] (۳)اسم لقب[3] (۴)خطاب[4] (۵)تخلص[5] نو دلته كوم قسم مراددى؟

ناكت ځواب وركړي چې لقب د ﷺ .

قوله رسول مجتبى دلته لوړه نكته ده (بدل است از پيغمبر) دلته غرض دناكت دفع دتوهم ده واهم به داوهم كوي چې مصداق درسول او پيغمبر يو دى نو ذكر ديوه غني راولي دذكر ځخه دآخر نو ذكر درسول وروسته تر پيغمبر دامستدرك دى؟

---

[1] اسم محضه هغه نوم ته وايي چې پريو چا باندى مور اوپلار پر ايښى وي .
[2] اسم كنيه هغه نوم ته وايي چې دنامه سره دأب يا ابن لفظ وي لكه ابو حنيفه عبد الله ابن عمر .
[3] اسم لقب هغه نوم ته وايي چې په هغه كې مدح يه كښى كې وي لكه الله الرحمن الرحيم يا ذم وي شيطان الرجيم
[4] خطاب دا هغه اسم دى چې دبا چاانحوا محمد يو شخص ته وركول سوى دي .
[5] تخلص دا هغه نوم دى چې يو شاعد دخپل ځان لپاره غوره كړې وي لكه سعدي .

ناکت ځواب ورکړي بدل است الخ حاصل دادی چې ذکر دیوه غني نه راولی دآخر ځخه ځکه دلته پیغمبر مبدل منه دی اورسول یې بدل کل دی او په بدل او مبدل منه کي بدل مقصود وی او ذکر دمبدل منه توطیه وي لپاره دذکر دبدل نو مستدرک نه سو .

قوله اِبْتَدَأَ النَّاظِمُ اوس غرض دشارح ددې قول څخه چې ابتدأ بيا تر فان قيل پورى دفع دسوال مقدرده .

سوال نمبر(۶۵) : چې ناظم له خو مناسبه وه چې شروع يې کړي وای په مقصود سره چې بيان دعواملودی نو ده ولي تربسم الله وروسته په حمد باندې شروع وکړه چې داغير مقصود دی ؟

شارح يې دوه ځوابونه وکړه اول دا چې دانظم دعواملو او علم ددې پر حقائقو او نواتوباندې يو نعمت دی دالله ﷻ له جانبه څخه او دنعمة شکر ادا کول واجب دی نو دشکر داداينې لپاره ناظم اول بسم الله وروسته يې حمد راوړې .

دويم ځواب دادی چې مخالفة رانه سي دقرآن شريف او دحديث شريف او دسلف صالحينو دطريقو څخه ځکه دقرآن شريف په اول کي بسم الله وروسته يې حمد ذکر دی او په حديث شريف کي هم امر سوی دی چې کوم دخير کار چې په حمد سره يې شروع نه وسي هغه قليل بر کت دی او سلفو صالحينوهم دخپل کتابو په شروع کي حمد راوړی .

توضيح النکتة

قوله رَحِمَهُ اللهُ دلته لاندې نکته ده **متعلق بالابتداء** غرض دناکت دفع دسوال ده .

سوال نمبر(۶۶) : چې بحمد جاراو مجرور دی او جار او مجرور په کلام کې ظرف مجازی دی نو ظرف لره لابدي ده دمتعلق څخه دلته يې متعلق څه شی دی؟

ناكث ځواب وكړي چې متعلق بالابتداء حاصل دا چې بحمد جار او مجرور متعلق دی په ابتداء پوري هغه يې متعلّق دی.

قوله وَالْعِلْمُ بِحَقَائِقِهَا دلته معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۶۷) : چې دانظم دعواملو خو نعمة نه دی چې په مقابل کې يې شکر اداء کول واجب سي؟

ددې دوه ځوابونه دي اول ځواب پر طريقه دمنع دی چې نه منم چې نظم دعواملو نعمت نه دی بلکه نعمت دی ځکه دانظم يو دفضائلو څخه دالله جل جلاله دی او هر فضيلة نعمة دی نعمتو څخه دالله جل جلاله.

دويم ځواب پر طريقه دتسليم دی چې که دا اومنو چې نظم دعواملو نه دی نعمة نو بيا داوايو چې علم پر حقائقو باندي دعواملو نعمت دی نو ځکه يې شکر واجب دی

سوال نمبر(۶۸) : چې دليل دلته مخالف دی دمدعی سره ځکه مدعی خو ابتداء ده په حمد سره او په دليل کې ذکر دشکر دی داخو مغائر دی دتحميد سره؟

ځواب : چې شکر دلته په اعتبار دمعنی لغوي سره عين حمد دی.

توضیح النکات

قوله تنزيل دلته لوړه نکته ده ای القرآن المنزل الخ دلته دناكت دوه غرضه دي (١) به دفع داعتراض وکړي (٢) به صورة دعدم مخالفة بيان کي حاصل داول غرض دادی

سوال نمبر (٦٩) : چي ته څنګه وايي چي مخالفة دتنزيل څخه رانه سي څکه تنزيل مصدر دی او مصدر يو معنی انتزاعي ده او مخالفة او عدم مخالفة په معناګانو کي نه متصور کیږي؟

ناكت ځواب ورکړي چي ای القرآن الخ حاصل دادی چي ذكر وصف دی مراد څني ذات دی چي هغه قرآن پاک دی نو قرآن ته دمخالفة او موافقة نسبة صحيح دی .

حاصل ددويم غرض دادی چي شارح وايي ما دخپل کتاب شروع په بسم الله او حمد سره وکړه چي مخالفة رانه سي دقرآن څخه نو عدم مخالفة پدا ړول دی چي دقرآن په شروع کي هم بسم الله اوورسته حمد ذكر دی داغرض يي پدغه الفاظو سره اداء کړي چي فانه مستفتح اولا بالتسمية وثانيا بالتحميد او بل پدغه نکته کي لفظ دعد ليکلی دی نو په دغه نکته کي لفظ دعد له ضرورت نسته بلکه داغه لفظ دعد مكرر دی دلاندي نکتي دعطف څخه نوپر هر تقدير باندي دغه لفظ دعد ته ضرورت نسته او دانوره نکته سره کله ده نو تقديرونکتي داولنيو الفاظو به دارقم سي چي ای للقرآن المنزل فانه مستفتح اولا بالتسمية وثانيا بالتحميد او که چيري يي تصحيح کوي نو لفظ دعد دداغه نکتي دمابين څخه وباسه نو نکته نوره هغسي جلاده اوبه لفظ دعد کي اشاره ده ودغه ته چي دغه تنزيل معطوف عليه دی دوالحديث دپاره او موږ چي مخکي وويل چي لفظ دعد ته ضرورت نسته څکه چي معطوف عليه خو به لاندي نکته کي

پخپله صراحة ذکر سوی دی چې تنزيل دی او که چيري دهري نکتې ناكت جلا سي دهغه بل شخه بيانو صحيح ده تكرار نسته .

قوله والحديث لاندې نکته ده **عطف على قوله للتنزيل الخ** غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (٦٩) : چې په كلام كي دشارح تناقض راغلی څکه شارح داوويل ابتدأ الناظم بعد قوله بسم الله الرحمن الرحيم بحمد الله للوجهين او دلته يې دري وجهي بيان كړي چې مخالفا للتنزيل والحديث واسلوب السلف؟

ناكت ځواب وركړي چې **عطف على التنزيل الخ** حاصل دځواب دادی چې والحديث او اسلوب السلف دواړه عطف دي پر تنزيل باندې نو دادري سره يوه وجه ده دري وجهي نه دي چې اعتراض واردسي .

قوله واسلوب دلته لاندې نکته ده **لمحرره الى طريقتهم** بدغه نکته کې دوي غلطی دی اول داده چې دامحرر لفظ نه صحيح كيږي بلكه ددغه نکتې په پاى کې يې وروسته تر دوولسو ويكه او يايې دابلي نکتې په آخر کې تر دوولسو وروسته ويكه او دويم غلطي داده چې لفظ دالى غلط دى صحيح دارنګه دى اى طريقتهم او بل دانکته يې ځايه ده ځکه لوړه تر داقول ليکل سوبه چې يکون صحيح داده چې ددې شخه خط كش سي وه اسلوب لفظ ته نو غرض دناكت دفع دسوال ده

سوال نمبر(۷۰) : چي اسلوب جمع دسلب ده او سلب ضد داثبات دی نو بیا معنی دعبارت نه صحیح کیږي.

ناکت ځواب ورکړي چي **ای طریقتهم** حاصل یې دادی چي اسلوب په ضمه دهمزي سره په معنی دطریق سره راځي مفرد دی جمع نه ده بلکه جمع یې اسالیب راځي جمع دسلب نه ده.

سوال نمبر(۷۱) : چي طریق خو په معنی سره دلاري راځي بیا معنی نه سوه صحیح؟

ځواب چي مراد دطریق څخه عادة دی.

قوله فانقیل اوس دفاقیل څخه تر والتحمید مصدر پوري غرض دشارح راوړل دیو اعتراض او ددوو ځوابو دی

سوال نمبر(۷۲) : چي دحمد راوړل وروسته تر بسم الله دانه آداینه دشکر ده کوم چي واجب وو او نه دقرآن او حدیث او دطریقو دسلفو دمخالفة څخه وزي بلکه په مخالفة کي اوس هم واقع دی څکه داقول چي بعد تحمید اخبار دی دحمد څخه عین حمد نه دی؟

ددي اعتراض څخه دوه ځوابونه دي اول پر طریقه دمنع دی چي نه منم اخبار دحمد څخه عین حمد نه دی بلکه اخبار دحمدڅخه عین حمد دی لکه څنګه چي اخبار دنبکی څخه عین نبکي ده دلیل وربانذي داقول درسول الله ﷺ دی (مَن الحاثُ عَن الحَسَناتِ فهُوَ کَفاعِلِها).

دويم ځواب پر طريقه دتسليم دي حاصل يې دادی چې که دااومنو چې اخبار دحمد ځخه عين حمد نه دی ليکن اخبار دشي ځخه خو ترجمه دداغه شي ده يعني بيان او تعبير دمافی القلب ځخه خو دی نو مخالفة نه راغلې .

توضيح النكات

قوله فإن قيل دلته لاندې نکته ده **في الاعتراض** غرض دناکت ځواب دسوال دی

سوال نمبر (٧٣) : چې پدغه عبارة کې چې فانقيل فی الاعتراض دوه قوله دي اول دادی چې تقدير دعبارة داسې کيږي چې فانقيل علی جواب الاعتراض په حذف سره دمضاف او په تبدل سره دحرف جر په حرف جر سره دويم قول دادی چې تقدير دعبارة داسې کيږي چې **فانقيل على الاعتراض** په تبدل دجار په جار سره ځکه اعتراض پر ځواب باندې دسوال داداسې دی لکه اعتراض پر اعتراض باندې نو سائل وايې چې دلته کوم قسم مراددی اول که دويم؟

ناکت ځواب ورکړي چې دلته دادويم تقدير مراددی خو صحيح خبره داده چې که قيل لهٗ ليکل سوی وو دځواب لپاره دی که قيل عليه ليکل سوی وو نو دادسوال لپاره دی او که يو ازې قيل ليکل سوی وو نو دامشترک دی په مابين کې دسوال او ځواب نو کله چې شارح وويل **فانقيل** نو سائل به ويل چې دلته کوم قسم مراددی؟

ناکت يې ځواب ورکړي چې فی الاعتراض حاصل يې دادی چې دقيل عليه قسم مراددی په تبدل سره دحرف جر .

قوله مهما لاندي نكته ده اى فى كلام الناظم غرض دناكت تعيين دمشار اليه دى .

قوله عَنْ عُهْدَةِ الْمُخَالَفَةِ لاندي نكته ده عهدة بالضم سستي دلته غرض دناكت بيان دمعنى دعهدة كوي .

قوله وقع لاندي نكته ده الناظم پدغه نكته كي غرض دناكت تعيين دمرجع كوي چي په وقع كي ضمير دهو مستتر دى راجع دى ناظم ته .

قوله بِدَلِيْلِ دلته لوړه نكته ده جواب ثان بطريق التسليم نو دانكته ېي ځايه ده صحيح ځاى ېي دادى چي پر والاخبار باندي لوړه وليكل سي نو پدغه نكته كي غرض دناكت دفع دتوهم ده واهم به داوهم كوي چي په قلنا الاخبار سره دفع داعتراض وسوه نو بيا دغه اخبار لفظ لره څه فائده ده؟

ناكت ځواب وركړي چي مخكني ځواب پرطريق دمنع وو او داوسني ځواب پر طريقه دتسليم دى .

قوله من اخبرعن الحسنات دلته لوړه نكته ده اى خبره غرض دناكت دفع داشتباه ده چا به دااشتباه كوله چي څوك دبل چا داوصافوڅخه اخبار وكړي مثلا زيد دبكر دجُود(سخا) يا عدالت څخه اخبار وكړي نو دغه اوصاف دي زيدلره هم ثابت سي او دارنګه نه ده؟

ناكت ځواب وركړي چي خَبَرُهٗ حاصل ېي دادى چي مراددحسناتو څخه حسنات دنفس دمفه غير دي يا ېي غرض دادى چي من مبتدأده نو واهم به وهم كوي چي خبر ېي څوك دى؟

ناکت ځواب وکړي چې خَبَرُهُ نو پر داتقدیر بیا لفظ دأی نه غواړي .

قوله ترجمة دلته لوړه نکته ده **ای بیانه وتعبیره کائنا فی القلب** دلته غرض دناکت بیان دمعنی لغوي کوي د ترجمي

سوال نمبر(۷۴) : چي دامعنی چي ناکت وکړه لپاره د ترجمې دانه صحیح کیږي ځکه هغه الفاظ چي په زړه کي موجود وي هغه ته بیان نه ویل کیږي بلکه ادراک ورته ویل کیږي نو اول به انسان دیوي خبري ادراک او تصور کوي بیا به یې په ژبه وایي نو دادژبې فعل ته بیان وایي ؟

ځواب چې دلته زمونږ مراد ما حضر فی القلب څخه بیان دی خو په اعتبار دمایؤل الیه سره .

قوله وَالتَّحْمِيْدُ مَصْدَرٌ دلته معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۷۵) : چي تعریف دتحمید په مصدر سره نه دی صحیح ځکه داخو لازمیږي تعریف دشي په خپل نفس سره ځکه تحمید هم مصدر دی ؟

نو ددې اعتراض څخه دوه ځوابه دي اول دا چي تحمید که څه هم مصدر دی خو مرادلته ور څخه لفظ دتحمید دی او دمصدر څخه مراد مصدر دی او دویم ځواب دادی چې دادقبیلې څخه دحمل دکل دی پر جزء باندې مصدر کل دی تحمید یې جزء دی پر داځواب باندې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۷۶) : چي حمل دکل پر جزء او دجزء پر کل باندې نه دی جائز داسې نه ویل کیږي السقف بیت نه یې عکس کیږي ؟

ځواب چې حمل دکل پر جزء يا بالعکس په امورو حقيقيه وو خارجيه ووکي نه دی روا په امورو اعتباريه وو کي روادی نو کل او مصدر دامورواعتباريه وو ذهنيه وو شخه دی .

قوله وَمِنْ بَابِ التَّفْعِيْلِ دلته غرض دشارح دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۷۷) : چې داقول چې حمد يحمدُ دا به دثلاثي مجرد دباب شخه وي نو مصدر يې حمداً راځي تحميد نه راځي نو بيا داقول نه صحيح کيږي چې تحمّد مصدر ؟

شارح يې دفع وکړه چې حمد يحمدُ په تشديدعين سره دبابه شخه دتفعيل راځي ثلاثي مجرد نه دی .

توضيح النكتتين

قوله درود دلته لوړه نکته ده **بالضم اما بالفتح فغلط** دلته غرض دناکت تصحيح دلغة د درود کوي چې په ضمّن ددال سره په معنی درحمت راځي نه په فتحه سره .

قوله حاصله دلته لوړه نکته ده **هی حاصل كلام الناظم** نو ددغه نکتې اول لفظ يې غلط دی چې هي دی صحيح يې داسې دی ای حاصل ځکه غرض دناکت هغه تفسير کول دی دضمير دحاصله او تفسير حرف تفسير غواړي چې هغه لفظ دای دی هي خو اسم ضمير دی .

قوله فَهُوَ عَطْفٌ عَلَى قَوْلِهِ تحـيـد خـداونـد دلته معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۷۸) : چې عطف د درود نه صحيح کيږی پر خداوند باندی ځکه په عطف کې لابدي ده دحرف عاطف شخه او دلته نسته حرف عاطف ؟

ددې اعتراض ځخه محشي دوه ځوابه کړي دي اول دا چې داقاعده چې وجوب دوجود دحرف عاطف دى په مابين دمعطوف او معطوف عليه کې دا په عربي زبان کې دى نه په فارسي زبان کې ځکه په فارسي زبان کې حرف عاطف نه دى لازمي نو عطف صحيح سو دويم ځواب دادى چې دامنو چې وجود دحرف عاطف دعطف لپاره په فارسي کې هم ضروري دى خو دلته حذف سوى دى لپاره درعاية دسجع دبيت.

توضيح النكتة

قوله إِفَاضَةُ الْخَيْرِ دلته لوړه نکته ده افاضة: *بمعنى خير رسانيدن* دلته غرض دناکت تعين کول دي دمعنى مرادي دافاضة دالپاره ددفع داعتراض

سوال نمبر (٧٩): چې ته وايې مراد ددُرود ځخه رحمة او افاضة دخير ده نو افاضة خو وايي صب الماء من العلو (دلوړي ځوا اوبه راتويه ول) نو يو خو الله ﷻ لره مكان ثابت سو داباطله ده او بل صب (تويول) په محسوساتو کې راځي نو خير او رحمة خو غير محسوس دى؟

ناکت ځواب وکړي چې افاضة بمعنى الغ حاصل دا چې افاضة دلته په معنى سره دصب نه دى بلکه په معنى سره دخير رسولو دى نو په دغه نکته کې لفظ دمنتخب اللغات نه دى داخل بلکه ددولسو وروسته يې وليکه او دامنتخب الاوقات نه دى منتخب اللغات دى ځکه منتخب اللغات دلغتو مشهور کتاب دى.

قوله وَالْمُرَادُمِنَ الدُّرُوْدِ په دغه عبارة کې غرض دشارح دفع داعتراض کوي

سوال نمبر(۸۰) : چې درود په معنی دصلوة سره سونو صلوة لره دوې حقيقي معنی گانې دي (۱)حقيقي لغوي لکه دعاء (۲)حقيقي شرعي لکه ارکان مخصوصه نو په لغة کې داولې معنی لپاره وضع دی په شريعة کې ددوهمې معنی لپاره وضع دی او نسبة چې يې اللّٰه ﷻ ته وسې په معنی درحمة سره دی نو سائل وايي چې درود خو په معنی دصلوة سو نو کومه معنی څنې مراد ده په دادوو معنی گانو کې او وه کوم شي ته يې نسبة سوی دی؟

شارح ځواب وکړي چې **والمراد من الدرود الرحمة** حاصل يې دادی چې ددرود نسبة اللّٰه ﷻ ته سوی دی او مراد څنې رحمة دی

سوال نمبر(۸۱) : چې درود په معنی درحمة سره نه صحيح کيږي ځکه رحمة عبارة دی درقة القلب (دزړه نرم والي) څخه نو اللّٰه ﷻ خو منزه هم دقلب څخه دی هم درقة څخه نو ځکه (سپين سري وايي خدای پاک نه زړه لري او نه يې پر چاسوځي)؟

محشي ځواب وکړي چې مرادرحمة څخه اثر مرتب او غايه درحمة مراده چې افاضة دخير ده.

قوله مصطفی اصله مصتفی الخ ددې ځايه څخه تر راوړان قوله پورې دشارح درې غرضونه دي

(۱)غرض يې بيان داصل دمصطفی کوي .(۲)غرض يې بيان داعلال دمصطفی کوي .(۳) غرض يې بيان دمعنی دمصطفی کوي.

حاصل داول غرض دادی چي اصل دمصطفي مصتفيٌ دی حاصل ددويم غرض دادی چي اعلال په مصتفي کي داسي سوی دی چي تاء بدله سوه په طاء سره نو مصطفي سو او دااعلال بناء دی پر يوه قاعده باندي هغه دا چي کله تاء دباب دافتعال واقع سي ورروسته تر يوه حرف دحروف مستعليه وو مطبقه وو نو داتاء بدليږي په طاء سره پر طريقه دوجوب نودلته په مصتفي کي هم تاء دباب دافتعال ده ځکه مصتفي صيغه داسم مفعول ده دباب دافتعال او تاء واقع سوه ورروسته تر صاد نو بدله سوه په طاءِ سره نوبدلول دتاء ځکه واجب دی چي تاء دحروفو منخفضه وو څخه ده او دحروفو منخفضه وو او مستعليه وو په مابين کي تضاد دی نو دتاء او صاد جمع کبدل جمع دضدينو ده او اجتماع دضدينو ثقالت راولي

سوال نمبر(۸۲) : چي داتضاد لکه ځنګه چي په ابدال دتاء په طاء سره دفعه کيږي همدارنګه په ابدال سره ددغه حروفو مذکوره وو په تاء سره هم دفعه کيږی نو ولي طاء يا دانور حروف په تاء سره نه بدلول؟

ځواب چي تاء زائده ده نو زائده اولی دی په تصرف سره چي پکښي وه سي

سوال نمبر(۸۳): چي تاءولي په طاء سره بدلوي ولي يې په بل حرف سره دمستعليه وو نه بدلوي؟

ځواب چي طاء دمخرج څخه دتاء ده نو ځکه په طاء سره بدليږي .

حاصل ددريم غرض دادی چي مصطفي هغه څانه وايي چي دبشرية دفعه بدو صفاتو څخه او دانسانية دمردود و اخلاقو څخه صفاوي مثالونه يي ناکت بيان کړي دي .

یادونه

انسان ته بشر ځکه وايي چې بادي البشره دی چې پوست يې لڅ دی او انسان ته بيا انسان ځکه وايي چې انسان لفظ مشتق دی دأنس څخه او أنس وايي الفت ته نو به انسان کې هم الفت وي يو تر بله.

توضيح النكات

قوله أَلِيْ وَقَعَتْ دلته لاندې نکته ده **وعرفت في كتب الصرف كمالايخفى** دلته دناکت تنبيه ده پر ايقاض دطالب چې اې ظالبه مه غافله کېږه هغه قاعده چې په علم صرفو کې ذکر سوېده او تاويلې ده بيان يې که او در ياد يې کړه.

قوله في ازاء دلته لوړه نکته ده **اى فى مقابلة فاء آه** دلته دناکت غرض دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۸۴) : چې ازاء خو وايي مساوات ته په مابين کې دوشيانونو داخو دلالة نه کوي پر مقصود باندې؟

ناکت ځواب ورکړي چې **اى فى مقابلة** حاصل دا چې ازاء لکه څنګه چې په معنى سره دمساوات راځي دارنګه په معنى سره دمقابلې هم راځي همدغه دلته مراد ده.

قوله ذَمَائِم دلته لوړه نکته ده جمع ذميم بمعنى نکوهيده وبد دلته دناکت غرض دفع دتوهم ده واهم به داوهم کوي چې ذمائم به جمع دزمام وي او زمام وايي کيزې ته دامعنى دلته مراد ول نه دی صحيح؟

ناكت ځواب وركړي چي **جمع ذميم** حاصل دا چي ذمائم جمع دذميم ده په معنی سره دنكوهيده يعنی هغه صفات چي انسان يې په كولو سره دملامتيا مستحق كرځي همدارنكه په معنی سره دبد راځي .

قوله وَالأَخْلَاقِ الرَّدِيَّةِ دلته لاندي نكته ده **كالحسدوالبغض والعجب والرياء وغير ذلك** دلته دناكت غرض توضيح كول دي داخلاقو رديه وو .

قوله الانسانية لوړه نكته ده *كوميده وبد* دانكته چي پر داقول الردية لوړه نويشته سي نبه خبره به وي .

قوله نعت آل پاك ا لخ دلته معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (٨٥) : چي ناظم صاحب ولي نعت وايي ولي يې صفت نه وايي ځكه دادواړه په يوه معنی سره راځي ؟

محشي ځواب وركړي چي صفت عام دی په مدحه او ذم دواړو كي استعمالېږي او نعت يوازي په مدحه كي استعمالېږي او دلته مقصود هم مدحه ده نو اوس ددې قوله څخه بيا تر هغه پل قوله پوري دشارح دري غرضه دي

(١)غرض يې بيان دتعيين دمعطوف عليه دی .(٢)غرض يې دفع داعتراض ده اوبه دفع كي به تقسيم دآل هم وسي دوواقسامو نه.(٣) غرض يې بيان ددوو معناګانو دآل حسبي دی .

حاصل داول غرض دادی چي نعت آل په حذف دحرف عاطف سره داهم عطف دی پر تحميد باندي لکه درو د مصطفى او تر بعد لاندي دی داغرض یې په دي قوله سره بیان کړي چي هو ايضا عطف على قوله بعد تحميد تقدير دعبارة داسي کیږي بعد نعت آل .

حاصل ددویم غرض دادی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۸۶) : چي ناظم صاحب ولي مخالفة وکړي دکتابو څخه دمصنفينو ځکه هغوی په خپلو کتابو کي اصحاب ذکر کړي دي او ده نه دي ذکر کړي؟

شارح ځواب وکړي چي **ثم الال على قسمين الخ** حاصل یې دادی چي آل پر دوه قسمه دی (۱)آل نسبي (۲)آل حسبي

آل نسبي هغه کسان دي چي صدقه واجبه يعني زکوة ورته حرام وي هغه کسان اولاددحضرت علي ﷺ جعفر ﷺ اوعقيل ﷺ دي چي دادري کسان درسول الله ﷺ داکا ابو طالب زامن دیَ اهمدارنګه اولاد دحمزه ﷺ ، عباس ﷺ اوحارث ﷺ دادري دعبدالمطلب زامن او درسول الله ﷺ آکاګان وه او همدارنګه خلفاء اربعه رضوان الله تعالى عليهم اجمعين دوی هم آل نسبي درسول الله ﷺ دي او آل حسبي هغه خوک دی چي داقول درسول الله ﷺ ورباندي صادق وي چي (کُلُّ تَقِيٍّ ونَقِيٍّ فَهُوآلِي) او په نظم کي مراد دآل څخه آل حسبي دی نو تولو صحابه کرامو ته شامل سو

سوال نمبر(۸۷) : چي فاسق مؤمنان خو نه تقي دي نه نقي دي او آل درسول الله ﷺ دي؟

محشی ځواب ورکړي چې مراد دتقي څخه هغه څوک دي چې تقوی او پر هېزېي دکفر څخه کړي وي نو فاسقان هم داخل سوه اوپر داځواب باندي سيد الاذکياء حضرت مولاناعبيدالله القندهاري رحمة الله عليه اعتراض کړي دی

سوال نمبر(۸۸) : چې محشي دآل حسبي معنی گاني سره ګډي کړي ځکه چې تقي هغه چاته وايي چې ځان يې دکبائرو ګناهوڅخه ساتلی وي او نقی هغه چاته وايي چې ځان يې دشبهاتو څخه ساتلی وي نو پر فاسقو مؤمنانو باندي چې مرتکبين دکبائرو او صغائروي نه صادقيږي او دحديث څخه دارنګه معنی هم نه سي اخيستل کېدای چې تقوی دکفر څخه ده؟

نو فخر الاذکياء پخپله ځواب کړي دی چې په بل حديث کي راغلي دي **(کل مؤمن فهو آلی)** نو فاسقان داخل سوه.

حاصل دديرم غرض دادی چې دآل حسبي لپاره دوي معنا ګاني دي اول هغه ده چې ذکر سوه چې شارح پخپله په دي قول سره بيان کړه چې **وهو من يصدق عليه** الخ او دويم معنی يې داده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړېده **(كُلُّ مَنْ آمَنَ بِهِ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ)** چې دمحققينو هم دامعنی مراد ده.

توضيح النکات

قوله نعت آل پاك دلته لوړه نکته ده ای **مثل قوله درود مصطفى** نو دانکته دلته يې ځايه ده صحيح داده چې پر ايضا لوړه وليکل سي نو غرض دنکات دفع دسوال ده

سوال نمبر(۸۹) : چي ایضا کلمه دتشبیه ده نو په تشبیه کښي څلور شیان ضروري دي (۱)مشبه (۲)مشبه به(۳)کلمه دتشبیه(۴)وجه دتشبیه نو دلته تول موجو ددي مشبه به نسته ځکه مشبه داقول دی نعت آل حرف دتشبیه ایضا دی وجه دتشبیه یي عطف دی مشبه به نسته؟

ناکت یي ځواب وکړي چي ای مثل **قوله درود: مصطفی** حاصل یي دادی چي مشبه به يي داقول دی چي درود مصطفی.

قوله تحمید لاندي نکته ده ای **حاصل قول الناظم** دانکته دلته يي ځایه ده صحیح ځای يي دادی چي لاندي تر حاصله ولیکل سي غرض دناکت تعیین دمرجع کوي دضمیر دحاصله.

قوله علی قسمین لوړه نکته ده ای **من جهة النسب** دلته يي ځایه ده صحیح ځای يي دادی چي پر نسبي لفظ لوړه ولیکل سي دلته غرض دناکت اشاره کول دي دي خبري ته چي یاء لپاره دنسبة ده او علامه دیانسبتي داده چي ملحوق یعني یاء مضاف الیه وګرځوه داسم منسوب لپاره لکه رجل بصري ای منسوب الی البصرة.

قوله نسبی لاندي نکته ده ای **احدهما نسبي** غرض دناکت دفع دسوال ده

سوال نمبر(۹۰) چي نسبي مرفوع دی رفع لره وجوه متعدد دي دلته په کومه وجه مرفوع دی؟

ناکت ځواب وکړي **ای احدهما** حاصل دا چي نسبي مرفوع دی ځکه داخبر دی لپاره دمبتدأ محذوفي چي احدهما يي مبتدأ ده خوبنه خبره داده چي مجروره سي او بدل سي دقسمین څخه بدل مفصل من المجمل یا بدل بعض من الکل ځکه یيا حذف ته ضرورة نه پاتیږي.

قوله وحمزة آة دلته لاندي او ورده نكته ده او دانكته پر دارقم نه لګيږي نو اوس خو نكته پر حمزه نوې شته ده پر حمزه نه ده پرته نو دحمزة څخه كش سوى خط خراب كړه اوس نكتي ته ګوره داسي كاريكښي وكړه چي د(٧)صفحي د(۶)ليكي پر اول لفظ چي والعباس دی پر دغه لفظ به دغه الفاظ وليكي **واولاده ابو سفيان ونوفل وربيعة ومغيرة وعبدالله واصحابه عمده** نو نكته خو دنيمايي څخه تر پايه پوري پر دغه ځای باندي وليكل سوه او ددغه نكتي دسر الفاظ چي پاته سوه چي هغه دادي **عبدالله ابن عباس ابن عبدالمطلب** دغه الفاظ دنكتي به ياراواخلي ددغه (۶)ليكي پر دغه قول به يې وليكي چي وحارث نو لفظ ته دعبدالمطلب چي ته راورسيدي باره به (١٢)نويشته كي او دغه لفظ دبنوهاشم چي ددغه نكتي په ماپين كي نويشته دی دابه خراب كي ځكه دغه بنوهاشم مكرر دی دهغه بل بنوهاشم څخه چي هغه په (۵)ليكه كي تر دغه قول لاندي دی چي علي وجعفر نو هغه نكته چي تر علي وجعفر لاندي ده هغه نكته ددغه تولو نو مو سره ولګوه او يا يې دلته دغه نكتي ته راواړوه چي تر حمزة لاندي نويشته ده دخراب سوي بنو هاشم پر ځای يې وليكه دمخكني درونو موسره يې ګډه كه او كه چيري بنو هاشم مكرر نه بولي ته والي چي دهري نكتي جلاجلاناكت دی نوكله به تكرار راسي نو هم صحيح خبره ده.

قوله كُلُّ الْخُلَفَاءِ الْاَرْبَعَةُ دلته لاندي نكته ده **علي وعثمان وعمر وابو بكر** دلته غرض دناكت بيان دخلفاء اربعه وو كوي او بل دانكته بې ترتيبه ده صحيح تر تيب يې دادی چي ابو بكر ﷺ عمر ﷺ عثمان ﷺ علي ﷺ.

قوله عَلَيْهِمْ أَجْمَعِيْنَ دلته لاندي نكته ده **اى ثانيهما حسبي** دانكته دلته بي ځايه ده صحيح داسي ده چي تر وحسبي لاندي وليكل سي او غرض دناكت بيان ددي خبري كوي چي حسبي مرفوع دى خبر دمبتدأ محذوفي دى .

قوله حسبي لاندي نكته ده **اى من جهة الحسب** غرض يې په نسبي کي بيان سوى دى .

قوله ونقى لاندي نكته ده **بالفتح وتشديديائ پاک وخالص** دناكت دوه غرضه دي (۱)به تصحيح ددغه لفة وكړي .(۲)به معنى ددغه لفة وكړي .

حاصل داول غرض داچي نقى په فتحه دنون سره او په تشديد دياء سره دلته مرادى ځکه په كسره دنون سره بيا دهبوكي په مابين كي چي ماغزه وي هغه ته وايي .

حاصل ددويم غرض دادى چي نقى په معنى سره دپاک او خالص دى .

قوله پيغمبر تر دويم قوله پوري دشارح دري غرضه دي (۱)تعين داصل دپيغمبر كوي (۲)تعين دمعنى يې كوي (۳)تعين داعلال به وكړي .

حاصل داول غرض دادى چي پيغمبر به اصل كي پيغامبرو او پيغامبر دفارسي لغة اسم فاعل صيغه ده او دالفظ مركب دى ددوو كلمو ځخه يو پيغام دويم برنده نو دكثرة استعمال په وجه پيغامبر سو .

حاصل ددويم غرض دادى چي معنى يې ده پيغام برنده يعني حال او خبر ورونكي له يو ه ځخه بل ځانه .

حاصل دریم غرض دا چې کله دا لفظ ډیر استعمالیدی نو کثرة استعمال تقاضا دتخفیف کوي نو دتخفيف په وجه یې الف حذف سو پیغمبر ځنې جوړسو.

توضيح النكتتين

قول الشارح في الشرح قوله پیغمبر لوړه نکته ده مسمى به لان النبي عليه السلام كان موديا للامر والنهي من الله تعالى الى امته نو دغه مسمى لفظ سهوه دکاتب ده صحيح دادی چې سُمِيَ وليکل سي غرض دناکت بيان دوجه دتسميې درسول دی په پیغمبر سره.

قوله تخفيفا دلته لاندي نکته ده جواب **قوله اما ماجاء** دايې ځايه ده صحيح داده چې تر دي قول چې فليس له اصل لاندي يالوړه وليکل سي.

قوله رسول الخ ددې قوله څخه بيا تر راوران قوله پوري دشارح دري غرضه دي (۱)غرض يې بيان دمعنی لغوي او شرعي درسول دی .(۲)غرض يې دفع داعتراض ده چې وارد دی پر تعریف درسول باندي چې دامخدوش دی .(۳)غرض يې بيان دمنشأ دمخدوش والي دتعريف دی.

حاصل داول غرض دادی چې رسول فعول وزن دی په لغة کي فرستاده شده ته ويل کيږي او په شريعة کي هغه چاته وايي چې وحي او ملائکه وربانديې نازله سوي وي او س نو که داملائکه ده ليدلي وي او که يې نه وي ليدلي اوس معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۹۱) : چې رسول فعول وزن دی او فعول په معنی دفاعل سره راځي لکه صبور په معنی دصابر سره نو دااحتمال سته چې رسول دي په معنی دمُرسِل سي او داصیغه دلته نه صحیح کیږي ځکه نبي علیه السلام مرسول دی؟

نو شارح یې ځواب وکړي چې رسول فعول وزن دی نو فعول لکه څنګه چې په معنی دفاعل سره راځي همدارنګه په معنی دمفعول سره هم راځي نو دلته په معنی دمفعول سره دی چې معنی یې ده فرستاده شده .

قوله الوحي وحي په لغة کې چابکي اشاره کولو ته وایي اوپه شریعة کې دې ته وایي چې(**كلامُ اللهِ المُنَزَّلُ عَلَى النَّبِيِّ مِن أَنبِيَائِهِ عَلَيْهِمُ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ أَوْمَلَكٍ**)او ملک دېته وایي (**جِسْمٌ نُوْرَانِيٌّ يَتَشَكَّلُ بِأَشْكَالٍ مُخْتَلِفَةٍ**).

حاصل ددویم غرض دادی چې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۹۲) چې شارح رحمه الله ولې عدول وکړي دتعریف مشهور څخه درسول هغه تعریف دادی چې (**هُوَإِنْسَانٌ بَعَثَهُ اللهُ**)؟

شارح یې ځواب وکړي چې **واما ما جاء في تعريفه الخ** حاصل دځواب دادی چې داتعریف چې چا کړی دی دابې اصله دی ځکه اولاد دابراهیم ﷺ رسولان وه خو کتاب متجددنه وو ورسره خو داځواب هم مخدوشه دی وجه دخدشې یې داده چې ددې ځواب پر بناء باندې کلمه دمَعَهُ کِتَابٌ مُتَجَدِّدٌ عبث کیږي صحیح ځواب دادی چې مراد دتجدید څخه

دکتاب عام دی که ارثًا وی که نزولاً وي نو اولاد لره دابراهیم ﷺ کتاب متجدد وو خو به میراث دابراهیم ﷺ څخه کتاب وړیاته سوی وو.

حاصل ددریم غرض داچي منشأ دخدشي دځواب دشارح هغه کلمه د **معه کتاب متجدد** ده ځکه که داکلمه نه وای نو تعریف درسول به داعتراض څخه سالم پاته سوی وای او س دلته معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۹۳) چي داخنګه کېدای سي چي کتابونه دي خلور او نبیان دي دري سوه (۳۱۳) دیارلس وي دانه ده ممکنه؟

ځواب دا چي مراد دکتاب متجدد څخه نزول متجدد دی نو دلبنکاره خبره ده چي یو نبي به وفات سو دده کتاب به دویم وار پر دابل نبي نازل سو.

توضیح النکات

قوله والملك لوړه نکته ده بمعنیٰ فرشته غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۹۴) : چي ملك په کسره دلام سره په معنی دبادچا سره راځي او دلته یي معنی نه صحیح کیږي؟

ناکت ځواب ورکړي چي **بفتحتین بمعنی فرشته** حاصل دا چي ملك په کسره دلام سره نه دی بلکه په فتحه دلام او میم سره په معنی دفرشتي سره دی.

قوله برؤية لاندي نكته ده اى **برؤية الرسول لذالك الملك** دلته غرض دناكت دفع دتوهم ده داوهم كوي چي ملَک جسم نوراني دى متشكله كيږي په اشكالو مختلفه وو سره او توله مخلوق ليدلاى سيَکَنو رسول څنګه نه سي ليدلاى چي ته وايي من غير رؤية ؟

ناكت ځواب وركړي چي داعبارة په حذف سره دمضاف اليه دى تقدير يې داسي كيږى **برؤية الرسول لذالك الملك** حاصل داچي رسول دغه ملائكه ليدلي وي او كه يې نه وي ليدلي

قوله برؤية لوړه نكته ده *بضم الراء وسكون الهمزة* يعني ديدن غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۹۵) چي رؤية په فتحه دراء او په كسره دواو او په تشديد دياء سره په معنى دفكر سره راځي او دلته يې راوړل نه دى صحيح ؟

ناكت ځواب وركړي چي **بضم الراء** او يو خه غلطي پكښي كي ده څكه دالراء پر ځاى لهر لفظ ليكل سوى دى .

قوله في تعريفه لوړه نكته ده اى **الّذى** دا يې ځايه ده صحيح داسي ده چي لوړه پر لفظ دماپدي قول كي چي واما ما وليكل سي نو غرض دناكت بيان دحقيقة دما كوي چي ما موصول په معنى دالذي سره دى موصوفه يا مصدريه نه دى .

قوله بعثه الله لاندي نكته ده اى **ارسل الله تعالى** غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۹۶) چي بعث خو په معنى سره داحياء بعد الممات سره راځي او دلته دامعنى مراد ول نه دى صحيح ؟

ناکت څواب ورکړي **ای ارسل** حاصل دا چي بعث پدغه دواړه معنی کانو سره راځي خو دلته مراد ارسال دی نه احیاء بعدالممات.

قوله الى الخلق لاندي نکته ده **بمعنى المخلوق والمراد منه ارسال من يصلح النبوة** دلته دناکت دوه غرضه دی (۱)به اشاره وکړي وه يوه ته داستعمالينو دمصدر داپاره ددفع داعتراض (۲) به بیان دفع دیل اعتراض وکړي

حاصل داول غرض دادی

سوال نمبر(۹۷) چي مصدر په دوه استعماله سره مستعمليږي (۱) په معنی سره دفاعل راځي (۲) په معنی دمفعول سره راځي نو اوس معترض اعتراض کوي چي خلق خو يوه معنی مصدري انتزاعي ده وجود نه لري په خارج کي نو څنګه به ارسال ورته صحیح سي؟

ناکت څواب ورکړي چي خلق مصدر دی په معنی دمفعول دی يعني مخلوق .

حاصل ددويم غرض دادی

سوال نمبر(۹۸) چي خلق په معنی دمخلوق سو نو په مخلوق کي خو انسان پیرانان جمادات مځکه اسمانونه او نور هم شامل دي نو دمخلوق لفظ نه صحیح کیږي؟

ناکت څواب وکړي چي **والمراد منه الخ** حاصل دادی چي مراد دمخلوق مخه هغه څو دی چي صلاحية ددي لري چي ارسال دنبي ورته کیږي چي هغه انسانان او پیرانان دي بیا معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۹۹) نه منم چې رسول اَللّٰهُ ﷺ ټول مخلوق ته نه دی لیږل سوی بلکه ټول مخلوق ته لیږل سوی دی ځکه اَللّٰهُ ﷻ فرمائي : (وَمَآاَرْسَلْنَاكَ اِلاَّرَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ) نو عالم خو ټول موجوداتو ته شامل دی؟

ځواب : چې دلته مراد دارسال څخه ارسال تکلفي دی دا هغه ارسال دی چې مکلف وي په شریعت سره نه دی مراد ارسال رحمتي چې دفع دامراضو یا نور څه نو پدغه نکته کې څه غلطي سته هغه دا چې داسي لیکل سوېده **والمراد منه ارسال من یصلح النبوة** نو دا ځکه غلطه ده چې بیا فساد دمعنی راځي هغه پدا بول چې ثبوت دنبوت راځي مخلوق ته نو صحیح داسي ده چې **والمراد منه من یصلح ارسال النبي الیه** .

قوله فلیس له اصل لاندې نکته ده **ای دلیل الصحة** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۰۰) چې اصل خوبه معنی دقاعدې سره راځي اودلته دامعنی نه صحیح کیږي؟

ناکت ځواب ورکړې چې اصل لکه څنګه چې په معنی سره دقاعدې راځي دارنګه په معنی سره ددلیل هم راځي .

قوله اولاد ابراهیم لاندې نکته ده چې **ای اسمعیل واسحق الخ** غرض دناکت دفع دسوال ده .

سوال نمبر(۱۰۱)چې په اولاد کې دابراهيم ﷺ موسي ﷺ اومحمد ﷺ هم دي نو پر دوی خو کتاب متجدد نازل سوی دی نو داستا خبره نه ده صحيح چې پر اولاد دابراهيم ﷺ باندي کتاب متجدد نه دی نازل سوی؟

ناکث ځواب ورکړي چې **ای اسماعيل واسحاق الخ** حاصل دا چې مراد داولاد څخه اولادقريبه دی چې اسماعيل او اسحاق دي نو په دانکه کې غلطي سته څکه داسي ليکل سوي ده **ای اسماعيل واسحاق وسيدنا ومولانامحمد** ﷺ صحيح دارنګه ده **ای اسماعيل واسحق عليهماوعلي سيدنا ومولنا محمد** ﷺ.

قوله رُسُلاً لاندي نکته ده **جمع رسول** غرض دناکث تصحيح دلفة درسلا کوي حاصل يې دادی چې رسلا په ضمه دراء اوسين سره جمع درسول ده مفرد نه دی بلکه مفرد يې رسول راځي.

قوله وَلَوْ اِكْتَفٰى دلته يو رقوم دی **قوله ولو اكتفى اى المعرف للفظ الخ** غرض دراقم اشاره کول دي دې خبرې ته چې په اکتفی کې ضمير مستتر دی راجع دی معرِف ته چې رافهمېږي دتعريف څخه.

قوله كِتَابٌ لاندي نکته ده جزاء لو نو دانکته دلته غلطه ده صحيح داده چې پر داقول چې لکان لوره نوشته سي.

قوله لَكَانَ اَسْلَمَ يعني دواريد بدلو څخه داعتراض په سالم سوی وای هغه اعتراض دادی چې په دغه الفاظو کې يې ذکر کړي دی **لان اولاد الخ** خو محشي دمشهورينو له طرفه

ځواب ورکړي دی چې کتاب متجدد که نه وویل سي نو فرق نه راځي په ماين دنبي او درسول کي سره لدي چې جمهوراهل سنة فرق کوي په ماين دنبي او درسول کي چې رسول خاص دی تر نبي خو مولانا محمدزاهدعزيزخيل صاحب وايي چې ځواب دمحشي به هلته تام سي که کلام دشارح بناء سي پر مذهب دجمهورو اهل ستنو بلکه کلام دشارح بناء دی پر مذهب دبعض متکلمينو او مذهب دبعض دادی چې دنبي او درسول په منځ کي مساوات دی او داقول دشارح چې **كذا في شرح العقائد النسفية** دلالت کوي پر دې چې شارح مذهب دبعض متکلمينو غوره کړيدی ځکه مصنف دشرح العقائدالنسفي چې علامه تفتازاني دی هغه وايي چې دنبي او درسول ترمنځ مساوات دی .

توضيح النكات

قوله لَكَانَ اَسْلَمَ لاندي نکته ده **التعريف المذكورالخ** غرض دناكت دفع دتوهمينو ده اول دا چې كان دافعال ناقصه وو څخه دی اسم او خبر غواړي خبر خويې اسلم دی نو اسم يې ځکه دی؟

ناكت ځواب ورکړي چې اسم يې ضمير مستتر دی په كان کي راجع دی تعريف مذكور ته دويم توهم دادی چې مخکي خو دوه تعريفونه وسوه نو ضمير کوم يوه ته راجع دی؟

ناكت ځواب ورکړي چې على تقدير الاكتفاء حاصل يې دادی چې دويم تعريف ته راجع دی .

قوله أَسْلَمُ دلته لاندي نکته ده چي **من ورو دالاعتراض المذكور** غرض دناکت دفع دتوهم ده اول دادی چي اسلم صيغه داسم تفضيل ده او قاعده په اسم تفضيل کي داده چي مستعمل به وي په من يا الف لام سره او يا په اضافة سره دلته په کوم شي سره مستعمل دی؟

ناکت ځواب ورکړي چي **من ورود الاعتراض** حاصل دا چي مستعمل دی په من سره نو ددي نکتي خخه لاندي التعريف لفظ ليکلي دی نو دالفظ يا خو غلط دی او که يي تصحيح کوي نو دالمذكور لفظ ځخه وروسته به دعلى لفظ نويشته کوي نو داسي به وايي **من ورود الاعتراض المذكور على التعريف يا على تعريفه** .

قوله السفية لاندي نکته ده اى تصنيف امام نسفی است غرض دناکت تعيين دمصنف دشرح العقائد کوي چي داتصنيف دعلامه مسعود بن عمر سعد الدين تفتازاني دی پدغه نکته کي يو خه غلطي سته هغه پدا بول چي اول لفظ يي داسي ليکلي سوی دی ای تصنيفه نو دلته ضمير غلط دی داسي به وايي ای تصنيف امام الخ ځکه بيا خو اضمار قبل الذكر راځي او لوړه نکته ده شهری است غرض دناکت هغه تعين کوي دمنسوب اليه چي نسبة يا قبيلي ته کيږی يا کسب ته يا بنار ته کيږي نو دلته نسبة بلد ته سوی دی پدغه نکته کي هم غلطي سته ځکه داسي ليکل سوبدہ شہری است معروف کہ آنرا خشب نیز گویند نو دلته دخشب لفظ غلط دی صحيح داسيدی کہ آنرا نخشب نیز گویند .

قوله مُجْتَبىٰ ددې قوله څخه تر بيت پورې دشارح څلور غرضه دي ❶ تعين دصيغې كوي ❷ تعين دباب مجتبى كوي چې دكوم باب څخه ده ❸ بيان دمعنى دمجتبى كوي ❹ اقامت ددليلونو كوي پر ثبوت دوصف دمجتبى .

حاصل داول دويم او دريم غرض داسې دى چې مجتبى صيغه داسم مفعول ده دبابه سه دافتعال معنى يې ده برګزيده عالم يعنې په ټول عالم كې مختار او غوره سوى انسان .

حاصل دڅلرم غرض دادى چې رسول اللّٰه صلى الله عليه وسلم مجتبى دى او ل دليل داحديث قدوسي دى چې (إِنَّكَ مُخْتَارُ الرُّسُلِ وَاُمَّتُكَ مُخْتَارُ الْاُمَمِ) داحديث قدوسي دى حديث قدوسي دې ته ويل كيږي چې رسول اللّٰه صلى الله عليه وسلم د اللّٰه جل جلاله څخه حكاية كړي وي بالمعنى نه باللفظ اوس دلته سيد الاذكياء يو اعتراض كړي دى

سوال نمبر(۱۰۲) چې اللّٰه جل جلاله فرمائي (وَمَايَنْطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ اِنْ هُوَ اِلَّاوَحْيٌ يُّوحٰى) يعنې چې رسول اللّٰه صلى الله عليه وسلم دخپله ځانه څخه خبره نه كوي بلكه دا وحي دي د اللّٰه جل جلاله له جانبه نوبايدچې ټول احاديثو ته احاديث قدوسيه وويل سي ځكه ټول د اللّٰه جل جلاله له جانبه دي؟

نو دهغه څخه مولانا صاحب ځوا ب كړي دى چې دوحي او حديث قدوسي تر منځه فرق دادى چې ټول احاديث د رسول اللّٰه صلى الله عليه وسلم وحي دي د اللّٰه جل جلاله له جانبه خو قدوسي دي دمعنى لغوي په اعتبارسره يعنې مطهرة عن الكذب والغلط او حديث قدوسي په اصطلاح دمحدثينو كې هغه حديث دى چې رسول اللّٰه صلى الله عليه وسلم يې حكاية كړي وي د اللّٰه جل جلاله څخه او مراد دحكاية څخه دادى چې ددې تصور نه كيږي چې داې درسول اللّٰه

ﷺ خپل کلام وي او دويم دليل پر ثبوت دوصف دمجتبیٰ دا آيات دی (وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ) .

سوال نمبر (۱۰۳) چي دامذکور ايات مثبت نه دی لپاره دمدعی ځکه دمدعی ثبوت داجتباء دی رسول الله ﷺ ته او په ايات کي ذکر دثبوت دخلق عظيم وسو رسول الله ﷺ ته نو مدعی وربانديږ نه سوه ثابته؟

ځواب: چي رسول الله ﷺ ته داسي اخلاق ثابت وه چي په ټول دنيا کي بل چاته نه وه ثابت نو همدا ممتاز والی د رسول الله ﷺ سو دټوله عالم څخه خلق په ضمه دخاء او لام سره تعريف يې دادی (الْخُلُقُ هِيَ مَلَكَةٌ تُصْدَرُ عَنْهَا الأَفْعَالُ الْحَمِيدَةُ بِسُهُولَةٍ) يعني خلق يوه ملکه ده چي په اساني سره ښه خويونه ځنې صادريږي او په خلق عظيم کي خلور احتماله دي ❶ چي خلق عظيم د رسول الله ﷺ هغه عمل دی چي په قرآن سره پر طريقه دجبلة يعني رسول الله ﷺ لره داسي ملکه ثابته وه چي داسي اعمال ځنې صادريدل چي موافق دقرآن سره وه او داافعال په اساني سره ځني صادريدل دااحتمال يې يې عائشې رضی الله تعالى عنها ذکر کړي دی چي اخلاق د رسول الله ﷺ قرآن دی يعني عمل يې په هغه کړي دی چي کوم په قرآن کي دي.

❷ احتمال دادی چي خلق عظيم درسول الله ﷺ عبارة دي دجُود(سخا) بالکونين او توجه الی خالق‌هماو وجوديه دنيا کي دخلکو رالبل دي دهدايت لاري ته او جُود په اخرت کي شفاعة دی.

● احتمال دادی چي خلق عظيم د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اشاره کړي ده (صِلْ مَنْ قَطَعَكَ وَاعْفُ عَمَّنْ ظَلَمَكَ وَاَحْسِنْ اِلٰى مَنْ اَسَاءَ اِلَيْكَ).

● احتمال دادی چي خلق عظيم د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه سلوک دی هغه څه ته چي الله ﷻ وربانديي راضي کیږي.

توضيح النكات

قوله برگزيده لاندي نکته ده. براى قرب ومنزلت وبلندى درجات نوسائل سوال کوي

سوال نمبر(١٠٤) چي مجتبى دي ولي غوره کړي چي په معنى دبرگزيده سره دی؟

ناکت ځواب ورکړي چي داوصف مي غوره کړي لپاره دقرب ده الله ﷻ ته او لپاره دمنزلت يعني عزت او دلوړوالي ددرجي نو ددغه نکتې په آخر کي لفظ دکما مر ليکلى دی يعني لکه دامعنى چي مخکي تيره سوه نو داخبره دشمي په (۴) صفحه (۱) حاشيه کي ذکر ده.

قوله اِنَّكَ لَعَلٰى لاندي نکته ده خطاب سيدنا ومولنا ﷺ صلی الله علیه وسلم غرض دناکت تعين کوي دمخاطب دکاف دخطاب او مرجع دده همدارنګه په امتکا کي هم داغرض دی چي لاندي نکته يي يارسول الله ده پدغه نکته کي دتصحيح ضرورت سته پداپول چي پر سيدنابانديي لام جاره داخل سي ځکه که نه سي داخل نو بيا فساد دمعنى راځي ځکه بياداسي معنى کيږي چي داخطاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی داخو غلطه ده بلکه داخطاب دی

وه رسول الله ﷺ ته نو صحيح داسي دي خطاب لسيدنانو دابه دكشر انو طالبانو لپاره آسانه طريقه وي .

قوله لِسَائِرِ الْأَنْبِيَاءِ لوړه نكته ده اى لباقى الانبياء غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۰۵) چي سائر خو په معنى سره دجميع يعني ټول راځي نو داخو لازم سو سلب دخلق عظيم د ﷺ شخه ځكه دى خو هم په جميع كي داخل دى؟

ناكت ځواب وركري چي سائر دلته په معنى سره دجميع نه دى بلكه په معنى سره دباقى نو اعتراض نه واريديږي .

هست مدح خسرو غازي معز الدين حسين

حامى دين النبي معدلت عل غدا

قوله هست مدح له دي ځايه تر دويم قوله پوري دشارح دوه غرضه دي ❶ بيان دحاصه دقول دناظم صاحب كوي ❷ غرض يي دفع داعتراض ده

حاصل داول غرض دادى چي شارح وايي هست په معنى ديكون سره دى او دغه دري بيتو داول نظم شخه يو ه جمله ده تقدير دعبارة داسي كيږي بعد الحمد والصلوة يكون مدح السلـ واجباً مثل وجوب دعاء ابنه .

حاصل ددويم غرض دادى چي معترض اعتراض كوي

سوال نمبر(۱۰۶)چي څه وجه ده چي ناظم صاحب تر حمد او صلوة وروسته دستي مدحه دسلطان کوي خو شروع به یي په مقصود کړي وای؟

شارح ځواب وکړي چي **انما الحق الخ** حاصل دادی چي ناظم تر حمد او صلوة وروسته مدحه دسلطان راوړه له وجه دامر مستحسن هغه امر مستحسن دادی چي هر مسلمان ته پکار ده چي دبل مسلمان وررور لپاه دخیر دعاء وکړي خاص بیا امام لره

سوال نمبر (۱۰۷) چي امام په کسره دهمزې سره هغه چاته وايي چي په لمانځه کي وریسي خلک اقتداء کوي دامعنی خو دلته نه صحیح کیږي؟

شارح ځواب وکړي **ای سلطان العادل** حاصل دا چي مراد دلته دامام څخه عادل با چادی او فاجر باچاته به دهدایة دعاء کوي ځکه دفاجر په مدحه کولو سره الله ﷻ په غضب کیږي نو شارح دحدیث معنی رانقل کړه الفاظ دحدیث دادي چي رسول الله ﷺ فرمائي (دَعْوَةُ الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لأخِيهِ بِظَهْرِ الغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ)

توضیح النکات

قوله الناظم هست مدح خسرو لوړه نکته ده ناظم غرض دناکت اشاره کوي دې ته چي ضافة دمدح وه خسرو ته اضافة دمصدر ده مفعول ته او فاعل یي حذف سوی دی تقدیر یي داسي دی هست مدح ناظم خسرو الخ اوس معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۰۸)چي فاعل دي حذف کي ولي دي مفعول نه حذف کوي ځکه فاعل عمده دی په کلام کي او مفعول فضله دی؟

خواب دا چې حذف دفاعل دمصادرو څخه جائز دی ځکه مصدر اسم دی په مفهوم کې يې نسبة نه دی معتبر نو ځکه په ده کې مذکراو مؤنث مساوي دي او مفعول يې نه کې حذف سره لدې چې فضله هم دی له وجه دعظمته ځکه چې مدحه دخسرو مقصود ده .

قوله في الشرح قوله هست لاندې تر ضمير دقوله نکته ده **الناظم** غرض دناکت تعين کول دي دمرجع دضمير دقوله هغه ناظم دی چې رافهيري ديت څخه ځکه مرجع عام دی حقيقة وي که حکما وي او که معنی وي او دلته معنی دی همدارنګه پدې قول کې چې **انما الحق هم** راجع دی ناظم ته .

قوله المدح بهما لاندې نکته ده **اى بالحمد والصلوة** غرض دناکت تعين کول دي دمرجع دضمير ديهما همدارنګه په داقول کې وهو انه .

قوله خسرو لفظ عام ا لخ ددې قوله څخه تر دويم قوله پورې دشارح درې غرضه دي ❶ دفع داعتراض کوي ❷ بيان دمحل داصل استعمال دخسرو په وکې او په بيان کې دمحل په اشاره وکړي تقسيم ته داسم (نامه) ❸ به تعين دلغة دخسرو وکي .

حاصل داول غرض دادی چې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۰۹) ذکر کول دلفظ دخيسرو غنی راولي دذکر څخه دحسين وروسته تر خسرو ځکه دلته مقصود تعبير کول دي دسلطان څخه په هر لفظ سره چې وي نو مقصود به خسرو سره اداء سوحسين ته حاجت نه سو پاته ؟

شارح ځواب وکړي چې خسرو لفظ عام دی اطلاق یې پر هر امام باندي کیږي دایو معین نوم نه دی لکه لفظ دفلان او رجل چې عام دی اطلاق یې پر هر نر انسان باندي کیږی .

حاصل ددویم غرض دادی چې لفظ دخسرو اسم لقب دی دفارس دباچاهانولپاره لکه قیصر چي دروم دباچاهانو لپاره اسم لقب دی او اسم یعني نوم پر دري قسمه دی ❶ اسم محضه ❷ اسم کنیه ❸اسم لقب اسم محضه هغه نوم دی چې مور اوپلار وربانديږ ایښی وي لکه نعمان اواسم کنیه هغه نوم دی چې په سر کي یې ابن یا اب لفظ راغلی وي لکه ابو حنیفه یا لکه ابن عمر یا ابن ثابت اسم لقب هغه نوم دی چې معنی دمدح یا ذم پکښي کي وي لکه امام اعظم صاحب او یالکه شیطان الرجیم .

قوله لملوك داجمع دملك ده په معنی دباچا سره دی او فارس معرب دی دپارس څخه په سکون دراء او نون سره دانوم دیو ولایت دایران دی چې په نامه دپارس بن پهلو بن سام سره شهرت لري ځکه چې دانباردده په تصرف کي ووقیصر په رومي ژبه کي هغه کوچني ته ویل کیږي چې مور دده تریپداکیدو مخکي مړه سي یا یې دمور نس څیري کي داکوچنی ځني راوباسي نو دروم اول باچا چې نوم یې عنطوس و هم په داطریقه سره پیداسو یا هغه وو چې با چاسو نو باره یې پر هر باچادغه نوم ایښووی .

حاصل ددریم غرض دادی چې خسرو په ضمه دخاء سره یا په کسره دخاء سره خو کسره یې اولی ده ځکه خسرو دکسری څخه اخیستل سوی دی نو په کسری کي کاف کسره لري نو

دالفظ فارسي دی معرب دی دکسری څخه معرب مشتق دی دتعريب څخه تعريب وايي کړ څول دعجمي لفظ په عربي سره[1].

توضيح النكتة

قوله وهو لفظ لوړه نکته ده ای لفظ نو دانکه پر دارنګه غلطه ده څکه چې پوازې يې مضاف ذکر کړي دی مضاف اليه نسته نو يې يا معنی داکيږي چې مطلق لفظ چې وی هغه فارسي دی معرب دی دکسری څخه نو داخو غلطه خبره ده نو صحيح داده چې دارنګه وليکل سي ای لفظ خسرو نو غرض دناکت تعين کول دي دمشار اليه دهذا چې داسماء اشاراتو څخه دی په ده سره اشاره کيږي وه مفرد مذکر ته .

قوله غازي اسم فاعل له دي قوله څخه تر دابل قوله پوري پدې کي دشارح پنځه غرضه دي ❶ به تعين دصيغې دغازي وکړي ❷ به يې تعين دباب وکړي ❸ به بيان ددو لغتو دغزی وکړي او دهريو دباب او دمعنی تعين به وکړي ❹ به تعين دلغة مراد ده دناظم وکړي ❺ به بيان دمعنی لغوي او دمعنی شرعي دغازي وکړي .

حاصل داول اودويم غرض دادی چې غازي صيغه داسم فاعل ده دبابه څخه دغزايغزو غزاءً يا غزوةً .

[1] او څوک بيا وايي چې خسرو په ضمه سره دی پر دغه تقدير بيا خسرو پخپله معرب دی او مرکب دی ددوو کلمو وڅخه (۱)کلمه (شور) دی چې معنی يې ده آفتاب (۲)کلمه (سور چه) دی چې معنی يې ده فروغ (بلهدل) مطلب داچې مرکب دی د(شورسوچه) څخه يعني روښانه لمر نو (چه) حذف سو بيا سين تر(ر)مقدمة سو باره شو سروياته سو بيا شين په خاء سره بدل سو واوحذف سو خسرو سو .
او څوک بياوايي چې اصل يې خوش رَو يعني خوش رفتار .
اوبايي اصل خوش روی دی يعني حسن الوجه .

حاصل دردريم غرض دادی چې په غازي کې دوه لغته دي ❶ په زاء سره دی دباب څخه دغزا يغزو غزاء په معنی دجهاد کردن نو حُسين ته غازي ځکه وايي چې دی هم سر پرست دجهاد وو نو يې ځکه حامي دين ورته وو ايی ❷ لغة يې په ذال سره دی دبابه دغذا يغذو غذاء په معنی دقوت يافتن سره راځي.

سوال نمبر (۱۱۰) چې شارح رحمه الله ولي دغه لغة دذال راوړی ځکه داخو غير مقصود دی؟

ځواب چې شارح دالغة ځکه راوړی چې زموږ دزمانې اُميان خلګ ذال په زاء سره وايي نو چې داسې سوه بيا معنی بدله سوه په مقصود کې خلل راغلی نو ځکه يې دالغة راوړی چې زموږ مقصود نه دی.

حاصل دځلرم غرض دادی چې مراد په نظم کې لغة دزاء دی.

حاصل دپنځم غرض دادی چې غازي په لغة کې جهاد کونکي ته وايي او په شريعة کې پر دوه قسمه دی ❶ غازي حقيقي دی ❷ غازی عرفي دی غازي حقيقي هغه چاته وايي چې نفس او شيطان ته په کمين کې ناست وي جګړه اومحاربه ورسره کوي او دده حکم نه مني نو محراب ته ځکه محراب وايي چې داځای دمحاربې دنفس اوشيطان سره دی او غازي عرفي هغه چاته وايي چې دکفارو سره او دهغه دمزدورانو او دهغه چاسره جګړه کوي چې دنبي ابطحي څخه مخالفة کوي.

توضيح النكات

قوله هذااذاكان لوړه تر لفظ دهذا نکته ده **اي كون هذا المعنى لمصدر الغازى** غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۱۱) چي په هذا سره خو اشاره کيږي مفرد مذکر ته لکه مخکي چي موداخبره وکړه او دلته په هذا سره اشاره سوي ده جملې ته هغه جمله داده معناه جهاد کردن او بل دا چي جمله خو مؤنثه ده؟

ناکت ځواب ورکړي چي اوس هم مشار اليه دهذا مفرد دی خو مفرد عام دی حقيقتاً وي که تأويلا وي نو دلته تأويلا دی تقدير يې داسې کيږي **كون هذا المعنى لمصدر الغازى** تر داغه قول لاندي بلکه نکته ده ثابت غرض دناکت غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۱۲) چي لفظ داذاظروفو زمانيه وو څخه دی او ظرف تقاضا دمتعلق کوي نو متعلق يې څه شی دی؟

ناکت ځواب وکړي چي متعلق يې محذوف دی هغه ثابت دی.

قوله معناه قوت لاندي تر معناه نکته ده **مصدر الغازي** غرض دناکت تعين کول دي دمرجع دضمير دمعناه.

قوله حقيقه لوړه تر لفظ دحقيقي نکته ده **اي غازى حقيقي** غرض يې دادی چي ياء نسبتي ده چي کله په اسم پورې ملحقه سي نو دغه اسم په حکم کي دمشتقي کيږي په تقاضا

کي دموصوف نوم يې ځکه موصوف ورسره مقدر کي اى غازي اوبله نکته هم ده **الاول** غرض دناکت اشاره کوي دي خبري ته چې لفظ دحقيقي مرفوع دي ځکه خبر دی مبتدأ يې محذوف ده تقدير يې داسي دی الاول حقيقي .

قوله حارب لوړه نکته ده من المحاربة باكسيجنګ كردن دلته دناکت دري غرضونه دي ❶تعين دمشتق منه کوي❷بيان دمعنى لغوي دمحاربة کوي ❸دريم به ذکر دحوالي وکي.

حاصل داول غرض دادى چې حارب فعل ماضي صيغه ده دباب ځخه دمفاعلي مشتق دى دمحاربة ځخه .

حاصل ددويم غرض دادى چې محاربة په لغة کي با کسی جنګ کردن ته وايي .

حاصل ددريم غرض دادى چې واهم به داوهم کوي چې دغه معنى دمحاربة به تادځيل ځانه ځخه ليکلي وي ځه سند به نه لري او داخو غير مقبوله ده؟

ناکت ځواب وکړي چې داماد ځانه نه ده ليکلي بلکه دامي دلفتو دمعتبر کتاب منتخب اللغات ځخه راخيستي ده .

قوله عرفي لاندي لاندي نکته ده اولو ړه هم نکته ده غرض ددوى مخکي ذکر سو په حقيقي کي .

قوله عن المعنى لوړه نکته ده **دين** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۱۳) چي مخالفة خودافعالو،يااقوالواوياداوصافوشخه راځي نه دذات شخه نه څنګه وايي چي من خالف عن النبي؟

ناكت ځواب وركړي چي **دين** حاصل بي دادى چي خبره خو ستا صحيح ده خو داعبارة په حذف سره دمضاف دى تقدير بي داسي دى **عن دين النبي** نو دين دنبي هم اخلاق ،هم افعال او هم اقوال درسول الله ﷺ دي.

قول معز الدين له دي ځايه تر دويم قوله پوري دشارح پنځه غرضه دي ❶ تعين دتركيب دلفظ دمعز الدين كوي ❷ تعين دصيغي دمعز كوي ❸ تعين دباب دمعز كوي ❹ تعين داصل دمعز كوي او بل به سبب باعث دادغام بيان كي ❺ به يو اعتراض رانقل كي بيا به بي ځواب وكړي.

حاصل داول غرض دادى چي لفظ پر دوه قسمه دى ❶ مفرد ❷ مركب مفردهغه لفظ دى چي يوه كلمه او يوه معنى بي وي مركب هغه لفظ دى چي دوي كلمي سره مركبي سوي وي نو معز الدين ددوو كلمو څخه مركب سوى لفظ دى.

حاصل ددويم اودريم غرض دادى چي معز صيغه داسم فاعل ده دباب څخه دافعال په معنى سره دعزت وركونكي دى.

حاصل دڅلرم غرض دادى چي معز په اصل كي معززٌ وو نو په اوله زاء په دوهمه كي مدغمه سوه څكه دادعلم صرفو يوه قاعده ده چي دوه حرف له يوه جنسه راسي په يوه كلمه كي اول حرف ساكن دويم متحرك وي اول په ثاني كي مدغميږي. حاصل دپنځم غرض دادى

سوال نمبر(۱۱۴) چې ناظم په بیت کې وویل چې معز الدین یعني حسین دین ته عزت ورکوي داخبره باطله ده ځکه عزت خو هغه چاته ورکول کیږي چې په سترګو لیدل کیږي او په لاس نیول کیږي یعني محسوس وي نو دین خو دهمدې قبیلې څخه نه دی؟

شارح يې ځواب وکړي **معزلاهل دين** حاصل دجواب داچې داعبارة په حذف سره دمضاف دی هغه اهلُ دی نواهل ددین علماء او طلباء دي نو خبره سمه سوه.

توضیح النکات

قوله من كلمتين لوړه نكته ده اى احدهما كلمة معز الخ غرض دناكت دفع اعتراض ده

سوال نمبر(۱۱۵) چې ته وايې داقول معز الدين مركب دی ددوو کلمو څخه داخبره نه ده صحیح بلکه مرکب دی ددرو کلمو څخه يو کلمه دمعز ده بل الف لام دی دریم دین دی؟

ناکت ځواب وکړي **احدهمامعز الخ** حاصل يې دادی چې اوس هم مركب دى ددووكلمو څخه ځکه مراد دکلمتینو څخه کلمتین مستقلتین دي الف لام خو غير مستقل دی ده لره اعتبار نسته.

قوله الحرفين المتجانسين لاندې نكته ده الموجبان للثقل الخ غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۱۶) چي ولي حرفين متجانسين يو په بل كي مدغميږي ولي پر خپل اصل باندي نه پاته كيږي؟

ناكت ځواب وركړي چي **الموجبان للثقل** نو دموجبان لفظ غلط دى صحيح داسي دى الموجبين للثقل حاصل يې دادى حرفين متجانسين ثقل واجبه وي پر ژبه باندي او ثقل دفعه تقاضا كوي نو ادغام وسو چي تخفيف راسي.

قوله المحسوس لوره نكته ده مشاهده وديده شده دلته ناكت دوه غرضه دى ① اشاره كوي تعين دصيغې دمحسوس ته ② دفع داعتراض كوي.

حاصل داول غرض دادى چي المحسوس صيغه داسم مفعول ده لكه ناكت چي وايي ديده شده حاصل ددويم غرض دادى چي معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (۱۱۷) چي احساس خو په معنى سره دادراك دشي په يوه دحواسو خمسه وو سره لكه ليدل په سترګو سره اوربدل په غوږو سره داسي نور نو احساس غوږ او پزي ته هم شامل سو نو اعزاز خو ددوى څخه نه سي راتلاى؟

ناكت ځواب وركړي مشاهده وديده شده حاصل يې دادى چي مرادمحسوس څخه محسوس بالبصر دى نه بل شي.

قوله بمحسوس لاندي نكته ده وديده شده غرض دناكت بيان دمعنى مرادي دمحسوس كوي.

قوله فلنا هذه لاندي نکته ده ای **مقوله معز الدين** پدغه نکته کې لفظ دمقوله غلط دی صحیح دارانکه دی ای **قوله معز الدين** غرض دناکت تعین دمشار الیه دی .

قوله حسين اسم محض تر دابل قوله پوري دشارح خلور غرضه دي ❶ تعين داسم یا دنامه کوي ❷تعين دصيغې دحسن کوي ❸ دفع داعتراض کوي ❹ به ددي ځواب دتائيد لپاره شاهد راوړي .

حاصل داول او دويم غرض دادی چې اسم پر دري قسمه دی اسم محضه اسم کنيه اسم لقب او دلته حسين اسم محضه دی دسلطان لپاره او صيغه دتصغير ده .

حاصل ددريم غرض داچې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (١١٨) چې تصغير خو لپاره دحقارة راځي نوچې دامعنى سوه نو سلطان خو به دغه وصف سره نه موصوف کيږي .

شارح يې ځواب وکړي چې تصغير لکه څنګه چې دحقارة لپاره راځي همدارنګه دتعظيم او تشفيق لپاره هم راځي نو دلته لپاره دتعظيم راغلي دی .

حاصل دڅلرم غرض دا چې حسين تصغير دی لپاره تعظيم دی تائيد دځواب يې پدا عبارة کې وکړي **کما فی علم امام الغ** يعني لکه څنګه چې په نامه کې دامام سبط حضرت امام حسين کي چې حسين لپاره دتعظيم راغلي دی .

توضیح النکتتین

قوله کمائی عَلّم لوړه نکته ده ای **کما هو للتعظیم** غرض دناکت راوړل دعبارة دمشبه به دی پر طریقه دمشبه.

قوله السبط لاندی نکته ده **وهو الحسین بن علی کرم الله وجهه** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۱۹) چي سبطؔ په معنی دهغه درختي راځي چي ډیري پانی لري نو داخو فساد دمعنی راغلی؟

ناکت ځواب ورکړي چي مراد دلته دسبط څخه وَلَدُ (زوی)دی چي هغه حسین بن علی کرم الله وجهه دی او یا په معنی سره دقبیلې دی نو بې معنی داسې ده چي **حسین الذی هو امام القبیلة** نو بدغه نکته کي پر حسین چي الف لام داخل دی داغلط دی ځکه پر علم باندي الف لام نه داخلیږي ځکه چي بیا اجتماع ددوو آلو دتعریف راځي یو علم دی بل الف لام دی.

قوله حامی دین له دی قوله څخه تر راوړان قوله پوری دشارح (۸) غرض دي ① به بیان دوجه دتشبیه وکړي② به تعین دصیغي دحامي وکړي ③ به تعین دباب او دمقیس علیه دباب دحامي وکړي ④ به بیان دمعنی مصدري دحامي وکړي ⑤ به اشاره وکړي هغه سوال ؤ ځواب ته کوم چي په معز الدین کي یې بیان وسو ⑥ به معنی اصطلاحي ددین بیان کړي ⑦ به تعین دصیغي ددین او دمعنی لغوي وکړي ⑧ به تعین دمعنی مرادي ددین وکړي.

حاصل داول غرض دادی چي حامي دين مشابه دی دمعز الدين سره او په تشبيه کي څلور شيان ضروري دي ❶ مشبه ❷مشبه به ❸وجه دتشبيه ❹کلمه دتشبيه نو دلته حامي مشبه دی او معز الدين مشبه به دی ايضا کلمه دتشبيه ده او وجه دتشبيه پې تركيب دی چي لکه څنګه چي معز الدين مرکب دی ددو کلمو څخه همدرانګه حامي دين هم مركب دی ددوو کلمو څخه چي حامي او دين دی.

حاصل ددويم دريم او څلرم غرض دادی چي حامي صيغه داسم فاعل ده دباب څخه دحمی يحمي حماية او معنی يې ده اعانة امداد او داباب قياس دی پر باب.درمی يرمی باندي داې مقيس عليه دی.

حاصل دپنځم غرض دادی چي معترض اعتراض کوي.

سوال نمبر (۱۲۰) چي ناظم وايي چي حسين حامي ددين دی نو حماية او کومک خو په محسوساتو کي راځي نو دين خو محسوس نه دی بلکه دين خو نوم داحکامو دی؟

جواب چي عبارة په حذف دمضاف سره دی تقدير يې داسي کيږي چي حامي لاهل الدين حاصل دشپږم او اوم غرض دادی چي دين صيغه دمصدر ده په لغة کي ګردن نهادن ته وايي په اصطلاح کي دبته وايي (عَلَمُ لِلاَحکَامِ المُلاَزِمَةِ عَلَى النَّبِيِّ).

توضيح النكات

قوله حامي لاندي نكته ده حامي گهدارنده دلته دناكت دوه غرضه دي ① اشاره كوي تعين ته دصيغي دحامي چي داصيغه داسم فاعل ده ② غرض يې بيان دمعنى دحامي دى .

قوله وهو لاندي نكته ده **حامي دين اى لقوله معز الدين** پدغه نكته كي دوې غلطي دي اوله دا چي دايوه نكته نه ده بلكه دوې نكتې دي اوله نكته داسې ده **حامى دين** وروسته به يې دوولس نويشته كي نو دادهو سره تعلق لري غرض يې تعين دمرجع دهو كوي دوهمه نكته داسې ده **اى لقوله معز الدين** دالاندي تر ايضا ده دوهمه غلطي داده چي په نكته كي داسې نويشته دي قوله داغلط دى صحيح داسې دى كقوله غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(١٢١) چې كلمه دايضا لپاره دتشبيه ده او تشبيه تقاضا دخلورو شيانو كوي مشبه مشبه به وجه دتشبيه كلمه دتشبيه او دلته مشبه به نسته؟

ناكت ځواب وركړي **اى كقوله معز الدين** حاصل يې دادى چې مشبه به موجود دى هغه داقول دناظم دى چې معز الدين.

قوله الاعانة لوره نكته ده **احدهما حامي وثانيهما دين** نو دانكته دلته غلطه ده صحيح داسي ده چې لاندي نژدې تر من كلمتين نويشته كه غرض دناكت بيان دواقع كوي.

قوله آفتاب معدلة دويم قوله پوري دشارح دري غرضه دي ❶ تعين دمعنى او دلفت دافتاب به وكړي ❷ به تعين دصيغى او دمعنى دمعدلة به وكړي ❸ به ځواب داعتراض وكړي

حاصل داول غرض دادى چې افتاب فارسي لغت دى په معنى سره دشمس (لمر) دى.

حاصل ددويم غرض دادى چې معدلة مصدر ميمي صيغه ده په معنى سره دعدل راځي نو معنى يې تسويه بين الخصوم ده.

حاصل ددريم غرض دادى چې معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (١٢٢) چې ناظم ولې سلطان دلمر سره مشابه كړي وجه يې څه ده؟

شارح ځواب وكړي چې له دوووجهو څخه يې مشابه كړي دلمر سره ① لكه څنګه چې لمر پر هر چا او هر شي باندي برابر وي همدارنګه دسلطان عدل پر هر چاباندي برابر وي ② وجه داده چې لكه څنګه چې لمر پر هر شي باندي ښكاره وي همدارنګه دسلطان عدل پر هر غني او فقير باندي بيله فرقه ظاهر وي او وس پر افتاب معدلت باندى معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (١٢٣) چې مشبه خو مقدم وي پر مشبه به باندي او دلته ناظم ولي مشبه به مقدم كړي؟

محشي ځواب وركړي چې داتقدم مې لپاره درعاية دسجع وكړي.

توضيح النكتتين

قوله ان العدل منه لاندې نکته ده **من سلطان حين** دلته لفظ دحين غلط دی صحيح داسې ده چې حسين.

قوله على الفقير وضده لوړه نکته ده **من الشمس** غرض دناکت بيان کوي دکلمې دتشبيه او مشبه به نو دانکته که پر داقول چې غير متفاوت لوړه نويشته سي ښه به وي.

قوله ظل خدا الخ ددې قوله څخه بيا تر پايه پورې دمصنف څلور غرضه دي ① غرض يې دفع داعتراض ده ② غرض يې تائيددقول دناظم کوي په حديث شريف سره ③ غرض يې دا چې فرق به بيان کړي دخدا او خداوند تر منځ او په ضمن کې به يو اعتراض هم دفع کړي ④ به تعين داصل دخدا وکړي.

حاصل داول غرض داچې

سوال نمبر (١٢٤) ناظم په بيت کې وويل چې حسين ظل خدادی يعنې د الله ﷻ سايه ده نو الله ﷻ خومره دی داوصافو څخه دمخلوق څکه الله ﷻ په قرآن کې فرمائي (لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ) نو الله ﷻ لره خو سايه نسته نه څنګه وايې چې ظل خدا؟ شارح يې څواب وکړي چې داستاسوال به هغه وخت واردېدلای که ظل په خپله حقيقي معنی کې استعمال سوی وای بلکه دلته ذکر ظل دی مراد ترې رحمة دی.

حاصل دودیم غرض دا چې ناظم په بیت کې وویل چې حسین ظل خدا دی دلیل وربانډې داؤول دعلیه السلام دی (السُّلْطَانُ العَادِلُ عَلَى الْخَلْقِ ظِلُّ اللهِ) نو که دظل څخه رحمة نه سي مراد د اللّٰہ ﷻ لپاره خو سایه نسته.

حاصل ددریم غرض دا چې یو لفظ دخدای بل لفظ دخداوند دی نو دواړو اطلاق پر اللّٰہ ﷻ باندي کیږي خو فرق یې دومره دي چې دخدااطلاق یوازي پر اللّٰہ ﷻ باندي کیږي پر مخلوق یې اطلاق په هیڅ صورة باندي نه کیږی نه په اضافة نه بغیر داضافة

سوال نمبر(۱۲۵) چې اسماء د اللّٰہ ﷻ توقیفي او محصوردي خدا خو د اللّٰہ ﷻ په نوموکي نسته نو ته څنګه وایې چې خُدَا عَلَمٌ لِذَاتِهِ تَعَالَى؟

شارح یې ځواب وکړي چې **جائز الاطلاق علیه تعالی** الخ حاصل دځواب دادی چې خدا داسي لفظ دی چې اطلاق یې پر غیر د اللّٰہ ﷻ په هیڅ صورة نه کیږي نه په اضافة سره نه بیله اضافته او دخداوند اطلاق پر غیرد اللّٰہ ﷻ کیږي خو په اضافة سره نه بیله اضافته دلیل وربانډې قول دسعدي صاحب دی چې په خپل یونیم بیت کې فرمائي خداوند خانه خداوند ماست دادلسې قصه وه چې یو چادبل یوه دکور دروازه وټکول دکور دخوا څخه ښځې ویل څوک یې ده ورته وویل چې دادچا کور دی ښځې ورته وویل چې خداوند خانه خداوند ماست مطلب دا چې دسرای خاوند زما خاوند دی.

توضیح النکات

قوله والالفاظ لوړه نکته ده ای **ان لم یکن الخ** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۲۶) چې متبادر (عام طور) دفاء شخه فاء جزائیه ده نو فاء په دغه قول کې چې فلا ظل فاء جزائیه نه صحیح کیږي ځکه فاء جزائیه تقاضا کوي دفعل شرط او دحرف شرط او دلته یو هم نشته؟

ناکت ځواب ورکړي ان **لم یکن الغ** حاصل یې دادی چې حرف شرط اوفعل شرط دواړه محذوف دي تقدیر یې داسې کیږي ان لم یکن الغ نو ان حرف شرط دی او جمله دلم **یکن الظل کنایة عن الرحمة** یې فعل شرط دی او فلاظل الغ یې جزاء ده.

قوله ای لا بالاضافة لاندې نکته ده **تفسیر لقوله بای وجه کان** غرض دناکت تعین دمفسر دکلمې دأی دی.

قوله کما قال الشیخ مصلح لاندې نکته ده **کجواز اطلاقه** دانکته لاندې تر دې قول ده چې ایضا غرض دناکت تعین کول دي دمشبه به.

قوله هودای لاندې نکته ده **فحذف الواو والیاء الغ** غرض دناکت بیان کول دي داعلال دلفظ دخودآی چې اصل دخدای خودآی وو نو دارنګه اعلال کې وسو پدغه نکته کې الکثرة الاستعمال غلط دی لکثرة الاستعمال صحیح دی یعني الف لام نه صحیح کیږي ځکه معرف باللام نه مضافیږي

بيت

بر خلائق واجب و بر بنده زاده فرض عين // چون دعاء شاهزاده سال ۰۰۰ ۰ گنج ۰۰ ماه

غرض دناظم په دې بيت كي اظهار دخپلې ذمه وارى كوي چې زماذمه واري پر نورو حلكو زياته ده .

مدحه دسلطان له دوو وجهو څخه واجب ده يو دليل عقلي بل دليل نقلي دى نقلي دليل داآيات كريمه دى الله ﷻ فرمائى (أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ) نو اطيعوا صيغه دامر ده او امر لپاره دوجوب راځي نو بيا چاداولى الامر څخه دى ځكه داولى الامر څخه مراد دوه قسمه انسانان دي ❶ ديندارە حاكمان ❷ فقهاء كرام او ائمه مجتهدين او دليل عقلي داده چي ځنګه چې الله ﷻ منعم حقيقي دى او سلطان منعم مجازي دى نو دمنعم كه حقيقي دى كه مجازي دى شكريې واجب دى .

سوال نمبر (١٢٧) چي مدحه دسلطان پر مصنف باندې ولي فرض ده ؟

ځواب چي مصنف رحمه الله دسلطان دوزيرانو څخه وونو اكرام او انعام دسلطان زيات دى پر وزير تر نورو خلګو او فرض تر واجب زيات دى نو ځكه فرض سوه

سوال نمبر (١٢٨) دفرض سره دي دعين قيد ولي راوړى ؟

ځواب لپاره داحتراز دفرض كفايي څخه .

قوله بر خلاف واجب الخ له دې عبارت تر دابل قوله پورې دشارح درې غرضه دي ❶ به تقسيم دواجب وکړي درو اقسامو ته لپاره ددفع داعتراض ❷ به تعين دقسم مراده دناظم وکړي ❸ به دفع دتوهم وکړي

دواجب تشريح

واجب په لغة کې دېته وايي (القَابِتُ المُتَأَكِّدُ)(ټينګ)لکه الله ﷻ چې فرمائي (فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا الآية) اى فاذاسقطت جنوبها اوضمير مجرور راجع دى (اِبِلُ مُنْحَرَة)(حلالېدونکي اوښن) نه وجه داستشهاديې داده چې سقوط دمذبوح مستلزم دى ثبوت لره دانحار(دحلالېدولو) نو دواجب معنى حقيقي ثبوت اومعنى مجازى يې سقوط دى کوم چې مستلزم دى ثبوت لره مطلب دا چې کوم حيوان دحلالېدولپاره غورځار سو بيا دهغه ځاى څخه نه سي ولاړېدلاى هلته ثابت او متأکد سو نو اعتراض نه سوو ارد چې استشهاديه داآيات سره نه صحيح کېږي واجب په شرعي اصطلاح کې دېته وايي (مَالَقِمَتْ لُزُوْمُهُ بِدَلِيْلٍ قَرِيْعٍ فِيْهِ شُبْهَةُ الوُصُوْلِ اِلى صَاحِبِ الشَّرْعِ) او حکم دواجب داډى چې پر کولويې ثواب پر نه کولو يې عذاب که بېله عذره څوک ئحنى منکر سي نه کافر کېږي.

اوس راغلو خپل مطلب ته نو حاصل داول غرض دادى چې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(١٢٩) چې دواجب په نه کولو سره خو انسان مستحق دعذاب ګرځي نو که څوک دسلطان مدحه نه وکړي مستحق دعذاب نه ګرځي؟

شارح څواب وكړي چي واجب پر دري قسمه دى ❶ واجب شرعي ❷ واجب استحساني ❸ واجب عقلي

واجب شرعي دېته وايي چي په نه كولو سره يي مكلف ګنهګاره كيږى لكه وتر اضحيه داسي نور واجب اواستحساني دېته وايى چي كول يي ښه كار وي په نه كولو سره ګناه نه لري لكه په مجلس كي پر ځنګنوناسته يا لكه مدحه دسلطان واجب عقلي دېته وايي چي عقل يي ښه نه بولي لكه بولي لوړي خواته كول .

حاصل ددويم غرض دادى چي كله واجب پر دري قسمه سو نو دلته په نظم كي دناظم دادوه اخري قسمين مراددي نه اول قسم .

حاصل دردريم غرض دا چي واهم به داوهم كوي چي داخو فرق نه راغلى په منځ كي دمدح دسلطان او ددعاء كولو سلطان ته ځكه چي دواړه واجب استحساني يا عقلي دي شرعي يو هم نه سو ؟

شارح يي څواب وكړي چي **واما الدعاء للسلطان الخ** حاصل دادى چي با چاته دايمان په سلامتي او په خير العاقبة سره دعاء كولو داواجب شرعي دى نو فرق يي ظاهر سو چي مدحه دسلطان واجب عقلي يا استحساني ده او دعاء ورته واجب شرعي سوه ځكه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي (فَاِذَا كَانَ عَدَلَ كَانَ لَهُ الاجْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الشُّكْرُ الحديث)

توضيح النكات

قوله اقسام لاندي نكته ده **احدها** نو دادلته بي ځايه ده صحيح داده چي تر شرعي لاندي وليكل سي .

قوله والمكلف لاندي نكته ده **اى العاقل البالغ** غرض دناكت دفع داعتراض ده چي مكلف خو هغه چاته وايي چي په يو نوع دتكلف سره اخته وي همدارنګه په معنى سره دمزين يعني بنائسته سوي راځي نو داووي معناګاني دلته نه صحيح كيږي؟

ناكت ځواب وركړي **اى العاقل البالغ** حاصل داچي مكلف لكه څنګه چي په هغه مزين معنى ګانو سره راځي همدارنګه په معنى سره دعاقل او بالغ راځي نو دلته دامعنى مراد ده .

والله اعلم بالصواب واليه مرجع والمآب

قوله وعقلي دلته لاندي نكته ده **وثالثها** دوواړ ځاى كه لفظ داى نويشته سي نبه به وي او لاندي هم نكته ده **اى فى الثاني** نو دلته دوې غلطياني دي اول دا چي دلته بي ځايه ده صحيح داده چي لوړه پر داقول نويشته سي چي **ههنا** دوهمه غلطي داده چي **فى الثانى** نويشته سوى دى داغلط دي صحيح داده چي اى في النظم نويشته سي

قوله يتحرز لاندي نكته ده **اى الواجب العقلي** نو دلته غلطه ده صحيح داسي ده چي تر هو لاندي نويشته سي .

قوله عنه لاندې نکته ده **يحذف المضاف اى عن المخالفة** غرض دناكت دفع داعتراض ده چې محشي په (۲)حاشيه کې هغه اعتراض رانقل کړي دی هغه اعتراض دادی

سوال نمبر(۱۳۰) چې شارح کوم تعريف لپاره دواجب عقلي وکړي دانه صحيح کيږي ځکه هر واجب عقلي په مقتضاء دعقل وي او کوم شي چې عقل يې تقاضا کوي نو عقل احتراز نه ځني کوي او بل دواجب عقلي مثال ويل په كالبول لاعلى المكان سره نه صحيح کيږي ځکه بولي کول اعلى مکان ته واجب نه دی بلکه واجب بولي کول دي اسفل مکان ته ؟

ناکت ځواب ورکړي چې عبارة په حذف سره دمضاف دی **تقديريې داسې دی هو الذي يتحرز العقل عن مخالفته** .

او ددويم سوال خخه يې ځواب وکړي چې دامثال دمخالفة دواجب عقلي دی او دواجب عقلي مثال هغه بولي کول دي اسفل مکان ته نو دلته دوې نکتې دي او له پر کالبول لاندې پر ته ده بله پر المكان باندې ده نو دادوې نکتې چې يوه اوږده نکته ځني جوړه سي نبه به وي نو به غرض دناکت مثال ويل وي بدو ممثلينو .

قوله والمراد لاندې نکته ده **من الواجب** غرض دناكت اشاره کول دي دې خبرې ته چې صله دمرادلفظ دمن راځي .

قوله الاخيران لاندې نکته ده **اى الاستحساني والعقلي** غرض دناكت بيان کول دي دمدلول ددې قول چې الاخيران .

قوله لاالاول لاندي نکته ده وهو الواجب الشرعي لان في تركه اثم والحال انه لا يأثم دلته دناکت دوه غرض دی ❶ به مدلول ددي قول بيان کړي چي لا الاول ❷ به دليل پر دي خبره ذکر کړي چي په نظم کي دوه اخير قسمونه مراددي اول نه دی مراد.

حاصل دواول غرض دادی چي مراد داول لفظ څخه واجب شرعي نه دی.

حاصل ددويم غرض دادی چي دوه اخير قسمونه مراددي ځکه چي که اول يعني شرعي مراد سي نو که ناظم مدحه دسلطان نه وکړي نو نه ګنهکاره کيږي.

قوله *بربنده زاده فرض عين* له دي قوله څخه ياتر بدانکه پوري دشارح تقريبا پنځه غرضه دي ❶ به تقسيم دفرض وکړي دوو قسمونو ته او مثالونه به يي ذکر کړي ❷ به تقسيم دفرض عين وکړي دوو قسمونو ته ❸ به دفع داعتراض وکړي ❹ به دجواب دتائيدلپاره دوه عقلي دليلونه ذکر کړي ❺ به تعارف دسلطان وکړي.

حاصل داول غرض دادی چي فرض دمصدر صيغه ده په معنی دمفروض سره دی او په لغت کي قطع او تقدير ته وايي اوپه شريعت کي هغه کارته وايي چي په داسي دليل سره ثابت سوی وي چي په هغه کي څه شک نه وي يعني په آيات او په حديث سره ثابت وي نو مطلق فرض پر دوه قسمه دی ❶ فرض عين ❷ فرض کفائي فرض عين هغه کار دی چي ديوه په کولو سره دنورو غاړي نه خلاصيږي لکه فرض لمونځ، حج، زکوة او داسي نور فرض کفائي هغه دی چي ديوه انسان په کولو سره دنورو انسانانو ذمه خلاصيږي لکه جنازه او هغه جهادچي دبنمن غلبه نه وي کړي که يي غلبه وکړه بيا جهادفرض عين دی.

حاصل ددويم غرض دادی چي فرض عين هم پر دوه قسمه دی ❶ فرض عين حقيقي ❷ فرض عين اعتباري فرض عين حقيقي هغه دی چي په ايات کريمه او حديث نبوي سره ثابت سوی وي او فرض عين اعتباري هغه دی چي بنده يې پر خپل ځان باندي لازم کړي لکه نذر .

حاصل ددريم غرض دادی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۳۱) مراد دمصنف دفرض عين څخه کوم يو دی ځکه شي چي مطلق ذکر سي مراد ځني فرد کامل دی نو فرض عين هم مطلق ذکر سوی دی او سره لدي چي پر دي خبره چي مدحه دسلطان فرض عين حقيقي ده هيڅ دليل نسته نه قرآن نه سنة ؟

شارح راغلي ځواب يې وکړی او تعين دمعنی مراد دي يې وکړی چي په نظم کي دفرض عين څخه اعتباري مراددی نه حقيقي ځکه چي نه ايات نه حديث وربانذی دليل سته

حاصل دڅلرم غرض دادی چي مدحه دسلطان فرض عين اعتباري ده يو دليل عقلي يې دادی چي په دي اره نه آيات نه حديث سته دويم دليل عقلي دادی چي لکه څنګه چي شکر دالله ﷻ فرض عين حقيقي دی ځکه چي دی منعم حقيقي دی همدرانګه شکر دسلطان هم فرض عين اعتباري دی ځکه چي سلطان منعم دی خو منعم مجازي دی ځکه رسول الله ﷺ فرمائي (مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللهَ) نو ناظم دوزيرانو او مجلسيانو څخه دسلطان دی .

حاصل دپنځم غرض دا چي سلطان دهندوستان دباچاهانو او اميرانو څخه يو باچا او امير وو :

توضيح النكات

قوله والزكوة لاندي نكته ده **وكالجماعة عند البعض وتكفين الميت الخ** دانكته دلته نه ده صحيح تر وغير هما لاندي صحيح ده او په اول کي واو نه غواړي بلکه داسي ده كالجماعة

قوله بأداء شخص واحد لاندي نكته ده **وان كانوا حاضرين شاهدين** غرض دناكت دفع دتوهم ده واهم داوهم کوي چي فرض كفايي هغه دى چي دذمې څخه دباقينو ساقطيږي په آداينه سره دشخص واحد او مفيدوي په قيد دغيبوبة سره دباقينو يعني چي باقين خلک غائبين وي؟

ناكت ځواب ورکړي **وان كانوا حاضرين** حاصل يې دادى چي فرض كفايي نه دى مقيد په قيد سره دغيبوبة دغه نكته لږ مخته ځكبلي ده نو يو څه يې رامخته كه تر باقين لاندي يې كښيږده .

قوله كالجنازة لاندي نكته ده **اى كصلوة الجنازة** غرض دناكت دفع داعتراض

سوال نمبر (١٣٢) چي لفظ دجنازة به خالي نه وي يا به په كسره سره دجيم وايي يا به په فتحه سره دجيم دايو هم نه صحيح كيږي ځکه که په كسره سره سي نو په معنى سره دسرير يعني تخته دمړي او که يې په فتحه سره واخلي نو بيا په معنى سره دمړي راځي نو دايو ه معنى دلته نه صحيح كيږي؟

ناكت ځواب ورکړي اى **كصلوة الجنازة** حاصل يې دادى چې مراد دلته دويم احتمال دى يعني فتحه دجيم خو داعبارة په حذف سره دمضاف دى چې هغه صلوة دى.

قوله كالجنازة لوړه نكته ده **وكالجماعة عند البعض** غرض دناكت دفع دتوهم ده واهم داوهم كوي چې كاف يدې قول كې چې كصلوة الجنازة په معنى سره دمثل دى او مثل دلالة كوي پر حصر بانديې نو چې په معنى سره دمثل سو نو كاف دلالة نه كوي پرحصر دفرض كفائي په نورو اقسامو كې ځكه چې نور اقسام هم سته؟

ناكت ځواب وركړي **كالجماعة عند البعض وتكفين الميت وتغسيله وتدفينه اذا لم يكن له مال.**

قوله والجهاد لاندې نكته ده جنګ راكفار غرض دناكت دفع دويم ده چې لفظ دجهاد په كسره سره دجيم په معنى دجهُداو سعي (يعني كوشش) سره راځي نو دلته يې ذكر مناسب نه دى؟

ناكت ځواب وركړي چې جهاد لكه څنګه چې په معنى سره دجهد او سعي سره راځي همدارنګه په معنى سره دقتال مع الكفار راځي او دامعنى دلته مراد ده نو پدغه نكته كې غلطي سته ځكه داسې نويشته سوې ده جنګ راكفار صحيح داسې ده جنګه به كفار.

قوله اذا غلب العدو لاندې نكته ده **اى على بلد من بلاد المسلمين** غرض دناكت دفع دتوهم ده چې دشارح دقول څخه دامعلوميږي چې كفار غلبه وكړي پر يو مسلمان يادوو مسلمانانو يا درو مسلمانانو باندي نو جهاد فرض عين دى پر هر نر او ښځې باندي او دارنګه خبره نه ده؟

ناکت ځواب وکړي چي **اى على بلد** حاصل يې دادى چي جهادهلته فرض عين دى چي کفار دمسلمانانوپر يو ښار باندې غلبه وکړي.

قوله وهو ماثبت لوړه نکته ده **اى فرض عين حقيقي هو الامر الذى ثبت** غرض دناکت اشاره کول دي دي خبري ته چي لفظ دما په ماثبت کي موصوله دى په معنى سره دالذي دى موصوفه نه دى چي په معنى سره دشئ سي او نه مصدر يه دى چي خپل مدخول په تأويل سره دمصدراره وي او لاندي تر دغه قول بله نکته ده **اى فرض عين** نو دانکته يې ځايه ده صحيح ځاى يې دادى چي تر داقول ثم الاول لاندي وليکل سي.

قوله لا الحقيق لاندي نکته ده **اى ليس المراد فرض عين حقيقي** غرض دناکت اشاره کول دي دي خبري ته چي لفظ دلا مشبه بليس دى دنفي دجنس لپاره نه دى.

قوله من وزرائه لوړه نکته ده **جمع وزير** غرض دناکت دفع دتوهم ده واهم به داتوهم کوي چي وزراء جمع دوِزر ده نو دلته يې ذکر نه دى صحيح ځکه وِزر په کسره دواو سره په معنى دګناه سره راځي؟

ناکت ځواب ورکړی جمع وزير لاوزر.

له ندمائه لوړه نکته ده **اى جلسائه** غرض دناکت دفع دتوهم ده چي نديم په معنى سره دپښيمان راځي نو ذکر يې دلته نه صحيح کيږي؟

ناكت څواب ورکړی **ای جلساته** حاصل دا چي نديم لکه څنګه چي په معنی دپښمانه سره راځي همدارنګه په معنی سره دمجلسي هم راځي څکه ناظم خو دمجلسيانو څخه دباچاوو لکه شارح چي مخکي داخبره ظاهره کړه .

اولاندي تر داغه قول بله نکته ده جمع نديم بمعنی هم نشين بزرگان دلته دناکت دوه غرض دي ❶ تعين دصيغي دندماء کوي ❷ په يي معنی ذکر کړي .

قوله قدس سره لوړه نکته ده ای تر وتازه باد باطن وی غرض دناکت بيان کوي دمعنی مرادي دقدس او سر نو قدس په معنی سره دپاک راځي او سر په معنی سره دکلام خفي يعني پټه خبره

قوله الزرادی لوړه نکته ده نام کتابي در علم صرف غرض دناکت دفع دتوهم ده واهم داتوهم کوي چي زراد خو په معنی سره داسلحي راځي يعني آله دقتال نو دلته يي ذکر نه دی مناسب څکه دزرادي معنی ده منسوب بسوئ زراد چي په ښپڼو کي يي معنی ده سلاح داره؟ ــــ

ناکت څواب ورکړي چي زراد دلته په هغه معنی سره نه دی مراد بلکه مراد څنی کتاب دی دعلم صرف .

قوله بدانکه مراد از بنده الخ دبدانکه څخه پيا تر حکايت پوري دشارح غرض بيان ددرو توجيهاتو دی په کلام کي دناظم لپاره ددي چي په کلام کي دناظم کذب رانه سي څکه متوهم به توهم کوي چي ناظم پر ځان باندي اطلاق دبنده وکړی نو ناظم به دبا چا غلام وي او داخبره باطله ده څکه ناظم خو دمجلسيانو څخه دبا چا وو لکه شارح چي مخکي وويل .

نو بيان داولي توجيه دادى چي كه دبنده څخه چي په نظم كي ذكر دى كه مراد ځني عبدالله (دالله ﷻ بنده) سي لكه دا چي ظاهر او متبادره ده ځكه شي چي مطلق ذكر سي مراد ورځني فرد كامل دى نو دلته هم بنده مطلق ذكر دى مراد ځني فردكامل دى چي دالله ﷻ دى نو بيا پر كلام دناظم هيڅ اشكال او اعتراض نه واريديږي.

او بيان ددوهمي توجيه دادى چي كه مراد دبنده څخه چي په نظم كي ذكر دى غلام دباچاسي لكه داخبره چي نبكاره ده پر ژبو دعوامو (مجلسيانو دباچا) نو كه ناظم دباچامريي سي پر اصطلاح دعوامو باندى بيا هيڅ محاله نه ده.

بيان ددريمي توجيه دادى چي كه ناظم دبا چامريانو څخه نه وي او بياناظم ځان ته بنده وايي وجه يې داده چي مراددبنده څخه معنى مجازي بنده ده چي مجازاً بنده په معنى دمطيع (تابعداره) سره دى.

توضيح النكات

قوله بدانكه دلته لاندي نكته ده **فيه اشارة** يوخوبي ځايه ليكل سوي ده او بل غلطه او ګډه وډه ليكل سوي ده په داډول سره (والله اعلم كلامه فى الكذب يلزم لئلا المصنف فى كلام الثلث التوجيهات الى بيان واشارة فيه ١٢)صحيح دارنګه ده فيه اشارة الى بيان التوجيهات الثلاث لئلايلزم الكذب فى كلام المصنف والله اعلم غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (١٣٢) چي لفظ دبدان خو په فارسي ژبان كي په معنى سره داعلَم راځي او لفظ داعلم دايوه كلمه ده چي په اول كي دكلام ذكر كيږى لپاره دراوينبولو دغافل پر سوال باندي او

كله ذكر كيږي دپاره دايقاظ دغافل پر ځواب باندي دسوال څخه او كلّه بيا ذكر كيږي لپاره دتفصيل دما اجمل نو دلته كوم قسم مراددى؟

ناكت ځواب وركړي **فيه اشارة الخ** حاصل يې دادى چي دلته مراد دريم قسم.

كاتب لاندي تر داقول چي اگر عبدالله دارنكه الفاظ ليكلي دي بنده خدا بمعنى از بنده مراد بودن نو دايوه نكته نه ده بلكه دوي نكتي دى يوه لاندي تر عبدالله ده هغه داده بمعنى بنده خدا غرض دناكت دلته بيان دمعنى فارسي دعبدالله كوي او دوهمه نكته لاندي تر دي قول ده چي چنانچه الفاظ يې دارنكه دي اى مراد بودن از بنده عبدالله.

قوله مطلق لاندي نكته ده بنده غير مضاف بجيزى دلته غرض دناكت بيان كول دي دمعنى دمطلق

قوله اشكال لوړه نكته ده **اعتراض** غرض دناكت دفع دتوهم ده چي اشكال جمع دشكل ده شكل په معنى سره دصورة راځي نو دلته يې ذكر نه دى مناسب؟

ناكت ځواب وركړي چي لفظ داشكال په كسره دهمزه سره مفرد دى په فتحه سره نه ده چي جمع دشكل سي په معنى سره داعتراض دى.

قوله رقيق لوړه نكته ده بنده غلام غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (١٣٣) چي لفظ درقيق په معنى سره دنرم راځي نو دلته يې ذكر نه صحيح كيږى؟

ناکت ځواب ورکړي چي رقیق دلته په معنی سره دغلام دی .

قوله موالي لاندي نکته ده جمع مولی بمعنی ازاد کرده شده غرض دناکت تعین کول دي دمعنی مرادي دمولی ځکه دمولی اطلاق پر معتِق او معتَق دواړو باندي کیږي خو دلته مراددوهمه معنی ده نه اوله .

قوله حکایت درترغیب الصلوة غرض دشارّح دراوړولوځخه دحکایت تائید کوي دمخکنیو درو توجیهاتو ځکه چي بیا دناظم په کلام کي چي بر بنده زاده دی کذب لازم نه سي

قوله درترغیب الصلوة لوړه نکته ده نام کتابي مشهور است درفقه غرض دناکت دفع دتوهم ده چي ترغیب صیغه دمصدر ده او مصدر ظرف نه سي کیدای ځکه مصدر صرف وصف دي صلاحیة دظرفیة نه لري نو ته څنګه وایي چي حکایت درترغیب الصلوة؟

ناکت ځواب ورکړی نام کتاب الخ حاصل یې ظاهر دی

قوله پیش امام لوړه نکته ده حنیفه نودانکته غلطه ده او داوروسته قول چي ثاني ابی یوسف وربا ندي شاهد دی چي غلطه ده .

قوله شاهدی داد امام لاندي تردغه امام لفظ نکته ده ای ابی یوسف داسهوه دکاتب ده ځکه چي ددغه لفظ لوړه نکته سته ای ابی یوسف او په لاندي لیکه کي دامام لفظ لاندي هم نکته سته ای ابی یوسف نو مقصدپه هغودوو نکتو کي اداسوی دی دغه نکتي ته ضرورت نسته .

[illegible] د ګوي تې خبري نه چې لفظ دګلت

[illegible] فا[illegible] معمول ګوي [illegible]

[illegible] محمول تې هغه لفظ [illegible]

[illegible]

[illegible] اول قول [illegible] ناګت [illegible]

[illegible]

[illegible] ناګت دفع داعتراض دی

سوال **۱۳۴۱** [illegible] ثلاثه وو شخه نو دلته یې ذکر نه [illegible]

[illegible] په هغه مشهوره معنی سره نه دی مراد بلکه دلته په معنی [illegible]

قوله [illegible] قوله شخه بیا تر دویم قوله پوري دشارح دوه غرضه دي ● [illegible] دفع داعتراض وکړي ● به په ترکیبي لحاظ سره دکلمي دجوړ حکم بیان کړو

حاصل داول غرض دادی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۳۵) چي کلمه دچون په فارسي ژبه کي لپاره دتشبيه ده مخکي به يې مشبه وروسته به يې مشبه به ذکر وي او قاعده دتشبيه داده چي مشبه به به اولى او مشهور وي تر مشبه په وجه سره دشبه نو دلته خو دعاء دشاهزاده نه ده اولى تر مدح دسلطان؟

ناکت ځواب وکړي چي کلمه دچون زائده ده خو ناظم چي راوړي ده لپاره درعاية دوزن چي وزن دبيت سره برابر سي.

حاصل دوهيم غرض دادى چي لفظ ددعاء فاعل دى لپاره دواجب.

توضيح النكتتين

قوله والدعاء دلته لوړه نکته ده **اى لفظ الدعاء** غرض دناکت دفع دتوهم ده واهم به داوهم کوي چي شارح وايي دعاء فاعل دى لپاره دواجب نو دافاعلية يي نه صحيح کيږي ځکه فاعل خوبه ذات وي او دلته دعاء ذات نه دى بلکه وصف دى ځکه ددعاء معنى ده رابلل؟

ناکت ځواب وکړي **اى لفظ الدعاء** حاصل دا چي مراددعاء څخه لفظ ددعاء دى نو لفظ ذات دى دانکه ناکت پر داقول دشارح چي چون دعاء شاهزاده نويشته کړي ده دلته غلطه ده صحيح ځاى يي دادى چي پر لفظ دوالدعاء باندي لوړه يالاندي وليکل سي.

قوله فاعل دلته لوړه نکته ده **على تقدير زيادة لفظ چون** غرض دناکت بيان کوي دشرط دصحت دفاعلية ددعاء چي فاعلية يي هلته صحيح کيږي چي کلمه دچون زائده سي.

قوله شاهزادة لقب الحسين له دې ځايه بيا دپاې تر قوله پورې دشارح خلور غرضه دي ❶ به دفع داعتراض وکړي ❷ به دوه احتماله ذکر کړي په لفظ دشاهزاده کي ❸ به دقول صحيح دتائيد لپاره شاهد ذکر کړي ❹ به دقول صحيح پر بناء دداروو بيتو ترجمه وکړي.

حاصل داول غرض دادی چې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۳۶) چې دشاهزاده لفظ ذکر کول وروسته تر حسين مستدرک دی ځکه داخوتکرار دی په نوموکي؟

شارح یې ځواب وکړي چې شاهزاده لقب حسين حاصل دځواب یې دادی چې تکرار نسته ځکه حسين اسم محضه دی او شاهزاده لقب دی او س پر داځواب محشي اعتراض کړي دی

سوال نمبر (۱۳۷) چې نه منو چې شاهزاده لقب دحسين دی بلکه اسم کنيه دی ځکه شاهزاده په عربي کي ابن شاه دی او اسم کنيه هغه نامه ته وايي چې په سر کي یې (اب)یا (ابن)راغلي وي نو شارح ولي لقب ورته وويل؟

ځواب چې شاهزاده لره دوه حالته دي ❶ حالت دوضع ❷ حالت داستعمال دی نو شاهزاده داول حالت په اعتبار سره کنيه دی او ددويم حالت په اعتبار سره بيا لقب دی نو شارح هم دويم حالت ته کتلي دي.

حاصل ددويم غرض دادی چې واهم به وهم کوي چې شاهزاده لفظ دي ولي راوړی بل لفظ به دي راوړی وای؟

شارح یې ځواب وکړی چې شاهزاده مې ځکه راوړی چې دحسین لپاره لوړه مرتبه حاصله سي په دې معنی چې حسین داعلی نسب خاوند دی دحقیر النسب څخه نه دی.

حاصل ددریم غرض دادی چې اشاره به وضعف ته داول قول وکړي چې کلمه دچون زائده نه ده نو یې ځکه تعبیر په کذا قیل سره څنې وکړي وجه دضعف یې داده چې واجب خبر دی لپاره دهستد او بر خلائق وربوري متعلق دی لپاره درعایة دسجع یې مقدم کړي دی او داقول چې بر بنده زاده عطف دی پر بر خلائق باندې تر فرض عین پوري تعلق لري او داقول چې چون دعاء دافاعل دواجب دی پر رأیه دقیل واجب سره دفاعل او متعلقاتو جمله ده او خبر چې جمله واقع سي عائد غواړي چې اسم ته راجع سي چې هغه مدحه ده نو دلته هغه عائد نسته پر تقدیر دفاعلیة ددعاء نو فاعلیة یې نه صحیح کیږي نو ځکه داقول ضعیف سو نو صحیخ قول دادی چې کلمه دچون لپاره دتشبیه ده ناظم مدحه دسلطان مشابه کړیده دوجوب سره ددعاء دشاهزاده.

حاصل دځلرم غرض دادی چې دویم احتمال په کلمه کې دچون دادی چې کلمه دچون په معنی دکاف تشبیهي ده زائده نه ده.

حاصل دپنځم غرض دادی چې کلمه دچون په معنی دکاف تشبیهي دی ځکه چې په قصیده مفرحة الارواح کې چې په تحفة القادرية نومې کتاب کې په مدحه کې دغوث الثقلین عبدالقادر جیلاني راغلي ده هلته چون په معنی دکاف تشبیهي دی لکه دا چې ظاهره ده:

حاصل دشپږم غرض ظاهر دی مطلب دآخري قوله هم ظاهر دی.

نصرت وفتح وظفر واقبال وجاه وسلطنت = باد باقی مر ترا تاهست امکان رابقا

غرض دناظم په دغه بيت كې دعاء كوي حسين باچاته .

قوله نصرت ددې قوله څخه تر دويم قوله پورې غرض دشارح بيان دمعانيو اصطلاحيه وو او لغويه وو دالفاظو دبيت كوي او په ضمن كې به دفع داعتراضاتو هم وكړي .

نصرت په لغة كې مطلق مدد كردن ته وايي او په اصطلاح كې مدد حاصلول دالله ﷻ دجانبه په امورو مشكله وو كې خو دلته شارح دنصرت لغوي معنى ذكر كړه او معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (۱۳۸) چې نصرت په معنى درزق سره راغلي لكه په آيات شريف كې الله ﷻ فرمائي (مَنْ كَانَ يَظُنُّ أَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللهُ) اى لن يرزقه الله بناء پر دغه تفسير دابو عبيده دامعنى دلته مناسبه نه ده؟

شارح يې دفع وكړه چې نصرت په معنى دمدد سره دى نه په معنى درزق سره.

فتح په لغت كې مطلق خلاصولو ته وايي او په اصطلاح كې كشادن كارهاى مغلق ته وايي معترض اعتراض كوي

سوال نمبر(۱۳۹) چې فتح خو حركة ته وايي دحركاتو ثلاثه ؤ څخه چې مقابل دضمي او كسرې دي دامعنى خو دلته نه صحيح كيږي؟

شارح يې ځواب وكړى چې دلته په معنى د كشادن كارهاى مغلق ده .

ظفر په لغة کي برئ پیداکولوته وایي اوپه اصطلاح کي برئ پردبنمنانوته وایي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۴۰) چي احتمال سته چي ظفر دي په ضمه دظاء سره سي بیا خو په معنی سره دنوک راځي داخو غلطه معنی ده دلته؟

شارح یې ځواب وکړی چي ظفر په فتحه دظاء سره راځي چي معنی یې ده الغلبة علی الاعداء

اقبال په لغت کي په معنی دمخ راګرځولو سره راځي اوپه اصطلاح کي په معنی دپیش آوردن دولت یعني حصول دولت معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۴۱) چي اقبال خو په معنی دمخ راګرځولو سره راځي دامعنی دلته مقصود نه ده؟

شارح ځواب وکړی چي اقبال دلته په معنی دحصول الدولة سره راځي.

سلطنت په لغة کي مطلق بادشاهي ته وایي په اصطلاح کي حاصلول دملکونه وایي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۴۲) چي سلطنت په معنی د دراز زباني سره راځي دامعنی دلته مرادول نه دی صحیح؟

شارح یې ځواب وکړي چي دلته مراددسلطنت شخه بادشاهي ده.

جاه په لغة کي مطلق مرتبي ته وايي په اصطلاح کي رُعب اچول پرخلکو باندي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۴۳) چي په جاه کي دااحتمال سته چي جاه په اصل کښ جاى وي او هاء يې د حروفو ابدالو څخه وي دامعنى مقصود نه ده مقصوددعاء ده؟

شارح ځواب وکړي چي جاه په معنى دمرتبې ده.

توضيح النكتتين

قوله مدد لاندي نکته ده يا رُكرون الخ غرض دناكت بيان كول دي دمعنى لغوي دمدد لكه په راروانو الفاظو كي مغلق ودولت مرتبه.

قوله ظفر لوړه نكته ده بفتح فاوى غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۴۴) چي ظفرپه ضمه دظاء سره په معنى سره دناخن يعني نوک راځي نو دلته يې ذكر نه صحيح كيږي؟

ناكت ځواب وكړي **بفتح الظاء بمعنى غلبه على الاعداء** يعني پر دښمنانو باندي غلبه كول.

قوله مرترا اورد صيغة المخاطب الخ ددي ځايه بيا تر اعلم پوري دشارح دري غرضه دي ❶ به دفع داعتراض وكي ❷ به تاكيددي خبري وكړي چي په مقام كي دحمد صيغه دخطاب ذكر كيږي ❸ به توجيه ثاني بيان كړي لپاره دصيغي دمرترا.

حاصل داول غرض دادی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۴۵) چي ناظم ولي صيغه دمخاطب ذکر کړه چي مرترا دي نه يې کړه ذکر صيغه دغائب چي مرورا دی؟

شارح يې دفع وکړه چي دامقام دحمدډی او په مقام کي دحمد لائقه داده چي صيغه دمخاطب ووايه ددی لپاره چي ناظم کاذب نه سي ومخ ته دخلکوځکه خلک دده پر قول اعتماد نه کوي چي صيغه دغائب ذکر کړي.

حاصل ددويم غرض داچي په مقام دحمد کي يې صيغه دمخاطب ذکر کړه ځکه حضرت علی کرم الله وجهه په خپله خطبه کي صيغه دمخاطب ذکر کړي ده او ويلي يې دي (**لَكَ الحَمْدُ وَالمِنَّةُ**).

حاصل ددريم غرض دادی چي دا هم جائزه ده چي دمرترا پر ځای دي مرورا وويل سي ځکه په صيغه دغائب کي رعاية دادب سته ځکه په وخت دحمد کي محمود حاضرول يې ادبي ده او س راغلو صيغي ته داعلم نو اعلم دينځو معناګانو لپاره استعماليږي ❶ لپاره دايقاظ او تنبيه دمخاطب ❷لپاره دتحقيق دمقام ❸ لپاره داعتراض او ځواب چي دادواړه وروسته تر اعلم ذکر کيږي ❹ لپاره دسوال فقط چي تر اعلم وروسته يوازي سوال ذکروي ❺ لپاره دځواب فقط چي تر اعلم وروسته يوازي ځواب ذکر وي نو دلته همداپنځمه معنی مراد ده ځکه اعتراض مقدر دی

سوال نمبر(۱۴۶) چي په مخكي بيتو كي دوه كسان ذكر سوه بادشاه چي حسين دی بل شاهزاده دی چي دحسين زوی دی نو دلته په بيت كي مخاطب كوم يو دی؟

شارح ځواب وكړي چي دوه احتماله دي ❶ دا چي كه كلمه دچون لپاره تشبيه سي نو پلار هم مخاطب كيدای سي او زوی چي شاهزاده دی هم مخاطب كيدای سي ❷ احتمال دا چي كه كلمه دچون زائده سي بيا مخاطب پلار دی .

توضيح النكات

قوله الاب اوالابن لاندي تر آب نكته ده **ای ابن سلطان حسين المعز بشاهزاده** دانكته لاندي تر الابن ليكل سوېده او تر ابن لاندي نكته ده ای السلطان حسين دانكته دلته غلطه ده صحيح داده چي لاندي تر داقول ده الاب اولوړه تر الابن بيابله نكته ده الاب داغلطه ده صحيح داسي ده لا الاب .

قوله فقط لوړه نكته ده **ای فی قوله بادباقی مرتر**ا دانكته لوړه تر دي قول ده چي فيه .

قوله الاب لوړه نكته ده لابن يو خو غلطه ده بل يې ځايه ده صحيح دا رنګه ده چي لا الابن او صحيح ځای يې دادی چيّ پر الاب بانديې پرته ده .

بیت

عامل اندر نحو صدر باشد چنین فرموده است = شیخ عبدالقاهر جرجانی پیر ہدی

دلته دناظم دوه غرضه دي ❶ به تقسیم دعامل وکي سلو (۱۰۰) اقسامو ته اجمالا ❷ به دخپل قول دتائید لپاره حواله ورکړي قول ته دعبدالقاهر جرجاني.

قوله العامل في اللغة الخ ددې قوله څخه تر دويم قوله پورې دشارح درې غرضه دي ❶ به معنی لغوي او اصطلاحي دعامل ذکر کړي ❷ به دفع داعتراض وکړي ❸ به تعين دمعنی مرادي دعامل وکړي په نظم کې.

حاصل داول غرض دا چې عامل په لغت کې مؤثر ته وايي او په اصطلاح کې دېته وايي (مَا يُوجِبُ آخِرَ الْكَلِمَةِ عَلَى وَجْهٍ مَخْصُوْصٍ مِنَ الْإِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ).

حاصل ددويم غرض داچې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۴۷) چې شارح ولې دمشهور تعريف څخه مخالفة وکړی ځکه مشهور تعريف خو دادی چې عامل په اصطلاح کې (مَا يَتَقَوَّمُ بِهِ الْمَعْنَى الْمُقْتَضِيْ لِلْإِعْرَابِ) ته وايي؟

شارح ځواب وکړي چې عامل پر دوه قسمه دی ❶ مطلق عامل دی ❷ عامل داسماوو دی نو کوم تعريف چې مشهور دی هغه تعريف دعامل داسماؤ دی او شارح وايي چې ما کوم تعريف کړی دی هغه تعريف دمطلق عامل دی.

حاصل دردیم غرض داچي په بیت کي مراد دناظم دعامل څخه مطلق عامل دی ځکه داکتاب دابتدائي طالبانو لپاره تصنیف سوی دی نو طالب چي مطلق عامل نه وه پیژني کله به عامل داسماوو او عامل دافعالو وه پیژني.

توضيح النكتتين

قوله يعتور لاندي نکته ده ای **يحصل** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۴۸) چي نسبة دقیام خو وه معنی ته نه صحیح کیږي ځکه قیام خاصه دذوي الارواحو ده نو معنی خو نه ده ذوي الروح؟

ناکت ځواب ورکړي چي قیام دلته په معنی سره دحصول ده.

قوله لان الغرض لاندي نکته ده ای **لاعامل الاسماء** نو دلته غلطه ده صحیح داده چي تر الثاني لاندي ولیکل سي.

قوله الدرر نحو ددي ځایه څخه تر قوله پوری دشارح دري غرضه دي ❶ اول به معاني لغويه دنحو بیان کړي او اشاره به وکړي وه مقام او فضيلة ته دعلم نحو ❷ به وجه دتسمیه دغه علم په نحو سره بیان کړي ❸ به تعریف اصطلاحي دعلم نحو بیان کړي

حاصل داول غرض دادی چي لفظ دنحو به نه (۹) معناګانو سره راځي ❶ قصد❷مثل❸اړول❹طرف❺قسم❻اندازه❼قوم❽ساتل❾ليري کېدل.

حاصل دوېم غرض دا چې دغه علم ته ځکه علم نحو وايي چې نحو په معنی سره دصيانة راځي نو همدارنګه په دغه علم سره صيانة دذهن دمبتدي کيږي دلفظي خطاء څخه.

حاصل دريم غرض داچې علم نحوبه اصطلاح کي دېته وايي (عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ أَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلٰثِ مِنْ حَيْثِ الْإِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةُ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ).

توضيح النکات

قوله صرفت لوړه نکته ده ای گردانیدم چشم خودرا بسوی تو غرض دناکت دفع دتوهم ده چې صرف خو په معنی سره دتغير راځي نو دلته يې ذکر نه دی مناسب؟

ناکت ځواب ورکړي ای گردانیدم الخ حاصل يې دادی چې صرف دلته په معنی سره دتغير نه دی بلکه په معنی سره دګر دانيدن پهېر دی.

قوله النحويون لوړه نکته ده ای عالمان بعلم نحو غرض دناکت اشاره کول دي دې خبري ته چې الف لام عوض دی دمضاف اليه څخه تقدير يې داسي کيږي ای عالمان بعلم نحو عربي تقدير يې داسي کيږي اذا جاء علماء النحو يوم القيامة الخ.

قوله کلامي لاندې نکته ده وهو القرآن المجيد غرض دناکت دفع داحتمال دغير ده ځکه تورات او انجيل او زبور هم کلام دالله تعالى دي او مراد دلته قرآن مجيد دی بل شی نه دی.

قوله عن الخطاء لوړه نکته ده **في الاعراب** غرض دناکت احتراز کول دي دهغه خطاء څخه چې هغه راځي به فکر کي یا په معنی کي یا په نورو کي څکه صيانة داول قسم خطاء څخه هغه غرض دعلم منطق دی او صيانة ددوهمي خطاء څخه هغه غرض دعلم بيان او علم معاني دي.

قوله الفقهاء لوړه نکته ده **في بحث الفقه** نو لفظ دالفقه غلط دی صحيح دادی چې دارنګه وليکل سي في بحث الغسل.

قوله يعرف لوړه نکته ده معنى تَيَقّن غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۴۹) چې لفظ ديعرض مشتق دی داعراض څخه معنی یې ده روی ګرانیدل نو پدغه معنی سره مقصود نه آداء کيږي څکه مقصود دلته تباعد دغاسل دی دمغتسل(دغسل ځای) څخه نه دی مقصود مخ اړول وه بل جهة ته؟

ناکت ځواب ورکړي چې معنى تَيَقّن حاصل یې دادی چې اعراض دلته په معنی سره دجلاوالی دی دمغتسل څخه.

قوله وفي الاصطلاح لوړه نکته ده **اى اصطلاح النحو** غرض دناکت اشاره کوي دي خبري ته چې لام په لفظ کي دالاصلاح لپاره دعهد دی معهود یې اصطلاح دنحو ده.

اولاندې هم نکته ده **عطف على قوله في اللغة والتقدير هو في الاصطلاح** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۵۰) چې داقول فی الاصطلاح جار او مجرور دی نو جار او مجرور لره به اعتبار دمتعلق سره لابدي ده داعراب محلي ځخه نو دلته يې اعراب محلي څه دی؟

ناكت ځواب وركړی چې اعراب يې رفع ده بناء پر دې چې مبتداء ده خبر يې محذوف دی ځکه داعطف دی پر دې قول باندې چې فی اللغة او دافی اللغة خبر دی لپاره دهو چې مخکې پروت دی نو فی اللغة خبر وو لپاره دهو نو فی الاصطلاح خبر بعد الخبر دی دهو .

قوله وكيفية لاندې نكته ده **بالرفع معطوف على احوال** غرض دناكت بيان كول دي داعراب ددې قول چې وكيفية نو دامعطوف دی پر على احوال باندې ځکه احوال مرفوع دی ځکه نائب فاعل دی لپاره ديعرف .

قوله صدبأشد الخ ددې قوله څخه دوېم قول پورې دشارح څلور اغراض دي ❶ به اجمالا اختلاف بيان كړي دسيبويه او اخفش په عواملو كې ❷ دوېم به اظهار دعامل مختلف فيه وكړي به مابين دسيبويه او اخفش كې ❸ به تفصيل ددومذهبينو وكړي ❹ به تعين دمعتمدعليه قول عند الناظم وكړي .

حاصل داول غرض دا چې په تعداد كې دعواملو اختلاف دی دسيبويه او اخفش تر منځ سيبويه وايي عوامل تول ټال سل (۱۰۰) دي او اخفش وايي عوامل (۱۰۱) دي .

حاصل ددوېم غرض دا چې مختلف فيه عامل دسيبويه اواخفش تر منځ هغه عامل معنوي دی په لفظي عواملو كې سره متفق دي.

حاصل ددریم غرض دادی چې دسیبویه په نیز عوامل معنوي دوه دي یو په مبتداء او خبر کي دی بل په فعل مضارع کي دی او په نیز داخفش عوامل معنوي درې دي ❶ په مبتداء او خبر کي دی ❷ په فعل مضارع کي دی ❸ په توابعو کي دی.

حاصل دخلرم غرض دادی چې معترض وايي چې داخفش په نیز عوامل یو سل او یو سوه نو ناظم ولي صد باشدوويل؟

شارح په ځواب وکړي څنګه چې مذهب دسیبویه اظهر او حق وو نو ناظم مذهب دسیبویه مختاره کړي.

توضیح النکات

قوله والخلاف فی المعنوی لاندي تر والخلاف نکته ده داسي نویشته سوبده والاسیبویه واخفش دارقم غلطه ده صحیح داسي ده بين سيبويه واخفش.

قوله فعندسیبویه لاندي نکته ده **الفاء لتفصیل الاختلاف** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (١٥١) چې فاء په عبارة کي ذکر سي نو متبادر ورځني فاء جزائیه وی او داقتضاکوي دفعل شرط او دحرف شرط نودلته یو هم نسته؟

ناکت ځواب وکړي چې فاء دلته جزائیه نه ده بلکه فاء تفصیلیه ده.

قوله من الصفة والتاكيد لوړه نکته ده **بيان التوابع** غرض دناكت دادى چي لفظ دمن دلته بيانيه دى تبعيضيه نه دى او لاندي تر تاكيد نكته ده ناظم دلته غلطه ده صحيح داسي ده چي دلاندي ليكي په آخر كي دقوله پر ضمير باندي پر ته ده غرض دناكت تعين دمرجع دضيمر دقوله كوي.

قوله وغيرها لوړه نكته ده **كالمعطوف وعطف البيان** غرض دناكت تفصيل دغيرها كوي.

قوله شيخ عبدالقاهر تر دويم قوله پوري دشارح غرض دفع داعتراض ده

سوال نمبر (١٥٢) چي ناظم ولي دعواملو اضافة عبدالقاهر ته وكړي كه وجه وي بيان يې كړه كه نه نوداستاكار په قوت كي دخطاء دى؟

شارح يې ځواب وكړي دوې وجهي سته ❶ داكه مي اضافة شيخ ته نه واى كړى نو به دعواملو مصنف مجهول واى نو چي مصنف يې مجهول سو نو هر زماغوندي كم علمه به يې ځان ته نسبت كوي ❷ وجه داده چي كه مي نسبت شيخ ته نه واى كړي نو به عوامل دقبول ددرجې څخه وتلي واى.

قوله جر جاني پيرهدى ددويم قوله پوري دشارح څلور غرضه دي ❶ به دجر جاني اصل او اعلاك ذكر كړي ❷ به دفع داعتراض وكړي ❸ به دځواب دتائيد لپاره دوه شاهدان ذكر كړي ❹ به دجر جاني په مصداق كي دري قوله ذكر كړي.

حاصل داول غرض دادی چې اصل دجر جاني ګرګاني وو بيا کاف په جيم بدل سو .

حاصل ددويم غرض دا چې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۵۳) چې ته وايې چې دجر جاني اصل ګر ګاني وو ددې لپاره څه اصل او قاعده سته که وي بيان يې کړه؟

شارح يې ځواب وکړي چې **هذا قياس** الخ يعني دا په عربي کلمو کې قاعده شائعه ده چې کاف په جيم او(چ)په شين سره بدليږي .

حاصل ددريم غرض دادی چې پر ابدال دکاف په جيم سره دوه شاهدان دي ❶ نجام دی چې اصل يې لګام وو ❷ شاهد نر جس دی چې اصل يې نرګس وو .

حاصل دڅلرم غرض دادی چې مصداق دجرجان کې درې قولونه دي يوداچې جرجان دښېر ازدکلو څخه يو کلی دی دويم قول دا چې داداستر اباددکلو څخه يو کلی دی دريم دا چې جر جان دخوارزم دکلو څخه يو کلی دی اُو داقول ضعيف دی ځکه شارح په قيل سره تعبير ځني وکړي .

توضيح النكتتين

قوله هذا قياس لاندې نکته ده ای **ابدال الكاف بالجيم** نو لفظ دکاف غلط دی صحيح داسې دی ابدال الكاف غرض دناکت تعين کول دي دمشار اليه دهذا چې مشار اليه يې رافهميږي ددې قوله څخه بدلت ځکه مبدأ دمشتق څخه رافهميږي .

قوله قياس مطرد لوړه پر مطرد نكته ده اى **شائع** غرض دناكت دفع دتوهم ده چي مطرد په كسره دميم او سكون دطاء سره په معنى د(بر چي) راځي نو دلته يې ذكر كول نه دى مناسب؟

ناكت ځواب وركړي چي مطرد صيغه داسم آلې نه ده بلكه صيغه داسم فاعل ده دباب څخه دافتعال په معنى سره دشائع دى .

بيت

معنوى از وى دو باشد جملہ ديگر لفظى اند = باز لفظى شد سماعى و قياسى اى فتا

دلته غرض دناظم تقسيم كول دمطلق عامل چي مطلق عامل پر دوه قسمه دى ❶ معنوى ❷لفظي بيا لفظي پر دوه قسمه دى ❶ سماعي ❷ قياسي اوس معترض اعتراض كوي

سوال نمبر(۱۵۴) چي ناظم ولي شروع په تقسيم دعواملو وكړه داخو اشتغال بمالايعني دى ځكه مقصود خو بيان دعوامل نحويه و و دى نه تقسيم؟

ځواب: تقسيم يې مخكې كړي پر تعريف باندي داپاره دسهولت وه مبتدي ته .

سوال نمبر (۱۵۵) چي تقسيم دي وكړي ولي دي مساوات نه وكړي چي يو نيوي (۹۱) دي معنوي كړل اته(۸) دي لفظي كړل ؟

ځواب : داتقسيم سماعي دمتقدمينو علماو څخه داغه رنګه رانقل سوى دى .

قوله معنوی ازوی دو ماشد الخ ددې قوله څخه تر دويم قوله پورې دشارح دوه غرضه دي ❶ يه شارح دناظم دغرض تشريح وكړي ❷ يه شارح دمعنوي او لفظي تعريف وكړي.

حاصل داول غرض دادى چې غرض دناظم دادى يه نظم كې چې ناظم اشاره كوي تقسيم ته دعواملو ومعنوي اولفظي ته بيا لفظي وه سماعي او قياسي ته.

حاصل ددويم غرض دادی چې معنوي په اصل كې معنی وو معنی صيغه دمصدر يا ظرف ده نو چې كله مورړ (ي) دنسبة ورپورې ملحقه كړي نوالف مقصوره په واو سره بدل سو په قاعده سره دنسبت

قاعده : په كومه كلمه كې چې الف مقصوره څلرمْ ځاى راسي نو په واو سره بدليږي لكه مَعْنَوِيٌّ مَوْلَوِيٌّ اوكه څلرم ځاى نه وو راغلى نو الف مقصوره حذف كيږي لكه مُصْطَفِيٌّ مُرْتَضِيٌّ په اصل كې مصطفى او مرتضى وو نو دمعنوي معنى ده منسوب بسوئي معنى نو معنى په لغت كې مطلق قصد كولو ته وايي او په اصطلاح كې دي ته وايي (مَايُدْرِكُ بِالْقَلْبِ وَلَايُتَلَفَّظُ بِهِ) لكه په مبتداء او خبر كې لفظي معنى منسوب بسوئي لفظ او لفظ په لغت كې مطلق رمي (ويشتل) ته وايي او په اصطلاح كې عامل لفظي (مَايُدْرَكُ بِالْقَلْبِ وَيُتَلَفَّظُ بِهِ) لكه نواصب او جوازم.

توضيح النكات

قوله فی الشرح فالاول لوړه نكته ده اى الذى العامل المعنوى بدغه نكته كې لفظ دالذى سهوه دكاتب ده.

قوله كما فى المبتداء والخبر لوړه تر كما نكته ده **اى كالعامل فى المبتداء والخبر**

غرض دناكت اشاره كول دي دي خبري ته چي ما موصوله دى په معنى دالذي دى تقدير يې داسي كيږي **اى كالذي يعمل فى المبتدأ والخبر** .

قوله حيث لوړه نكته ده **تعليل الوجود العامل** الخ نو په الوجود كې الف غلط دى ځكه معرف باللام نه مضافيږي صحيح دادى چي تعليل لوجود العامل الخ .

قوله بأز لفظى شن سماعئ له دي قوله څخه تر دويم قوله پورې دشارح دري غرضه دي اول ل په تقسيم دعامل لفظي وكړي دوو قسمونو ته ❷ په دهر يوه تعريف وكړي ❸ په يو اعتراض رانقل كړي چي پر ناظم وارديږي ورووسته به يې دوه ځوابونه وكړي يو منعي بل تسليمي.

حاصل داول غرض دا چي عامل لفظي پر دوه قسمه دى ❶سماعي ❷قياسي .

حاصل ددويم غرض دا چي سماعي يعني منسوب بسوئي سماع نو سماع په لغة كې مطلق اوريدلولو ته وايي او په اصطلاح كې دېته وايي چي **(مَايُسْمَعُ مِنَ الْعَرَبِ وَلَا يُقَاسُ عَلَيْهِ شَيْءٌ آخَرُ)** او قياسي يعني منسوب بسوئي قياس او قياس په لغة كې مطلق برابر وولو ته وايي او په اصطلاح كې **(مَايُسْمَعُ مِنَ الْعَرَبِ وَيُقَاسُ عَلَيْهِ شَيْءٌ آخَرُ)** .

حاصل ددريم غرض دادى چي معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (١٥٥) چي څه وجه ده چي ناظم عامل لفظي تقسيم كړى سماعي او قياسي ته معنوي يې نه كړى تقسيم؟

اول ځواب پر طريقه دمنع دی چي نه منم چي معنوی نه دی تقسيم سوی ځکه ناظم تقسيم دقسمو وکړي نو داعين تقسيم دمقسم دی گو يا مطلق عامل تقسيم سو سماعي او قياسي ته ځکه چي مقسم په ضمن کي دقسمونو داخل دی گواکي معنوی هم تقسيم سو قياسي او سماعي ته دويم ځواب پر طريقه دتسليم دی که او منم چي معنوی نه دی تقسيم سوی دادوو قسمونو ته نو داپيا نه منم چي په معنوی کي سماعي او قياسي دواړه راتلای سي بلکه معنوی دسره سماعي راتلای نه سي يوازي قياسي دی دليل يې شارح داوايي چي عامل په مبتداء او خبر کي معنوی قياسي دی ځکه دوی دواړه داخل دي لاندي تر يوي قاعدي کليي هغه دا چي (كُلُّ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٌ) نو چي تر قاعدي لاندي راغله نو قياسي سوه نه سماعي ليا محشي اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۵۶) چي مبتداء او خبر خو فاعلين نه دي نه ځنګه واپي چي لاندي تر قاعدي دفاعل دي؟

ځواب: چي فاعل عام دی حقيقتاً وي که حکماً نومبتداء او خبر که حقيقتاً فاعلين نه دي بلکه حکماً فاعل دي ځکه لکه فاعل چي رکن په کلام کي وي همدارنګه مبتداء او خبر هم رکن دي په کلام کي.

توضيح النكات

قوله وقياسی لوړه نکته ده ای العامل السماعی دلته نه ده بلکه پر فالاول باندي پر ته ده.

قوله ماياًل لوړه نکته ده حال غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۵۷) چي بال ځو پره ته ويل کيږي نو دلته يې ذکر نه دی مناسب؟

ناکت ځواب وکړی چي مراد دلته دبال څخه حال دی نه زړه لکه عرب چي وايي ما بالک يعني ما حالک.

قوله الناظم حيث لاندي نکته ده **السماعي والقياسي** دلته غلطه ده صحيح داده چي په لاندي ليکه کي پر عنهما باندي نويشته سي او لاندي ددوولسو وروسته لفظ دعَن نويشته دی دا هم ددغه نکتي په اول سر کي لکيږي نو نکته دارنګه سوه عن السماعي والقياسي.

قوله امهل لاندي نکته ده **اى ترک** غرض دناکت دفع دتوهم ده چي امهل مشتق دی دمهلة څخه معنی يې ځنډ ده دلته يې ذکر کول نه دی مناسب؟

ناکت ځواب وکړي **اى ترک** حاصل يې دادی چي امهل فعل ماضي صيغه ده په معنی سره دترک راځي هغه امهل نه دی چي هغه اسم فعل دی.

قوله ايضا لوړه نکته ده **اى كالنظم** دارنګه غلطه ده صحيح داسي ده اى كاللفظي او لاندي تر عنهما نکته ده كما هو الظاهر دلته غلطه ده صحيح داسيده چي تر ايضا لاندي نويشته سي.

قوله فيهما لوړه نکته ده **السماعي والقياسي** نو دارنګه غلطه ده صحيح داسي ده اى في السماعي والقياسي ځکه دابه هلته صحيح کيداى که دتقسيم خبره وای بلکه دادخول خبره ده.

قوله اى فعلا غرض دشارح فائده بيانوي دلفظ دفتاحاصل يې داچي ددي لفظ فائده داده چي قافيه دبيت سره برابره سي.

توضيح النكتتين

قوله اورد داعبارة داسي غلط دى يعني به الف مقصوره سره صحيح داسي دى چي مدخني غوځارکه نو به داسي سي اوردنوخبره به سمه سي.

قوله القافية لوره نكته داسي نويشته ده كلمه اخركه شعرى ان درست نباشد داسي غلطه ده صحيح داسي ده كلمه آخر كه بى آن الخ.

بيت

زان نودو يك دان سماعي هفت ديگر بر قياس = آن سماعي سيزده نوع است بى روى وريا

غرض دناظم تقسيم دعواملو لفظيه كوي قسمينو ته چي سماعي يونيوي(۹۱) دي او قياسي اوه(۷) دي بيا سماعي ديارلس (۱۳) نوعي دي.

په بيت كي چي زان دى دلته نكته ده اى از عوامل لفظيه غرض دناكت تعين دمرجع دزان كوي ځكه په فارسي كي زان داسي دى لكه په عربي كي منها.

قوله زان نودو يك الخ تر دويم قوله پوري غرض دشارح ترجمه كوي داول نيم بيتي.

قوله آن سماعي سيزده نوع الخ تر دويم قوله پوري دشارح (۲) غرضونه دي ❶ به ددويم نيم بيتي ترجمه وكري دويم به دفع داعتراض وكري

سوال نمبر (۱۵۷) چې مصنف ولي انواع سماعيه په ديارلس نوعو کې حصر کړه نه يې زياتي نه يې کمي کړي؟

شارح يې ځواب وکړي **انماانحصر المصنف الخ** حاصل يې دادی چې دعوامِلو سماعيه وو نوعية چې دی هغه دعمل ديووالي په وجه دی ځکه حروف جاره اوولس(۱۷) داسي حروف دي چې عمل دټولو يو شان ته وو همداډول حروف مشبه بأفعل شپږ داسي حروف وه چې به عمل کې سره يو وه نو دابله نوع سوه داسي دانوري نوعي هم دي.

توضيح النكات

قوله الانواع لوړه نکته ده ای **انوع العوامل السماعية** غرض دناکت اشاره کوي دي خبري ته چې الف لام په الانوع کي لپاره دعهد دی او معهود هغه انواع دعوامل سماعيه ؤ دی.

قوله فيها لاندي نکته ده ای **فی الثلاثة عشر** په الثلاثة کي الف لام غلط دی ځکه ابن حاجب وايي چې مضاف به خالي وي دالف لام تعريفي څخه.

قوله وتوافقهما لاندي نکته ده **عطف تفسير لاتحاد** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې کله معنی دتوافق او اتحاد سره متحده سوه نو ذکر ديوه وروسته تر بل مستدرک دی؟

ناکت ځواب ورکړي استدراک نسته ځکه توافق عطف تفسير دی لپاره داتحاد:

قوله هذا القياس لاندي نکته ده ای **حروف جارة وحروف مشبهة الخ** دانکته دلته غلطه ده صحيح داسي ده چې تر فجعلت لاندي نوېشته سي.

النوع الاول

نوع اول بهده حرف جر بود میدان یقین = کاندرین یک بیت آمد بی چون وچرا

با وتا وکاف لام واو منذ ومذ خلا = رب حاشا من عدا فی عن علی حتی الی

دلته غرض دناظم تعین دتعداد دنوع اول دعواملو کوي .

توضيح النكتة

داقول د ناظم چي نوع اول لوره نكته ده نوع بمعنی گونه غرض دناكت دفع دتوهم ده چي نوع مطلق ذكر سوه نو داخو شامله سوه منطقي نوعي لره نو هغه معنی دلته مراد ول نه دی مناسب؟

ناكت ځواب وركړي چي نوع دلته په معنی سره دقسم ده نه ده په معنی منطقي سره .

قوله واعلم انها علی ثلاثة اضرب الخ تر دويم اعلم پوري دشارح دوه غرضه دي ❶ به تقسيم دحروف جاره وكړي ❷ به دفع دتوهم وكړي.

حاصل داول غرض دادی چي حروف جاره په اعتبار دخپل ذات سره پر دري قسمه دي ❶ اول دادی چي حروف جاره په ټولو احوالو كي حروف وي نه اسماء او نه افعال وي دانه (۹) حروف دي ❷ هغه حروف جاره دي چي په بعضو احوالو كي حروف وي په بعض كي اسماء وي داپنځه حروف دي ❸ دريم دادی چي په بعض احوالو كي حروف وي په بعض احوالو كي افعال وي دادري حروف دي اوس معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (۱۵۸) چې ستادغه تقسيم منافي دی ددې قول سره ستا چې ته وروسته وايې چې الحروف الجارة حروف لا اسماء ولا افعال داخو نه دی بلکه تعارض دی؟

دهغه ځواب دادی چې حروف جاره وو لره دوه حيثيته دي ❶ حيثية ذدات دی ❷ حيثية داستعمال دی نو حروف جاره په اعتبار دذات حروف دي نه اسماء دي نه افعال دي په حيثيت داستعمال سره کله حروف وي کله افعال کله اسماء.

حاصل ددويم غرض دادی چې واهم به داوهم کوي چې دانقسيم دحروف جاره چې تاوکړي دابه تادخپل ځانه کړي وي دي ته خو اعتبار نسته؟

شارح به يې ځواب وکړي چې **کذافی غاية التحقيق** حاصل دا چې داتقسيم ما دخپل فکر څخه نه دی کړي بلکه دکافيې دمشهوري شرح غاية التحقيق څخه مې اخذ کړي دی.

توضيح النكتة

قوله اضرب لاندې نکته ده ای اقسام فی الصراح الخ غرض دناکت دفع دتوهم ده واهم به وهم کوي چې اضرب يا خو دواحد متکلم مضارع صيغه ده يا داسم تفضيل صيغه ده ځکه چې ظاهراً اعراب وربانديې نسته؟

ناکت يې ځواب وکړي چې نه صيغه دمتکلم ده نه داسم تفضيل ده بلکه داسم جامد دی جمع ده په معنی داقسام سره دی او ددې معنی دنور تائيد او صحت لپاره به دلغتو معتمد کتاب ته حواله وکړي چې کذا فی الصراح.

قوله اعلم ان العوامل اللفظية الخ ددي عُبارت نه مخكې دا ګڼاكان پورې دشارح درې غرضه دي ❶ په اجمالا تقسيم دعواملو لفظيه سماعيه ؤ وكړې ❷ په حروف عامله ؤ او اسماء عامله ؤ دفرعيه دوه دليلونه ذكر كړي ❸ په تقسيم دعواملو سماعيه ؤ وكړي تفصيلا (۱۳) نوعو ته.

حاصل داول غرض داكړى چې عوامل لفظي سماعي پر درې قسمه دي ❶ افعال عامله ❷ اسماء عامله ❸ حروف عامله.

حاصل دويم غرض دا چې افعال عامله په عمل كولو كې اصل دي دليل يې دادى چې ددوى وضع دعمل لپاره راغلي ده او اسماء عامله او حروف عامله فرع دي په عمل كولو كې يو دليل يې دادى چې دوى دفعل سره دمشابهة په وجه عمل كوي دويم دليل يې دادى چې دوى چې عمل كوي څكه چې دعربو څخه يې سماع سوي ده.

حاصل دريم غرض دادى چې حروف عامله شپږ نوعي دي اسماء عامله دري نوعي دي افعال عامله څلور نوعي دي نو شارح دوه تقسيمه وكړه دلته معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (۱۵۹) چې څه وجه ده چې شارح رحمة الله عليه په اول تقسيم كې افعال مخته كړه پر حروفو او اسماوو باندې او په دويم تقسيم كې يې حروف مخكې كړه پر افعالو او اسماوو باندې څكه ويې ويل چې فالحروف العوامل ستة انواع الخ؟

حاصل دځواب دا چې شارح په اول تقسيم كې نظر وكړي اصلية او فرعية ته دعمل نو افعال اصل وه په عمل كې نو اصل مقدم وي پر فرعه باندې او په دويم تقسيم كې يې نظر وكړي وه قلت او كثرت ته نو حروف كثير وه نسبة افعالو او اسماوو ته.

توضيح النكات

قوله اعلم لاندي نكته ده **تمهيدالي وجود تقديم الخ** غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۶۰) چي اعلم يوه كلمه ده چي ذكر كيږي په اول كي دكلام لپاره دايقاظ دغافل پر سوال باندي او كله ذكر كيږي دپاره دايقاظ دغافل پر ځواب باندي دسوال څخه او كله ذكر كيږي لپاره دتفصيل دما اجمل او كله بيا ذكر كيږي لپاره دايقاظ دغافل پر بيان دامر جديد نو دلته دكومه قسم مرادي؟

ناكت ځواب وركړي **تمهيد الي الخ** حاصل يي دادي چي اعلم دلته لپاره دتفصيل دما اجمل دي نو پدانكته كي لفظ دوجود غلط دي بلكه لفظ دوجوده دي.

قوله كما سلذ كره لاندي نكته ده **اي عملها من حيث المشابهة او السماع** غرض دناكت دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۶۱) چي مرجع دلته دوه شيان دي يو مشابهة الفعل دي بل سماع ذي نو پر شارح باندي لازمه وه چي دارنګه يي ويلي وای سنذكر هما؟

ناكت ځواب وركړي چي ضمير دسنذكر راجع دي وه عمل ته دجهته دمشابهة يا دجهته دسماع

قوله من متى مهما الخ لاندي نكته ده **تمثيل الاسماء المتضمنة لمعنى الشرط** غرض دناكت توضيح كول دي دمثل څكه چي كله شارح اسماء عوامل تقسيم كړه وه درو

اقسامو ته او مثال يې بو ووائي نو پر سامع باندې خفي سوه چې دادکوم يوه مثال دی ددې دروا قسامو څخه ناکت يې توضيح وکړه **تمثيل الاسماء الخ** .

قوله ولما كان الحروف الخ له دې ځايه تر **فما يدخل على الاسم** پورې دشارح دوه غرضه دي ❶ دفع داعتراض کوي ❷ تقسيم دحروف عامله وو کوي.

حاصل داول غرض دادی چې معترض اعتراض کوي پر ناظم باندې شارح به يې په لماکان سره ځواب وکړي

سوال نمبر (۱۶۲) چې څه وجه وه چې ناظم په نظم کې حروف مقدم کړه پر اسماؤو افعالو باندې سره له دې چې اسماء او افعال مستقل دي او حروف غير مستقل دي؟

شارح به يې ځواب وکړي چې **لما كان الحروف كثيرة الخ** حاصل دځواب دادی چې ناظم حروف مقدم کړه پر اسماء اوافعالو باندې ځکه چې حروف کثيرة الانواع وه نو دير ښت لره عزة وي.

حاصل ددويم غرض دادی چې حروف پر څلور قسمه دي❶دادي چې پر دووشيانو داخليږي ❷ دادي چې پر يوه شي داخليږي ❸ دادي چې پر اسم واحد داخليږي ❹ دادي چې پر فعل واحدداخليږي نو هغه حروف چې پر اسم واحد داخليږي هغه تر نورو ټول اقسامو مخته دي لکه حروف جاره.

توضيح النكتتين

قوله كالحروف المشبهة لاندې نکته ده **فانها تدخل على** نو دلته یو **على** مکرر راغلی دی ضرورت یې نسته .

قوله وهذا على نوعين لاندې نکته ده **اى مايدخل على شئ واحد** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې لفظ دهذا وضع سوې دې لپاره دمفرد مذکر او مخکې حروف ذکر سوی دی چې داخليږي پر شئ واحد باندې نو بيا يې څنګه په هذا سره اشاره ورته کوي؟

ناکت ځواب وکړي **اى ما يدخل** نو مشار اليه لفظ دما دی نولفظ دما مفرد دی .

قوله فما يدخل على الاسم الخ ددې ځايه تر **وفى بعض النسخ الخ** پورې غرض دشارح دفع داعتراض ده چې پر ناظم واريدېږي

سوال نمبر (١٦٣) چې کله حروف پر څلور قسمه سوه نو ناظم ولې هغه قسم چې پر اسم واحد داخليږي پر نورو تولو اقسامو مخته کړه؟

شارح به يې اول داځواب وکړي چې **فما يدخل** الخ حاصل يې دادی چې عامل داسم واحد يې پر نورو مخکې کړی ځکه اسم اصل دی نسبة فعل او حرف ته ځکه داسم څخه کلام تام جوړيږي دنورو څخه نه جوړيږي نو عامل داسم هم اصل دی نسبة نورو عواملو ته .

دويم ځواب به داسې وکړي چې **ثم ما يدخل على الاسم الخ** حاصل يې دادی چې هغه حروف چې پر اسم واحد داخليږي دا پر دوه قسمه دي ❶ چې عمل يې اتفاقي وي ❷ چې

عمل یې اختلافي وي نو اتفاق اصل دی نسبة اختلاف ته نو یې مُحکه حروف جاره مخکې کړه مُحکه دوی عمل اتفاقي دی .

توضيح النكتة

قوله اتفاقيا لوړه نکته ده ای **باتفاق النحاة** غرض دناکت اشاره کول دي دي خبري ته چې داتفاق او اختلاف اسناد سوی دی نحاتو ته نه دی سوی اسماؤ ته همدرانګه په باقي کي .

قوله ثم بالحروف النواصب ثم بالحروف الجوازم نو پر دغه قولینو دشارح چې بالحروف لوړي نکتي لیکل سوي دي ابتداء دا چې دثم او بالحروف تر منځ نویشته سي ښه به وي .

قوله وفي بعض النسخ اورد الخ له دې ځایه تر **فاذاعرفت** پوري دشارح دوه غرضه دي ❶ دا چې اشاره کوي تعدد ته دنسخیتینو ❷ رد کوي پر یوه نسخه باندې .

حاصل داول غرض دادی چې په شمه کي دوې نسخې دي په یوه نسخه کې حروف جاره مخکې دي پر حروف مشبه بالفعل باندې لکه داموجوده نسخه چې ده دوهمه نسخه داده چې حروف مشبه بالفعل وروسته دي تر حروف جاره .

حاصل دوهم غرض دادی چې معترض پر دادوهمه نسخه باندې رد کوي چې مناسبه خو داوه چې حروف مشبه بالفعل یې وروسته تر حروف نداء ذکر کړي وای مُحکه حروف نداء دواخلو څخه داسم واحد دي او حروف مشبه بالفعل دواخلو څخه داسمینو دي نو یو مخکې وي تر متعدد ؟

محشي بې دوه ځوابونه کړي دي اول ځواب پر طريقه دمنع دی چې نه منم چې داراوړل بې ځايه دي ځکه کوم ځا چې حروف مشبه بالفعل رامخته کړي دي نظر بې کړي دی قوة ته ځکه دوه قوي وي تر يوه دويم ځواب پر طريقه دتسليم دی چې که او منو چې دحروف مشبه بالفعل راوړل وروسته تر حروف نداء بې ځايه دی نو بيا داوايم چې داکار ناظم نه دی کړي بلکه داغلطي دکاتب ده .

توضيح النكتتين

قوله بعض النسخ لاندې نکته ده، **اى نسخ نظم مائة** غرض دنناکت اشاره کوي دې خبرې ته چې مراد دنــخو څخه نسخې دنظم دی نه دشرح نو دلته دمأة وروسته عامل لفظ غواړي ځکه ابهام لازم نه سي پداډول اى نسخ نظم مأة عامل .

قوله ليس بمحله لاندې نکته ده **اى محل المذكور من الحروف المشبهة** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۶۳) چې ضمير دمحله راجع دی حروفو ته نو مطابقة نه راغلی په مابين کې د مرجع او راجع په افراد او جمع کې ؟

ناکت ځواب وکړی **اى محل المذكور الخ** حاصل بې دادی چې حروف مأول دي په تأويل د مذکور سره نو بيا واهم وهم کوي چې مذکور خو دکتاب د شروع څخه بيا تر دا ځايه پوري نو ر توله په غير محل کي دي ؟

ناكت ځواب وركړي پدې قول سره **من الحروف** آه حاصل يې دادی چې مراد دمذكور څخه حروف مشبهة بالفعل دي.

قوله فاذا عرفت هذا له دې ځایه تر راروان اعلم پورې دشارح دري غرضه دي ❶ په اشاره وكړي تو قف ته دداورو ستني بحث پر مخكني بحث باندې ❷ په توضیح ددغه نوع وكړي په ذكر كولو سره دېنځو خبرو ❸ په دوي وجهي دتسمیې دحروف جاره وكړي پدغه نامه سره.

حاصل داول غرض دا چې راروان بحث كوم چې دحروف جاره ؤ په باره كې كيږي داموقوفه دی تر مخكني بحث پورې چې كله مخكې بحث په ذهن كې قرار ونيسي نو بيا دوروسته بحث به ښه پوه سي داغرض يې پداقول كې اداء كړي چې فاذاعرفت هذا فاعلم.

حاصل ددويم غرض دا چې حروف جاره په خپل ذات كې حروف دي نه اسماء دي نه افعال عددېي (۱۷) دي دلته معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (۱۶۴) چې عدد دحروف جاره مخكې معلوم سو پداقول كې چې (ففي الحروف الجارة يو جد اتحادفي العمل فی سبعة عشر حرفا جعلت نوعا) نودلته يې بیاولي عدد ذكر كړي؟

ځواب عدد يې دويم وارذكركړي لپاره دبيان داختلاف په عدد كې په مابين كې دجمهورو علماوو او ابن حاجب جمهوروليي چې حروف جاره (۱۷) دي او ابن حاجب وايي (۱۸) دی هغه (واو ربَّ) يې ورزيات كړي دی چې په معنی دربَّ سره وي او په واو كې دربَّ اختلاف دی په نيز داخفش او كوفيينوبنفسهاجاره دي په نيز دسيبويه جاره دی په واسطه دربَّ مقدر

سره څکه دده په نیز حروف جاره پر دوه قسمه دي ❶ جاره بنفسه ❷ جاره پر طریقه داستلزام نو واو هم مستلزم دی رُبّ مقدر لره.

حاصل دخلرم غرض دادی چي حروف جاره پر اسم واحد باندي داخليږي اوس معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۶۵) چي نه منم چي حروف جاره پر اسم واحد داخليږي ځکه په قام زَيْدٌ لِيُصَلِّيَ کي لام داخل سوی دی پر یصلی باندي یصلي مضارع صيغه ده؟

شارح يې ځواب وکړی چي **مدخولها اسم حقيقة كزيد قائم او تأويلا نحوقام زيد ليصلي.**

حاصل دځواب دادی چي دلته دلام وروسته أن مصدريه مقدر دی مدخول په تأويل دمصدر سره أړه وي نو دخول يې صحيح سو او داحروف مدخول ته جر ورکوي او نو مونه يې خلور دي ❶حروف جاره ❷ حروف اضافة ❸حروف ربط ❹ حروف معاني

حروف اضافة يې ځکه بولي چي بعض ددوی څخه مقدر کيږي په وخت داضافة کي نو داتسميه دکل ده په اسم سره دجزء حروف ربط يې ځکه بولي چي دوی رابط دي په مابين کي داسم او اسم او وو فعل لکه زيد على السطح او لکه مررت بزيد حروف معاني يې ځکه بولي چي دهر یوه لپاره جدا جدا معنی سته .

حاصل ددریم غرض د اچي حروف جاره ته ځکه جاره وايي ❶ دا چي دوی هم مدخول ته جر ور کوي نو جر اثر دحرف جر دی داتسمیه دمؤثر ده په اسم داثر سره بدلته معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۶۶) چي نه منم داتسمیه دمؤثر ده په اسم داثر سره ځکه داثر نوم جر دی او دحروفونوم خو جر نه دی بلکه جاره دی؟

شارح یې ځواب وکړی چي داتسمیه دمؤثر ده په نامه دمشتق داثر سره چي هغه جاره دی ❷ وجه داده چي حروف جاره ته جاره ځکه وایي چي جار مشتق دی دجر څخه جر وایي کشولو ته نو حروف جاره هم معنی دفعل اوشبه فعل کشوي خپل مدخول ته .

توضیحَ النکات

قوله لیصل لوړه نکته ده **اذا صله لان یصلی بتقدیران ناصبة مصدریة** غرض دنکات اشاره کوي قاعدي مشهوري ته هغه دا چي لفظ دأن مصدریه چي کله داخل سي پر مضارع باندي نو مضارع په تأویل سره دمصدر کرځوي.

قوله فلایرد لاندي نکته ده **تفریع علی قوله باسم المشتق منه الاثر** غرض دنکات دفع داعتراض ده

سوال نمبر(۱۶۷) چي فاء کله جزائیه راځي کله تفصیله راځي نو دلته یوه معنی هم نه صحیح کیږي فاء جزائیه نه صحیح کیږي ځکه فاء جزائیه فعل شرط او جزاء غواړي دلته یو

هم نسته فاء تفصيليه هم نه صحيح كيږي ځكه فاء تفصيليه مخكې اجمال غواړي دلته يو هم نسته فاء تفصيليه هم نه صحيح كيږي ځكه فاء تفصيليه مخكې اجمال غواړي دلته اجمال نسته؟

ناكت ځواب وركړي **تفريع الخ** حاصل يې دادی چې فاء دلته لپاره دتفريع ده نو تقدير يې داسې كيږي **اذاكان تسمية المؤثر باسم مشتق من الاثر** نو اعتراض نه سو وارد پدغه نكته كې دمنه ضمير غلط دی ځكه ناكت خو دشارح عبارة رانقل كړی دی نو په عبارة كې ضمير نسته دلته هم مناسب نه دی.

قوله الجارة لاندې نكته ده **فی الاصل جارِرَة فادغمت فصار جارّة** دلته دناكت دوه غرضه دي ❶ تعين دصيغې به وكړي ❷ تعين داعلال به وكړي

حاصل داول غرض داچې جارة صيغه داسم فاعل مونث ده لكه ضاربة .

حاصل ددويم غرض دا چې دجارة اصل جارِرَةٌ وو نوداسې اعلال پكښې وسوچې دوه حرف ديوه جنسه راغله دواړه متحرك وه نو اول يې ساكن كړی باره اول ساكن ثاني متحرك اول يې په ثاني كې مدغم كړی جارة سو .

قوله تجر معاني لاندې نكته ده *من الجر با لفتح تشديد كشيدن را* دلته دناكت درې غرضه دي ❶ به تعين دمبدل منه دتجر وكړي ❷ به تصحيح دصيغې دتجر وكړي ❸ به بيان دمعنی دجر بيان كړي.

حاصل داول غرض دا چي تجر مشتق دی دجر څخه په فتحه دجيم او سكون دزاء سره.

حاصل دوديم غرض دا چي تجر په فتحه دجيم او تشديد دراء سره دی په سكون دجيم سره نه دی چي تجر په فتحه دتاء اوسكون سره دجيم په معنی سره دجريان راځي.

حاصل ددريم غرض داچي جرواي كشولوته پدغه نكته كي يو څه غلطي سته هغه دارنګه چي دالفتح لفظ وروسته واو نسته صحيح دادی چي واو ورسره وليكي يعني وتشديد كشيدن را.

قوله اعلم ان عملها الخ له دي ځايه تر فيه بحث پوري دشارح خلورغرضه دي ❶ بيان داختلاف كوي په عمل دحروف جاره كي ❷ به تعين دمشبه به وكري ❸ به وجه دتشبيه بيان كي ❹ به دفع ددوو اعتراضينووكري

حاصل داول غرض دادی چي په عمل كي دحروف جاره كي اختلاف دی په مابين كي دجمهور وعلماوو او دبعض علماوو جمهور وايي چي حروف جاره چي عمل كوي وجه يې سماع ده دعربو څخه او بعض علماء وايي چي حروف جاره چي عمل كوي په مشابهة سره دمضاف اودامذهب ضعيف دی ځكه شارح په قيل سره تعبير ځني وكرى.

حاصل ددويم غرض دادی چي حروف جاره مشبه دی او مضاف يې مشبه به دی لكه څنګه چي مضاف مضاف اليه ته جر وركوي همدارنګه حروف جاره هم خپل مدخول ته جر وركوي.

حاصل ددریم غرض دادی چي حروف جاره چي مشابه دی دمضاف سره وجه دشبه يې تجريد دی دتنوين او دقائم مقام څخه همدارنګه حروف جاره هم ددوی څخه خالي دي.

حاصل دڅلرم غرض دادی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۶۸) چي دادريم غرضه چي تاپيان کړه دابه تادخپل نفسه او خپل فکر څخه کړي وي داخو قابل قبول نه دي؟

شارح ځواب وکړي چي **کذا فی غاية التحقيق** حاصل يې دادی چي داماد خپل ځانه نه دي ذکر کړي بلکه دامي دکافيې دمشهوري شرح غاية التحقيق څخه مي اخذ کړی دی اوس به تأمل کې دشارح غرض محشي بيان کړی دی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۶۹) چي وجه دشبه دي نه منم ځکه تجريدسبق وجود غواړي نو په مضاف کې به در سره اومنم چي تنوين او مايقوم مقام موجود وه داضافة په وجه حذف سوه ځکه مضاف اسم دی او داتنوين او مايقوم مقامه هم دخواصو څخه داسم دی ليکن په حروف جاره کې يې نه درسره منم ځکه دوی حروف دی نو ته څنګه وايي چي دوی مشابه دي دمضاف سره؟

شارح يې ځواب ته اشاره وکړه چي تأمل حاصل يې دادی چي دتجريد دوې معناګاني دي ❶ معنی حقيقي ده چي ازالة ده ❷ معنی مجازي ده چي خلوه ده نو دااول قسم تجريد تقاضادسبق وحود کوي او دوهمه معنی تقاضادسبق وجود نه کوي نو په مضاف کې اول قسم تجريد مراد دی په حروف حاره کې دويم قسم تجريدمراد دی.

توضيح النكتة

قوله الحروف الجارة لوړه نكته ده **مجردة عن التنوين وما يقوم مقامه** غرض دناكت اشاره كول دي دي خبري ته چي الحروف الجارة مبتدأ ده خبريي محذوف دى هغه دا قول دى وهو مجردة الخ.

قوله وفيه بحث له دي ځايه تر النوع الثاني پوري دشارح يو اعتراض رانقل كوي چي پر دويم مذهب والا باندي واريديږي حاصل يي داى

سوال نمبر(١٧٠) چي نه منو عمل دحروف جاره په مشابهت سره دمضاف دیٰ ولي که دارنګه سي دَور به لازم سي ځكه مضاف په تقدير سره دحرف جر عمل كوي نو جر دحرف جر حقيقي دى حرف جر چي عمل كوي په مشابهت دمضاف سره او مضاف چي عمل كوي په تقدير دحرف جر سره دانه دى بلكه دور دى؟

په قلنا سره ځواب كوي حاصل يي داى چي دلته په عمل كولو كي دحروف جاره دوه مذهبه دي ❶ مذهب دسيبويه ❷ مذهب دجمهورو دسيبويه مذهب داى چي مضاف په تقدير او واسطه دحرف جر عمل كوي او دجمهورو مذهب داى چي مضاف بذاته عمل كوي په مضاف اليه كي بيله تقديره دحرف جر نو دلته چي دور لازميږي هغه پر مذهب باندي دسيبويه لازميږي او پر مذهب دجمهورو نه لازميږي نو اوس دلته محشي اعتراض كوي پر داځواب باندي او داقول دشارح چي **فالاولى ان يحمل عملهاعلى السماع** داي وړ لره ځواب بللى دى نو داكار يي ځايه او فاسد دى ځكه په اعتراض كي خلاف دمذاهب جمهورثابت سوى

دی بیا سماع من العرب یې ځواب بولي نو دایې ځواب هم نه سي کېدای نو حقه خبره داده چې داقول دشارح چې فالاولی الخ په دې کې دشارح غرض وجه درجحان وایې دقول دجمهورو علماوو ځکه جمهوروایې چې عمل دحروف جاره سماعي دی دلیل یې همدغه قول دشارح دی .

توضيح النكات

قوله وفیه بحث لاندې نکته ده ای **فی قول القیل** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۷۱) چې ضمیر دفیه راجع دی وه لفظ ته دقیل نو داخو ظرفیة دلفظ دقیل نه صحیح کیږي لپاره دبحث ځکه ظرف یازمان دی یا مکان دی او لفظ دقیل یو لاهم نه دی؟

ناکت ځواب ور کړي **فی قول الخ** حاصل یې دادی چې عبارة په حذف سره دمضاف دی تقدیر یې داسي کیږي في قول القیل نو ظرف قول دقیل دی ظرف لفظ دقیل نه دی نو داظرف مجازي دی علاقه یې اشتمال دی لکه ظرف چې مشتمل وي پر مظروف باندې همدارنګه قول مشتمل وي پر بحث باندې نو ظرفیة صحیح سو

سوال نمبر(۱۷۲) چې لفظ دقیل خو فعل دی او اضافة خودخواصومعظمه ؤ مکبره ؤ څخه داسم دی نو اضافة دقول وه لفظ ته دقیل نه صحیح کیږي؟

ځواب چې قیل دلته اسم ګرځېدلی دی نو اضافة یې صحیح کیږي .

قوله هذا عند سيبويه لوړه نکته ده ای **کون المضاف عاملا بتقدير حرف الجر** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۷۳) چې لفظ دهذا داسماء اشاراتو څخه دی په ده سره اشاره کول کیږي وه مفر د مذکر ته او دلته اشاره سوي ده دغه عبارة ته **لان المضاف لايكون عاملا لا بتقدير حرف الجر** نو مشار اليه يې نه سو مفرد؟

ناکت ځواب وکړی **ای کون المضاف الخ** حاصل يې دادی چې لفظ دأن لپاره دمضمون دجملې دی اومضمون دجملې دی ته والي چې مصدر دمشتقي مضاف کي غير مشتق ته لکه (**بَلَغَنِيْ أَنَّ زَيْدًا قَائِمٌ**) ددی تقدير داسې کيږي (**بَلَغَنِيْ قِيَامُ زَيْدٍ**) چې دارنګه سو اشاره ورته صحيح سوه او داتأويل په دغه قول کي هم دی چې وهو الاصح

قوله بلا واسطة لوړه نکته ده ای **بلا واسطة حرف الجر** غرض دناکت دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۷۴) چې دلته دااحتمال سته چې واسطه دعمل دمضاف دي حرف نداء وي او يا حرف مشبه بالفعل وي او يانور حروف وي ځکه لفظ دواسطة نكره دی او عام دی؟

ناکت يې دفع وکړه حاصل يې دادی چې دلته مراددواسطې څخه عامه واسطه نه ده بلکه مراد دلته واسطه دحرف جر ده .

النوع الثاني

واو وياء وهمزة والا ايا آيِّ هَيَا

ناصب اسم دلي لفت حرف پنځ اتران بهر عما

قوله اى النوع الثانى من الانواع الخ ددي ځاى ځخه تر اعلم پوري دشارح پنځه غرضه دي ❶ تعين دمعنى دالف لام كوي په النوع كي ❷ به ذكردرو نومو ددغه حروفو وكړي ❸بيان داختلاف كوي به عمل كي ددغه حروفو ❹تعين دمذهب صحيح كوي ❺دفع داعتراض كوي.

حاصل داول غرض دادى چې الف لام په النوع كي عهد خارجي دى داغرض يې په دې قول كي اداكړي چې النوع الثانى من الانواع المذكورة.

حاصل ددويم غرض دادى چې ددې نوع دحروفودري نومونه دي❶ حروف نواصب يې ځكه بولي چې دوى هم خپل مدخول ته نصب وركوي داتسميه دمؤثر ده په نامه دمشتق داثر سره ❷ نوم يې حروف نداء دى نداء يې ځكه بولي چې په دغه حروفو سره نداء كول كيږي يامعترض اعتراض كوي

سوال نمبر(۱۷۴)چې نداء خوپوازي په پنځوحروفوسره كول كيږي چې ❶يا ❷هيا ❸أيَ ❹همزه ❺ايا دي نوپردانولو حروفو يې ولې دحروفو نداء نوم كښې نيودى؟

ځواب چې دټولو ځخه يې تعبيرپه حروف نداء سره وكړي لپاره دتغليب.

❶ نوم يې حروف معاني دي معاني يې ځکه بولې چې دوی دلالت کوي پر معنی باندې ځکه پنځه حروف لپاره دنداء دي او نداء طلب ته وايي او هغه دوه حروف هم ځيله معنی لري (واو) په معنی دمَعَ دی او (الا) په معنی دتحضيض(باعثه کول) دی.

حاصل ددريم غرض دادی چې په عمل کې ددغه حروفو اختلاف دی بعض علماء وايي چې دغه حروف پخپله عوامل دي په مابعد کې او بعض علماء وايي چې نواصب هغه افعال دي چې ترد غه حروفو مخکې ذکروي لفظاًلکه (اِسْتَوَى المَاءُوَالخَشَبَةَ) او معنًى لکه (مَاشَاْنَكَ وَعَمْروًا) ای ماتصنع وعمروا.

حاصل دڅلرم غرض دادی چې دلته دوه مذهبونه ذکر سوه اصح مذهب دادويم دی.

حاصل دپنځم غرض دادی چې ته وايې دويم مذهب اصح دی چې عوامل دنصب هغه مخکنې افعال دي نو نسبة دنصب ولې دغه حروف ته کوې؟

شارح يې ځواب وکړي چې په دې وجه مې نسبة دنصب حروفو ته وکړي چې دغه حروف واسطه ده دعامل او دمعمول په منځ کې.

توضيح النكتتين

قوله وحروف المعانى لاندې نکته ده لدلالتهاعلى المعاني غرض دناکت بيان کول دي دوجه دتسميې ددغه حروفو په حروف معاني سره داقول دشارح چې **ماتضع وعمروا** دلته

ضاد نويشته دی ضادغلط دی صاددی ای **ماتصنع وعمرواً** او بل پر عمرو لوړه نکته ده ای **کون هذه الافعال** دا دداوروسته هوسره تعلق لري.

قوله اعلم انهما حروف عند الجمهور الخ ددې ځايه تر پايه غرض دشارح توضيح ددغه نوع کوي.

النوع الثالث والرابع

إنَّ بَا أنَّ كَأَنَّ لَيْتَ لكِنَّ لَعَلَّ

ناصب اسمند ورافع در خبر ضد ماولا

معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۷۵) چي لائق دناظم سره داوه چي حروف مشبه بالفعل يې مقدم کړي وای تر حروف جاره ځکه حروف مشبه بالفعل نصب اسم ته ورکوي رفع خبر ته ورکوي نو مرفوع اسم غالبًافاعل وي او منصوب غالبًامفعول وي نو مرفوع او منصوب دواړه مخکي دي تر مجرور؟

ځواب عمل دحروف جاره اصلي دی او عمل دحروف مشبه بالفعل فرعي دی اصل مقدم وي تر فرع.

توضيح النكتة

لاندي ترفارسي بيت نكته ده **اين حروف عامل الاسم الخ** غرض دناكت دفع دتوهم ده چي ولې ناظم حروف مشبه بالفعل مقدم کړه پر حروف نواصبواو جوازمو باندي؟

ناكت ځواب ورکړي **اين حروف عامل الخ** حاصل يې دادی چي حروف مشبه بالفعل عوامل داسماوو دي اونواصب او جوازم عوامل دافعالو دي نو اسم مقدم دی پر فعل باندي نو عامل يې هم مقدم دی پر عامل باندي دفعل پيا په نکته کي غلطي سته هغه داچي په اول سر کي **عمل الحروف** لفظ نويشته دی داغلط دی نکته داوين **حروف** ځخه شروع ده او په مابين يې يې غلطي سته هغه داچي داسي نويشته سويده *نواصب وجوازم مضارع عامل فعل اند* داغلطه ده صحيح داسي ده *نواصب وجوازم عامل فعل مضارع اند*.

قوله اى النوع الثالث من الانواع الخ له دي ځايه تر اعلم پوری دشارح دوه غرضه دي ❶ به په ترکيبي لحاظ سره اشارتاً داالنوع الثالث اعراب بيان کي ❷ به تعين دنامه دغه نوع وکړي.

حاصل داول غرض دادی چي **النوع الثالث** مرفوع دی مبتداء ده **هذاالنوع** يې خبر دی مبتداء او خبر دواړه مرفوع وي حاصل ددويم غرض ظاهر دی.

توضيح النكتة

قوله اى النوع الثالث لوړه نکته ده **وجه تقديم اين حروف الخ** غرض دناکت دفع دتوهم ده چي ناظم ولي دغه حروف مقدم کړه پر ماولا مشبهتين بليس باندي سره لدې چي دوی دواړه ددواخلوځخه دمبتداء او خبر دي؟

ناکت ځواب ورکړي چې **وجه تقديم** الخ حاصل يې دادی چې وجه دتقديم دغه حروفو داده چې حروف مشبه بالفعل په مشابهة سره دفعل مطلق چې متصرف دی عمل کوي او ماولا دليس په مشابهة سره عمل کوي او ليس غير متصرف دی او فعل متصرف پر غير متصرف باندې مقدم وي نو هغه شی چې دفعل متصرف سره مشابهة لري هغه به هم مقدم وي پر هغه شي چې دفعل غير متصرف سره مشابهة لري او دغه نکته په مابين کې داسي توري نويشته دی وَوَلا داغلط دی صحيح داسي دی وَمَاولا .

قوله اعلم ان ها حروف الخ ددې ځايه بيا تر **فلما کانت** پورې دشارح دوه غرضه دي ❶ به توضيح ددغه نوع وکړي به بيانولو سره دپنځو خبرو ددغه نوعي ❷ به وجه دتسمية ددغه حروفو په خلورو نوموسره بيان کړي حاصل داول غرض ظاهر دی.

حاصل ددويم غرض دا چې داحروفو ته حروف مشبه بالفعل ځکه وايي چې دا حروف دفعل سره دوه قسمه مشابهة لري ❶لفظي ❷ معنوي لفظي مشابهة يې په شپږو شيانو کې دی ❶ثلاثية ❷ رباعية ❸خماسية ❹ ادغام ❺ لحوق دکاف دخطاب ❻ لحوق دنون وقايه په آخر پورې ددغه حروفو او معنوي مشابهة يې يو ازې په معنی کې دی دويم نوم يې حروف نواسخ دی دريم نوم يې حروف دواخل دی څلرم نوم يې حروف معاني دی نواسخ يې ځکه بولي چې کله داحروف پر مبتداء او خبر داخل سي مخکنی عمل يې نسخ کوي دواخل يې ځکه بولي چې دوی پر مبتداء او خبر داخليږي حروف معاني يې ځکه بولي چې هر يوه لره خپل معنی سته لکه شارح چې يې ذکر وکړي .

توضيح النكات

قوله عملها النصب والرفع لوړه نکته ده **بانها تنصب المبتدأ وترفع الخبر** غرض دناکت تفصیل دما اجمال دی.

قوله المبتداء لوړه نکته ده **يسمى المبتدأ المنصوب باسمها** غرض دناکت بیان دوجه دتسميې دمبتداء دی وروسته تر دخول ددغه حروفو همدارنګه پدا قول کې چې الخبر لږوروسته دانکته جلا جلا نويشته سوې ده يعنی دوې نکتي څنې جوړې سوې دي او له داسې ده **يسمى المبتدأ المنصوب** دونم داسې نويشته ده **باسمها** صحيح داسې ده چې يوځای نويشته سي.

قوله اما لفظا ففي الخ لاندې نکته ده **ای اما مشابهة هذه الحروف بالفعل لفظا في ثلاثة** دلته دناکت دوه غرضه دي ❶ اشاره کوي ذات ته داما ❷ تعين دمتعلق ددوهمي في کوي په دې قول کې چې **ففي**.

حاصل داول غرض دادی چې اما تفصيليه دی نو په ځواب کې يې فاء راوړل واجب ده او ل به سبب وي لپاره دثاني او فعل يې حذف کيږي سره لدې چې شرط لره لابدي ده دفعل څخه او داځکه چې تنبيه راسي چې مقصود په حذف سره دفعل حکم دهغه اسم دی چې واقع وي وروسته نوتقدير يې داسي کيږي **مهما يكن مشابهة هذه الحروف بالفعل لفظا فثابتة في الثلاثية الخ**.

حاصل دويم غرض دادی چې **فاء جار الثلاثية** سره دمعطوفاتو مجرور جار او مجرور متعلق غواړي نو متعلق يې ثابت دی.

قوله فقى لوره نكته ده **نحو انّ وانّ وليت** دانكته دلته يې ځايه ده صحيح ځای يې دادی چې په لاندي ليكه كې پر **الثانية** باندي نوښته سي.

قوله والادغام لوړه نكته ده **اى فيه ادغام كما لايخفى فى الفعل** نو ديخفى لفظ غلط دی صحيح دادی چې يجيئ وليكل سي او لوړه بله نكته ده **الثانية** نو دارنكه غلطه ده صحيح دارنكه ده الثلاثية او دلته يې ځايه ده صحيح داده چې ددلوړي نكتې سره په آخر كې وليكل سي او ددغه نكتې آخري لفظ چې **فى فثابت** غلط دی صحيح داسي دی **فثابت فى الثلاثية**.

دصفحې آخري ليكه كې د **كانك** وروسته **لكنك** ليكلی دی **ليتك** وروسته دی دارنكه غلط دی صحيح دادی چې ليتك رامخته سي نبه به وي ځكه دنظم مطابق به سي.

قوله وحروف اللدواخل لاندي نكته ده **لانهاتدخل على المبتدأوالخبر كمامر** غرض دناكت بيان كول دي دوجه دتسميې ددغه حروفو په حروف دواخلو سره داقول چې كمامر يعني داخبره چې مخكي تېره سوه نو داخبره دشمې په (٢١) صفحه كې په (٧) ليكه كې پداقول سره منها ما يدخل على شيئين كالحروف المشبهة بالفعل.

قوله اما معنى لاندې نکته ده اماُمشابهانو دارنګه غلطه ده صحيح دارنګه ده اما **مشابهتها** پر داغه قول لوړه هم نکته ده دلته غلطه ده صحيح داده چې دمعانيها پر ضمير لوړه وليکل سي.

قوله تر جيت لاندې نکته ده **نحو حل السلطان** نو لفظ د **حل** غلط دی صحيح يې لفظ دلعل دی.

قوله فلما كانت هذه الحروف الخ له دې ځايه تر **فاتقيل** پورې دشارح غرض دفع داعتراض ده

سوال نمبر (۱۷۶) چې کله حروف مشبه بالفعل دفعل سره مشابه سوه نو دفعل لپاره دوه قسمه دی ❶اصلي ❷ فرعي نو حروف مشبه بالفعل ته دې عمل فرعي ورکړې ولې دې عمل اصلي نه ورکوي؟

شارح يې ځواب ورکړی **فلما كانت** الخ حاصل يې دادی چې دغه حروف مشابه دي دفعل سره دوی مشبه او فعل مشبه به دی نو مشبه به اصل وي نسبة مشبه ته نو ځکه مي دغه حروفو ته عمل فرعي ورکړي.

قوله فاتقيل الخ له دې ځايه تر قوله پورې دشارح غرض نقل کوي ددوو اعتراضو او ځوابو اول اعتراض پر وجه دتسميې ددغه حروفو په مشبه بالفعل سره دی دويم اعتراض يې پر عمل دی.

حاصل داول اعتراض دادی

سوال نمبر (۱۷۷) چې دغه حروفو ته ولې حروف افعال نه وايې ځکه معناګاني ددوی لکه معناګاني دفعلو داسې دي لکه اسماء افعال معناګاني يې چې دفعلو سوې نو ورته يې اسماء افعال وويل؟

په قلنا سره ځواب کوې حاصل يې دادی چې ددوی او اسماء افعالو په منځ کې فرق سته هغه په داډول چې داسماء افعالو سره دفعل معنی په اصل وضع کې لازمه ده او معنی دفعل ددغه حروفو سره لازمه نه ده وضعًا بلکه معنی دفعل دمضمون څخه دکلام رافهميږي ددويم اعتراض خلاصه داده

سوال نمبر (۱۷۸) چې دغه حروف خو مشابه دي دمطلق فعل سره که لازمي وي که متعدي نو دوی ته عمل دفعل متعدي ورکول نه دی صحيح؟

دهغه ځواب يې په قلنا سره وکړی حاصل يې دادی چې دغه حروف لکه څنګه چې دمطلق فعل سره مشابهه لري پدغه امورو مذکوره وو کې همدارنګه دفعل متعدي سره خاص مشابهه لري په اقتضاء کې دشيئينو هغه په داډول لکه څنګه چې فعل متعدی دوه شيان غواړی فاعل او مفعول همدارنګه دغه حروف هم دوه شيان غواړي اسم او خبر بل ځواب يې محشي کړی دی.

توضيح النكتة

قوله العمل الفرعي لاندي نكته ده **و تقديم المنصوب على المرفوع ولم يعط لها عمل الرفع فقط كعمل الرفع فقط للفعل اللازم** دلته دناكت دوه غرضه دي
❶ تعريف كوي دعمل فرعي ❷ تكميل دځواب دشارح كوي.

حاصل داول غرض دا چې عمل فرعي دېته وايي چې منصوب مقدم وي پر مرفوع باندي.

حاصل ددويم غرض دا چې حروف مشبه بالفعل ته يې دفعل متعدي عمل ځكه وركړي چې ددغه حروفو خاص تعلق سته دفعل متعدى سره چې تقاضا دشيئينو ده دفعل لازم عمل يې نه وركړي ځكه زيات تعلق يې نسته ورسره.

قوله ضمنا ولا اى النوع الرابع الخ تر اعلم پوري دشارح دوه غرضه دي ❶ اشاره كوي اعراب محلي ته دما ولا ❷ دفع داعتراض كوي.

حاصل داول غرض دا چې كله يو عبارة په كلام كې واقع سي نو لابدي ده داعراب څخه يا لفظاً يا تقديراً نو دلته ماولا معطوف او معطوف عليه مرفوع دي خبردى دمبتداء محذوفي.

حاصل ددويم غرض داچې

سوال نمبر(١٧٩) چې دانورو نو عو ته دي عنوان دالنوع وركړي او دانوع ته دى نه وركړى؟

اوبل داوهم كېدى چي ماولا يي دانورو حروف سره په يوه بيت كي ذكر كړل نو دابه يوه نوع وي؟

شارح يي ځواب وكړي چي **اى النوع الرابع الخ** حاصل دا چي داماولا او حروف مشبه بالفعل يوه نوع نه ده بلكه دوي نوعي دى ماولا يي څلرمه نوع ده او عنوان دنوعى يي نه وركړي لپاره داختصار او دپاره دوزن دشعر اوس معترض اعتراض كوي

سوال نمبر(۱۸۰) چي ماولامعطوف او معطوف عليه سوه نو عطف تقاضا دمغايرة كوي نو دلته خو لفظاً مغايرة راغلي خو معنوي مغايرة نسته ځكه دواړه مشابهة لري دليس سره او دواړه نفي كوي نو معنوي فرق يي ځكه ضروري دى چي موضوع داستعمال يي معلوم سي؟

ځواب چي معنوي مغايرة يي هم سته ځكه لفظ دما عام دى هم پر معرفه هم پر نكره داخليږي او لفظ دلا يوازي پر نكره داخليږي نو لفظ دما ځكه عام دى چي دما مشابهة دليس سره زيات دى ځكه چي ما او ليس چي مطلق ذكر سي قرينه نه وي نولپاره دنفي حالي دى او لا چي مطلق ذكر سي قرينه نه وي نودمطلق نفي لپاره راځي نه دنفي حالي لپاره .

قوله اعلم الخ ددي ځايه تر فاتقيل پوري دشارح دري غرضه دي ❶توضيح ددغه نوع كوي په بيان سره دپنځو خبرو ددغه نوعي ❷غرض وجه دتسميي ددغه حروفو بيانوي ❸ غرض يي دفع داعتراض كوي .

حاصل داول غرض داى چي دماولا ذاتو نه حروف دي نه اسماء دي نه افعال عدد يي وه(۷) دي عمل درفع او نصب كوي (اسم ته رفع او خبر ته نصب وركوي) مدخول يي مبتداء او

خبردي نومونه يې پنځه دي ❶ماولا نافيتان ❷ماولامشبهتان بليس ❸ حروف نواسخ ❹حروف دواخل ❺ حروف معاني وجه دتسميې دټولو معلومه ده خو شارح دوويم نامه وجه دتسميې بيان کړيده چې داحروفونه ماولا مشبهتان بليس ځکه وايي چې دغه حروف دليس سره مشابه دي په نفي مطلق کې اوپه دخول کې پر مبتدأ او خبر باندې

سوال نمبر(۱۸۱) چې ما ولا ځکه دليس سره مشابه دي ځکه ليس فعل دی او دوی حروف دي؟

شارح يې ځواب ورکړی **في النفي والدخول الخ** حاصل دځواب دا چې مشابهة يې په ذات کې نسته په نفي او په دخول کې دی پر مبتداء او خبر نو ځکه يې عمل اصلي ورکړی.

توضيح النکات

قوله انهما لاندې نکته ده ای ماوماولا نو پدغه نکته کې اول ما او اول واو غلط دی صحيح داسې دی ای ماولا .

قوله ما ولا المشبهتان لوړه نکته ده **في النفي قال الشيخ الرضي ان ماولا والحال کنفي الحق انهما لمطلق النفي کذا في عبدالغفور** دلته نناکت دري غرضه دی ❶ دفع داشکال ده ❷ذکر دقول دشيخ رضي په معنی دماوليس ❸ بيان دقول الاصح او دقول حق دی.

حاصل داول غرض دادی

سوال نمبر (۱۸۲) چي مشابهة دما ولا دليس سره غير صحيح دی څکه دوی حرفونه دي او ليس فعل دی؟

ناکت ځواب وکړی پدې قول سره چي **في النفي الخ** حاصل يې دادی چي مشابهة ددوی دليس سره په نفي کې دی او په دخول کې پر مبتدأ او خبر بانديې نه په ذات کې .

حاصل دويم غرض دادی چي شيخ رضي وايي چي ما او ليس لپاره دنفي حالي دی .

حاصل دريم غرض دادی چي حق او صحيح قول دادی چي دوی لپاره دمطلق نفي دي پدغه نکته کې لفظ دلا غلط دی صحيح داسي دی چي ليس وليکل سي وجه يې محشي په پنځمه حاشيه کې پدغه الفاظو کې بيان کړيده چي **فان حكم ماكحكم ليس في كونهما عند الاطلاق عن القرينة لنفي الحال بخلاف لافانه لنفي المطلق عند الاطلاق عن القرينة** دغه نکته يو څه بې ترتيبه نويشته سوېده لکه مخکې چي موږ ذکر کړه خو صحيح تر تيب يې دادی **في النفي قال الشيخ الرضي ان ما وليس لنفي الحالي والحق انهما لمطلق النفي .**

قوله ولكل معها لوړه نکته ده **اى لكل اسم من الاسماء المذكورة** غرض دناکت اشاره کوي دې خبري ته چي لفظ دکل لازم الاضافة دی نو مضاف اليه به يې يا ذکر وي يا به محذوف وي نو دلته يې مضاف اليه محذوف دی هغه لفظ داسم دی .

قوله تقديم المرفوع على المنصوب لوړه نکته ده اى **التسوية بين الفرع والاصل** او لاندې هم نکته ده اى **زيادة الفرع** دغه نکته دلته غلطه ده صحيح داسې ده چې لاندې ليکه کې پر داقول چې وهو ممنوع لوړه پر ضمير باندې نويشته سي ځکه دلته يې معنى صحيح کيږي او دغه عبارة لاندې نکته ده اى زيادة الفرع دانکته هم پې ځايه ده صحيح داسې ده چې پادوهمه لاندې ليکه چې **الممنوع مزية الفرع** پر مزية لوړه نويشته سي دلته لګيږي والله اعلم.

قوله فالقليل فعل هذا الخ له دې ځايه تر اعلم پورې غرض دشارح راوړل داعتراض دى او وروسته به دوه ځوابه وکړي ❶ پر طريقه دمنع ❷ پر طريقه دتسليم.

حاصل داعتراض دادى

سوال نمبر(١٨٣) چې ملولا ته يې عمل اصلي ورکړي نولازم سوتسويه داصل او فرع ترمنځ داباطله ده ځکه رتبه دفرعي به کمه وي تر رتبې داصل؟

شارح يې اول ځواب وکړي پر طريقه دمنع چې نه منم چې تسويه منع ده بلکه زياتوب دفرعي پر اصل منع دى بيا واهم وهم کوي چې تسويه نه سوه منع بلکه جائزه سوه نو داتسويه به مستحسنه يعني ښه کار به وي؟

شارح ځواب وکړي چې جائزه که ده خو غير مستحسنه ده.

حاصل ددويم ځواب دادی چي که داومنو چي تسويه ممتنع ده خو موږ چي تسويه مختاره كړېده چي التباس يې دحروف مشبه بالفعل سره رانه سي كه دوى ته عمل فرعي وركړل سي .

قوله تأمل په دې لفظ كي دشارح غرض دفع داعتراض ده

سوال نمبر (١٨٤) چي كه ما ولا ته عمل فرعي وركړل سي نو التباس نه راځي ځكه ما ولا او حروف مشبه بالفعل صورتًا سره مخالف دي التباس به ځنګه راسي ؟

ځواب چي ستا خبره منو خو تر ماولا وروسته ان مقدر دى نو ان مشبه بالفعل دى كه دوى ته عمل اصلي وركړل سي التباس نه راځي او كه عمل فرعي وركړل سي نوالتباس راځي چي داوس دمايا ولا عمل دى كه دانّ عمل دى .

توضيح النكتتين

قوله اولئلا يلزم لاندي نكته ده **عطف على قوله الممنوع آه اى او قلنا لئلا يلزم آه** غرض دنكتة اشاره كوي دي خبري ته چي دامخواب ثاني دى داعتراض څخه اوپر طريقه دتسليم دى يعني موږ دامنو چي تسويه ممنوع ده خوموږ مختاره كړېده لپاره ددي چي التباس لازم نه سي دحروفو مشبه بالفعل سره .

په بعضو نسخو كي دشمي كاتب لاندي تر دي قول چي **تأمل** داالفاظ ليكلي دى الدار **من رحمة الله عليه** نو دا سهودكاتب ده هيڅ حقيقة نه لري دلته

قوله ثم اعلم له دې ځايه تر پايه پورې غرض دشارح بيان داختلاف دی په عمل دما ولا کې او دهر مذهب لپاره به دليل ذکر کړي.

حاصل دغرض دادی چې په عمل دما ولا کې اختلاف دی په مابين داهل حجازو اوبنو تميموکې حجازيين وايي چې ما ولا عمل کوي لکه ليس ځکه دوی قياس دې پر ليس باندې نو ددوی دليل دقرآن څخه دی چې **ما هذا بَشَراً** نوهذا يې اسم دی مرفوع دی اوبشراً منصوبه دی خبر دی او بنوتيميم وايي چې ما ولا په هيڅ طريقه سره عمل نه کوي نه قياساً نه شذوذاً دليل يې عقلي دی هغه دادی چې شرط دعمل نسته پکښې هغه شرط دادی چې مختص به وي په يوه نوع پورې لکه جوازم او نواصب دوی خاص دي په فعل پورې نو ر تحقيق به اوله حاشيه کې دی.

توضيح النكات

قوله وهو قوله تعالى لوړه نکته ده **قوله تعالى الخ** نو دانکته جداجدا ليکل سوي ده نيمه دلته نويشته ده او نيمه تر دې قول لاندې ليکل سوې چې **ثم اعلم** نومناسبه ده چې يو ځاې نويشته سي پر دابول **وقوله تعالى (مَاهُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ) بكسر التاء لان الكسرة علامة النصب فى جمع المؤنث السالم بعد دخول الناصب والله اعلم بالصواب** دلته يو څه غلطي سته ځکه په نکته کې داسې ليکل سوي دي اى الجمع داسې غلطه ده صحيح داسې ده فى جمع المؤنث الخ.

قوله ما هذا بشراً لوړه نكته ده فهذا اسم ما مرفوع الخ نو پدغه نكته كي هم سهو دكاتب سته صحيح دارنګه ده **فهذا اسم ما مرفوع محلا ولم يهر الاعراب لكونه من المبنيات وبشرا خبر ما** دلته لفظ دولا سهوه دكتاب ده ضرورت نسته ورته لكه سلطان الاذكياء حضرت مولانا محمد عبيدالله القندهاري رَحِمَهُ اللّٰهُ چي ليكلي دي.

قوله اصلا لاندي نكته ده اي **لاشذوذا ولاقياسا الخ** دلته دناكت دوه غرضه دي ❶ دفع دتوهم ده ❷بيان دمذهب دبنو تميمو كوي په مابعد كي دماولا.

حاصل داول غرض دادي چي لفظ داصل په معنى سره دقاعدي راځي نو دشارح دكلام څخه معلوميږي چي ما اولا عمل نه كوي موافق دقاعدي لكن دقاعدي او قياس څخه خلاف بيا عمل كوي؟

ناكت ځواب وركړي چي اي **لاشذوذا** حاصل يې دادي چي اصل دلته په معنى مذكوره سره نه دى مراد بلكه په دې معنى سره مرادده چي نه دقاعدي موافق نه دقاعدي خلاف عمل كولاى سي.

حاصل ددويم غرض دادي چي مابعد دماولا مرفوع دى ځكه دوى مبتدأ او خبر دي.

النوع الخامس

اَن وَلَن پس کی اِذَا اين چهار حرف معتبر

نصب مستقبل کنند اين جمله دائم اقتضاء

قوله اقول لما فرغ الخ ددي ځایه تر اعلم پورې غرض دشارح بیان کوي دواقع او تنشیط دطبائعو دطالبانو کوي.

قوله اعلم ان الاصل له دي ځایه تر واما الثلاثة پورې دشارح درې غرضونه دي ❶ تعین دحرف اصلي اتفاقي به وکړي ❷ به دلیل ذکر کې لپاره داصلیة ❸ دفع داعتراض وکړي حاصل داول غرض دادی چې پدغه څلور حروفو کې اصل حرف أنّ دی.

حاصل ددویم غرض دادی چې اِن ځکه اصل دی چې مشابه دی دأنّ سره په فتحه کې دهمزې چې حرف دی دحرف مشبه بالفعل څخه.

حاصل ددریم غرض دادی چې أنّ دأنّ سره مشابه سو نو أنّ خو اسم ته نصب ورکوی نو أنّ دي هم اسم ته نصب ورکړي ځکه مشبه خو دمشبه به څخه مخالفة نه کوي؟

شارح ځواب وکړي **وأن من الحروف المشبهة بالفعل الخ** حاصل یې دادی چې أنّ اسم ته نصب ورکوي او أنْ فعل ته نصب ورکوي ځکه چې درجه دفرع کمه وي تر درجې داصل.

توضیح النکات

قوله فهلا ینصب لاندې نکته ده ای **لفظ ان** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې په لفظ دهذا سره اشاره کیږي وه مذکر ته نو دلته په هذا سره اشاره سوې ده وه أنّ ته او أنّ حرف دی او

حروف دمؤنثاتو سماعيه ؤ شخه دي نو اشاره به هذا سره ورته نه صحيح كيږي ناكت ځواب وركړي اى لفظ أن حاصل يې دادى چې مراددلته دأن شخه لفظ دأن دى نو باره مذكر سو .

قول للدرجة الفرع لوړه نكته ده **وهو أن المخففة الناصبة للمضارع** نو پدغه نكته كي دغه آخري لفظ چې للمضارع يو خه شاته راغلى دى ته يې رامخته كه .

قوله عن درجة الاصل لاندې نكته ده يې ترتيبه ليكل سوي ده **المشبهة الحروف وهو ان من صحيح** دارنګه ده وهو أن من الحروف المشبه .

قوله واما الثلاثة الخ له دې ځايه تر **فذوات هذه الخ** پورې دشارح دوه غرضه دي ❶ غرض يې ذكر كول داختلاف دى پدغه درو حروفو كي ❷ غرض يې دفع داعتراض ده .

حاصل داول غرض دادى چې په باقي حروفو كي اختلاف دى دجمهورو علماوو او دخليل تر منځ جمهور وايي چې باقي حروف نصب فعل مضارع ته وركوي بنفسها ځكه دوى دأن سره مشابهة لري په استقبالية كي لكه څنګه چې أن مصدريه پر فعل داخل سي داستقبال معنى ځني مراديږي فعل كه ماضي وي كه مضارع وي همدارنګه دغه درې حروف چې پر فعل داخل سي فعل كه ماضي وي كه مضارع وي استقبالي معنى ځني مراديږي او دخليل مذهب دادى چې دغه حروف بنفسها نصب فعل مضارع ته نه وركوي بلكه په تقدير دأن سره به نصب وركوي.

حاصل دوہیم غرض دادی

سوال نمبر(۱۸۵) چې مضارع چې واقع سي وروسته تر دغه حروفو منصوبه ده لکه څنګه چې تر آن وروسته منصوبه وي نو داختلاف فائده څه ده؟

شارح یې ځواب وکړي چې **فثمرة الخلاف الخ** حاصل دځواب دا چې داختلاف ثمره په دغه مثال کې ښکاره کیږي لَن یَضرِبَ نو پر اول مذهب باندې یضربَ ته نصب لَن ورکړی دی او پر دوہیم مذهب أن مقدره نصب ورکړی دی تقدیر یې داسي کیږي لَن أن یَضرِبَ.

توضیح النکتتین

قوله ایاها فی دلته تر فی لاندي لفظ دأن نویشته دی داراکش که تر ایاها یې لاندي که.

قوله فثمرة لاندي نکته ده **ای فائدة** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې ثمره خومیوې ته ویل کیږي لکه انګور آنار سیب داسي نور نودلته یې ذکر مناسب نه دی؟

ناکت ځواب ورکړي چې **ای الفائدة** حاصل دادی چې ثمره دلته په معنی مشهوره سره نه دی مراد بلکه دلته په معنی سره دفائدي دی.

قاعده

زده کړه داخبره چې أن پر فعل متصرف داخلیږي یعني هغه فعل چې ماضي، مضارع، اسم فاعل، اسم مفعول، مصدر اونور لري او پر غیر متصرف لکه نعمَ اوبئسَ وغیرهما باندې نه

داخليږي ځکه غير متصرف خو مصدر نه لري چې آن يې په تاويل دمصدر سره واړه وي او باقي درې حروف په دغه دخول کې حمل دي پر آن باندي نو دوی هم پر فعل غير متصرف باندي نه داخليږي که څه هم فعل متصرف په تاويل دمصدر سره نه کرځوي.

قوله فلوات هذه الحروف الخ له دې ځايه تر اخره پوري غرض دشارح بيان داموړو خمسه کوي لپاره دتوضيح ددغه نوعي.

توضيح النكتة

قوله وحروف المصدر لوړه نکته ده **تجعلها معمولها ای فی تأويل المصدر** نو دلته لفظ دأی غلط دی نه صحيح کيږي او دفي پر ځای چې باء ولیکشته سي بنه به وي دکشرانو طالبانو لپاره به آساني وي.

النوع السادس

إن ولَم لَمّا ولام امر لاء نهي نيز

پنج حرف جازم فعلند بريک لي دعا

توضيح النكتة

قوله الناظم په نظم کې ولام امر لاندي نکته ده **وهی اللام المطلوب بها الفعل** غرض دناکت رفع داحتمال دغير ده ځکه لام خو جاره هم راځي نو لام جاره دلته مرادول نه دی مراد بلکه هغه لام مرادوي چې په هغه سره طلب دفعل کيږي.

قوله اي النوع السادس من الانواع المذكورة هذالنوع غرض دشارح بيان درفع دالنوع کوي چې النوع مرفوع ده خبر دی دمبتدأ محذوفي.

قوله اعلم ان هذه الخ له دي ځايه تر **اعلم** پورې دشارح څلور غرضونه دي ❶ فرق بيانوي دحروفو جوازمويه منځ کي ❷ اعتراض کوي پر عمل دان باندي ❸ اشاره کوي اختلاف ته په ان کي ❹ په ځواب وکړي دمذهب څخه ديوه اهل مذهب

حاصل داول غرض دادی چې اِن جزم کوي په دوو فعلو کي اول ته يې شرط دويم ته يې جزاء وايي او دانور څلور حروف په يو فعل کي جزم کوي مثال دان لکه اِنْ تَطْرِبْ أَطْرِبْ.

حاصل ددويم غرض داچې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۱۸۶) چې کلمه دان حرف دی او حرف ضعيف دی صلاحية نه لري دعمل کولو په دوو فعلينو کي؟

په قلنا سره به يو ځواب وکړي حاصل يې دادی چې داعمل کول دان په فعلينو کي امر سماعي دی دعقل او قاعدي يکښي مداخله نسته.

دويم ځواب به په قيل سره وکړي او اشاره به وکړي اختلاف ته حاصل داختلاف دادی چې يو مذهب دخليل او مبرد دی دويم مذهب دسيرافي دی مذهب دجمهوررو دادی چې اِن حرف شرط بذاته عمل کولای سي په فعلينو کي چې شرط او جزاء ده ځکه ددي تفويض سماع العرب ته سوی دی عقل او قاعدي ته پکښي دخل نسته او مذهب دسيرافي دادی چې اِن بذاته

يوازي په شرط کې عمل کوي اوپه جزاء کې بذاته عمل نه سي کولای چې شرط ورسره ملګرې نه وي اوشرط هم په جزاء کې عمل نه سي کولای چې اِن نه وي ورسره ملګرې نو دلته داويم ځواب بناء دی پر مذهب دسيرافي باندې چې اِن حرف ضعيف دی عامل په دوو فعلو کې نه دی بلکه يو ازې په شرط کې عامل دی او اِن سره دشرطه عامل دی په جزاء کې .

حاصل دريم غرض دادی چې شارح ځواب کوي دمذهب څخه دسيرافي په دې دول چې اِن خو بذاته په شرط کې عامل دی خو په جزاء کې هم بذاته عامل دی او داهم مفوض دی سماع العرب لره.

توضيح النكات

قوله في الفعلين لوړه نکته ده **لضعفها** غرض دناکت دليل وايي دعدم صلاحية دعمل دإن په فعلينو کې .

قوله والقاعدة لوړه نکته ده **في جواب الاعتراض المذكورة** نو دانکته دلته نه ده صحيح بلکه لاندې تر دې قول ده چې وقيل غرض دناکت تعين کول دې دمعنی دقيل ځکه قيل مشترک دی په ماينن کې دسوال او جواب دلته المذكورة غلط دی المذكور صحيح دی .

قوله إنَّ إنْ لاندې نکته ده **ای لفظ ان** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې اِن اسم دانّ دی او اسم مسند اليه وي او اِن حرف دی ددې صلاحيت نه لري چې مسند اليه سي ؟

ناکت ځواب ورکړي چې دلته مراد لفظ دان دی نو لفظ پیرته اسم سو صلاحیت دمسند او مسند الیه والي لري ځکه شیخ رضي یو قاعده ذکر کړي ده هغه دا چې کله مراد دلفظ څخه نفس داغه لفظ سي نه معنی نو داغه لفظ بیادځان لپار علم ګرځي او مستعملیږي په تراکیبو کې د پاره دافادي دمعنی نو الفاظ تول معارف دي کما قال سید الاذکیاء .

قوله اعلم ان الاصل الخ له دې ځایه تر نوع پورې دشارح دوه غرضه دي ❶ بیان داصلیة او دفرعیة به کوي او دهر یوه لپاره به وجه بیان کړي ❷ دویم به توضیح ددې نوعي ورکړي په بیانولوسره دپنځو خبرو .

حاصل داول غرض دادی چې په حروف جوازموکي اصل حرف اِن دی وجه یې داده چې دی وضعه سوی دی لپاره دجزم کولو او څلور پاته حروف فرع دي په جزم کې وجه یې داده چې دوی مشابه دي دان سره په اختصاص کې په یوه نوع پورې لکه څنګه چې اِ ن په فعل پورې خاص دی همدارنګه داڅلورحروف خاص دي په نوعه پورې دفعل او همدادمقرراتو څخه دعواملو دی.

حاصل ددویم غرض دادی چې دغه حروف په څپل ذات کې حروف دي نه افعال نه اسماء دي عددیې پنځه دی عمل یې جزم دی محل دجزم یې فعل مضارع ده

سوال نمبر(۱۸۷) چې څه وجه ده چې شارح په نورو نوعو کې مدخول ویل او دلته یې بیا محل دجزم وواییٔ ؟

شارح ځواب وکړي چې مدخول ددغه حروفو خو فعل ماضي هم راځي نو په ماضي کې خو جزم نه کوي ځکه فعل ماضي مبنی ده هيڅ اعراب نه قبلوي او نو مونه ددوی حروف معاني دي حروف جوازم دي ځکه جزم کوي په فعل کې حروف نقل دي ځکه ددغه حروف هم فعل ديو • حالت څخه نقل کوي بل حالت ته په داېول چې اِن معنی دفعل نقل کوي ديقين څخه شک ته ځکه يضرب په اعتبار دظاهر سره يقين فائده کوي چې کله اِن ورباندي داخل سي شک ته يې اړوي لکه اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ او لم او لما فعل نقل کوي دمضارع څخه ماضي زماني ته اوبل دا چې فعل نقل کوي داثبات څخه نفي ته لکه لم يضرب لما يضرب په تېره زمانه کې غائب سرى وهل نه وه کړي او لام امر او لا ء نهي بيا فعل نقلوي داخبار څخه انشاء ته او داقول دشارح چې تأمل په دې کې اشاره ده تفصيل ته دنقل چې داحروف فعل نقل کوي ديوه حالت څخه بل حالت ته يعنې ديوې معنى څخه بلې معنى ته .

توضيح النكتتين

قوله الباقية مختصة دلته لاندې نکته ليکي ده المضارع نودانکته په خپل ځای کې نه ده صحيح داده چې ددالوړي نکتې په ماين کې تر تجزم ورو ستو وليکل سي نو به نکته دارقم سي اى قائمة تجزم المضارع .

قوله حروف المعانى وحروف الجوازم کاتب دلته لاندې نکته ليکلې ده او متفرقه ده بعض يې پر داقول لوړه ليکلې ده او بعض يې پر داقول چې يې دغالوړه ليکلی ده او غلطه هم ده يعنې دارنګه ده وجمعها ظاهر صحيح دارنګه ده وجهها ظاهر نو ددې نکتې آخرى توري ولاندې ته شوه سويدى هغه دادى غنى عن البيان .

تنبيه : اوس حال۞ به درو معناګانو سره راځي ❶معنی لغوي دحالت ده چي په لغت کي وايي انتهاء ته دماضي ابتداء داستقبال ته ❷ معنی اصطلاحي ده هغه داده چي حال وايي مابيين هيئة الفاعل او المفعول اوکليهما❸ معنی عرفي ده په عرف کي وايي صفة ته نو دلته همدامعنی مراده يعني فعل ديوه صفة خخه بل صفة ته تقلوي هغه صفات نو مضارعية ماضية نفي اثبات اخبار انشاء يقين او شک دی .

قوله پي دغاټ بلاشك دلته دشارح دوه غرضه دي ❶به دپي دغاټر جمه وکړي لپاره ددفع داعتراض ❷ دويه به دفع داعتراض وکړي حاصل داول غرض دادی

سوال نمبر (۱۸۸) چي دغا خو په لغة کي حيله ته وايي دلته دامعنی مرادول غلط دی؟

شارح پي ځواب وکړي چي دغالګه خنګه چي په معنی دحيله سره راځي دغه رنګه په معنی سره دشک هم راځي.

حاصل ددويم غرض داد ی

سوال نمبر (۱۸۹) چي مقصدپه بيت کي دادی چي ددي خبري بيان وکړي چي داپنځه حروف جزم په فعل کي کوي نو دابيت پر هر يک بانديي تمام سو پي دغا ته څه ضرورة دی؟

شارح ځواب وکړي لپاره دقافيي برابرولو چي دبيت آخر سره برابرسي دقافيي دوي معنی ګاني دي (۱)داچي قافيه وايي دبيت آخري ته چي متحرک وي او که پي آخر حرف ساکن وو ماقبل پي متحرک ووهم قافيه ورته وايي ❷قول دادی چي قافيه وايي اخر دبيت ته .

النوع السابع

من متی مهما انا اِی اِذ ما حیثما

جازم فعلین نه اسم باما لنما

توضیح النکتة

قول الناظم فی النظم والی وای لاندي نکته ده **وکذا اية فی المؤنث ولم یذکر ها اکتفاء بالمذکر** غرض دناکت دفع داعتراض دے اوس ورنه اول دادی

سوال نمبر (۱۹۰) چي حصر داسماؤ عامله ؤ باطل دی ځکه بل هم سته چي آية دی؟

ناکت ځواب وکړي وکذا اية حاصل يي ظاهر دی دويم اعتراض دادی

سوال نمبر (۱۹۱) چي کله اية مطلوب سونو ولي يي نه کی ذکر؟

ناکت ځواب ورکړي چي **ولم یذکرا کتفاء بالمذکر** حاصل داچي ذکر داصل غنار اولي ذکر خخه دفرع ځکه فرع مخالفة نه کوي داصل خخه.

قوله لما فرغ من بیان انواع الخ تر اعلم پوری غرض دشارح بیان دواقع کوي او تنشیط دطابعو دطالبانو کوي.

قوله اعلم ان هذه الخ ددي ځايه تر فاقيل پوري دشارح دري غرض دي ❶ به بیان ددي خبري وکړي چي جزم داسماء جوازمو مشروط دی په يو شرط پوري ❷ به تعريف ددغه قيد

وکړي او مثال به يې ووايي ❸ به بيان ددې خبرې وکړي چې ددوی عمل چې مشروط دی تر يو شرط دابناء دی پر يو قاعده باندې ❹ به دوه نومونه ددغه اسماوو ذکر کړي.

حاصل داول غرض دا دی چې جزم ددغه اسماء جوازمو مشروط دی په يو شرط پوري هغه دادی چې دوی به مشتمل وي پر معنی باندې دان که دوی نه وه مشتمل پر معنی دان نو دوی جزم نه سي کولای په فعلونو کې محشي يې دليل داويلی دی چې که دوی مشتمل نه سي پر معنی دان نو يا به موصوله وی يا به استفهاميه وي مثالونه به يې به آخر کې ذکر کړو.

حاصل دويم غرض دادی چې معنی دان عبارة ده ددې څخه چې **هوسببية الاول للثاني** لکه **مَنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ** الخ.

حاصل دريم غرض دادی چې عمل ددغه اسماؤ چې مشروط دی تر معنی پورې دان دابناء دی پر يوه قاعده باندې هغه دا چې اتحاد دحکم دمشتمل دمشتمل سره ضروري او لازمي دی.

حاصل دڅلرم غرض دادی چې ددغه نهو اسماوو لپاره دوه نومونه دي ❶ اسماء جازمه ❷ اسماء سازجه جامده نو جازمه يې هغه وخت بولي چې مشتمل وي پر معنی باندې دان شرطيه به دغه وخت کې دوی جزم ورکوي دوو فعلينو ته اول ته يې شرط وايي دويم ته يې جزاء وايي او اسماء سازجه هغه وخت ورته وايي چې دوی مشتمل نه وي پر معنی دان شرطيه نو به دغه وخت کې دوی عمل نه کوي لکه نور اسماء جامده لکه زيد عمرو بکر وغيره نو کلمه دمَن چې نه وي مشتمل پر معنی دان نو به استفهاميه وي لکه **مَنْ يَضْرِبُكَ** يا به موصوله وي لکه **أَكْرِمْ مَنْ يَجِيئُكَ** او کلمه دمَا چې نه وي مشتمله پر معنی دان نو به استفهاميه وي لکه **وَمَاتِلْكَ**

يمِيطِكَ مُوسى يا به موصوله وي لكه عَرفت مَاإشْتَرَيْتَهُ يعنى الذى اشتريته او كلمه داى چي نه وي مشتمل پر معنى دان نو به استفهاميه وي لكه أَيُّهُمْ يَطِرُبُكَ .

توضيح النكتة

قوله حال كونهما دلته كونهما غلط دى كونها صحيح دى او لاندي يې نكته ده دابي ځايه ده بلكه دا په لاندي ليكه كي پر الفعلين باندي پر ته ده .

قوله لحيلئذ لوړه نكته ده او بعض اواجزاء ددي نكتي نسته داسي ليكلي ده **اى حين على معنى ان** نو مناسبه ده چي دارنګه وليكل سي **اى حين اشتمالها على معنى ان** غرض دناكت اشاره كول دي دي خبري ته چي تنوين په حيئذ كي عوض دى دمضاف اليه څخه نو ناكت يې مضاف اليه ظاهر كړي هغه لفظ داشتمال دى .

قوله فانقيل الخ ددي ځايه تر اعلم پوري دشارح راوړل داعتراض دى چي پر ناظم باندي كيږي اوبيابه شارح ځواب ځني وكړي حاصل داعتراض داى

سوال نمبر (۱۹۲) چي حصر داسماء جوازمو په نهٔ و كي نه صحيح كيږي ځكه لكه څنګه چي دغه نه اسماء جزم فعل ته وركوي هم دارنګه كيفما او اذا هم فعلينو ته جزم وركوي نو ولي ناظم نه راوړل؟

په قلنا سره به ځواب وكړي حاصل يې داى چي جزم په كيفما او اذا سره شاذ دى په كلام كي دفصحاؤ عربو على الاطراد نه دى راغلي نو شذوذ په كلمه دكيفما كي ځكه دى چي كيفما

تقاضا کوي داستواء دشرط او جزاء لکه **کَیفَمَا تَقْرَءْ اَقْرَءْ** اوس پیا واهم وهم کوي چې کله دکیفما شرط او جزاء سره مساوي سوه نو به یې جزم شاذ نه وي؟

شارح ځواب وکړي چې **واستواء القرائتین متعذر** حاصل دا چې کله استواء دقرائتینو متعذره سوه نو معنی دشرط هم پکښې متعذره سوه چې معنی دشرط نه راغله نو متضمن نه سو معنی لره دان نو جزم فعلینو ته وړکوي داخو سو شذوذ دکیفما اوشذوذ داځکه دی چې اذا وضعه سوی دی لپاره دامر مقطوع به په مستقبله زمانه کې او کلمات دشرط او جزاء وضع سوي دی لپاره دابهام نو یقین او ابهام سره متناقضین دي په آن واحده او په مکان واحد کې نه سره جمع کیږي.

فائده

اوس یو شاذ دی بل نادر دی بل ضعیف دی شاذ هغه ته وایي چې مخالف وي دقیاس او قاعدې څخه او موافق وي دکلام عربي سره په کلام کې دعربو استعمالیږي پر طریقه دکثرة نادر دي ته وایي چې موافق وي دقیاس او قاعدې سره خو په کلام عربي کې کم استعمالیږي او ضعیف دي ته وایي چې مخالف دقیاس سره هم وي او په کلام عربي کې هم نه استعالیږي.

توضیح النکات والرقوم

قوله ایضا لاندې نکته ده ای **مثل الاسماء التسعة المذکورة** غرض دناکت اشاره کوي دې خبرې ته چې کلمه دایضا لپاره دتشبیه ده په معنی سره دمثل دی نو مشبه به یې اسماء تسعه دي.

قوله فلان كيفما لاندي نكته ده اي **فثابة لان آه** غرض دناكت اشاره كول دي دي خبري ته چي لفظ دأمّا تفصيليه دی نو په ځواب کي يې فاء واجبه ده امتعلق دلام جاره ثابت دی.

- **قوله للامر المقطوع به** لاندي نكته ده **اي معلوم الوقوع قطعا** غرض دناكت دفع دتوهم ده چي نسبة دقطع وه امر ته باطل دی ځکه قطعًا په معنی سره د پاره کردن (پریکول)دی نو دلته يې ذکر مناسب نه دی؟

ناکت ځواب وکړي چي مراد دلته دقطع څخه امر يقيني دی نه په معنی مذکوري سره.

قوله وضعت نو دلته يو رقوم دی غرض دراقم بيان کول دي دوجه دوضع کېلودکلمات دشرط لپاره دابهام.

قوله اعلم ددي ځايه تر قوله پوري غرض دشارح توضيح کول دي ددي نوعي په پنځو خبرو سره حاصل يې ظاهر دی.

توضيح النكتتين

قوله موقوفا لاندي نكته ده **اي حال كون عمل الجزم موقوفا على آه** غرض دناكت اشاره كول دي دي خبري ته چي موقوفا منصوبه دی ځکه حال دی دالجزم څخه او حال منصوبه وي

- **سوال نمبر(۱۹۳)** چي حالية دموقوفادالجزم څخه نه صحيح کيږي ځکه حال خويًا دهيئة دفاعل کوي يا دمفعول نو الجزم خو نه فاعل دی نه مفعول دی بلکه خبر دی دعملها لپاره؟

ځواب چې مبتدأ او خبر هم فاعلان دی حکما ځکه لکه څنګه چې فاعل او مفعول رکن دکلام وي هم دارنګه مبتدأ او خبر هم رکن دکلام دي.

قوله اسماء الجوازم لاندې نکته ده **لان علمها الجزم الخ** غرض دناکت بیان دوجه — دتسمیې ددغه اسماؤ دی په دغه نامه سره.

قولهماايها الخ تر پایه پورې دشارح دوه غرضه دي ❶ تعین دمعنی د(با)کوي پداقول کي دناظم چې با ما اینما❷غرض یې ذکر کول دشاهد دي لپاره دثبوت دداخبري چې با په معنی دمع ده هغه شاهد دابیت دی چې.

خورده ہمان بہ کی بیاران خوری = خاک برآن خوردہ کہ تنہا خوری —

تجمه خاروي ښه دی چې دیارانو سره وخورل سي نه هغه خوراک چې یوازي خورل کیږي. —

نو دلته په بیاران کي باء په معنی سره دمع ده.

النوع الثامن

نوع ہشتم ناصب اسم منکر چارا سم

نصب بر تمیز باشد آن منکر ہر کجا

اولین لفظ عشر باشد مرکب با احد

ہمچنین تا تسع وتسعین ی شمر این حکم را

قوله اى النوع الثامن الخ تر اعلم پورې دشارح دوه غرضه دي ❶ به اشارة بيان دوجه درفع دالنوع الثامن وكړي ❷ به فرق بيان كړي ددغه نوع دنورو نوعو نه.

حاصل داول غرض دا چې النوع مرفوع ده موصوف دى الثامن يې صفة دى موصوف سره دصفته مبتداء خبر يې محذوف دى چې هغه دادى اسماء **تنصب الاسماء النكرات**.

حاصل ددويم غرض داچې په دغه نوع كې عامل او معمول دواړه اسمونه دي نوري نوع دارنګه نه دي ځكه په حروف جاره وو او حروف نداء او حروف مشبه بالفعل كې عامل حروف دي معمولات يې اسمين دي يايا اسم واحد دى او په حروف جوازم او حروف نواصب او اسماء جوازم كې عامل يا اسم يا حروف دي او معمول يې فعل دى يا فعلين دي.

قوله واعلم ان هذا النوع الخ ددې ځايه تر **فالمفردات** پورې دشارح دى غرضه دي ❶ اشاره كوي فرق ته په مابين كې داسم عدد او دنفس عدد ❷ مرتبې بيانوي داسماء عدد ❸ به دهرې مرتبې لپاره خپل خپل نوم ذكر كړي.

حاصل داول غرض دادى چې يو اسم عدد دى چې جمع يې اسما عدد راځي او بل نفس عدد دى نو اسماء عدد عبارة دي لدې ځكه چې **اسماء العدد ماوضعت لكميات احاد الاشياء** يعنې چې دوى وضعه دي لپاره دمقدارو داحادو داشياؤ چې هغه معدودات دي لكه ثلاثة رجال نو اوس ثلاثة اسم عدد دى وضعه دى لپاره دمقدار دافرادو چې رجل دى يعنې درې خلك داخو سو اسم عدد او مطلق عدد عبارة دى له دې ځكه چې **العدد هي الكمية المتألفة من الوحدات** يعنې عدد هغه مقدار دى چې مركب وي دوحدانو ځكه لكه درې

نو دادري عدد دی ځکه مرکب دی د دروافرادو څخه نو پر دا تقدیر واحد نه دی داخل په عدد کي ځکه واحد مرکب نه دی او که د عدد دارنګه تعریف وسي چي **العدد مایقع به مراتب العدد** یعني عدد هغه شی دی چي مرتبه د عدد وي نو واحد هم یوه مرتبه د د عدد .

حاصل دویم غرض دادی چي اسماء عدد ولره دي مرتبي دي ❶ مرتبه د مفرداتو ده دا دیوه څخه بیا تر لسو پوري ❷مرتبه د مرکباتو فقط ده دا دیوولسو (۱۱) څخه بیاتر نولسو(۱۹)پوري ❸مرتبه د مرکباتو مع العطف ده دا دیویشت څخه بیا تر نه نیوي پوري یعني احد وعشرين تر تسع وتسعين پوري. (۹۹)

حاصل دریم غرض دادی چي داولي مرتبي نوم عد دالاقل دی ځکه دوی اقل الحروف دي تر دانورو دوومرتبو د دوهمي مرتبي نوم عدد اوسط دی ځکه نه یي حروف دومره کم دي لکه داولي مرتبي نه دومره ډیر دي لکه د دریمي مرتبي د دریمي مرتبي نوم عدد اکثر دی ځکه دوی تر ټولو مرتبو اکثر الحروف دي.

قوله فالمفردات الخ ددي ځایه تر **وانما اختاروا الخ** پوري بشارح دوه غرضه دي ❶ قاعده بیانوي لپاره د مفرداتو ❷به دفع داعتراض وکي .

حاصل داول غرض دادی چي قاعده په مفرداتو کي داده چي دوی همیشه مضاف وي څیل تمیز ته او تمیز به یي جمع وي لکه ثلاثة رجالٍ واربعة رجال تر عشرة رجال پوري او داجمع بیا عامه ده که لفظاً وي لکه دامثالونه او که معنًا جمع وي لکه ثلاثة رهط نورهط که څه هم په

لفظ کي مفرددى خو په معنى کي جمع ده ځکه دده اطلاق کيږي ددرو څخه تر عشره پورې نو عشره هم کي داخل دي په رهط کي پر عشره يې هم اطلاق کيږي.

حاصل ددويم غرض دادى چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۹۴) چي شارح ولي په مثالو کي دمفرداتو دثلاثه څخه شروع وکړه دواحد دااثنين څخه يې شروع نه وکړه سره له دې چي داهم عددين دي؟

شارح ځواب وکړي چي **انماابتدء** حاصل دادى چي ځکه يې شروع دثلاثه څخه وکړه چي واحد اواثنين دخپل تميز سره نه ذکر کيږى بلکه يوازي تميز ذکر کيږي داسي ويل کيږي رجل رجلان دا ځکه چي عدد ذکر کيږي دتميز سره ددي لپاره چي عدد دلالت وکي پر مقدار باندي او داتميز دلالت وکړي پر جنس باندي نو دواحد او اثنين تميز هم پر مقدار دلالت کوي هم پر جنس باندي نو دواحد او اثنين په ذکرکولو کي فائده نسته نو رجل دا په اعتبار دمادي سره پر جنس دلالت کوي او په اعتبار دهيئت سره دلالت کوي پر مقدار باندي نو چي لفظ مفرد دى پر وحدت دلالت کوي همدرانګه رجلان دي په اعتبار دمادي سره پر جنس دلالت کوي په اعتبار دهيئت سره پر مقدار دلالت کوي او س معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۹۵) چي رجل او رجلان ته تميز ويل نه صحيح کيږى ځکه چي ددوى سره چي واحد او اثنان نه ذکر کيږي نو دوى ته تميز ويل هم باطل دى؟

ځواب چي مراد دتميز څخه په دې ځاى کي هغه اسم مراد دى چي صلاحية ددي لپاره لري چي تميز دى واقع سي هغه وخت چي ددوى سره واحد او اثنين ذکر سي.

توضيح النكتتين

قوله الى عشر ة رجال لوړه نکته ده **واربعة ليس لهما للمفرد من لفظهما** دانکته دلته بي ځايه ده ځکه ددي ځايه سره هيڅ تعلق نه لري نو دامکرره راغلي ده دهغه نکتي څخه چي په دولسمه ليکه کي دنکتي آخري الفاظ دي.

قوله ويطرح لوړه نکته ده يترکب نو دارنکه غلطه ده صحيح دارنکه ده اي يترک دلته لوړه نکته ده **بالاستغناء** نو دالفظ چي بالاستغناء نويشته سي نوښه به وي.

قوله وانما اختاروا الاضافة الخ ددي ځايه تر **اما المركبات** پوري دشارح غرض ځوابونه ددرو اعتراضو څخه دي اول اعتراض پرمخکني قاعده باندي وارېديږي

سوال نمبر(١٩۶) چي مفردات مضافيږي څپل تميز لره نو معترض وايي چي تميز خو منصوب وي ځکه دی مشابه دی دمفعول سره په دي کي چي مفعول هم دريم ځای او تميز هم دريم ځای راځي مفعول منصوب وي نو دا اعداد چي مضاف سوه تميز ته نو تميز مجروره سو ځکه مضاف اليه مجروره وي؟

شارح يې ځواب وکړي چي انما اختاروا حاصل يې دادی چي دوی کثيرالاستعمال دي او کثرت استعمال تقاضا دتخفيف کوي نو موږ دوی مضاف کړه چي په اضافة سره تخفيف راځي ځکه پر مضاف باندي نه تنوين نه قائم مقا دتنوين راځي.

تنبيه : تميز په لغت كې مطلق تفريق ته وايې او په اصطلاح كې دې ته وايې (التميز ما يرفع الابهام المستقر عن ذات مذكورة او مقدرة)يعنې تميز هغه اسم دى چې رفع دابهام دذات څخه كوي هغه نوكه په لفظ دكلام كې وي كه مقدر وي مثلا لكه عندي رطلٌ زيتًا درطل څخه يې ابهام ليرې كړى اومقدر مثال لكه طابَ زيدٌ نفسًا نو نفسا رفع دابهام دهغه ذات څخه وكړه چې مقدر دى هغه شى مقدر دى تقدير يې داسې كيږي طابَ شي منسوبًا الى زيدٍ .

حاصل ددويم اعتراض دادى

سوال نمبر (۱۹۷) چې تاسو ولې تميز دمفرداتو جمع كړې ځكه چې اصل په تميز كې دادى چې مفرد به وي چې موافقة يې راسې دمميز سره ؟

شارح يې ځواب وكړې چې **انمااختاروا** حاصل دځواب دادى چې موږ اوس هم اتفاق راوستلى دى په دې بول چې موږ مخكې داخبره وكړه چې جمع عامه ده كه لفظاً وي كه معنى وي نو ثلاثة او اربعة تر عشرة پورې داكه لفظي جمع نه ده خو معنوي جمع ده ځكه دوى دلالت كوي پر افرادو باندې .

حاصل ددريم اعتراض دادى

سوال نمبر(۱۹۸) چې تاسو ولې دقاعدې اوقياس څخه خلاف كاروكړې ځكه چې دمذكر سره موءعدد مؤنث راوړى او دمؤنث تميز سره دمومذكر عدد راوړى لكه ثلاثة رجال ثلاث نسوة نو دقاعدې څخه خلاف دا په قوة كې دخطاء دى ؟

شارح پې ځواب وکړي چې **انما اختاروا الخ** حاصل دا چې موږ دقاعدې څخه خلاف كار نه دى كړي بلكه دقاعدې موافق كار مو كړي دى هغه په دې ډول چې كله تميز جمع راغلى نو جمع په تاويل سره دجماعة او ړي او جماعة مؤنث دى نو موافقة دعد دمعدود سره راغلى .

توضيح النكات

قوله فاقتضى لاندې نكته ده **اى كثرة الاستعمال** غرض دناكت تعين كول دي دمرجع دضمير چې مستتر دى په فاقتضى كي هغه دادى چې كثرة الاستعمال دارافهميږى ددې قول څخه چې تستعمل كثيرا ځكه مبدأ دمشتق څخه رافهميږي .

قوله جمع معنى لاندې نكته ده **للالفاظ لان الجمع لفظا لا يكون الخ** نو پدغه نكته كي لفظ دلا غلط دى صحيح دادى چې پر ځاى يې ما وليكل سي يعني ما يكون .

قوله ليكون المعدود لاندې نكته ده **وهو المميز بصيغة اسم الفاعل وهو المميز بصيغة اسم المفعول** نو دانكته پر دارقم غلطه ده صحيح دارنگه ده **بصيغة اسم المفعول وهو المميز بصيغة اسم الفاعل** دناكت دوه غرضه دي اول په تعين دصيغې دمعدود وكړي پدې ډول چې داصيغه داسم مفعول ده دويم په بيان دمعنى دالمراد وكړي چې دالته مراد مميز دى په كسره دميم سره يعني صيغه داسم فاعل مراد ده .

قوله اعني للملل كردلته لاندې نكته ده **وهو لا يحصل الخ** نو دانكته پې ځايه ده صحيح داده چې د(١١)ليكي په آخركي دداقول سره نوښته سي چې **للتخفيف** او يو څه غلطي هم پكښې سته ځكه داسيكلي ده **او اى التثنية والجمع** صحيح داسې ده **نونى التثنية والجمع** .

قوله جمعا لاندي نکته ده **لفظا نحو ثلاثة رجال الخ** غرض دناکت اشاره کوي تعمیم ته دجمع چي جمع عامه ده لفظي وي که معنوي وي لفظي خو هغه ته وایي چي دخپل لفظ څخه مفرد لري او معنوي په خلاف ددي ده لکه رَهطٌ نو دارهط کښه هم لفظا مفرد دی خو معنی جمعه ده پدي دول چي اطلاق يي کيږي ددرو څخه یاترلسوپوري پدغه صفحه کي نکته ده بصیغة اسم المفعول دانکته ددغه قول سره لګیږي چي مع الممیز .

قوله بتأویل لوړه نکته ده **من فوائدهو جمع مأول** نو ددي نکتي اول توری من فوائد دلته غلط دی صحیح دادی چي ددالاندي نکتي ددولسو لوړه نویشته سي یادغه نکته دلیکي پر سر نویشته که نو به ددوولسو وروسته دغه توری راسي نو دادامعنی چي دانکته دفوائدضیائیه څخه راالخیستل سوي ده .

قوله اماالمرکبات الخ له دي ځایه تر **فاتقیل** پوري دشارح خلور غرضه دي ❶ غرض قاعده بیانول دي دمرکباتو اعدادو ❷ به دفع ددوو اعتراضو وکړي ❸ به اشاره وکړي مماثلة ته دوارو قسمینو دمرکباتو ❹ به دفع دبل اعتراض وکړي .

حاصل داول غرض دادی چي قاعده په مرکباتو کي داده چي تمیز ددوی منصوب مفرد راځي لکه (اَحَدَعَشَرَ کَوکَبًا اواثنی عَشَرَرَجُلاً) .

حاصل ددویم غرض دادی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۱۹۹) چي تمیز دمرکباتوولي په اضافة سره نه مجروره کوي لکه تمیز ونه دمفرداتو چي په اضافة سره مجروره سوه؟

شارح یې ځواب وکړي چې **انما اختارو ا** حاصل يې دادی چې تميز دډوی به منصوبه وي ځکه دلته اضافة متعذر دی ځکه چې بیا دري کلمې یوه کلمه ګرځي نو تمیز یې پر خپل اعراب باندې پاته سو چې نصب دی .

حاصل ددويم اعتراض دادی

سوال نمبر(۲۰۰) چې تمیز دمرکباتو ولې مفرد وي وجه څه ده؟

شارح یې ځواب وکړي **انما جعلوا التمیز الخ** حاصل دځواب دادی چې تمیز دمرکباتو به مفرد ځکه وي چې مفرد دنصب مناسب دی په خفة کې لکه څنګه چې نصب نسبة رفع او جر ته خفیف دی همدارنګه مفرد نسبة تثنيې او جمعې ته خفيف دی .

حاصل ددريم غرض دادی چې دمرکباتو مع العطف تميز هم مفرد منصوب راځي لکه څنګه چې دمرکباتو بلا عطف تميز وو لکه اَحَدَوَعِشْرِيْنَ رَجُلاً .

حاصل دڅلرم غرض دادی

سوال نمبر (۲۰۱) چې ولې دې مرکبات خلاف القياس راوړل چې دمذكر تمیز سره مؤنث عدد راوړي ځکه چې اتفاق اصل دی تر اختلاف مثال يې لکه ثَلٰثَةٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلاً ؟

شارح یې ځواب وکړي چې **انما اختاروا** حاصل دځواب دا چې اختلاف یې غوره کی تر اتفاق ځکه چې مرکبات فرع دی دمفرداتو نو داقاعده ده چې فرع حکم داصل اخلي تر څو چې مانع منع نه وي کړي .

توضیح النکتتین

قوله الخ لوړه نکته ده ای الی **تسع وتسعین** غرض دناکت معنی کول دی دالخ چې الغ مخفف راغلی دی ده الی آخره خخه نو معنی یې داده چې تر پایه پوري یې پوره کړه .

قوله فی الخفة لوړه نکته ده او سره جدا جداده بعض پر دغه قول لوړه لیکل سویده او بعض یا پر دالوړه لیکه لوړه لیکل سویده نو صحیح داده چې یوځای ولیکل سي دانکه **ای في ان تمیز ها ایضا یکون منصوبا مفردا** .

قوله فانقیل الخ ددې ځایه تر دویم فانقیل پوري دشارح دوه غرضه دئ ❶ یو اعتراض رانقل کړي بیا به یې ځواب وکړي ❷ به دفع دنورو دوواعتراضونو وکړي .

حاصل داول اعتراض دادی

سوال نمبر (۲۰۲) چې معترض پر شارح اعتراض کوي چې تاداخبره وکړه چې داضروري ده چې فرع په حکم داصل اخلي نو مناسبه ده چې په **(قَلَقَةٌ عَفَرَرَجُلًا)** کي **(قَلَقَةٌ عَفَرَةٌ رَجُلًا)** وویل سي په تانیث سره دجزئینو ځکه لفظ دعشر په حال کي دافراد مؤنث راځي لکه **عَشَرَةٌ رِجَالٍ جَاءُوْا** نو مناسبه ده چې په حالت کي دترکیب دي هم مؤنث وویل سي ځکه داضروري ده چې فرع به لار داصل وړي؟

شارح یې ځواب وکړي چې **قلنا قیدمالم الخ** حاصل یې دادی چې موږ داخبره وکړه چې فرع حکم داصل اخلي دامقیده دی په قید سره دمالم یمنع مانع او دلته مانع موجود دی هغه داچې بیااجتماع دعلامتینو دتانیث راځي .

حاصل دويم غرض دادى

سوال نمبر(۲۰۳)چې اجتماع دعلامتينودتانيث په يوه کلمه کې منع ده او ثلثة عشر رجلاخو دوې کلمې دي؟

شارح پې ځواب وکړي چې **فيما هوکالکلمة الواحدة** حاصل يې دادى چې لکه اجتماع دعلامتي دتانيث چې په يوه کلمه کې منع ده همدارنګه په هغه ځاى کې چې لکه يوه کلمه داسې وي ثلاثة عشر دالکه يو هکلمه داسې ده ځکه دامضاف او مضاف اليه دي نو ددوى تر منځ فصل نه راځي نو ددغه شدة اتصال په وجه لکه يوه کلمه داسې سوه.

حاصل دويم اعتراض دادى

سوال نمبر(۲۰۴)چې ولې دي عکس نه کوي چې اول جزء به دي مذکر کړي واى او جزء ثاني به دي مؤنث کړى واى يعني (ثَلَثَ عَشَرَ ةَرَجُلاً) به دي ويلى واى سره له دې چې دلته هم اجراء دفرع راغله پر وتېره باندې داصل او اجتماع دعلامتي دتانيث هم نه راځي ځکه چې که اَول جزء مؤنث سي نو به تاء په مابين کې راسي او که په عشر کې راسي نو آخر به مابين کې نه راځي؟

شارح يې ځواب وکړي چې **ولم يجعل على الخ** حاصل دا چې عکس مې ځکه نه وکړي چې يوه فائده حاصله سي هغه فائده داده چې اشعار(خبرتيا) دى پر تانيث باندې راسي داولي شروع څخه دابنه خبره ده.

توضيح النكتة

قوله فانقيل فعلى هذالاندي نكته ده اى على ان اخذالفرع حكم الاصل ضروري غرض دناكت اشاره كوي مخكنى قاعدې له چې داقاعده ده چې فرع به حكم داصل اخلي.

قوله فيما هو لاندي نكته ده **فانه منكرة فى كلامهم** دانكته تر دي قول لاندي ده چې اجتماع علامتي او منكره لفظ غلط دى مستكره لفظ دى.

قوله فانقيل فى قوله احدى عشرة امرأة الخ په داعبارت كي شارح اعتراض كوي داول اعتراض پر ځواب باندي

سوال نمبر(۲۰۵) چې شارح په مخكي ځواب كي وويل چې اجتماع دعلامتي دتانيث مستكره ده نو معترض وايي چې نه ده مستكره ځكه زه به يي درونبيم چې اجتماع به راغلي وي بيا به هم جائز وي لكه احدى عشرة امرأة كي يو علامه دتانيث الف مقصوره دى په احدى كي بل تاء دتانيث ده په عشرة كي نو دادى اجتماع راغله په كالكلمة واحدة كي او بل لكه (حُبْلَيَاتٌ او طُرْبَيَاتٌ) كي دادى په كلمه حقيقيه كي اجتماع دتانيث راغلي ده په حبليات كي يا او تاء ده ځكه حبليات جمع دحبلى ده اوضربيات جمع دضربى دي؟

شارح يي ځواب وكړي په قلنا سره حاصل يي دادى چې مرادد علامتي نه دتانيث علامتي دجنس واحده دي اودلته دجنسو نه دي چې (الف = تاء) او (ياء=تاء) دي.

توضیح النکتة

قوله ما اذا کانتا لاندي نکته ده ای **ان الخ** ددغه نکتې آخري توری چې *که باشند از جنس واحد* نو دا چې سره واوړي نو بنه به وي یعني دارقم *که از جنس واحد باشند* دنکتې تول الفاظ دادی ای *آن علامتی تانیث که از جنس واحد باشند*.

قوله فان قیل فعلی هذا فی ثلثی عشرة امرأة الخ دااعتراض کوي پر داځواب باندي

سوال نمبر(۲۰۶) چې ته وایې چې اجتماع دعلامتی دتانیث من جنس واحد منع ده زه به یې درونبیم چې اجتماع دعلامتی دتانیث من جنس واحد به وي او منع به نه وی لکه په ثنتا عشرة امرأة کې داده اجتماع دعلامتی دتانیث راغلې ده په کالکلمه واحده کې؟

شارح یې په قلنا سره ځواب وکړی حاصل دا چې نه منم تاء په ثنتا کې لپاره دتانیث ده بلکه داعوض ده دیاء شخه اصل یې ثنیان وو یاء حذف سوه په عوض کې یې تاء راغله بیایه اضافة کې یې نون حذف سو باره ثنتاعشرة سو.

قوله فان قیل لم خالف حال الخ معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۲۰۷) چې کله تمیز مؤنث راسي نو دترکیب په حالت کې ولې جزء ثاني چې عشره دی مؤنث راوړي لکه ثلث عشرة امرأة اربع عشرة امرأة حٔکه چې په حالت کې دافراد مذکر راځي لکه عشر امرأة سره له دې چې اتفاق اصل دی تر اختلاف؟

په قلنا سره شارح ځواب کوي حاصل دا چي دافراد په حالت کي چي عدد مذکر راځي داځکه چي فرق راسي په مابين کي دحالت دتذکير او دتانيث او دافرق په حالت کي دترکيب راغلی په تذکير سره دجزء اول نو دجزء ثاني دتانيث څخه هيڅ مانع نسته .

توضيح النكتة

قوله فلا مانع لوړه نکته ده **العدد** نو دا چي يو څه رامخته سي پر الاول باندي وليکل سي بنه به وي .

قوله واعلم انها الخ ددي ځايه تر بيت پوري غرض دشارح توضيح کوي ددغه نوع په پنځو خبر وسره حاصل يې ظاهر دی .

توضيح النكتة

قوله اسماء النواصب لوړه نکته ده کہ ایشان ممیز ی خواہند دانکته په لاندي ليکه کي پر داقول باندي پر ته ده چي اسماء المميز او لوړه هم نکته ده **بصيغة اسم الفاعل** دانکته چي داسي نوشته سي بصيغة اسم المفعول ځکه دغه اسماء چي دي مبهم دي پخپله رفع دابهام نه کوي بلکه تميز يعني هغه اسم نکيره رفع دابهام کوي .

بازثانی کم چو استفہام باشد نی خبر

ثالث ایشان کاین رابع ایشان کذا

توضيح النكتة

قوله في العظم بأزقاني كم لاندي نكته ده صح آنكه مفروسات الخ دلته دناكت درې غرضونه دي ❶ اشاره کوي وه اختلاف ته په ذات کي دکم ❷ به تعين دقول صحيح وکړي ❸ به بيان داعلال وکړي پر تقدير باندي دتركيب .

حاصل داول غرض دادی چي په ذات کي دکم اختلاف دی چي داوس مفرد دی که مرکب دی نو په نيز دبعضو مفرد دی او په نيز دبعضو يامركب دی دمااستفهاميه او کاف تشبيهي څخه.

حاصل ددويم غرض دادی چي صحيح قول دادی چي دامفرد دی .

حاصل دديم غرض دادی چي ددويم قول پربناء چي کم مرکب سي نو اصل يي کما وو نو الف يي ځني حذف کړی باره کم ځني جوړسو .

قوله اى الاسم الغالى الخ ددي محايه تر قوله ثالث پوري دشارح څلور غرضونه دي ❶ به په ترکيبي لحاظ سره دثانی او کم واعراب ته اشاره وکړي ❷ به تقسيم دکم وکړي دوو اقسامو ته ❸ به دهر يوه عمل بيان کړي ❹ به وجه بيان کړي لپاره دعمل ددوی .

حاصل داول غرض دادی چي ثاني مرفوع دی صفت دی لپاره دموصوف محذوف چي هغه الاسم دی او الاسم مرفوع دی څکه مبتدأ ده او کم مرفوع دی څکه خبر دی لپاره دالاسُم الثانی.

حاصل ددويم غرض دادی چي کم پر دوه قسمه دی ❶ استفهاميه ❷ خبره استفهاميه يعني منسوب بسوی استفهام نو استفهاميه ته څکه استفهاميه وايي چي دده په معنی کي هم استفهام او

پوښتنه سته خبريه معنی منسوب الی الخبر نو دده په معنی کې هم خبر او حکاية سته مثال دکم استفهاميه لکه (کَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ) يعني ستا سره څو خلک دي او مثال دکم خبريه لکه (کَمْ رَجُلٍ عِنْدِيْ) يعني زما سره ډير خلک دي نو کم ته استفهاميه ځکه وايي چې متضمن وي معنی لره داستفهام او خبريه ته ځکه خبريه وايي چې نه وي متضمن معنی لره داستفهام.

حاصل ددريم غرض دادی چې کم استفهاميه خپل تميز لره نصب ورکوي او دکم خبري تميز مجرور وي ځکه چې کم ورته مضاف دی.

حاصل دڅلرم غرض دادی چې کم استفهاميه ځکه ناصب دی تميز لره چې دی حمل دی پر مرکباتو باندي لکه دمرکباتو تميز چې منصوب وي همدارنګه تميز دکم استفهاميه هم منصوبه وي ځکه چې کم استفهاميه دمطلق عدد لپاره راځي کهٔ اقل وي که اوسط اوکه اکثر اوعدد مرکب دايوقسم دی دمطلق عدد څخه نودکم استفاميه مناسبت سته دعدد مرکب سره او دامرکب عدد ته اوسط هم وايي چې ديوولس(۱۱) څخه بيا ترنولس(۱۹) پوري دی او معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۲۰۷) چې عدد پر دري قسمه دی ❶اقل ❷اوسط ❸ اکثر نو داقل عدد تميز مفرد مجرور راځي داوسط ده منصوب مفرد راځي داکثر ده مفرد مجرور راځي نو څه وجه ده چې تاسو کم خبري حمل کړی پر عدد مرکب باندي چې اوسط دی نه پر اقل او اکثر باندی چې تميز يې جمع مجرور يا مفرد منصوب وي؟

جواب: چې عدد اقل يو طرف دعدددي او مركب بل طرف دعدد دى او عدد اقل مقابل دعدد اكثر دى او دواړه په طرفية كې سره شريكان دي نو داكم كه موحمل كړى واى پر يوه طرف باندي بيا به ترجيح بلا مرجح راغلې واى نو پر اوسط باندي موحمل كړى ځكه چې داوسط سره په اوسطية كې هيڅوک نه دى شريک چې لازم سي ترجيح بلامرجح او دكم خبري تميز مجروره راځي ځكه چې كم خبري يې نه كړى حمل پر مركباتو باندي چې تميز يې منصوب واى ځكه چې كم خبري كثير الاستعمال دى او كثرة استعمال تقاضى دتخفيف كوي او خفة په اضافة سره راځي لكه (كَمْ رَجُلٍ عِنْدِيْ) او مثال دهغه كم چې پر تميز باندي يې من داخل وي لكه (كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا) نو داكم خبري دى او من قرية يې تميز دى.

توضيح النكوت

قوله في الاستفهامية لوړه نكته ده اى **كلمة كم** نو دانكته يو خه رامخ ته سوي ده نو يو خه يې وخكوه پر كانت باندي يې نويشته كه غرض دناكت تعين كول دي دمرجع دضمير مستتر په كانت كي.

قوله كم رجل عندى لوړه نكته ده **وهو الذى الخ** نو دانكته لاندي راغوځاره سوېده ته يې راولاړه كه تر دي قول لاندي يې نويشته كه چې استفهامية.

قوله على المركبات لاندي نكته ده **وهو الذى يحكي به عن نفسه** دانكته يې ځايه ده نبه خبره داده چې په لوړه ليكه كې تر دي قول لاندي وليكل سي چې وخبرية.

قوله للتخفيف لاندي نکته ده اى للتميز الذى يرفع الابهام عن كنس المسؤل عنه نو دانکته يي ځايه ده صحيح داده چي تر دي قول چي للتميز حملا لاندي وليکل سي.

قوله ثالث ايشان کاين اى الثالث معها کاين حاصل دغرض يي دا چي دفارسي عبارة ترجمة په عربي عبارة سره کوي.

قوله رابع ايشان كذا اى الخ ددي ځايه تر بيت پوري دشارح دوه غرضه دي ❶ دفارسي عبارة ترجمه په عربي عبارة سره کوي ❷مثال دکأين او کذا وايي.

حاصل داول غرض مخکي بيان سو.

حاصل ددويم غرض مثال ويل دي مثال دکأين لکه کأين رجلا عندک يعني ډير خلک ستا سره دي او مثال دکذا لکه کذا رجلا عندک يعني دومره خلک ستا سره دي نو کذا مرکب دی دکاف تشبيهي او اسم اشاره څخه خو دلته هغه خپل اصلي معنی نه ده مراد بلکه مراد ځني عدد مبهم دی همدارنګه مذکر او مؤنث پکښي برابر دي دارنګه نه ويل کيږي کذا کذي.

النوع التاسع

نه بود اسماء افعال کزان شش ناصبند = دونك بله عليك حيهل باشد وها

پس رويد بازرافع اسم راهيهات دان = بازشتان است وسرعان ياد گيراين بيتها

قوله النوع التاسع منها الخ ددې عبارت تر دويم قوله پورې د شارح خلور غرضه دي ❶ اشاره كوي اعراب ته د النوع التاسع ❷ وجه د تسميې ددغه نوع په اسماء افعالو سره ❸ يوه قاعده كليه ذكر كوي ❹ تفريع كوي پر دغه قاعده باندي لپاره ددفع داعتراض .

حاصل داول غرض دادې چي النوع مرفوع ده موصوف دى التاسع يې صفت دى موصوف سره دصفته مبتداء ده خبر يې محذوف دى هغه داقول دى چي اسماء افعال تقدير يې شارح ذكر كړى دى اى النوع التاسع منها اسماءِ افعال .

حاصل ددويم غرض دادې چي ددغه نوع عواملو ته اسماء افعال ځكه وايي چي دوى اسمونه دي معناګاني يې دفعلونو ځكه بعض په دوى كي په معنى سره دامر دي لكه (رُوَيْدَ) په معنى د(أَمْهِلْ) سره دى مثل (رُوَيْدَزَيْدًا) دويم (بَلْهَ) دى په معنى سره د(دَعْ) دى يعني (أُتْرُكْ) مثل (بَلْهَ زَيْدًا) دريم (دُوْنَكَ) په معنى د(خُذْ) دى لكه (دُوْنَكَ زَيْدًا) خلرم (عَلَيْكَ) دى په معنى د(أَلْزِمْ) دى لكه (عَلَيْكَ زَيْدًا) پنځم (حَيَّهَلْ) په معنى د(إِيْتِ) لكه (حَيَّ عَلَ الصَّلٰوةِ) شپږم (هَا) دى په معنى د(خُذْ) سره دى لكه (هَازَيْدًا) .

ياددونه : په (هَا) كي دري لغتونه دي (هَا) (هَاءَ) (هَاءِ) .

او بعض اسماء افعال په معنى سره دفعل ماضي دي لكه (هَيْهَاتَ) په معنى د(بَعُدَ) سره دى لكه (هَيْهَاتَ زَيْدًا) دويم (سَرْعَانَ) په معنى سره د(سَرُعَ) دى مثلا (سَرْعَانَ زَيْدٌ) يعني چابكي وكړه زيد دريم (شَتَّانَ) دى په معنى د(إِفْتَرَقَ) سره راځي لكه (شَتَّانَ زَيْدٌ عَمْرًوا) اى إِفْتَرَقَ) نو ماضي او امر دواړه فعلين دي نو ځكه يې اسماء افعال بولي .

حاصل ددریم غرض دادی چي داقاعده ده چي کوم اسم چي مشتمل وي پر معنی دامر او یا ماضي هغه به اسم فعل وي.

حاصل دخلرم غرض دادی چي شارح وایي چي بناء پر دغه قاعده باندي دناظم دقول چي نه بو د اسماء افعال داحمل دی پر اشتهار باندي ځکه دوی لره حصر نسته دادفع داعتراض کوي

سوال نمبر(۲۰۸) چي داقول دناظم چي نه بود نه صحیح کیږي ځکه چي نور اسماء افعال هم سته لکه (نَزَالِ) او (تَرَاكِ) په معنی د(اَنْزِلْ) او (اُتْرُكْ) سره دی همدرانکه حروف نداء په نیز دابی علی اسماء افعال دي تول په معنی سره د(اَدْعُوْ) یا(اَطْلُبُ) سره دی همدرانکه اسماء اصوات لکه (صَهْ)او(مَهْ) په معنی د(اُسْكُتْ) او (اُتْرُكْ) دی نو(صه که بیله تنوینه وي نو بي معنی داسي کیږي (اُسْكُتْ سُكُوْتَ الْآنَ) او که سره له تنوینه وي نو بي معنی داسي کیږي (اُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا) نو داخو دي حصر بَاطل سو؟

شارح ځواب وکړی **محمول على الاشتهار الخ** حاصل دادی چي داسوال به هغه وخت کیدای که داحصر حقیقي وای بلکه داحصر بناء دی پر ا شتهار باندی یعني نور هم سته خو مشهوره بي دغه نه(۹) دي.

توضيح النكوت

قوله والماسميت لاندي نکته د السماعية نودانکته دلته بي ځایه ده صحیح داده چي دامخکي نکتي سره کیله سي نو به دارقم سي **اى من ثلثة عشرنوعاًمن للعوامل السماعية**.

قول فلمهلها لو ره نكته ده اى فلا حيل ان فيها معانى الافعال نو دغه فلاحيل لفظ غلط دى صحيح داسي دى فلا جل .

قوله نه يو د اسماء افعال نو لاندي نكته ده معنى الامر الخ دانكته سهوه دكاتب ده دلته هيڅ مقصد نه سي آداكولاى .

قوله کزان شش ناصب اندالخ تر اعلم پوري دشارح دوه غرضه دي ❶ بيان كوي دغرض دناظم ❷دفع داعتراض کوي .

حاصل داول غرض دادى چي شارح وايي ناظم چي دلوويل چي كزان ششن ناصبند اشاره كوي قسمينو ته داسماء افعال چي دوى پر دوه قسمه دى ① بمعنى امر ② بمعنى ماضي اول قسم يې ناصب دى دويم قسم يې رافع دي .

حاصل ددويم غرض دادى

سوال نمبر(٢٠٩) چي اسماء افعال ته ځکه اسماء افعال وويل سوه چي دوى په معنى دافعالو سوه نو ولي ناظم هغه اسماء افعالو ته چي په معنى سره دامروي ناصب وويل او هغه چي په معنى دماضى سره وي رافع يې ورته وويل دا خوتر جيح بلامرجح لازمه سوه داخو باطل دى ؟

شارح يې ځواب وكړى وانما صار الخ حاصل يې دادى چي دلته مرجح سته هغه دا چي اول قسم اسماء افعال په معنى سره دفعل متعدي دي اسم دي ته چي نصب وركوي بناء پر مفعولية بائندي

او دويم قسم به معنى سره دفعل لازمي دي نو اسم نه چې رفع وكوي بناء پر فاعلية باندي داول مثال لكه (رُوَيْدَزَيْدًا) اى امهله ددويم مثال لكه (هَيْهَاتَ زَيْدًا) اى بعد زيداً.

قوله اعلم تر دويم اعلم پوري دشارح غرض دفع داعتراض كوي حاصل داعتراض دادى

سوال نمبر(٢١٠) چي دغه عوامل خو اسمونه دي او تعريف داسم نه وربانديې صادقيږي ځكه داسم داتعريف سوى دى چي كلمة تدل على معنى فى نفسها غير مقترنة باحد الازمنة الثلاثة او دوى مقترن دي په زمانه پوري.

شارح يې ځواب وكړي **لكن هذا الاقتران الخ** حاصل يې دادى چي دغه اسماء خو په اصل وضع كې نه دى مقترن په زمانه پوري خو كله چې په استعمال كې راغله نو اقتران يې په زمانه پوري راغلى.

قوله اعلم تر بيت پوري دشارح غرض توضيح كول دي ددغه نوع په بيان دپنځو خبرو سره.

النوع العاشر

نوع عاشر سیزده فعلند ایشان ناقصند

رافع اسمند ناصب درخبر چون ماولا

كَانَ،صَارَ،أَصْبَحَ،أمسی،واَضحی،ظَلَّ،بَات

مَافَتِی،مَادَامَ،مَاانْفَكَ،لَيْسَ باشد ازنقا

مَابَرِحَ، مَازَالَ افعال كزین با مشتقند

هركجا بین همین حکم است درجمله روا

قوله اقول لما فرغ المصنف من بيان الاسماء العاملة شرع في بيان الافعال العاملة فقال نوع عاشر الخ تر واعلم پورى دشارح دري غرضه دي ① تنشيط دطبائعو دطالبانو كوي ② اشاره كوي اعراب ته دالنوع العاشر ③ وجه دتسميې ددغه افعالو په ناقصه سره بيانوي.

حاصل داول غرض دا چې كله مصنف دمخنكي بحث ځخه فارغه سو نو شروع پې وكړه په لسمه نوع باندې.

حاصل ددويم غرض دا چې **النوع موصوف العاشر** صفت موصوف سره دصفته دامبتداء اوخبرېې الافعال الناقصة دى تقدير يې داسې كيږي **النوع العاشر الافعال الناقصة** اوس محشي دافعال ناقصه تعريف داسې كړى دى چې دا هغه افعال دي چې وضع

سوي وي لپاره دتقرير دفاعل پر داسې صفت باندې چې هغه صفت غيروي دمصدر څخه ددغه افعالو لكه (كَانَ زَيْدٌ جَالِسًا) نو اوس كان وضع سوى دى لپاره دتقرير دزيد پر صفت دجلوس او داجلوس غير دى دمصدر څخه دكان چې مصدر دكان كونًا دى.

حاصل ددريم غرض دا چې دوى ته ځكه ناقصه وايي چې ددوى په نسبة كې فاعل ته نقصان دى يوازې په فاعل سره كلام تام نه جوړيږي بلكه منصوب ته هم ضرورت لري.

توضيح النكتتين

قوله شرع لاندې نكته ده صارنودلته كم ازكم دوې توجيه ګانې دي يوه دا چې معترض اعتراض كوي دلته دوه شيان ذكر سوه ① فراغ ② شروع نو في بيان ظرف دى اوظرف يعني زمان بسيط دى او په بسيط كې دوه امرين نه سي سره جمع كېدلای كه څه هم بسيط وي نو دلته اجتماع دامرينوراغلى په ظرف يعني زمانه واحده كې ځكه په يوه آن كي شروع او فراغ نه سي كېداى؟

ناكت برېتوروراغلى ځواب يې وكړى چې صار حاصل دځواب يې دادى چې دلته موړتأويل كوو پدې دول چې شرع په شارع سره ګرځوو او صار ورسره ايږدو نو به داسې وايو چې لما فرغ المصنف الخ صار شارعافی بيان يعني مصنف فارغه سو نو بيا يې شروع وكړه.

دويمه توجيه داده چې په شرع كې ضمير مستتر دى راجع دى مرجع غواړي مرجع يې صار دى مطلب دا چې مرجع يې مصنف دى نو بيا معترض وايي چې مصنف څنګه ځني فهميږي؟

ځواب: چې مصنف دصار ځخه مخفف دی اول صاد دی دادلالة کوي پر مصنف باندي بیا الف دی دادلالة کوي پر الله ﷻ باندي او راء دلالة کوي پر رحم باندي نو شارح اشارة مصنف مراد وي.

قوله کلاماتاما لاندي نکته د بحیث یصح سکوت المخاطب بفاعلها کلاماتاما نو دلته دتصحیح ضرورت سته هغه داسي چې دفاعلها پر ځای باندي علیه نویشته سي او کلاماتا مکرر او بلل سي یعني سهوه دکاتب او بلل سي نو به نکته دارقم سي بحیث یصح سکوت المخاطب علیه.

قوله واعلم ان الناقص الخ تر دویم اعلم پوري دشارح څلور غرضه دي ① تقسیم دناقص کوي دوو قسمونو ته او دهر یوه تعریف به وکړي ② تعین دمعنی مرادي کوي ③ تعین دمعنی مرادي لپاره دوي وجهي بیان کوي ④ دمرفوع او منصوب نوم ونه ذکر کوي چې تر دغه افعالو وروسته ذکر دي.

حاصل داول غرض دادی چې ناقص پر دوه قسمه دی لفظي معنوي ناقص لفظي هغه دی چې پر لام کلمه باندي یې حرف علة وي لکه هغه ابواب مستعمله په علم صرفو کي لکه رمي یرمي رضي یرضي معنوي هغه دی چې په نسبة کي ددغه افعالو وه مرفوع ته نقصان وي.

حاصل ددویم غرض دادی چې مرادلته په بیت کي دویم معنی دناقص مراد ده ځکه اول قسم خو مبحوث عنه دعلم صرفودی.

حاصل ددريم غرض دادی چي ځکه دويمه معنی دناقص مراده چي په كان زيد كي په نسبة كي دكان زيد ته مخاطب ته فائده تامه نه كوي ترڅو چي قَائِمًا يا كَاتِبًا يا ضَاحِكًا نه كړي وور ضم دويمه وجه داده چي په اعتبار دلفظ سره خو نسبة دكان ورته سوی دی لكن په حقيقة كي ي نسبة سوی دی مضمون دجملي ته مضمون دجملي دادی چي مصدرمشتقي مضاف كي غير مشتقي ته لكه (كَانَ قِيَامُ زَيْدٍ) دلته نسبة دكان قيام ته سوی دی.

حاصل دځلرم غرض دادی چي كله په حقيقة كي نسبة دكان قيام ته وسو نو مرفوع ته يې فاعل نه وايي منصوب ته يې مفعول نه وايي بلكه شبه فاعل شبه مفعول ورته وايي لپاره ددي چي صيانة دژبي دخطاء څخه وسي ځكه چي فاعل حقيقي هغه ته وايي چي نسبة دفعل ورته وسي مخاطب ته فائده تامه كوي او نسبة دفعل ورته حقيقي وي لكه ضَرَبَ زَيْدٌ او دلته مرفوع دارنګه نه دی.

توضيح النكات

قوله وهومايكون لاندي نكته ده اى **ناقص الفعل** دارنګه غلطه ده صحيح داسي ده اى الفعل الناقص.

قوله رمي يرمي لوړه نكته ده **قياس ضرب** دلته لفظ دبر غواړي يعني قياس بر ضرب.

قوله المراد لوړه نكته ده **اى في النظيم** دلته ياء غلطه ده صحيح داسي ده اى فى النظم او لږ يې وروڅكوه پر ههنا باندي يې وور غوځاره كړه.

قوله الاترى لاندي نکته ده تائيدلقوله **والمرادههنا الثانی** غرض دناکت اشاره کول دي دي خبري ته چي لفظ دالایه تشديد دلام سره دحروفو تحضيض څخه دی معنا يې ده حض يعني باعث کول پر يو کار باندي هغه وخت که داخل وو پر مضارع باندي او دلوم يعني ملامتيا لپاره راځي هغه وخت که داخل وو پر فعل ماضي باندي او دلته مراداول قسم دی ځکه داخل شوی دی پر فعل مضارغ باندي او مرکب دی دعن مصدريه او لا ء نافيه څخه .

قوله اعلم انها على ثلاثة الخ تر دويم اعلم پوري دشارح غرض تقسيم کوي افعال ناقصه دري اقسامو ته .

توضيح النكتة

قوله في المطولات لاندي نکته ده **اى الكتب المطولات** غرض دناکت اشاره کوي دي خبري ته چي الف لام په المطولات کي لپاره دعهد دی معهود غواړي هغه ناکت لاندي ذکر کړی .

قوله افعال النواسخ لوره نکته ده **لانها تنسخ الرفع عن الخبر** غرض دناکت بيان کوي دوجه دتسميي ددغه افعالو په افعالو نواسخو سره .

النوع الحادى عشر من العوامل السماعية

دیگر افعال مقارب در عمل چون ناقصند = ہست آن کاد کرب اوشک دیگر عسی

قوله اي النوع الحادي عشر الخ تر اعلم پوري دشارح دوه غرضه دي ① اشاره كوي رفع ته دالنوع ② غرض يې وجه دتسمیي دافعالو مقاربه په دغه نامه سره حاصل داول غرض دادى چي النوع مبتداء ده خبريې محذوف دى هغه افعال المقاربة دى داغرض يې په دغه الفاظو كي بيان كړى چي النوع الحادى عشر افعال المقاربة.

حاصل ددويم غرض دادى چي دغه افعال دلالت كوي پر مقاربة باندي يعني نيژدېكت باندي نو ځكه يې پدغه نامه سره ونومول داغرض يې پدغه الفاظوكي اداء كړى چي انما سميت بافعال المقاربة الخ.

قوله اعلم ان عدمها نوعاً الخ تر دويم اعلم پوري ① ذكر ددومذهبينو كوي لپاره ددفع داعتراض ② يو قاعده ذكر كوي.

حاصل داول غرض دادى چي معترض اعتراض كوي

سوال نمبر (٢١١) چي تاسخكي قاعده بيان كړه چي كوم عوامل متحد وه په عمل كي نو هغه به يوه نوعه وي او دلته افعال مقاربه او افعال ناقصه دواړه سره متحد دي په عمل او مدخول كي ولي يوه نوعه نه سوه؟

شارح ځواب وركړي چي په افعال مقاربه كي اختلاف دى په ماينن كي دسيبويه او اخفش په دي بول چي اخفش وايي دادوه نوعي دي ځكه مدخول يې سره مخالف دى ځكه چي افعال ناقصه داخليږي پر مبتداء اوخبرباندى لكن خبريې غالباجمله نه وي او دافعال مقاربه خبر ~~[illegible]~~ جمله وي او سيبويه وايي چي دوى يوه نوعه ده ځكه دوى متحد دي په عمل او مدخول كي دي

ته نظر نه کوي چي خبريې جمله غالبًا راځي يا نه راځي داغرض يې په دغه الفاظوکي اداء کړى چي ان عدتها نوعا الخ .

حاصل ددويم غرض دادى چي کله افعال مقاربه او افعال ناقصه په عمل کي سره متحد سوه نو يوه نوعه سوه داغرض يې په دغه الفاظو کي ادا کړى چي وکُلّمَا اتحدت فى العمل فهى نوع واحد اوس معترض اعتراض کوي پر دغه قاعده باندي

سوال نمبر(٢١٢) چي داقاعده مانه سوه په ماولاسره څکه چي دوى دليس سره په عمل کي متحد سوه خو بيا هم يوه نوعه سوه؟

جواب: چي داقاعده مقيده ده په قيد دمشابهة سره چي عمل دبعض په مشابهة دبعض سره نه وي او دلته دما ولا عمل په مشابهة سره دليس دى نو اعتراض نه واردېږي

توضيح النكتتين

قوله نوعا اخر لاندي نکته ده **مع انهاكالافعال الناقصة فى العمل** غرض دناکت دليل داعتراض مقدر وايى چي واردېږي پر ناظم باندي .

قوله الحدث لوړه نکته ده **العوامل** غرض دناکت اشاره کوي دي ته چي ضمير داتحدت راجع دى عواملو ته .

سوال نمبر(٢١٣) چي ارجاع دضمير دي عواملو ته نه صحيح کيږى څکه بيا مطابقة نه راځي په مابين کي دراجع او دمرجع څکه چي ضمير دمفرد دى او مرجع يې جمع ده؟

جواب: چې جمع په تأويل سره د جماعة اوري نو جماعة مفرد دی.

قوله اعلم تر پايه پوري غرض دشارح توضيح دنوع كوي داغرض يې پدغه الفاظو كي اداء كړي چې انها افعال الخ.

النوع الثاني عشر

رافع اسماء جنس افعال مدح وذم بود = چار باشد قسم بشنس ساء ديگر حبذا

قوله اى النوع الثاني عشر الخ تر اعلم پورى دشارح دوه غرضه دي بيان ددغه غرضينو مخكي ذكر سوه.

قوله اعلم تر فاقيل پوري دشارح دوه غرضه دى ① دوه شرطونه ذكر كوي لپاره دعمل كولو ددغه افعالو ② دهريوه شرط لپاره خپل علة ذكر كري.

حاصل داول غرض دادى چې دافعال مدح او ذم دعمل كولو لپاره دوه شرطونه دي ① دادى چې فاعل ددوى به اسم جنس وى دويم شرط يې دادى چې فاعل به يې معرف باللام ذهني وى يخپله يا به مضاف وي بل اسم ته چې هغه معرف باللام وي داغرض يې په دغه قول كي اداء كري چې واعلم انه يشترط فيها ان يكون الخ نواسم جنس هغه اسم دى چې وضع سوى وي لپاره ديوشي اومشابه دهغه شي چې شريك ددغه شي سره په حقيقة كي وي ذهنا نه خارجا يا ذهنا اوخارجا دواړه وي مثال داول لكه أسَد نواسد وضع سوى دى لپاره دحيوان مفترس چې دده سره بل هم شريك دى چې هغه اسد اخر دى خو اسد اخر خارجا هم موجود دى او ذهنا

هم موجود دی ددویم مثال لکه شمس نو داشمس وضع سوی دی لپاره دجسم نوراني چي دده سره بل هم شریک وی په حقیقة کي چي هغه شمس اخر دی خو دادویم شمس ذهنا موجود دی نه خارجا .

داسم جنس او نکرې تر منځ فرق

دنکرې او اسم اجنس تر منځ اتحاد ذاتي دی او فرق اعتباري دی په دې شان چي اسم جنس هم هغه ته ویل کیږي چي وضع وي لپاره دیو شي او دمشارک دهغه شي نو داسم جنس اطلاق هم پر دغه شي اومشارک کیږي خو پر طریقه دبدلیة او دغه اسم ته نکره هم وایي خو په دې شرط چي تعین یې په مدلول کي نه وي مدلول یې غیر معین جنس وي

حاصل ددویم غرض دادی چي ددغه افعالو دفاعل لپاره شرط دادی چي اسم جنس به وي ځکه چي مدحه یا ذم مکرره سي په مخصوص کي دحیثیة دمدحې او ذم اول په عمومیة کي دویم په خصوصیة کي لکه (نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ) نو دلته اول مدحه په رجل کي راغله دویم په زید کي راغله دذم مثال لکه (بِئْسَ الرَّجُلُ زَيْدٌ) نو دلته ذم مکرر سو اول په رجل کي دویم په زید کي او فاعل به یې معرف باللام ذهني ځکه وي چي مقصود دافعال مدحه او افعال ذم څخه مدحه او ذم دی دهغه فردچي هغه معهود وي په ذهن کي نو فاعل یې هم معرف باللام ذهني سو چي موافقة دمذکورد مقصود سره راسي داغرض یې په دغه قول کي اداء کړی چي وانما اشترا ط الخ .

توضیح النکات

قوله اولاًفی العمومیة لاندې نکته ده **ای یحصل المدح اوالذم اولا فی الغ**غرض دناکت دفع دتوهم ده چې تکرار خو وایې ذکر الشئ الواحد بعد الاخر نو داخو نه راځي مکر په یوه فردکې او دعبارة څخه دافهمیږي چې تکرار به اول په عمومیة کې وي بیا به په خصوصیة کې وي ؟

ناکت ځواب ورکړې چې **ای یحصل** حاصل یې دادی چې تکرار دلته هم په یوه شي کې دی هغه مدحه او ذم دی نو دلته هم دامراد دی نه خصوصیة او عمومیة .

قوله فی العمومیة لاندې نکته ده **ای کون الشئ عاماوهوالرجل** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې لفظ دهومبتدأده اوالرجل یې خبردی نودلته یی تحمل داسې نه ویل کیږي العمومیة الجمل؟ الرجل

ناکت ځواب ورکړې **ای کون الشئ عاما الخ** حاصل یې دادی چې ضمیر دهو نه دی راجع وه عمومیة ته بلکه راجع دی شی العام ته چې رافهمیږي ددې قول څخه چې للعمومیة همدارنګه به دې قول کې دناکت دی فی الخصوصیة .

قوله فی الخصوصیة لوړه نکته ده **فیحصل فی الکلام التفصیل بعدالاجمال لیکون اوقع فی النفس لتشویق النفس الی معرفة ماابهم** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې تکرار خو موجب دی لپاره دترک څکه مستلزم دی عبث لره څکه فائده نه کوي .

ناکت ځواب ورکړی **فيحصل في الكلام الخ** حاصل يې دادی چې تکرار نه دی شنيع او په توله ځايو او زمانو کي بلکه په بعضو او قاتو کي حسن وي لکه دلته ځکه تفصيل بعد الاجمال دااوقع وي په نفس کي لپاره دتشويق دنفس وه معرفة ته دمااليهم.

قوله المعهودالذهني لاندي نکته ده **اي الذي هومعهودفي الذهن** دلته دناکت دوه غرضه دی اول اشاره کوي دې خبری ته چې الف لام په المعهود کي موصول دی په معنی دالذي سره دی ځکه هغه الف لام چې داخل وي پر اسم فاعل يا اسم مفعول باندي هغه په معنی سره دالذی راځي دويم غرض يې دادی چې معهود مضاف دی لفظ دالذهني ته په اضافة معنوی سره په تقدير دفي سره.

قوله فالقليل الخ تر فاذاعرفت هناپوري دشارح غرض دادی چې اول به ځواب دسوال ملفوظ شخه وکړي بيا به دفع داعتراض مقدر شخه وکړي نو حاصل داول سوال دادی چې

سوال نمبر(٢١٥)چې تاداشرط ذکرکړی چې فاعل ددوی به معرف باللام ذهني وي دانه صحيح کيږي ځکه په الف لام ذهني سره خوشي نه معرفه کيږي ځکه الف لام ذهني په قوت کي دنکرې دی شنکه به وربانذي شی معرفه سي؟

په قلنا سره به ځواب وکړي حاصل يې دادی چې داخبره منم خو ماچې په معرف سره مسمی کړی دالپاره دتشبيه ځکه دالام مشابه دی دلام عهدخارجي سره په صورة کي نو په خارجي سره شی معرفه کيږي.

قوله والمراد په داعبارة سره شارح دفع دسوال مقدر کوي

سوال نمبر (۲۱۶) چې ناظم افعال مدح او ذم حصر كړه په څلورو كې داحصر باطل دی ځكه نور افعال مدح او ذم هم سته لكه دامثال (**مَدَحْتُ اللؤلؤَ عَلى صفائِهَا**) دذم مثال لكه (**ذَمَمْتُ الشَّيْطَانَ على الرَّجْمَاءِ**)؟

شارح پې ځواب وكړي چې مراد دفعل مدح او ذم څخه هغه افعال دي چې وضعه سوي وي لپاره دانشاء دمدح او انشاء دذم او دمدحت او ذممت په معنی كې انشاء نسته .

توضيح النكتة

قوله على الرجماء لاندې نكته ده تعريفهما دادلته غلطه ده صحيح ځای يې دادی چې په لوړه ليكه كې پر داقول پرته ده فلا تنقض غرض دناكت اشاره كوي دې ته چې فلاتنقض صيغه دمجهول ده مفعول مالم يسم فاعله غواړي هغه محذوف دی تقدير يې داسې دی تعريفهما

قوله واذاعرفت هذا فاعلم تر قوله حبذا پوري دشارح غرض توضيح دنوع دی په ذكر سره دېنځو خبرو .

توضيح النكتتين

قوله واذا عرفت هذا لاندې نكته ده **ای ماذكر من البيان** غرض دناكت دفع دتوهم ده چې ما موصوفه په معنی سره دشی دی او احتمال لري داشياء كثيره وو نو داخو لازم سره ابهام په مشار اليه كې دهذا؟

ناکت ځواب ورکړي من البيان حاصل يې دادی چې مراد ما څخه بيان دسابق دی نه دی مراد مطلق شی .

قوله الرفع بالفاعلية لاندي نکته ده ای رفع الاسم الذی بعدها بانه فاعلها غرض دناکت اشاره کوي دې خبرې ته چې الف لام په دې قول کې الرفع عوض دی دمضاف اليه څخه هغه لفظ دالاسم دی .

قوله حبذا غرض دشارح دفع داعتراض کوي

سوال نمبر (۲۱۷) چې افعال مدح څخه څو يوازي حب دی ذانه دی ناظم ولې حبذا دافعال مدح څخه حساب کړی؟

شارح ځواب وکړی چې دامنم چې حب يوازي دافعال مدح څخه دی خو دذاکلمه چې کله ورسره ګډه سوه په داېول چې هيڅ کله نه ځني جدا کېدل نو ټوله حبذا دافعال مدح څخه شمار سوه .

توضیح النکتة

قوله فلهذا قال حبذا لوړه نکته ده ای الناظم فی التعداد حبذا وحبُ غرض دناکت اشاره کوي دې خبرې ته چې ضمير دقال راجع دی ناظم ته اوپدغه نکته کې غلطي سته هغه دا چې لفظ دالتعداد غلط دی صحيح دادی چې دارنګه وليکل سي في النظم .

النوع الثالث عشر

ديگر افعال يقين وشک بود کان بر دو اسم = چون در آيد هريکی منصوب ساز دهر دورا

خِلْتُ باشد باعَلِمْتُ پس حَسِبْتُ باظَنَنْتُ = پس زَعَمْتُ بارَئَيْتُ پس وَجَدْتُ لي خفا

توضيح النكتة

په بيت کي لوړه تر دي قول چي باراُيت نکته ده بايد ديد نودانکته يې ځايه ده بلکه لاندي تر دي قول ده چي چون درآيد.

قوله النوع الثالث عشر افعال قلوب الخ تراعلم پوري دشارح خلورغرضه دی ① اشاره کوي اعراب ته دالنوع الثالث عشر ② وجه دتسميې بيانوي دافعال قلوب ③ تعين دمدخول او دعمل ددغه افعالو کوي ④ علت ددخول پر جمله اسميه باندي ذکر کوي ⑤ خلاصه دعلت بيانوي.

حاصل داول غرض مخته معلوم سوی دی.

حاصل ددويم غرض دادی چي دغه افعالو ته ځکه افعال قلوب وايي چي دوی صادريږي دزړه نه او اندامولوه پکښي مداخله نسته ځکه بعض لپاره ديقين دي بعض لپاره دشک دي او شک او يقين دواړه دزړه کارونه دي داغرض يې په داقول کي ادا کړی چي انما سميت الخ.

حاصل ددريم غرض دادی چي دغه افعال داخليږي پر جمله اسميه باندي داغرض يې پدا قول کي ادا کړی چي وتدخل على الجملة باندي داغرض يې پدا قول کي ادا کړي چي وتدخل

علی الجملة الاسمية الخ او مبتدأ وو خبرته نصب ورکوي بناء پر مفعوليت باندي لکه (عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا).

حاصل دخلرم غرض دادی چي دغه افعال پر جمله فعليه نه داخليږي ځکه دغه افعال پر دوو شيانو داخليږي نو په جمله فعليه کي دوه شيان فعل او فاعل دي نو فعل جزء اول دی مسند اليه نه سي راتلای فاعل يې جزء ثاني دی دامعرب دی په اعراب دمخکي فعل سره که دوی هم عمل يکښي وکي نو به لازم سي توارد دعاملينو مختلفينو پر معمول واحد باندي.

دويم ځواب شارح کړی دی حاصل يې دادی چي دغه افعال ځکه پر جمله اسميه داخليږي چي ددخول څخه ددوی پر جمله اسميه باندي علم ياظن معلوم سي لپاره دهغه حکم چي واقع دی په جمله اسميه کي.

حاصل دخلرم غرض دادی چي خلاصه دعلت داده چي حکم په (زَيْدٌ فَاضِلٌ) کي مطلق دی نه دی مقيد په يقين او شک سره چي کله افعال يقين او شک وربانديي داخل سوه نو معلومه سوه چي حکم په فضيلت سره دزيد داديقين او ظن څخه پيدا سوی دی دغه غرض يې پدغه عبارة کي ادا کړی چي حاصله ان الحکم الخ.

توضيح النكات

قوله الفالف عشر لوړه نکته ده من انواع عوامل السماعية غرض دناکت رفع داحتمال دغير دی هغه دا چي انواع تو له دعواملو سماعيه وو څخه دي دقياسيه څخه نه دي.

قوله الجوارح لاندي نکته ده آدمی که بدان نو دلته يو څه الفاظ غواړي يعني داسي آدمی که بدان کسب کتنه.

قوله سميت لوړه نکته ده **اى هذه الافعال** غرض دناکت اشاره کوي دي ته چي صيغه دسميت صيغه دواحدي مؤنثي غائبي ده او مجهوله صيغه ده.

قوله من الجوارح لاندي نکته ده **بل من القلب** غرض دناکت تعين دموضع صدور دشک او يقين کوي.

قوله تنصب المبتدأ والخبر لوړه نکته ده الفاظ يې دارنګه دي **قوله علمت زيداً بمعنى** الخ نو داالفاظ نکته نه ده بلکه رقوم دى او بل دايي ځايه ديکه داتعلق لري ددي قول پوري نحو (عَلِمْتُ زَيْدًا) اى عرفته په آخر کي دصفحي علامه درقوم لوړه پر دي قول چي علمت ليکلي ده نو الفاظ درقوم دادي **علمت زيداً بمعنى عرفت شخصه وهو العلم بنفس الشئ من غير حكم عليه واما العلم الذى هو من افعال القلوب هو العلم بنفس شئ مع الحكم عليه** ١٢ شرح جامی وعبدالرحمن غرض دناکت بيان دفرق دى په مابين کي دعلم دافعال قلوب او دعلم دجوارحو نو حاصل دفرق يې دادى چي علمت دافعال قلوب مقيدي په قيد دحکم سره لکه ته چي اووايي علمت زيداًفاضلا مع وصف الفضيلة اوالعلم او الشجاعة او الكتابة او غيرها من الاوصاف او علم دجوارحو نه دى مقيد په قيد دحکم سره لکه ته چي ووايي علمت زيداً اى عرفته فى نفسه لا باعتبار كونه عالما او جاهلا او صابرا او شاكرا او غيرها.

قوله اعلم انها بنواعها الخ ددې ځايه تر پايه پورې دشارح درې غرضه دي ① توضيح دافعالو کوي ② تقسيم ددغه افعالو کوي ③ ذکر دبعض خواصو ددغه افعالو کوي.

حاصل داول غرض ظاهر دی .

حاصل ددويم غرض دادی چې افعال قلوب پردوه قسمه دي ① افعال قلوب خاصه دي ② افعال قلوب غير خاصه افعال قلوب خاصه دامعنی چې يوازې استعماليږي په افعالو کې دزړه دادري افعال دي ① حَسِبْتُ ② خِلْتُ ③ زَعَمْتُ افعال غير خاصه دامعنی چې په افعالو کې دزړو استعماليږي اوپه افعالو کې دجوارحو هم استعماليږي نو داځلور افعال دي ① ظَنَنْتُ دي دا په معنی سره دآتهمت راځي ② عَلِمْتُ کله په معنی سره دعرفت راځي لکه عَلِمْتُ زَيْدًا ای عرفته فی نفسه ③ رَئَيْتُ دا کله کله به معنی درؤية بصري راځي لکه داقول دالله تعالى (فَانْظُرْمَاذَاتَرَى) ای ماذاتبصر نو دلته رئيت په معنی سره دأبصرت راغلي دی ④ وَجَدْتُ دی داکله کله به معنی سره دآصَبْتُ دی لکه وَجَدْتُ الضَّالَّةَ ای اصبت الضالّة يعني زه ورسيدم وورکړ شي ته او په اعتبار دمعنی سره داواه افعال قلوب پر درې قسمه دي يو هغه دي چې په معنی سره دشک راځي داري افعال دي ① حَسِبْتُ ② ظَنَنْتُ ③ خِلْتُ او بعض لپاره ديقين دي دا هم درې دي ① عَلِمْتُ ② رَئَيْتُ ③ وَجَدْتُ او يو فعل مشترک دی ديقين او شک تر منځ دازعمت دی داغرض يې پدا قول کې اداکړی چې وقد يجيئ بعضها الخ .

حاصل ددريم غرض دادی چې دافعال قلوب لپاره څلور خواص دي خواص جمع دخاصة ده خاصه دېته وايي (مَايُوْجَدُ فِيْهِ وَلَا يُوْجَدُ فِي غَيْرِهِ).

اوله خاصه يې داده چې اقتصار پر احد دمفعولينو دافعال قلوبو نه دی جائز که څه هم مفعول فضله دی ځکه چې دواړه مفعولين اسم واحد دی او يو معمول دی په داډول چې مضمون يې يو دی مضمون يې دارنګه جوړيږي چې مصدر ددويم مفعول مضاف که اول مفعول ته نو دعلمت زيدافاضلامضمون داسي دی علمت فضيلة زيدنو که يو حذف کي جزء دي حذف کړی په خلاف دباب داعطيت ځکه دلته اقتصار جائز دی ځکه مانع نسته لکه اعطيت زَيدًادانه کړي ذکر چې څه دي ورکړه اويااعطيت درهمًاهغه څوک نه کړي ذکر چې چاته دي ورکړی.

دوهمه خاصه يې داده چې ددغه افعالو الغاء جائزه ده يعني عمل نه ورکول نه لفظًا نه معنا دا په دوه صورته کي ① چې دغه افعال په منځ کي ددرو مفعولينو راسي لکه (زَيْدٌ ظَنَنْتُ قَائِمٌ) ② داچې فعل تر دواړو مفعولو وروسته راسي لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ ظَنَنْتُ) نو الغاء يې ځکه جائزه ده چې دواړه مفعولين کلام مستقل دی ځکه حمل يې په مابين کي صحيح کيږي نو دوی دواړه معمولين نه سي کيدای سره دضعف دعامل په سبب دتوسط يا تأخر سره.

دريمه خاصه يې داده چې ددوی تعليق جائز دی يعني چې لفظًاعمل نه ورکړي بلکه معنی عمل ورکړي نو تعليق په دروصورتو کي راځي اول چې مخکي تر استفهام راسي لکه (عَلِمْتُ أَزَيْدٌ عِنْدَكَ أَمْ عَمْرٌو) نو تقدير يې داسي کيږي علمت احد هما عندک ② چې مخکي تر نفی راسي لکه (عَلِمْتُ مَازَيْدٌ قَائِمٌ) تقدير يې داسي دی (عَلِمْتُ زَيْدًا قَائِمًا) ③ چې

ترلام ابتداء مخکې راسي لکه (عَلِمْتُ لَزَيْدٌ قَائِمٌ) تقديري داسې کيږي (علمت زيدًا قائمًا)نو په دغه درو صورتو کې يې لفظا عمل نه دی کړی ځکه لحاظ سوی دی داستفهام او دنفی او لام ځکه چې دوی تقاضا کوي دصدارت دکلام که افعالو ته عمل ورکړي نو دوی لره صَدَارَت نه سو ثابت او دافعالو لحاظ وسو معنی په دې بول چې لکه څنګه چې د(عَلِمْتُ زَيْدًا قَائِمًا)څخه کومه معنی فهميږي همدارنګه د(عَلِمْتُ زَيْدٌ قَائِمٌ)څخه هم هغه معنی رافهميږي ځکه ددواړو معنی ده علمت قيام زيد.

خلورمه خاصه يې داده چې داروادہ چې فاعل او مفعول اول يې دواړه ضميرين وي او راجع وي يوه شي ته لکه (عَلِمْتُنِي مُنْطَلِقًا/ظَنَنْتُكَ فَاضِلًا) په خلاف دنورو فعلو ځکه په نورو فعلو کې فاعل او مفعول دواړه ضميرين يوه شي ته نه راجع کيږي ځکه يو شخص په يوه وخت کې فاعل او مفعول نه سي کېدای داسې نه ويل کيږي (ضَرَبْتُنِي) بلکه داسې به يې وايي (ضَرَبْتُ نَفْسِي) نوشارح دلته يوازې اوله خاصه ذکرکړې ده داغرض يې پدا عبارة کې اداء کړی ولايجوز حذف احد المفعولين الخ

بعد ازان بحث قیای اسم فاعل مصدر است

اسم مفعول ومضاف وفعل باشد مطلقا

پس صفت باشد که او مانند اسم فاعل است

هفتم اسم تام باشد ناصب تمیز را

توضیح النکتتین

په بیت کې ناکت لوړه پر دې قول باندې پس صفت نکته لیکلې ده **ای صفت مشبه** غرض دناکت دفع دتوهم ده هغه دا چې صفة خو قسم دی داقسامو څخه دتوابعو نو هغه خو عامل نه دی؟ ،

ناکت ځواب وکړی چې دلته مراد دصفة څخه صفة مشبه ده نه هغه مشهوره معنی .

په نظم کې ناکت پر دې قول لوړه چې اسم تام نکته لیکلې ده **بتنوین یا قائم مقام تنوین که نونی التثنیة والجمع** غرض دناکت دفع دتوهم ده هغه دا چې مراد داسم تام څخه هغه دی چې تام او پوره وي حروف دده لکه رجل او فرس سره لدې چې عاملان نه دي؟

ناکت ځواب وکړی چې مراددلته داسم تام څخه هغه دی چې تام وي په تنوین او مایقوم مقامه سره سره دابهامه په جنس کې داسم تام لکه رِطْلٌ نو رجل او فرس سره لدې چې منون دي خو په جنس کې یې ابهام نسته ځکه جنس یې معلوم دی چې حیوان ناطق مع هذا لتشخص یا حیوان ساهل دی.

قوله اسم فاعل هو فی اللغة الخ تر اعلم پوري دشارح دوه غرض دي ① تعریف داسم فاعل کوي لغتا او اصطلاحا ② تقسیم داسم فاعل کوي دجهته دعمل نو اوس لفظ دلغة په لغة کې وایي نُطق او تعبیر ته لکه (فُلَانٌ لَغِيَ بِالْكَلَامِ) یعني نُطق یې وکړ او لغة په اصطلاح کې دې ته وایي (مَايُعَبِّرُبِهٖ كُلُّ قَوْمٍ عَنْ اَغْرَاضِهِمْ) یعني لغة په اصطلاح کې هغه الفاظو ته وایي چې خلک وربانډي تلفظ کوي دخپلو مقاصدو لپاره او اصطلاح په لغة کې جمع کولو ته وایي لکه عرب

وايي (إِصْطَلَحَ الْمَاءُ فِي الْحَوْضِ اي تجمع) او اصطلاح په اصطلاح كي دبته وايي (إِتِّفَاقُ قَوْمٍ مَخْصُوصٍ) نو اوس اسم فاعل په لغة كي كارکنده ته وايي په اصطلاح كي دبته وايي (إِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنَ الْفِعْلِ الْمُضَارِعِ الْمَعْلُوْمِ لِمَنْ قَامَ بِهِ الْفِعْلُ بِمَعْنَى الْحُدُوْثِ).

حاصل ددويم غرض دادى چي اسم فاعل په اعتبار دعمل سره پر دوه قسمه دى ① لازمي ② متعدي اسم فاعل لازمي هغه اسم دى چي دفعل لازمي څخه مشتق سوى وي او يوازي فاعل ته رفع وركوي لكه زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوْهُ دادا سي دى لكه يقوم زيدُ اسم فاعل متعدي هغه دى چي مشتق سوى وي دفعل متعدي څخه عمل درفع او نصب كوي لكه زَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًوا دادا سي دى لكه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْروا.

توضيح النكات

قوله لمن قام به لاندي نكته ده **موضوعا لمن قام** آه غرض دناكت اشاره كوي دي خبري ته چي لمن قام جار او مجرور دى متعلق غواړي كه په لفظ كي وو نو ظرف لغو ورته وايي كه مقدر وو نو ظرف مستقر ورته وايي نو متعلق يې دلته موضوعا دى.

قوله ان كان من الفعل لاندي نكته ده **اى مشتقايعنى عمل ضارب الخ** غرض دناكت اشاره كوي دي ته چي داقول من الفعل المتعدي په اعتبار سره دمتعلق خبر دكان دى هغه باته بيانو ضيح دمثال كوي.

قوله من الفعل المتعدى لوره نكته ده **احتراز عن الصفة الخ** دلته يي ځايه ده صحيح داسي ده چي په لوره ليكه كي تر الحدوث لاندي نويشته سي.

قول الم تر قوله مصدر پوري دشارح غرض اشاره کوي دوو قسمینو ته داسم فاعل په اعتبار سره دشرطینو اسم فاعل پر دوه قسمه دی ① مقرون باللام ② مجرد عن اللام نو دمقرون باللام دعمل کولو لپاره هیڅ شرط نشته په دغه کي تولي زماني چي ماضي حال او استقبال سره برابري دي ځکه اسم فاعل پدغه وخت کي جاري دی پر مجری دفعل پدي حیثیت سره چي الف لام موصول دی او اصل په موصول کي دادی چي صله به یي فعل وي خو الف لام پر فعل نه داخلیږي ځکه الف لام علامه داسم ده نولکه فعل چي به ماضي حال او استقبال په تولو معمولاتو کي عمل کوي همداسي اسم فاعل مقرون باللام هم دی لکه (جَآءَ الْمُعْطِیْ الْمَسَاکِیْنَ) یا الان یا غدا او مجرد عن اللام مشروط دی په دوو شرطو سره ① دا چي به معنی سره به دحال یاداستقبال وي ② داچي معتمدبه وي پر یوه دشپږوشیانوهغه دادی ① مبتداء چي اسم فاعل به یي خبروي لکه (زَیْدٌ قَآئِمٌ اَبُوْهُ) ② موصوف چي اسم فاعل به یي صفة وي لکه (هٰذَا رَجُلٌ مُّخْتَلِفٌ اَمْرَاهُمْ) ③ موصول دی چي اسم فاعل به یي صله وي لکه (جَآءَ الَّذِیْ قَآمَ اَبُوْهُ) ④ ذو الحال دی چي اسم فاعل به یي حال وي لکه (جَآءَنِیْ زَیْدٌ رَاجِلًا غُلَامُهٗ) ⑤ وروسته ترنفي لکه (مَاقَآئِمٌ اَبُوْهُ) ⑥ وروسته تر استفهام لکه (اَضَارِبٌ اَبُوْهُ).

توضیح النکتتین

قوله ایضا لاندي نکته ده اذا کان غرض دناکت اشاره کوي دي ته چي وایضا معمتدعطف دی پر بمعنی الحال او الاستقبال باندي لاندي تر دي قول دی چي اذا کان.

قوله الكتب لاندې نكته ده النحو نو پدغه نكته كې يو څه زيادت نيه دې اى في كتب النحو

فائده

داسم فاعل دعمل كولو لپاره داشرط ځكه ولګېدى چې په معنى دحال يا استقبال سره به وي چې عمل داسم فاعل دفعل مضارع سره دمشابهت په وجه دى چې په حركاتو سكناتو عدد دحروفو كې دمضارع سره مشابه دى نو دمضارع څخه به په زمانه كې مخالفه نه كوي ځكه مخالف سې نو هغه قوي مناسبة چې لفظي او معنوي مشابهة يې دمضارع سره دى هغه له منځه ولاړ نه سي او داويم شرط ځكه ولګېدى چې په عمل كې داسم فاعل قوة راسي پداشان چې اسم فاعل چې عمل كوي هغه دفعل سره دمشابهة په وجه دى او فعل معتمدوي پر فاعل باندې نو كه اسم فاعل په عمل كولو كې اعتمادنه وكړي نو زيادت دفرع به پر اصل راسي داباطل دى.

قول مصدر اسم الخ ددې ځايه تر اعلم پورې دشارح ③ غرضه دي ① تعريف دمصدر كوي لغتًا او اصطلاحًا ② فائده دقيد بيانوي چې په تعريف كې دمصدر ذكر دى ③ دوه قسمين دمصدر بيانوي.

حاصل داول غرض دادى چې مصدر په لغة كې په معنى دځاى صدور سره راځي او په اصطلاح كې دېته وايي (إِسْمٌ حَدَثٍ يُشْتَقُّ مِنْهُ الْاَفْعَالُ) مصدر ته ځكه مصدر وايي چې مصدر مشتق دى دصدور څخه صدور په معنى دخروج سره دى نو دمصدر څخه هم افعال خارجيږي نو دى محل دصدور سو نو اوس دلته اختلاف دى په مابين كې دبصريينو او كوفيينو بصريين وايي چې مصدر اصل دى تر فعل ځكه مصدر مستقل دى په خپل نفس كې او حاجت نه لري

فعل ته ځکه ددوو فعلينو څخه کلام تام نه جوړيږي او فعل مستقل نه دی بلکه محتاج دی اسم ته او کوفيين وايي چي فعل اصل دی مصدر فرع دی ځکه اعلال دمصدر په اعلال سره دفعل دی او صحة يې په صحة سره دفعل دی لکه (قَامَ قِيَامًا او قَاوَمَ قِوَامًا) نو په قياما کي اعلال وسو په قلب سره دواو په الف سره ځکه په قام کي دارنګه اعلال سوی دی او قواما صحيح دی اعلال نه دی کي سوی ځکه چي په قاوم کي اعلال نه دی سوی نو مذهب دبصريينو اصل دی ځکه چي ددوی دليل دلالت کوي پر اصالة دمصدر مطلق او دليل دکوفيينو دلالة کوي پر اصالة باندي دمصدر په اعلال کي ځکه اصالة په يوه وجه سره مستلزم نه دی اصالة لره من کل الوجوه.

حاصل دوديم غرض دادی چي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(٢١٨) چي په تعريف دمصدر کي دي ولي داقيد ذکر کړی چي **أُشْتُقَّ منه الافعال** ځکه دصرفو دکتابو څخه داظاهره سوي ده چي *بدانکه عرب از هر مصدر دوازده چیز اشتقاق میکنند* نو داقيد مستدرک او بې فايدي دی؟

شارح ځواب وکړی چي دانه دی مستدرک که داسي ددې لپاره ذکر کړی دی چي دتعريف څخه دمصدر اسم مصدر خارج سي ځکه چي دده څخه هيڅ شی نه مشتقيږي او دلالت کوي پر حدث باندي لکه دَكَّادَقًّا په معنی سره دهلاکت دی.

حاصل ددريم غرض دادی چي مصدر په اعتبار سره دعمل پر دوه قسمه دی ① متعدي ② لازمي مصدر متعدی هغه دی چي فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکوي لکه (أَعْجَبَنِيْ

ضَرَبُ زَيْدٍ عَمْرواً) لازمي هغه دى چې يوازي فاعل ته رفع وركوي لكه (أَعْجَبَنِيْ قِيَامُ زَيْدٍ)
نو دمصدرد عمل كولو لپاره شپږ شرطه دي ① دا چې مفرد به وي ② مفعول مطلق به نه وي
③ ضمير به نه وي ④ خبر به نه وى ⑤ تاء دوحدت به پكښې نه وي ⑥ فاصل به نه وى په
مابين كې دمصدر او معمول.

توضيح النكتتين والرقومين

قوله فى الاصطلاح اسم حدث دلته دوه رقومونه دي اول دارنګه دى **قوله اسم حدث انما ذكر الاسم لان الحدث هو المعنى.والمصدر فى الاصلاح هو اللفظ الدال على الحدث** غرض دناكت دفع دتوهم ده هغه دا چې اطلاق دحدث پر مصدر باندې نه صحيح كيږي ځكه مصدر په اصطلاح كي وايي حدث ته نو حدث خو يو معنى ده نو به ځنګه اطلاق ددغې معنى پر مصدر صحيح سي ځكه حدث عبارة دى دمعنى څخه چې قائمه وي په غير پوري؟

ناكت ځواب وركړي **اسم حدث الخ** حاصل يې ظاهر دى.

دويم رقوم دادى **قوله حدث المراد بالحدث هو المعنى القائم بالغير سواء صدر عن ذالك الغير كالضرب والمشى او لا كالطول والقصر** غرض دناكت دفع دتوهم ده هغه داچې متبادردحدث څخه دادى چې صادر وي دغير څخه ځكه دحدث څخه لابدى ده دمحدث څخه نو تعريف يې مات سو په طول او قصر سره نو دادى حدث دى او محدث نه لري؟

راقم ځواب وکړی چي مراد دحدث څخه حدث عام دی که صادر وي دفاعل څخه لکه ضرب او که نه وي صادر لکه طول او قصر .

قوله باسم المصدر لوړه نکته ده **يسمى** غرض دناکت اشاره کوي دي ته چي داقول دشارح باسم المصدر عطف دی پر دي قول باندي بالمصدريکون لاندي تر يسمى کيږي .

قوله الکلن لاندي نکته ده **مصدره** نو ضميريې سهوه دکاتب ده .

قوله اعلم ان عمل المصدر فيما بعده الخ تر قوله پوري دشارح دو غرضه دي ① تقسيم دمصدر کوي دوو قسمونو ته ② تعين دقسم مختار کوي .

حاصل داول غرض دادی چي مصدر که متعدي وي که لازمي وي پر دوه قسمه دی ①منون ②غير منون منون دامعنى چي پر مصدرباندي تنوين وي لوعمل کوي لکه (أعجبني ضرب زيدٌ) غير منون دامعنى چي تنون ځني حذف سوی وي په سبب داضافة سره لکه (أعجبني ضربُ زيدٍ) .

حاصل ددويم غرض دا چي په دادوو قسمونو کي اول قسم مختاره دی ځکه چي په وخت دتنوين کي دی اقوى دی مشابهتاً دفعل سره ځکه چي دامصدر دتنوين سره نکره دی نو په حالة دتنکير کي دفعل سره اقوى مشابهتا دی تر حالة داضافة او دادوهم قسم جائز دی ځکه په وخت کي داضافة دمصدر فاعل ته دغه فاعل چي جزء دمصدر دی لکه جزء چي دفعل څخه دی نو اشد سو شبها بفعل سره .

توضيح النكتتين

قوله مدون محواجهلي لاندي نكته ده **اى احدهماعمل مصدرمنون** دلته دناکت دوه غرضه دي① اشاره کوي بيان ته دوجه دااعراب دمنون ② دفع دتوهم کوي.

حاصل داول غرض دا چي منون چي مرفوع دى خبر دى دمبتدأمحذوفي هغه احدهما دى.

حاصل ددويم غرض دا چي منون صيغه داسم مفعول ده ضمير پکښي مستتر دى راجع دى ماقبل ته نو دا خو مطابقة نه راغلي په ماين کي دراجع او د مرجع ځکه مخکي خو دوه شيان ذکر دي عمل او مصدر نو ضمير دمفرد خو دوو شيانو ته نه راجع کيږي؟

ناکت ځواب وکړی چي مرجع يې مصدر دی عمل نه دی ورسره نو منون صفة دمصدر سو .

قوله هو شائع لوره نکته ده **للتخفيف الحاصل بحذف التنوين** غرض دناکت بيان کوي دوجه دشيوع دعمل دمصدر منون ځکه شی چي شائع سي يا ډير استعماليږي نو کثرة استعمال تقاضا کوي دتخفيف نو تخفيف راغلي په حذف سره دتنوين .

قوله اسم مفعول هو في اللغة الخ غرض دشارح تر قوله پوري دري غرضه دي ① تعريف داسم مفعول لغة او اصطلاحا کوي ② تعين دعمل کوي ③ دفع دتوهم کوي.

حاصل داول غرض دادی چي اسم مفعول په لغت کي کار کړه شده ته وايي په اصطلاح کي دبته وايي چي (إِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنَ الفِعْلِ المَضَارِعِ المَجْهُولِ لِمَنْ وَقَعَ عَلَيْهِ الفِعْلُ) .

حاصل ددویم غرض دادی چي اسم مفعول په اعتبار دعمل سره یو قسم دی هغه دا چي یوازي عمل درفع کوي.

حاصل ددریم غرض دا چي واهم به داوهم کوی چي داسم مفعول دعمل کولو لپاره څه شرط سته که یا؟

شارح ځواب وکړی **بشرط معنی الحال الخ** حاصل دځواب دا چي لکه څنګه چي عمل داسم فاعل مشروط وو په شرطینو سره همدرانګه عمل داسم مفعول هم دی او که معرف باللام وو بیا شرط نه غواړي لکه اسم فاعل او عمل داسم مفعول ځکه مشروط سو چي اسم مفعول داسم فاعل سره شریک دی په مشابهة کي دفعل سره لکه اسم فاعل چي عمل کوي له وجه دمشابهة دفعل معلوم سره همداسي اسم مفعول چي عمل کوي له وجه دمشابهة دفعل مجهول سره همدارنګه اسم مفعول په احتیاج کي داسم فاعل سره مشابه دی لکه اسم فاعل چي فاعل ته محتاج دی همدارنګه اسم مفعول مفعول مالم یسم فاعله ته محتاجه دی.

توضیح النکتتین

قوله لمن وقع لوړه نکته ده ای **موضوع لذات من الخ** دلته دناکت دوه غرضه دي ①تعین دمتعلق دلام جاره کوي ②اشاره کوي دېته چي من موصول دی مستعملیږي دذوی العقولو لپاره.

قوله ماذکر لاندي نکته ده ای **اشتراط الاعتمادوعلی** دلته دغه داو غلط دی صحیح دادی علی.

قوله مضاف باشباع الخ له دې عبارت نه د شارح غرض دی ① تعين دصيغې کوي ② تعين دباب کوي ③ تعريف دمضاف کوي لغتاً او اصطلاحاً ④ تقسيم دمضاف کوي دوو قسمونو ته.

حاصل داول غرض دادی چې مضاف صيغه داسم مفعول ده.

حاصل ددويم غرض دادی چې اسم مفعول دی دباب څخه داضاف يضيف اضافة يعنې دباب څخه دافعال.

حاصل ددريم غرض داچې مضاف په لغة کې دېته وايي منسوب کړه شوه بل ته او په اصطلاح کې عبارة دی ددې څخه چې (كُلُّ إِسْمٍ أُضِيْفَ اِلىٰ اِسْمٍ آخرَ بِتَقْدِيْرِ حرفِ الجر) يعنې چې ديوه اسم ميان سوی وي بل اسم ته په تقدير سره د حرف جر لکه (غُلَامُ زَيْدٍ) نو دلته اضافة دغلام سوی دی زيد ته په تقدير سره د حرف جر تقديري داسې دی (غُلَامٌ لِزَيْدٍ).

حاصل دڅلرم غرض دادی چې مضاف پر دوه قسمه دی ① هغه مضاف دی چې په تقدير سره د حرف جروي چې دې ته مضاف داسماووهم وايي نو داقسم مضاف خاص دی په اسماوو پوري يعني مضاف به اسم وي لکه غلام زيد ② قسم هغه مضاف دی چې په ظهور سره د حرف جروي نو داعام دی په اسم کې هم راځي په فعل کې هم راځي خو دا په اصطلاح کې دعلامه ابن حاجب او په اصطلاح دنورو نحاتو کې جار او مجرور دی لکه مررت بزيد.

توضيح النكات

قوله اعلم لوړه نکته ده **من ان يکون في الاسم او الفعل** غرض دناکت دفع دتوهم ده هغه داچي اعم صيغه داسم تفضيل ده اواسم تفضيل په يوه دطريقو ثلاثه وو سره استعماليږي يا په من سره يا په اضافة سره يا په الف لام سره نو دلته په کومه وجه سره مستعمل دی؟

ناکت ځواب وکړی چي په من سره مستعمل دی.

قوله لانهم لوړه نکته ده **اى الخاة** داغلط دی صحيح داسې دی النحاة.

قوله عليها لاندي نکته ده **اى محلى طرفي الخ** دلته محلی غلط دی صحيح علی دی.

قوله اعلم تردابل اعلم پوري دشارح غرض بيان داختلاف کوي په عمل کي دمضاف په مابين کي دجمهورونحاتواوسيبويه نومذهب دجمهورو دادی چي مضاف عامل دی په مضاف اليه کي عمل دجري پکښي کړی دی اوسيبويه وايي مضاف اليه چي مجروره دی دا په حرف جر مقدره سره مضاف نه دی پکښي عامل.

قوله اعلم تر دابل اعلم پوري دشارح غرض خلور قواعد بيانوي لپاره داضافة.

قاعدة الاولى

اوله قاعده داده چي **مضاف** دويم ځل نه مضافيږي داسي نه ويل کيږي **غُلَامُ زَيْدٍ عَمْرٍو** بلکه داسي به يې وايي **غُلَامُ زَيْدٍ وَعَمْرٍو** نو داځکه دويم ځل نه مضافيږي چي فصل راځي دمضاف او مضاف اليه تر منځ اوس معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۲۱۸) چي داقاعده ستاماته سوه به دامثال سره حُبُّ زَمَانِكَ دلته حُبُّ لكه څنګه چي مضاف دى زمان ته همدارنګه مضاف دى كاف ته؟

ډي ځواب دادى چي مراد په قاعده كي دادى چي مضاف دوه ځله نه مضافيږي دصورة او لفظ په اعتبار سره نه دمعنى په اعتبار سره نودلته كه حب مضاف سوى دى دوه ځله خو زمان ته چي مضاف سوى دى دا په حيث دلفظ او په اعتبار دمعنى سره كاف خطاب ته مضاف سوى دى ځكه چي محبة دزماني سره دامستلزم دى محبة لره دمخاطب سره ځكه زمانه محل دمحبة نه ده بلكه مخاطب محل دمحبة دى.

قاعده الثانية

دوهمه قاعده داده چي مضاف خپل مثل ته نه مضافيږي دارنګه نه ويل كيږي لَيْثُ أَسَدٍ او س معترض اعتراض كوي

سوال نمبر(۲۱۹) چي ممثالت خو وايي اشتراک ته ددوو شيانو په ماهية نوعي كي نو بايد چي دامثال چي غُلَامُ زَيْدٍ نه سي صحيح ځكه ددوى ماهية نوعي يو شى دى چي هغه حيوان ناطق دى او دامثال خو جائز دى بالاتفاق؟

شارح ځواب وكړى چي اى الى مساويه الخ حاصل يي دادى چي ذكرمماثلة دى مراد ځني مساوات دشيئينو دى په عموم او خصوص كي لكه غيث او مطر ليث او غضنفر دعموم څخه مراد شمول او اطلاق دى يعني لكه پر يوشي چي دغيث اطلاق كيږي او شمول ورته كوي پر هغه باندى دمطر اطلاق هم كيږي همدارنګه عكس يي او دخصوص څخه مراد عدم شمول

او اطلاق دی يعني لکه غيث چي کوم شي ته شمول نه کوي همدارنگه مطر هم شمول نه ورته کوي او دارنگه عکس يي نو دمائلونه جائز نه دي ځکه چي فائده نه ده وربانديي مرتبه اوس معترض بل اعتراض کوي

سوال نمبر(۲۲۰) چي داقاعده دي منقوضه سوه په دامثال سره چي (**كُلُّ الدَّرَاهِمِ**) اودامثال (**عَلِيُّ الشِعْرِ**) ځکه دلته اضافة داحدالمتساويينو سوی دی هغه بل ته او دامثال (**سَعِيْدُ كُرْزٍ**) دلته دسعيداوکرز ديوه شي نو مونه ديږاو متساوين دي خو بيا هم سعيد مضاف دی کرز ته؟

ځواب داول دوو مثالينو ځخه داد ی چي داضافة داحدالمتساويينونه دی بلکه دااضافة دعام دی خاص ته ځکه کل عام دی په اضافة سره يي تخصيص وسو.

اودريم مثال ځخه ځواب دادی چي دلته دامثال مأول دی په دي سره چي دسعيد ځخه مراد مدلول ددغه لفظ دی او دکرز ځخه مراد لفظ دی چي دال دی پر دامدلول بانديي نو اضافة دعام دی خاص ته نو تقديريي داسي کيږي جائني مدلول هذااللفظ نو داهم اضافة دعام سو خاص ته.

قاعده الثالثة دری

دريمه قاعده داده چي دمضاف اومضاف اليه په منځ کي فصل راوړل او تنوين او مايقوم مقامه راوړل نه دی جائز ځکه چي کله نحوينو داراده وکړه چي دوی کلمي هاسي سره يو ځای کي چي په سبب ديو ځای والي سره اوله کلمه ددوهمي ځخه تعريف يا تخصيص يا تخفيف حاصل کړي نو دفصل باوجود دغه فائدي نه حاصليږي نودوی داولي کلمي ځخه داتمام دکلمي

علامه حذف کوي اوله کلمه په دويمه سره تامه وي خو فصل يوازي په حرف زائده او تاکيد سره راتلای سي داول مثال داشعر دی (فِي بِيرِ لَاحُورٍ سَرىٰ وَمَاشَعَرَا) ددويم مثال (يَاتَيْمُ تَيْمُ عَدِيٍّ) دی.

قاعدة رابعة

خلرمه قاعده داده چي مضاف به مجرد وي دالف لام څخه که مضاف معرفه په الف لام سره وو الف لام به يې حذف کيږي که علم وو نکره کيږي نو تجريد يې واجب دی ځکه که معرفه نکري ته مضاف سي باره به لازم سي طلب دادنی چي تخصيص دی سره دوجود داعلی چي تعريف دی او که معرفه معرفي ته مضاف سي باره به تحصيل دحاصل راسي دويمه وجه داده چي اجتماع دالتينو دتعريف راځي داباطل دی.

توضيح النكات

قوله وثانيها لوره نکته ده **بدون حرف العاطف الخ** نو دانکته يې ځايه ده مناسبه داده چي پردي قول چي ثانيا لوره وليکل سي غرض يې توضيح کول دي داولي قاعدي او دمثال لوره وليکل سي غرض يې توضيح کول دي داول قاعدي او دمثال ددي.

قوله لايضاف لاندي نکته ده **كذا في شرح جامي وحواشيه** داغلط دی هيڅ معنی دلته نه لري.

قوله في العموم والخصوص لاندي نکته ده يې ترتيبه ده او بي ځايه نوښته سوي ده يې ترتيبه ځکه ده چي داسي نوښته ده **الانفصال شده بينهما** نولفظ دالانفصال پکښي غلط دی

صحيح داسي ده لشدة الاتصال بينهما او دلته او دلته پې خايه صحيح داده چي په لاندي ليکه کي پر لايجوزالفصل باندي پرته ده غرض دناکت وجه بيانوي دعدم جواز دفصل په مابين کي دمضاف او مضاف اليه .

قوله وثالثها لاندي نکته ده **اى القواعد** نو دلته لفظ دمن غوارې يعنې داسي من القواعد به رابعها کي هم داسي دی .

قوله فعدولوړه نکته ده يعني **اى قبيله عدى** دانکته يو څه راکش که شاته پر ياتيم باندي بي ولکوه قوله تيم عدى لاندي تر عدى نکته ده نو دايه اصل کي دوې نکتي دي اول داده نام قبيله نو است ورسره نويشته که داتر عدى لاندي ده او بله تر تيم لاندي هغه داسي ده تيم قريش هغه پاته توري پې لاندي شوه سوي دي نو کړ ده نکته داسي ده تيم نام قبيلۀ قریش است داليت لفظ غلط دی .

قول رابعها لاندي نکته ده **للتعريف** داالفظ دلته غلط دی صحيح دادی چي ددالوري ليکي په ځای کي ورووسته تر ايضا نويشته که نو به نکته دارنګه سي والاضافة ايضا للتعريف .

قوله لايضاف ايضا لوړه نکته ده **لئلايلزم اجتماع آلتى الخ** غرض دناکت بيان کوي دوجه دعدم اضافة دمعرف بالام خپل مثل لره .

قوله اعلم ترقوله فعل پوري دشارح دوه غرضه دي ① اول به دوه تقسيمه داضافة وکي ② به دفع ددوو توهمينو وکي .

حاصل داول غرض دادى چې اضافة پر دوه قسمه ده ① مطلق اضافة ② مقيد، اضافة مطلق اضافه په معنى دنسبة او ميلان سره راځي نو مطلق اضافة پر دوه قسمه ده ① اضافة معنوي ② اضافة لفظي اضافة لفظي په لغة كې واپي منسوبة الى اللفظ فقط دون المعنى مطلب دا چې يو ازې په لفظ كې تغير راولي نه په معنى كې او په اصطلاح كې دېته واپي **مايكون المضاف صفة مضافة الى معمولها** مطلب داچې مضاف صيغه دصفة وي يعني اسم فاعل يا اسم مفعول يا صفة مشبه وي او مضاف وي خپل فاعل يا مفعول ته فائده او ګټه داضافة لفظي تخفيف راوستل دي په تلفظ كې چې تنوين نون دتثنيي اوجمع دادلفظ څخه حذف كوي او اضافة معنوي په لغت كې منسوبة الى المعنى ته واپي او په اصطلاح كې دېته واپي (مَايَكُوْنُ الْمُضَافُ غَيْرَ صِفَةٍ مُضَافَةٍ إِلىٰ مَعْمُوْلِهَا) دا هغه اضافة دى چې مضاف صيغه دصفة نه وي او مضاف خپل معمول ته وي دلته دوه صورته جوړيږي ① دا چې مضاف يا خو دسره صيغه دصفة نه وي بلكه اسم جامد وي لكه غلام زيد نو دلته غلام صيغه داسم جامد ده مضاف نه دى خپل معمول ته ② دا چې مضاف خوصيغه دصفة وي خو مضاف نه وي خپل معمول ته لكه (كَرِيْمُ الْبَلَدِ) نودلته كريم صيغه دصفة مشبه ده خوالبلد يې معمول نه دى نه يې فاعل نه يې مفعول دى نو ددې مثال تقدير داسې كيږي چې (كَرِيْمٌ مَّنْ فِي الْبَلَدِ) نو دادواړه قسمين اضافة معنوي ده اضافة معنوي ته ځكه معنوي واپي چې ددې تاثير يوازې په معنى كې دى چې هغه تعريف او تخصيص په مضاف كې دى اوداپو معنى ده چې په مضاف كې راسې فائده او ګټه داضافة معنوي تعريف په مضاف كې راوستل دي كه نكره معرفي ته مضاف سوه لكه (غُلَامُ زَيْدٍ) دا ځكه تعريف فائده كوي چې هيئة تركيبي په اضافة معنوي كې وضع سوى دى ددې

لپاره چي دلالة وکړي پر معلومية دمضاف باندي او که نکره نکري ته مضاف سي بيا تخصيص
په مضاف کي راځي ځکه تخصيص قلة دشرکاؤ ته وايي نو قلة په همدغه اضافة کي راځي لکه
(غلامُ رِجالٍ) که رجل نه وای غلام درجل او امرئتي ترمنځ شريک ووراوس يې شراکت
راکم سوی دی داخودمطلق اضافة تقسيم سو او اضافة مقيده چي معنوی ده هغه پر څلور قسمه
①جنسي ②استغراقي ③عهدي ④ذهني جنسي هغه ته وايي چي يو اسم بل داسي اسم
ته مضاف سوی وي چي هغه دلالت کوي پر جنس او ذات باندي لکه(غلامُ رَجلٍ)يعني
دجنس رجل غلام استغراقي هغه ته وايي چي په مضاف اليه کي يې هغه لفظ ذکر وي چي پر
استغراق او عموم دلالت کوي لکه غلام کل رجلٍ نو پر دسو پر استغراق چي دلالت کوي هغه
لفظ دکل دی عهدي هغه ته وايي چي مضاف اليه يې معرف باللام يا علَم وي لکه غلامُ الرجل يا
غلام زيد ذهني هغه ته وايي چي مضاف اليه يې مبهم وي لکه (لِلمَوكَّرَ فُارِسًا) نو درمضاف
دی ضمير ته او ضمير مبهم دی ځکه دادغائب ضمير دی وههنا کلام طويل لا يليق بهذاالمختصر
په دغه عبارة کي دويم غرض ادا کوي واهم وهم کوی چي داضافة بحث په خلاص سوی وي؟

شارح ځواب وکړی چي دلته اوږدکلام سته بياواهم وهم کوی چي ولي يې نه راوړي دغه
بحث؟

شارح ځواب وکړی چي دا کوچنی کتاب دی راوړل يې نه دی لائق ځکه بيا دمبتدي طالبانو
لپاره مشکل پيداکيږی او تروس يې وزي او داکتاب مبتديانولپاره جوړ سوی دی نه زما
ووستا غوندي صوفيانو لپاره.

توضيح النكتتين

قوله وهي لاندي نكته ده الاضافة للمعنوية نو لام جاره غلط دى صحيح يې الف دى يعني المعنوية .

قوله لله دره لوړه نكته ده لله خبر مقدم ودره مبتدأ مؤخر وفارسا الضمير الراجع الى رجل غائب يوه بله نكته ده چې پر اضيف پر ته ده الضمير مؤخر نو دادوى نكتې سره ګډې كړه باره داسې جوړيږي لله خبر مقدم وذره مبتدأ مؤخر والضمير المجرور راجع الى رجل غائب وفارسا تميز عنه .

قوله فعل باشد مطلقا تر دويم قوله پورې دشراح درې غرضه دي ① به دناظم ددغه لفظ معنى وكړي چې مطلقا ②به تقسيم دفعل وكړي قسمونه ته ③ به يو اعتراض او ځواب راوقل كړي چې پر ناظم وارد سوى دى .

حاصل داول غرض دادى چې مطلق فعل دا معنى كه متعدي وي كه لازمي مجرد وي كه مزيد ماضي وي كه مضارع .

حاصل ددويم غرض دادى چې فعل دعمل په اعتبار پر دوه قسمه دى ① متعدي ② لازمي متعدى فعل هغه ته وايي چې فهم ددغه فعل موقوفه وي پر متعلق باندې غير دفاعل څخه چې هغه مفعول دى لكه (ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرواً) اوس فهم دضرب موقوفه دى پر مضروب باندې چې زيد وهل كړي دي څوك يې وهلى دى هغه عمرو دى اوفعل لازمي هغه دى چې فهم يې نه وي

موقوفه تر متعلق پوري لکه (قَامَ زَيْدٌ) معنی داچي زید پخپله ودریدی بل څوک یې نه دی دروليٰ فعل متعدی دوه قسمه عمل کوي رفع نصب او لازمي یو قسم عمل کوي چي رفع ده.

حاصل ددریم غرض داچي معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۲۲۱) چي ناظم په بیت کي وویل چي مطلق فعل عامل قیاسي دی نو په فعل کي خو افعال ناقصه افعال مقاربه افعال مدح وذم هم سته هغه یې ولي په عواملو سماعیه وو کي ذکر کړه دا خو دناظم په کلام کي تناقض راغلی؟

شارح یې ځواب وکړی چي په مطلق فعل کي دوه جهته دي①جهة دعمل دی②جهة دمدخول دی په اول جهة سره تمام فعلونه عاملین د ي ځکه وضع یې دعمل لپاره راغلي ده او په دویم جهة سره مطلق فعل سماعي دی ځکه افعال ناقصه افعال مقاربه داسي نور فعلونه سماعي دي دمدخول په حیثیت سره ځکه مدخول ددوی جمله اسمیه ده یا اسم جنس معرف باللام دی او نور فعلونه داسي نه دي ځکه هغوی په یوه نوع پوری نه دي خاص.

قوله پس صفت باشد که آن مانند اسم فاعلست تر راوران قوله پوری دشارح خلور غرضه دي ①دصفت مشبه لغوي او اصطلاحي تعریف به وکړي ②تعین دعمل کوي ③دوي وجهي دتسمیې دصفت مشبه په دغه نامه سره کوي ④به دفع دوهمینو وکړي.

حاصل داول غرض دا چي مشبهة صیغه داسم مفعول ده په لغت کي مشابه کړه شده ته وایی او په اصطلاح کي دېته وایی اسم مشتق من الفعل اللازم لمن قام به الفعل بمعنی الثبوت.

حاصل ددويم غرض دا چي صفت مشبه دلازمي فعل څخه جوړه سوي ده يو زاي فاعل ته رفع ورکوي مفعول ته ضرورت نه لري لکه (حَسُنَ زَيْدٌ).

حاصل ددريم غرض دا چي صفة مشبه ځکه پدا نامه سره مسمى سوه اوله وجه يې داده چي داداسم فاعل سره په تغيرکي مشابه ده لکه اسم فاعل چي واحد تثنيه جمع مذکر مؤنث راځي همداسې صفة مشبه هم ده دوهمه وجه دا چي اسم فاعل او صفة مشبه دواړه پر ذات مع الوصف دلالت کوي.

حاصل دڅلرم غرض دا چي واهم به دا وهم کوی چي بحث دصفة مشبه به همدومره وي نو ر به نه وي؟

شارح ځواب وکړی **وفيها تفصيل طويل** يعا واهم وهم کوی چي دابحث چي نور هم سته ولي يې نه ذکر کوی؟

شارح ځواب وکړی چي **لايليق بهذه الرسالة فليطلب في المطولات** اوس به تعريف کي ثبوت لفظ ذکر دی يو ثبوت دی بل تجدد او حدوث دی ثبوت دامعنى چي دازله يو وصف په يوچاکي وي لکه حُسن او حدوث دامعنى چي يو وصف په چاکي نه وي خو وروسته بيا پکښی پيدا سي لکه قيام طلاق.

قوله اسم تام باشد ناصب تميز را تر بيت پوري پي خلور غرضه دي ① به تعريف داسم تام لغوي او اصطلاحي وکړي ② به تعين دعمل وکړي ③ به تعين دمدخول وکړي ④ به يو اعتراض او ځواب رانقل کړي ⑤ بيان دواقع به وکړي.

حاصل دټولو ظاهر دی نو اسم تام څکه دنصب عمل کوي چې دی مشابه دی دفعل سره په اتمام کي لکه فعل چې په فاعل سره تاميږي همدارنګه اسم تام هم په تنوين نون دتثنيې او جمع سره تاميږي بل دا چې لکه څنګه چې مفعول دريم ځای راځي همدارنګه تميز دريم ځای راځي.

توضيح النكتة

قوله والجمع لوړه نکته د **ونون الجمع اعم من ان يكون الخ** غرض دناکت اشاره کوي دوو قسمونه دنون دجمع چې نون دجمع پر وده قسمه دی يو نون دجمع دی صورة فقط لکه عشرون څکه عشرون دملحقاتو څخه دجمع دی حقيقي جمع نه ده څکه جمع خو هغه ده چې دخپل لفظ څخه مفرد لري نو عشرون خو يې نه لري ن دخپل لفظ څخه نه بيله لفظه او نون دجمع صورة او معنی لکه اشرفون نو نون داشرفون دجمع دی صورة لکه د اچې ظاهره ده او معناً هم دی څکه اشرفون مفرد لري دبل لفظ څخه هغه اشرف دی.

بيت

عامل فعل مضارع معنوی باشد بدان = ہمچنین حق بود عامل یقین در مبتدء

دولت واقبال وجاه شاہزادہ بر کمال = در تضاعف باد ودائم ختم کردم بر دعاء

تر بيت پورې دشارح شپږ غرضه دي ① دفع داعتراض کوي ② بيان دمذهب مختاره عندالناظم کوي ③ اعتراض او ځواب رانقل کوي چې پر ناظم واريديږي ④ به اختلاف بيان

کي چې په عامل کي دمضارع سته ⑤دفع دتوهم به وکړي ⑥بيان دواقع به وکړي ⑦به دفع دبل توهم به وکړي .

حاصل داول غرض دادی چې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۲۲۲) دعامل معنوي تعريف وکړه عامل معنوي نه پېژندم؟

شارح ځواب وکړی چې دعامل تعريف مي مخکې کړی دی درپياديې کړه مه غافله کېږه.

حاصل دوېم غرض دادی چې په عامل معنوي کي اختلاف دی دسيبويه او اخفش ترمنځ سيبويه وايي چې عامل معنوی په دوه ځايه کي دی اخفش وايي چې عامل معنوي په درې ځايه کي دی دوه داغه يو په صفت کي عامل معنوي دی نو مختاره مذهب عند الناظم دسيبويه مذهب دی لکه چې وايي او العوامل المعنوي في الموضعين .

حاصل دريم غرض داچې معترض اعتراض کوي

سوال نمبر (۲۲۳) چې ستا کلام دمخکني کلام سره تعارض لري ځکه مخکې وايي عامل دمضارع نواصب او جازم دي سره له دې چې هغه معنوي نه دي؟

ځواب دا چې مراد عامل معنوي څخه دمضارع عامل درفع دی نه مطلق عامل .

حاصل دڅلرم غرض دادی چې په عامل کي چې درفع دمضارع اختلاف دی دبصريينو او کوفيينو ترمنځ بصريين وايي دمضارع عامل هغه راتلل دمضارع دي پرځای داسم فاعل لکه (زَيْدٌ يَجْتَهِدُ) دلته يجتهد مرفوع دی ځکه داواقع دی پر ځای دمجتهد وس معترض اعتراض کوي

سوال نمبر(۲۲۴) چي مضارع كله پر ځاى داسم فاعل راسي ولي معربه وي په اعراب درفع سره ولي نه منصوبه كيږي؟

ځواب چي مضارع خو داسم فاعل سره مشابهة لري نو ددغه مشابهة په خاطر چي كله پر ځاى داسم فاعل راسي نودغه مضارع لكه اسم داسي سوه باره معربه سوه په اسبق او اقوى اعراب سره چي رفع ده رفع ځكه اقوى اعراب دى چي داعلامه دعمده ده چي فاعل دى ځكه په فاعل سره كلام تاميږي او ښ پر مذهب دبصريينو اعتراض كيږي

سوال نمبر(۲۲۵) چي ډېر ځايونه مضارع مرفوع وي خو پر ځاى داسم فاعل نه وي واقع سوي لكه (اَلَّذِيْ يَقُوْمُ) دلته يقوم مرفوع دى خو پر ځاى داسم نه ده واقع سوي ځكه په صله كي داشرط دى چي جمله خبريه به وي كه ديقوم څخه اسم جوړسي نو وقوع دمفرد پر ځاى دجملې خبريې منع دى بل لكه (سَيَقُوْمُ) او (سَوْفَ يَقُوْمُ) دلته هم يقوم مرفوع دى پر ځاى داسم فاعل نه دى واقع سوى ځكه په پر ځاى داسم راسي نو سين او سوف به پر هغه اسم داخل سي او دادخول يې منع دى ځكه سين او سوف دعلاماتو څخه دفعل دى بل لكه (كَادَ زَيْدٌ يَقُوْمُ) دلته هم يقوم مرفوع دى پر ځاى داسم نه دى واقع سوى ځكه دكاد په خبر كي داشرط دى چي مضارع به وي كه يقوم په قائم واوړي هغه شرط به نه سي پر ځاى بل لكه (يَقُوْمُ الزَّيْدَانِ) دلته هم يقوم مرفوع دى پر ځاى داسم نه دى واقع سوى ځكه كه قائم وويل سي يا الزيدان فاعل نه سي كيداى ځكه قائم دعمل كولو شرط دادى چي اعتماد به يې پر يوه دشپږو شيانو كرى وي دلته هيڅ هم نسته او كه قائم مبتداء سي الزيدان يې خبر نه سي كيداى ځكه

مطابقة نه راځي دمبتداء او خبر تر منځ نو په دغه مثالو كي مضارع راغله يا هم داسم پر ځاى نه ده واقع سوي؟

داول او دريم مثال ځخه ځواب داد ى چي په الذى يضرب كي يضرب پر ځاى دضارب واقع دى تقديري داسي كيږي (الذى ضَارِبٌ هُوَ) نو ضارب خبر مقدم هو يي مبتداء مؤخره ده باره صله جمله سوه همدارنګه يقوم الزيدان په اصل كي قائمان الزيدان او قائمان خبر مقدم الزيدان مبتداء مؤخره ددويم مثال ځخه ځواب داد ى چي دقائم پر ځاى يوازي يقوم نه بلكه سيقوم دى نو سيقوم زيد داسي سو لكه قائم زيدٌ نو سيقوم پر ځاى دقائم وه دربدى معترض اعتراض كوي

سوال نمبر(۲۲۶) چي ځنګه سيقوم پر ځاى دقائم درېږي ځكه سيقوم مركب دى او اسم مفر ددى مركب خو پر ځاى دمفرد نه درېږي؟

ځواب چي سين اوس داسي سوى دى لكه يو داجزائو ځخه ديقوم نو مركب نه سو او سوف كه څه هم منفصل دى خو داپه حكم كي دسين دى دځلرم مثال ځخه ځواب دادى چي اصل خبر كي دكادَ دادى چي اسم به وي خو اوس رجوع وسوه داسم ځخه مضارع ته چي دلالت وكي پر قرب دحصول دخبر حال زماني ته په اعتبار ديوي معنى مضارع چي حال دى دكوفيينو مذهب دادى چي عامل دمضارع تجرد دمضارع دى دجوازمو او نواصبو ځخه اين مالك چي يو نحوي عالم دى هغه وايي دكوفيينو مذهب اولى دى تر مذهب دبصريينو ځكه دكوفيينو پر مذهب اعتراض نه دى سوى لكه ځنګه چي دبصريينو پر مذهب وارد سو .

حاصل دپنځم غرض دا چې واهم به وهم کوي چې دعامل معنوي د مضارع به همد ومره بيان وي نو ر به نه وي؟

شارح يې دفع وکړه چې وفيه تفصيل لا يليق بهذا المختصر .

حاصل دشپږم غرض دا چې دعوامل که لفظي وي که معنوي دلته يې بحث ختم سو او دناظم ځينو شاګر دانو يا دانور بيتونه وربوري ملحق کړه.

حاصل داووم غرض دادی چې واهم به وهم کوي چې داوروستني بيتونه چې دناظم ځينو شاګر دانو وربوري ملحق کړي دي دابه يې ګټي وي؟

شارح يې ځواب وکړ ی چې داالحاق يې ګټي نه دی زياته فائده ور باندې مرتبه ده .

توضيح النكات

قوله قدمر تعريفه لوړه نکته ده دديې په آخر کي بالقلوب لفظ نويشته دی داغلط دی بالقلب صحيح دی .

قوله فالقليل هنا لا ندي نکته ده اى **حصر عاد المضارع في المعنوي** نو لفظ دعاد غلط دی صحيح داسي دی حصر عامل .

قوله هو ولوعه لاندي ترهونکته ده **المضارع** نو دايو څه راکش که دوقوعه تر ضمير يې لاندي نويشته که .

قوله مجرده لاندي نكته ده اى **عامل المضارع تجرده كمحرره** غرض دناكت اشاره كوي دي ته چي داقول چي تجرد مرفوع دى ځكه خبر دمبتدأ محذوفي دى تقدير يې داسي كيږي عامل المضارع تجرده دامحرره لفظ راوګاره تر دولسو روسته يې نوشته كه كاف ځني خراب كه.

قوله وفيه تفصيل لاندي نكته ده اى **فى العوامل المعنوي للمضارع** نو لفظ دعوامل غلط دى صحيح داسي دى اى فى العامل.

دشاګرد اول بيت

گر حروف عطف خواہ لي غلل ـ ياد گيراين نظم ميخوان در محل

واو وفاء ثم حتى نيز او ـ يا أم وأما لكن لا و بل

تر بيت پوري دشارح دري غرضه دي ① به وجه دتسميي دحروف عاطفه په عاطفه سره وكړي ② به اختلاف بيان كړي چي ددي حرفو په تعداد كي دى ③ دفع دتوهم به وكړي.

حاصل داول غرض دادى چي حروف عاطفه پدغه نامه سره ځكه ونومول سوه چي عاطفه مشتق دى دعطف څخه عطف په لغة كي اماللي يا ميلان ته وايي نو دغه حروف هم معطوف مائل كوي معطوف عليه ته په حكم او اعراب كي يا عامل مائل كوي معطوف ته.

حاصل دديم غرض دادئ چې دحروف عطف په تعداد کې اختلاف دئ دجمهور و علماؤ او بعض ترمنځ جمهورو وايي چې حروف عطف لس دي او مختاره مذهب په نيز دناظم همدغه مذهب دی او بعض وايي چې حروف عطف څلور دي ① واو ② فا ③ ثم ④ حتی.

حاصل ددريم غرض دادی چې واهم به وهم کوی چې دااختلاف به يقيني او اعتمادي نه وي؟ شارح ځواب وکړی چې **كذا في الحواشي** چې داختلاف نور شرحو هم ذکر کړی دی.

توضيح النكات

قوله الناظم لوړه نکته ده **هو بعض الطلبة كما قال الشارح** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې بيت دحروف عطف دنظم څخه دشيخ عبدالقاهر نه دی بلکه شاګر دانو وريوري ملحق کړی دی نو ته څنګه وايي کما صرح به الناظم؟

ناکت ځواب ورکړي چې مراد دلته دناظم څخه ناظم ددغه بيت دی چې هغه بعض دشاګر دانو دعبدالقاهر دي.

قوله واما بعض لوړه نکته ده **من النحويين** غرض دناکت دفع دتوهم ده چې مراد دبعض څخه بعض نحويين دي نه بعض طالبان.

قوله في الحواشي دلته نکته ده مراد از حواشي حواشي شرح مأة عامل است غرض دناکت اشاره کوي دې خبرې ته چې مراد دحواشي څخه حواشي دمأة عامل دي نه مطلق حواشي ځکه حواشي خو په نحو کې ډيري دي.

دشاګرد دويم بيت

اِنَّ را در چار جامکسور خوان = ابتداء وبعد قول وقسم دان

چون درآ يد در خبراولام نيز = دائما مکسور خوانی ای عزیز

قوله يعني الخ له دې ځايه تر دويم بيته پورې دشارح درې غرضه دي ① به دناظم غرض چي پدغه بيت اوراروان بيت کي دی بيان کړي ② به دانّ دهمزې مکسوره کيدولو وجهې بيان کړي ③دريم به يو اعتراض اوځواب راتقل کړي چي دااعتراض پر آخري وجه باندې وارديږي.

حاصل داول غرض داچي پدغه دوو بيتو کي دناظم غرض فرق کول دی دانّ او اَنّ ترمنځ ځکه دواړه په صورة او شکل کي يو رنګه دي فرق ئې نه کيږي ناظم يې دفرق کولو ځايونه پدغه دوو بيتو کي بيانوي.

حاصل ددويم غرض داچي اِنّ به څلورو ځايو کي مکسورالهمزة راځي خو داپدا څلور و کي نه دي حصر نور ځايونه هم سته لکه شارح به ددويم بيت په تشريح کي اشاره ورته وکړي.

حاصل ددريم غرض دا چي ذاځلرمه وجه په اوله وجه کي داخله ده ځکه لام علامه دکسرې دهمزې نه سې کيدای ځکه کسره دابتدائية څخه دانّ معلوميږي او لام په آخر کي راځي؟

خواب چې دامنم چې لام علامه دکسرې نه ده خو دومره وايو چې لام تأکيد دکسرې کوي ځکه لام وضع سوی دی دتأکيد دجملې لپاره نو پکاره چې جملې ته تغير نه ورسوي او انّ هم تأکيد دجملې کوي نو په دغه تأکيد کې انّ او لام سره مناسبت لري ځکه ناظم لام راوړی.

توضيح النكتتين

قوله فقال لاندې نکته ده اى **فى الكلام ابتداء** نو دا چې سره واوړي نبه به وي اى فى ابتداء الكلام.

قوله اولها لوړه نکته ده **اى المواضع الاربعة** دلته لفظ دمن غواړي اى من المواضع الاربعة دارنګه په راوران قول کې چې وثانيها.

قوله الامركك لوړه نکته ده **يعني سلمنا ان كسرهتها في المواضع يعلم الخ** نو دا چې داسي نويشته سي في هذاالمواضع.

دشاګر ددريم بيت

أنّ راوړنځ جامفتوح خوان = بعد علم وبعد ظن وور ميان

بعد لولا بعد لو تحقيق دان = تا نيفتي ځ جا ور ښک آن

قوله بعد علم بعد ظن الخ تر اقول کانه الخ پورې دشارح درې غرضه دي ① به دأنّ دمواضع دفتحې دلائل بيان کړي او مثالونه به يې وواېي ② به يو قاعده راوړي لپاره ددفع ديو وهم ③ به بيان دامر ضروري وکړي.

حاصل داول غرض داچي تر علم اوظن وروسته ځکه مفتوحه کیږي چې علم او ظن دوه مفعولونه غواړي او مفعول مفرد وي او تر أنّ وروسته هم مفرد راځي که جمله هم راسي خو أنّ يې په تأويل دمفرد داره وي لکه علمتُ أنّكَ تقومُ تقدير يې داسي کیږي علمت تحقق قيامک (فظننتُ أنّكَ ذاهِبٌ) تقدير يې داسي دی ظننتُ تحقق ذهابَک او چي په منځ کي راسي هم مفتوحه کیږي ځکه وسط تقاضا دارتباط کوي دماقبل سره او ارتباط په تأويل سره دمفرد راځي لکه (زيدٌ أنّ أباهُ قائمٌ) تقدير يې داسي دی زيد قائم الاب او تر لَو وروسته هم مفتوحه راځي ځکه چي تر لوووروسته فعل مقدرراځي او جمله چي تر أنّ وروسته راځي هغه په تأويل دمفرد سره کیږي او فاعل دفعل مقدر دی او فاعل مفرد وي لکه (لَوْأنّكَ قائمٌ لَكانَ كَذا) تقدير يې داسي کیږي لو وقع قيامک لکان کذا او تر لولا وروسته ځکه مفتوحه کیږي چې تر لولا وروسته غالبا مبتدء راځي او مبتداء مفرده وي.

حاصل د دويم غرض دادی چي واهم به وهم کوی چي أنّ به په پنځو او إنّ به په څلور ځايو کي حصر وي؟

ددي وهم ځواب شارح ددي قاعدي په ذکر کولو سره وکړی حاصل دا چي کوم ځای کي چي دأنّ وروسته ځای دمفرد وي هلته أنّ ويل کیږي که داغه امور وي که نور وي او کوم ځای کي چي دإنّ وروسته ځای دجملي وي هلته إنّ ويل کیږي که دغه امور وي که نوروي نو ځکه نحو يانو ددوی دوو ځايو نه حصر نه کړه.

حاصل ددریم غرض دادی چي لکه څنګه چي دانِّ او أنّ تر منځ فرق ضروري دی همدارنګه دانْ او أنْ مخففتین تر منځ فرق کول ضروري دی.

توضیح النکات

قوله التي وقعت لاندي دوی نکتي دي سره ګډي سوي دي او له نکته لاندي تر دې قول ده چي بعدها هغه داسي ده ای بعد کلمة أن دویمه تر دې قول لوره ده چي مفردا هغه داسي ده والمراد من المفرد مایقابل الجملة غرض دناکت رفع داحتمال دغیر ده چي مفرد مقابل دخلورو شیانو راځي اول دتثنیي دویم دجمع دریم دمرکب څلرم دمضاف او شبه مضاف پنځم دجملي نو مراد دلته دادی چي مقابل دجملي وي.

قوله ففي الجملة لوره نکته ده ای حاصل الکلام غرض دناکت دفع دتوهم ده چي جمله هغه ته وایي چي قائل ته یې په صادق او کاذب سره ویل کیږي نو دلته دامعنی مراد ول نه دی مناسب؟

ناکت ځواب وکړی چي مراددلته معنی دحاصل دکلام ده نه هغه مشهوره معنی.

قوله موضع الجملة لوره نکته ده ای اذا کان بعدها موضع الجملة غرض دناکت دفع دتوهم ده چي دکلام څخه دشارح دامعلومیږي چي همزې ته هغه وخت کسره ورکول کیږي چي جمله حذف سي ان یې پر ځای ودریږي او داخبره خو باطله ده؟

ناکت ځواب وکړی ای اذا کانالخ حاصل یې دادی چي فاء په دې قول کي چي ففي الجملة کي فاء جزائیه ده حرف شرط او فعل شرط یې حذف سوی دی تقدیر یې داسي کیږي ای اذا

كان بعدها موضع الجملة فتكسر همزتها او په راروان قول كي چي مفتوحة فى موضع المفرد همدرانګه تقدير سته .

قوله اعلم تر پايه پورې دشارح غرض اقسام بيانوي لپاره دفرق دإن او دأن ترمنځ إن پر څلور قسمه دى ①نافيه ②شرطيه ③مخففه من المثقله ④زائده او مفتوحه هم پر څلور قسمه دى ①مخففه ن المثقله ②ناصبه ③زائده ④تفسيريه .

تمت بحمد الله